# د اسلامي اُمت د ويښتيا

## وروستی خبرداری!

ليکوالان: هدايت الله ذاهب - سيد ميثم تمار
ژباړن: وحيد الله اسلام

Ketabton.com

دا کتاب ستاسو فکر دربدلوي.

تيم مبارزه
www.mubareza.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

- هغو اسلامي علماوو ته، چې د حق د رابرسېره کولو لپاره يې د الله (جل جلاله) په لاره کې سرونه ايښي دي؛
- او؛ د ابوبکر صديق (رضی الله عنه) مدرسې مهتمم مولوي نعمت الله (عثماني) ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه کوو

منځه او ستاینه د هغه خدای (ج) ښخه چې د هغه د قدرت او توان د ورزو په روښانه ځیره او د توری شپې به زړه کې لید لی شو.
هغه خدای (ج) چې ځان یی مونږ ته و پیږندلو، د علم دروازې یی مونږ ته خلاصې کړی او مونږ ته یی ژوند راکړلو، ترڅو خپلو ناچاره اوبې وسه بندګانو ته علم او پوهه ورکړي. او وروسته له سلام ویلو د الله ج ټولو پیغمبرانو ته چې لمړنی یی حضرت آدم (ع) او وروستنی یی نبی محمد (ص)، له ټولو ملګرو چې ددی کتاب په لیک او نشر کی یی له مونږ سره مرسته کړی ده، ډیره مننه کوو.
له ښاغلی پوهاند انجنیر زلمی ذاهب، محمد شریف سمسور، سید جواد نهضت یار، عبدالرحمن رومل باختری، انجنیر فواد سخی، محمد سمیر سروری، انجنیر نصار احمد تمکین او انجنیر احمد الله سیفی د کتاب د متنونو تصحیح او علمی نقد نه مننه کوو.
او د ښاغلی انجنیر نیکمل عبدالله مزاری چې زمونږ د کتاب مالی تمویل کونکی او په خاصه توګه مننه د مبارزه د تیم له ټولو غړو چې نومونه یی په دی کتاب کی ندی لیکل شوی او مونږ یی ددی کتاب په لیکلو کی تشویق او مونږ سره یی مرسته کړی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پيژندنه

حمد اوثناهغه خدای (ج) ته چې د اسلام لاره یې پرانیستله او څرګنده د اوبو لاره یې د تږو کسانو لپاره آسانه کړه، د اسلام ستنو یې د منازعی غوښتونکو لپاره امن کړل اوهغه امن ځای یې پناه وړونکو ته وښودل او آرامه ځای یې ګډونوالو ته جوړ کړ،او اسلام د ثبوت او دلیل د ویونکو او روښانه ګواه د دفاع کونکو او روښانه رڼا د رڼا خوښوونکو لپاره او د پوهی سرچینه د هوښیارانو لپاره او عقل او اندازه او پوهه د اندازه کونکو لپاره، او روښانه نښانه د حق لټونکو لپاره، او روښنایی د عزم او اراده کونکو لپاره، نصیحت مننه عبرت کونکو ته، آسانتیا او نیکمرغی توکل کونکو ته، او صبر د صبر کونکو لپاره.

اسلام روښانه او څرګنده لاره ده، لاری یی روښانه، نښانې یی په لوړو ځایو کې، څراغونه ی روښانه او لګیدلی، د جګړی میدانونه یی ښکلی د ښکلو لپاره، په پای کې جګړی یی روښانه او بی پایه او جګړه کونکی یی مخکښ او چابک. ددی جګړی خپرونه تصدیق کول حق ته، ښونه یی صالحه اعمالو ته پای یی مړینه، د نړی د جګړی میدان، د جګرو د وګرو د یو ځای کیدو ځای او جا یزه یی جنت ده.

د جګړی په ډګر کی په آخره پیړی کی، ډیرو دغو جګړه کونکو له بده مرغه د شیطان لاره غوره کړی او د الله (ج) د رڼا لاری نه بی لاری شوی او له دغی امله دغه ننی حالت راغلی چی په هغه کی د تیاري د مشعل لارویا ن په چټکی سره کوښښ وکړ تر څو د حق روښانه مشعل مړ کړی. کله چی د امریکا عصری غربی تمدن. د تیارو مشعل لرونکی چی ناوړه نړی د حق د نړی سره جنګوی. د تیاری لاری جګره کونکی په بوسنیا کی  د لیونیو سپیانو په شان د پنځوس زره مسلمانو ښځو عزت لوټ کړ، نارینه مسلمانان په یوازاېی بند کی اچولې تر څو له لوږی ومري، اسلام خاوری د بمنو په اچولو د منځنی پیړی به شان جوړوي، کشمیری ښځی د ډله ایز لوټولو سره مخامخ شوی، منځني ختیځ چی د تمدنونو مور په شمار راځی، ددوی د اټومی بمونو سیمه جوړه شوی ده او په پای کی ټوله اسلامی نړی له افغانستان نه تر تانزانیا او له چین نه تر  لیبیا ددی شیطانی ځواکونو ترلاس لاندی راوستلی دی او د حق جګره کونکی ناتوانه ښکاري او دغه حالت د هریوه د رڼا لاری جګړه کونکی ته د زړه درد جوړشوی او په دی سوچ او فکر کی دی چی ددی حالت سربد حالت سرچینه چیرته ده؟ او د حل لاره څه ده؟

دغه درد ددي لامل شو تر چو مونږ هم، د یوی کوچنی کوښښ په شان، په دی فکر کي شو چی ددی ستونزو د سرچینی په مقابل کی د جګړه کونکو په قطار کی ودریږو او د خپل د لاس په قلم ددی دردیدلی اسلام ملت غز هغو د رڼا لاری جګره کونکو ته لږ نوره رڼا ددوی په نا هموارو لارو چی ددوی د لاری خند جوړ شوی، واچوو. هیله ده ددی وړوکی کوښښ په موده کی، الله (ج) مونږ ته پوره ایمان راکړی ترڅو وکولای شوو د خپلولیکنوله لاری مو لږترلږه یو څه ستونزي د اسلامی او زوریدلی امت نه لیری کړی وي.

**و من الله توفیق**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دی کتاب کي

## لمړی فصل: د اسلامی تمدن پیل او پای

د دین اړتیا په ټولنه کي، د نړی ځرنګتیا مخکی له اسلام څخه، د اسلام پیل، د اسلام او جلاوطنی ستونزي، د اسلام پرمختګ چل، یاجوج او ماجوج او د خزر قوم، د اسلام مرسته ننی پوهې او تکنالوژۍ سره، صلیبی جنګونه، د شیطان عبادت کونکو ښکاره کیدل د صلیبیانو په منځ کي، د فریمیسن پټې ډلي پیدا کیدل، د عصری غربی تمدن پیل، د عصری تمدن اړیکه له صهیونیستانو سره او ددوی دښمنی له اسلام سره، د خلافت د له منځه وړلو توطئې، دجال او غربی عصری تمدن، او د لومړي نړیوال جنګ او د خلافت له منځه وړلو توطئې .

## دویم فصل: استعمار او پانګې اچونې

عصري غربي تمدن له خوا د اسلامي نړۍ استعمار، د بلشویکانو د کمونستی انقلاب حقیقت، د عصری غربی تمدن په زړه پورتیا، د یهودیانو حکومت جوړول په فلسطین کي، د اسرائیلو د جوړولو لپاره چلونه، د اسرائیلو جوړیدل او ددوی اړیکی له یاجوج او ماجوج سره، د ملګرو ملتونو حقیقت، فکری او فرهنګی جګړه له اسلامی نړی سره، د پرمختک او نړیوال جوړول شیطانی تمدن، سیکولریزم اود هغه نړیوال کیدل، د عصری غربی تمدن به واسطه د فحشا نړیوال کول، رسنې په حقیقت کي، اوعلمی انحصار.

## دریم فصل: اقتصادی استعمار

د کاغذ او بریښنايي پیسو سیستم په حقیقت کي، د پیسو تاریخ، د نړیوالو د پانګو د غلا کولو چلونه، د بریتن او وودز مجلس حقیقت، د نړیوال پانګوالی نظام لکه نړیوال بانک، نړیوال سوداګریز سازمان او دنړیوال پیسو صندوق، د سټاک مارکیت حقیقت، او د اسلام ځواب اوسنی اقتصادی سیستم ته.

## څلورم فصل: نورې ننګونې او د حل لارې

ملت پالنه اود اسلام اصولو مخالفت، قوم پالنه او بندیز په اسلام کي، تعصوبونه، ناپوهی او غربي توب، د اسلام محاصره، او د حل لارې.

## پنځم فصل: راتلونکي

د تاریخ پای د اسلام له کیدلورینه، اسلام او د تاریخ پاي او آخرالزمان، نړیواله لویه طرحه د صیهونستانو په واسطه، د اسرائیلو کړنلاری د نړی لپاره او د دجال ماموریت، اتومی جګړه او ملاحم، او د امام مهدي او د عیسی راڅرګندېدل اود مسلمان لپاره یوه زرینه پیړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر لوستلو وړاندې

- سره له دې چې د دې کتاب منځپانګه د اسلامي موضوعاتو په اړه ده، خو ديني فتواګانې پکې شاملې نه دي او ليکوونکي يې ځان د يو مفتي په علمي درجه کې نه ګڼي، نو ځکه له دې کتاب څخه بايد د يوې ديني فتوا په توګه کار وانخيستل شي.
- د دې کتاب په هر اړخيزو ديني، اقتصادي، ټولنيزو او سياسي تحليلونو کې ليکوالانو ډيره هڅه او زيار کښلی دی، خو بيا هم له لوستونکو څخه غواړي چې د هرې موضوع په اړه څېړنه وکړي او تر هغې چې دې څېړنو قانع کړي نه وي، ويې نه مني.
- د دې کتاب هره موضوع بايد د يو ځانګړي کتاب په بڼه وليکل شي، خو د کتاب د حجم د زياتوالي د مخنيوي لپاره هڅه شوې ده، چې د هرې موضوع په هکله عمومي نظريه راواخيستل شي، نو ځکه له درنو لوستونکو څخه د لا زياتې څيړنې هيله کيږي.
- دا کتاب په ساده او د پوهيدو وړ (عام فهمه) ژبې باندې د لوستونکو لپاره ليکل شويدی، ترڅو يې ډيری خلک پخپل ژوندانه کې اغيزمن او حياتي موضوعات درک کړي.
- دې اثر ته د ډيرو خلکو د لاسرسي په پار، د دې کتاب د ژباړې، چاپ، تکثر او خپريدو حقونه نورو ژبو ته محفوظ نه دي او هر څوک چې د دې کتاب په نشر او خپريدو لاس پورې کوي ترې منندوی يو.
- ليکوالان د دې کتاب په اړه هر ډول علمي نقد ستايي او ګران لوستونکي کولی شي چې با ارزښته او علمي نقدونه لاندې ايميل ادرس ته راوليږئ.

هدايت الله ذاهب

hzaheb@gmail.com

سيد ميثم تمار

smt.mytham@gmail.com

د (مبارزې) فسبوک پاڼه

Facebook: Mubareza

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړونکی سریزه

الحمدلله رب العالمین و صلاة و السلام علی اشرف الانبیاء و المرسلین.

امابعد؛

د آدم علیه السلام له پیدایښته، الله (جل جلاله) خپلو بندګانو ته د لارښوونې مطالب د خپلو استازو په وسیله را استولي دي. دوی یې له زیانمنو شیانو منع کړي او د ګټورو په لور یې هڅولي او پرې مامور کړيدي. خو شیطان یې پر وړاندې تل خپلې هلې ځلې جاري ساتلي. انسان یې تل له سمو لارو، بدو ته کاږلی او په زړه کې یې ورته وسواس او اندیښنې اچولي دي.

زموږ خوږ پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ته د خپل کتاب (قرآن) د نازلیدو پرمهال د (فمن زحزحه عن النار و ادخل الجنه، فقد فاز) آیت نازل شو. په دې آیت سره د ژوند مفهوم او قاعده په خورا ځرګنده توګه رابرسیره شوه. هر چا چې ځان د دوزخ له اوره وساته او جنت ته ننوت نو همدا بریالی دی. نو اوس که چا د الله (جل جلاله) او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) اوامرو او نواهیو ته پام وکړ، نو ښکاره چې بریالي دي. اسلافو دا کار تر ډیره پرځان عملي کړی وو، ځکه خو د خپل اسلامي دښمن له دسیسو او توطیو په امن کې وو. هغوی؛ هغه څه چې له اسلامي دښمن سره د کړنو او چلند په اړه ورته ویل شوی وو، کټ مټ په ځان عملي کول. هماغه وخت شیطان او پلویان یې ورځ تر بلې د مسلمانانو د ایمانونو په زیاتیدو او پیاوړي کیدو سره په شا کیدل. دوی له اسلامي نړۍ کډه وکړه، داسې کډه چې بیرته یې د دوی سیمو ته د راستنیدو تمه نه لرله. په کډوالو سیمو کې یې کار پیل کړ. هلته یې ځانته نوي پیروان او مریدان پیدا کړل. هغه مریدان په انساني جامه کې شیاطین وو. هغوی له پخوا راهیسې د همداسې یو رهبر او لارښود په تمه وو. له بلې خوا دلته مسلمانان د خپل دښمن په کډه کیدو سره بې غوره شوي وو. د خپلو اسلافو په پلونو یې قدم نه کیښود. له مشرکینو سره د برخورد په اړه یې د الله (جل جلاله) د اوامرو په تګلارې عمل ونه کړ. د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) له بهرنې سیاسته یې کار وانخیست. الهي استراتیژو ته یې ارزښت ورنکړ، ډیر مسایل یې بایېزه وګڼل تر دې چې په نننۍ سرګردانه برخلیک اخته شول.

نن ورځ اسلامي نړۍ د شیطاني کفري نړۍ له دسیسو هره ورځ په اور کې سوځي، ارامه ورځ ترې نه لري او بالاخره دومره یې ورک کړیدي چې د خپل رب (جل جلاله) په سمه توګه فردي عبادات او پالنه نشي کولی.

اوس نو اسلامي نړۍ په رښتیا ویده ده، ځکه خو د کتاب اصلي لیکوالانو (هدایت الله ذاهب او سید میثم تمار) د کتاب په نوم کې د ویښتیا او بیدارۍ نوم ورکړیدی. داسې مسایل یې پکې رانغاړلي چې که اسلامي امت ورته پام وکړي او د هڅو په پایله کې د دوی د جوړو کړیو دسیسو په وړاندې سره یو شي، حتماً یې پایله راویښوونکې او مثبته ده.

د کتاب اصلي بڼه د اسلامي امت د ویښتیا په پار په پراخه توګه وړیا وویشل شو. بریښنایي بڼه یې هم تر ډیره په اسانۍ د خلکو لاسته ورتلی شي. نورو ژبو ته د ژباړې او خپراوي اجازه یې هم په اصلي متن کې ټول اسلامي امت ته ورکړیده. ما هم د یو اسلامي ناچیز مسوولیت په توګه دا کار ترسره کړ. ورور (م. الله یار) د کتاب د پی ډي ایف ترڅنګ د استاد هدایت اجازه لیک هم راکړ. په لومړي سر کې مې استاد ته د تیزې ژباړې وعده ورکړیوه. دا وعده مې پخپل وخت ترسره نشوای کړی. دلته به په خبرو کې له استاده بخښنه وغواړم. ځکه دا کتاب باید له پښتون اسلامي امت سره لا ژر شریک شوي واي. ترڅو پښتانه لوستونکي هم د فاسدې غربي نړۍ له رازونو او دسیسو خبر شي او په وړاندې یې د مخنیوي لارې چارې وګوري، خو د ځینو اړینو بوختیاوو له امله وځنډید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب د متن ځينې هغه کلمې چې پښتو بديل يې نلره، کټ مټ ليکل شوي دي. هڅه مې کړې چې په روانه توګه يې وژباړم، خو دا چې د ژباړو په برخه کې نوی يم نو کيدای شي له ځينو پراګرافونو په سم ډول مفهوم وانخيستل شي نو له دې امله مې هم عذر ومنئ.

له ځينو هغو ملګرو مننه چې د ژباړې په برخه کې يې راسره همکاري وکړه. د الله يار ورور ګوتې دې الله (جل جلاله) بې درده لري. سره له دې چې په ايډيټ کې يې ډير ځان ندی ستړی نکړ خو بيا هم د هغه ستړيا د ستاينې ده. ما د ژباړې پرمهال ځينې تيروتنې د الله يار د سمون په تمه پريښې وي او تيز پرې ورغلی وم، خو وروسته پوه شوم چې هغه هم ډير سر پرې نه دې خوږ کړی. بيا هم که ځينو ځايونو املايي تيروتنه لرله نو هيله ده ومې بخښئ.

په پای کې مې له اسلامي ليکوالانو هيله داده چې د دې کتاب په څير نور ګڼ ويښوونکي کتابونه چې د غرب شوم پلانونه پکې رابرسېره شوي وي، اسلامي ژبو ته راوژباړي، ترڅو اسلامي نړۍ د فکري ويښتيا له مخې د دې دسيسو د خلاصون لارې چارې وپلټي.

په نړۍ کې د يو اسلامي نظام د رامنځته کېدو په هيله

وحيد الله اسلام

شهيد اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## اسلامي تمدن؛ له صعوده تر نزوله



که له تاریخه پند وانخلو، په تکرار یې
محکومیږو!


**George Santayana**



د یهودیانو تاریخ، د تاریخ تر
ټولو ستره دوکه ده. د اوســـــنیو
یهودیانو 90 سلنه یې بني اسراییل نه،
بلکې اروپایي یهودیان او د خـــــزر له
قوم څخه دي، چې له بني اسراییلو
ســـره هـــــیڅ تړاو نلري.

شیخ عمران حسین

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام پیل

الله (جل جلاله) اراده کړې چې په ځمکه کې خپل خلیفه پیدا کړي او الله (جل جلاله) پخپل لوړ حکمت سره دا نعمت (کرامت) حضرت آدم علیه السلام او د هغې اولادې ته ورکړ[۱]. د آدم علیه السلام تر پیدا کولو وروسته الله (جل جلاله) ملایکو ته امر وکړ چې خلیفه ته سجده وکړي، ټولو ملایکو سجده وکړه؛ خو ابلیس چې پیری[۲] و، د کبر له امله یې د سجدې له کولو سرغړونه وکړه[۳]. د ابلیس تکبر له الهي رحمت څخه د هغه د شړلو لامل شو، ابلیس له الله (جل جلاله) څخه د محشر تر ورځې پورې د هغه د ژوندي پاتې کیدو او د بني آدمو د ګمراه کولو فرصت وغوښت او مهربان ذات الله (جل جلاله) هغه ته تر ټاکلې مودې پورې وخت ورکړ.

ابلیس په جنت کې حضرت آدم علیه السلام او د هغې میرمن بي بي حوا ته وسوسه وکړه څو هغه ونې ته نږدې شي چې ترې منع شوي وو. د پروردګار د امر نافرماني له جنت څخه د هغوئ د وتلو لامل شو او ځمکې ته راولیږل شول. آدم علیه السلام او بي بي حوا د ځمکې په سر خپل لومړنی ژوند پیل کړ او الله (جل جلاله) په هماغه وخت کې د ژوند څرنګوالي ته په کتو، ورته په لسو صحیفو کې الهي لارښوونې د ژوند د طریقې د څرنګوالي او درک لپاره ولیږلې.

د ادم علیه السلام نسل د وخت په تیریدو سره زیات شو او د ځمکې پرمخ خواره شول. الله جل جلاه پخپل لوړ حکمت او مکاني، زماني او د ژوند د طریقې د تکامل سره، روښانه لارښوونې د پیغمبرانو په واسطه بني آدمو ته را استولې چې ورته دین ویل

---

۱ سورۀ اسراء؛ آیۀ ۷۰؛ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ (۷۰) ، ژباړه: په یقین سره مو د آدم اولادې ته کرامت ورکړ.

۲ د الله په مخلوقاتو کې ځینې هغه نه محسوسیږي او په عادي او طبیعي حواسو نه درک کیږي. یو یې پیری یا جن دی. پیری په اصل کې د پټوالي په معنی دی، چې د انسان له سترګو پټ دي. قرآن د دې موجود شتون منلی او پکې د (جن) په نامه سورت هم موجود دی. په قرآن کې په ځینو کې ځایونو کې ورته جان ویل شوی دی.


۳ سورۀ بقره؛ آیۀ ۳۴؛ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ (۳۴) ژباړه: کله مو چې پرښتو ته وویل: آدم ته سجده وکړئ، نو له ابلیس پرته ټولو سجده وکړه، سرغړونه او تکبر یې او له کافرانو څخه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیده. دین د هغو احکامو، لاربښوونو او عقایدو مجموعه ده چې بشریت ته سمه لاره روښانه کوي څو له باطل څخه حق تفکیک کړي. دین په بیلابیلو زمانو کې د بیلابیلو پیغمبرانو په مرسته، بیلابیلو بني آدمو ته د بشري تکامل ځرنګوالي ته په پام سره نازلیده.

د بشري تاریخ مطالعه د دې کار شاهده ده چې کله بشري کاروانونو خپله لاره ورکه کړیده او یا له حرکته غورځیدلي دي، الله (جل جلاله) ورته د کاروان اړتیاوو په کتو د هر ژبني، احساسي، فکري، عقیدتي، طرز جهان بیني او .. نورو طبقو په نظر کې نیولو سره هغوی ته یو پیغمبر لیږلی دی.




ټولنې د تمدنونو په تاریخي مزل کې د شیانو په څیر د ژوندانه تر بیلابیلو فضاوو او شرایطو لاندې د بدلون په حال کې وي او د انحراف او کوږوالي خواته تللي دي چې د دې موضوع بیان د یوې فرضیې په طرحې او شرحې سره تر څیړنې لاندې نیسو.

داسې ګڼو چې د تاریخ په اوږدو کې د جهان بیني او تفکر درې طریقې د بشر په ژوندانه کې ډیر رول لره چې هغې ته د A، B او C نومونه ږدو. په A حالت کې ټولنه دومره آخرت پالونکې شویده چې دنیوي ژوند یې هیر کړیدی او تقوا کوي، خپل انساني مسوولیتونه د ځان، کورنۍ، ټولنې، ځمکې او چاپیریال په وړاندې هیروي، دومره چې له هیڅ یو هنرونو، صنایعو، مسلکونو او د ژوند له نورو موضوعاتو خبر نه وي او خپل جسم او روح یې عارفانه عباداتو ته ځانګړې وي. ټول ارزښتونه په اخلاقو کې لټوي او ډیر مهال مظلوم واقع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي. په C حالت کې، ټولنه د A له حالت څخه په پوره توګه راوتې ده، آخرت یې هیر کړیدی، الله (جل جلاله) یې له خپل ژوندانه لرې کړیدی او په پوره توګه ماده پالونکي وي چې په دې حالت کې ټولنه د خپلو اعمالو لپاره د هیڅ ډول مسوولیت او د ځواب ورکولو د حس احساس نه کویاو دا طبقه بیا معمولاً په یوې مصرف پالونکې، فرد پالونکی، بد پالونکی او کږې ټولنې بدلیږي.

B یو تعادل حالت دی؛ د دې ټولنې پایله نیمګړې نه وي؛ ځکه چې د آخرت پالنې پرته دنیا ته هم پام کوي. پداسې حال کې چې ظالم نه وي او مظلوم هم نه واقع کیږي، غلام جوړیدنه، نه کوي او غلامي نه مني. دا ډول ټولنه په عمومي صورت سره عدالت محوره وي او پکې د بې عدالتۍ هر ډول کړنې او نظریو مردودې وي.

هر کله چې د بشري ټولنو (بشري کاروانونو) د بې عدالتۍ، استبداد او ظلم ښکار شوي دي، الله (جل جلاله) په خپل الهي حمت سره یو پیغمبر را استولی دی چې پخپلو لارښونو او پیغامونو کې د بې عدالتۍ، ظلم او استبداد په وړاندې په ډېرې مبارزې تاکید کړیدی.

بني اسرائیل د فرعونیانو د حکمراني پرمهال د داسې ظلم او استبداد لاندې وو چې تل یې خپل اولادونه وژل او یا یې ترې د کاري حیواناتو په څیر ګټه اخیسته. خپلې میرمنې او لوڼې یې د وینځې په توګه ساتلې.[1] په همدې وخت کې الله (جل جلاله) د بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره یو قوي او مبارز سړی (موسی علیه السلام) د ظالمو فرعونیانو په وړاندې سخته حربي (جهادي) مبارزې له لارښوونو سره راولیږه. د دې اولوالعزم پیغمبر په لارښوونو کې، ډېر تاکید د ظالمو په وړاندې په جګړه باندې شوی دی. په یوې خپلواکې ټولنې او له مظلومې او غلامې ټولنې څخه د بني اسرائیلو په بدلیدو او ژغورنې سره، دوی د تورات لارښونو څخه په ناسم درک او حتی تحریف سره،

[1] سورهٔ بقره؛ آیهٔ ۴۹؛ وَإِذْ نَجَّيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ وَفِي ذَلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ (۴۹) او (په یاد کړئ) کله مو چې تاسو د فرعونیانو له منلګو ازاد کړئ، هغوی تاسو سخت شکنجه کولی، ستاسو له اولادونو یې سرونه غوڅول او ښځې یې ژوندې درته ښخولې او په دې کې د الله (جل جلاله) له لوري ستر ازمایښت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلم او استبداد په وړاندې مبارزه یو ډول تاوتریخوالی او وحشي پالنه وګڼله او په دې ګڼلو سره یې د تورات[۱] پیغامونو څخه بده ګټه پورته کړه. هرې ټولنې که څه هم مستبده به نه وه، له تاوتریخوالي څخه ګټه واخیسته، پداسې حال کې چې دا مبارزه په تورات کې له ظالمانو او مستبدینو سره مقابلې ته ځانګړې شویده، دې ناسم درک او د بني اسراییلو تحریفونو دا قوم د C ډول په ټولنې بدله کړه.

دا انحراف د یو پیغمبر د رالیږلو لپاره دلیل دی چې په لاربښوونو کې یې (انجیل)[۲] ډیر تاکید په دوستۍ، سولې، مینې، ګډ ژوندانه او د تاوتریخوالي پرضد مبارزې ته بیل شوی دی. لکه څنګه چې د عیسی علیه السلام په یو پیغام کې راغلي دي: له شریرو سره مقاومت مه کوئ، بلکې کله یې چې په ښي مخ څپیړه درکړه نو بل مخ هم ورته وروګرځوئ.[۳]

په همدې توګه د شپږمې پیړۍ په وروستیو او د اوومې میلادي پیړۍ په لومړیو کې بشري کاروان په ټوله نړۍ کې د کوږوالي او انحطاط په لور په حرکت وو. د بیزانس امپراتوري (ختیځ روم) چې د روم د امپراتورۍ تر زوال وروسته په ختیځه اروپا کې منځ ته راغلې ده او د بالکان، ختیځې اروپا، نننۍ ترکیې، شام (سوریه، فلسطین او لبنان) او د عراق په ځینو برخو کې د یوې قوي امپراتورۍ په توګه د تاریخ په اوږدو کې واکمني کوله، ځان یې د مسیحیت د دین او د مسیح عیسی علیه السلام استازي ګڼل. له دې دین څخه یې د ارستوکراسي[۴] حکومت د دوام د یوې وسیلې په توګه کار اخیسته. دې امپراتورۍ د مسیحیت پاک دین داسې تحریف کړی و چې سیاسي،

---

[۱] تورات: هغه اسماني کتاب چې په موسی علیه السلام نازل شوی دی.

[۲] انجیل: هغه آسماني کتاب چې په عیسی علیه السلام نازل شوی دی.

[۳] متی انجیل؛ ۳۹ فصل؛ ایه ۵

[۴] ارستوکراسي د آرستوس (Aristos) له یوناني کلمې څخه اخیستل شوی چې د بهترین او ښه په مانا دی او د یونان په سیاسي فلسفه کې د هغو خلکو د حکومت په نامه دی چې د انساني کمال د آیډیال حالت ته له هر څه نږدې وي، په بل عبارت د حکومت یو ډول دی چې پکې په نسبي توګه د هیوادوالو یو کوچنۍ برخه د سیاستونو په تدوین او د عمومي مقاماتو په ټاکنه کې رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي او نورې ګټې يې د کليسا او اشراقيانو د حاکميت د کلکوالي لپاره تامين کړې وې چې پکې د خلکو له عامه حقونو سترګې پټې شوې وې او د دين ټول درک او پوهه يې د دين په ټيکه دارانو او روحانيونو پورې منحصره کړې وه. له بلې خوا غربي اروپا د روم د امپراتورۍ تر زوال وروسته له حاکم فيوډالي سيستم سره د مستبدو حکومتونو په ډول کې[1] بدلون وکړ او دومره په جهالت کې ننوتل چې انساني ژوند يې هير کړ، له هرو لسو تنو څخه يې نهه تنه رعايا وو چې د اشرافو او نجيب زاده ګانو په ځمکو يې کار کاوه او د کار توليد يې حتى د دوى د خوړو او اغوستلو لپاره هم بسنه نه کوله. ډير لږ خلک وو او حتى شتمن خلک هم وو چې په مياشت کې له يو ځل زيات ځان ووينځي. په رعاياوو باندې ژوند دومره سخت وو چې ډيرو لږو خلکو پکې تر څلويښتو کلونو ډېر عمر کاوه. کليسا هم په يو شتمن او فيوډال سازمان بدل شوې وه او په عوامو خلکو يې دومره اغيز لره چې هغوى په زائدالوصف شور سره د قديسانو[2] پاتې شونو ته عبادت کاوه (د توماس قديس هډوکي، د پتروس قديس د ويښتو يو دسته او د اګوستن قديس د ليکلو يو پوستکي) د طبيعي او فزيکي الوهيت بيلګې وې چې روحاني او معنوي قدرت شميرل کيده او عوام په دې عقيده وو چې قديسان معجره کوي (د ناروغانو تداوي، د سربازانو ساتنه او د ګنهګارانو بخښنه)، حتى خلک په جګړو کې د بريا او بخښې د غوښتلو لپاره د قديسانو عبادت ځايونو ته د دعا لپاره ورتلل.

د فارس (ساساني) زردشتي امپراتوري د هغه وخت يو له سترو امپراتوريو څخه وه چې هغوى هم د ارستوکراسۍ د حکومت په ډول سره، د بيزانسي سيال په څير ژوند کاوه او پکې عامو خلکو تر ټولو ټيټ سياسي، اقتصادي او ټولنيز حقوق لرل. د دغه دوو سيالو ترمنځ يوازې د بيلتون وجه وه، ساسانيانو د زردشت دين ته عقيده لرله او له اور پالنې

[1] فيوډالي: د عمده مالکانو، اشرافو او فيوډالو حکومت، ملوک الصوايفي حکومت، څوک چې ډير رعايا او املاک لري او پرې پوره تسلط ولري؛ ستر ملاک.

[2] هغه خلک چې په مسيحيت کې سپيڅلي ګڼل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته يې نور زرګونه رواجونه او کړې عقيدې لرلې، ټولنه يې په څلورو روحانيونو، بزګرو، نظاميانو او مالدارو ډلو سره ويشلې وه او د قدرت او حاکميت واګې د زردشتي روحانيونو په لاس کې وو چې په عوامو خلکو يې زرګونه غير انساني ظلمونه او درانه ماليات وضع کول. ساساني ميرمنې د نارينه وو د عامه ملکيت په توګه ګڼل کيدې.

د هند په نيمه وچه کې د خلکو تر ټولو ستر مشکل طبقه پالنه[1] ګڼل کيده، انسانان يې په لوړو او ټيټو طبقو ويشلي وو او له ټيټو طبقو څخه يې په ډېره بده توګه ګټه اخيسته. هندوييزم د نړۍ يو تر ټولو عجيب دين په توګه وو او هيڅکله يو نړيوال دين نه ګڼل کيده؛ ځکه چې هندوان په دې عقيده دي چې يو هندو، هندو پيدا کيږي او د دين بدلون هندوانو ته د منلو نه و. هندوان د الحاد او شرک تر ټولو غير منطقي عقايد لري، له غوا نيولې تر ونې او تاريخي څيرو پورې (لکه رام، لکشمن، کرشنا او نورو) ته عبادت کوي.

د سويو[2] سلسله چې له ۵۸۱ څخه تر ٦١٨ ميلادي کلونو پورې په چين کې حاکمه وه، د بودا د دين له نامه څخه په ګټې اخيستو يې له چين څخه د وينو حمام جوړ کړی وو. په چين کې يو دين چې تايويزم[3] نوميده تل له بوديزم سره په جګړه وو چې دغه دين هم د بشري ټولنې غوښتنو ته سم ځواب نه وايه او له شک پرته په دې جګړو کې عام خلک قربانياني کېدل.

پداسې حال کې چې افريقا د اروپايي بيلابيلو قومونو (آواريانو، فرانکيانو، جرمنيانو، بلغاريانو) له بربريت څخه ځوريده، هغو يهوديانو چې ورته ډېر شمير پيغمبران را ليږل شوي وو او ځان يې د خدای ټاکل شوی قوم ګڼه، په غربي اسيا او شمالي افريقا خپله مستعمره ګڼله. هغو يهوديانو چې نومونه يې تل له خيانت سره مترادف وو، د موسی

---

[1] طبقه پالنه يا Casteism: طبقه پالنه تر اوسه به هندوستان کې روان ده او دا چې په دې وروستيو کې ډېرو ټيټ پوړيو خلکو اسلام راوړ، د هند دولت ورته په تعليمي او د دولتي دندو د جلب و جذب په سيستم کې ځانګړي حقوقو په نظر کې ونيول.

[2] Sui Dynasty: د سويانو لړۍ چې يوازې د ۳۸ کلنو لپاره د دريو امپراتوريو لخوا اداره کيده، په چين کې حکومت لره.

[3] د تائويزم (Taoism) يا دايويزم (Daoism) فلسفي مکتب يا دين په لائوتسه حکيم پورې منسوب دی چې د کيهاني له جوړښتي نظم (تايو) يا طبيعي بهيرونو سره په همغږۍ کې په ژوند تاکيد کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي دين يې داسې تحريف کړ چې هر ډول ظلم او بې عدالتي يې له يهوديانو پرته په نورو باندې روا گڼله او د برترۍ په همدې طريقې سره يې په خپلو مستعمرو کې ظلم کاوه. د عربو جزيره چې د بيلابيلو قومونو استوگنځی او تل له يو بل سره د جنگ جگړې په حال کې وو، په ډير بد حالت کې ژوند لره. هغوی د ابراهيم عليه السلام د يو پرستۍ دين په بت پالنې، شيطان پالنې او ملايکو پالنې باندې بدل کړی وو او د کعبې کور يې چې د اسماعيل او ابراهيم عليه السلام په واسطه د يوازينې خدای د عبادت لپاره جوړ شوی و د بتانو په مرکز بدل کړی و. په دې سيمه کې د قومي جگړو له امله تل وينه توييدله او د قومونو مشران چې معمولاً شتمن خلک وو، د غريبو په غلامۍ يې لاس پورې کړی وو.

لنډه دا، چې په ټولو ځايونو کې بشري کاروانونه منحرف او يا هم له حرکت پاتې وو. ظلم ټوله نړۍ نيولې وه، له دينونو څخه د استعمار، استثمار، بې عدالتۍ او برتروالي په توگه کار اخيستل کيده، نا برابري، قومي او طبقاتي ښه والی اوج ته رسيدلی و او بشري تمدنونه د زوال په حال کې وو. ملتونه په اوږده خوب ويده وو، کارونه سره گډوډ وو او جنگونو اور په هر ځای کې لگيدلی وو، نړۍ ناپوهۍ، تيارې او گناه خيره کړيوه، دوکه ډيره وه د بشر د ژوندانه د ونې پاڼې زيړې شوې وې او بالاخره د خلکو زړونه ويرې نيولي وو، له تورې پرته يې بله پناه نه لرله، پداسې حال کې الله (جل جلاله) پخپل ستر حکمت او بشري حالاتو او اوضاعو ته په کتو سره، د تيرو لارښونو په سلسله کې يو وار بيا او د وروستي ځل لپاره يوه لارښوونه (قرآن) چې د خدای جل جلاله د دين تکميلوونکی و (اسلام) د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) په واسطه چې په امانت، رښتينولۍ، حق ويلو، نيکو اخلاقو، شرافت او سخاوت کې يې ساری نه و، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول بشریت لپاره ډالۍ کړ.[۱]




د اسلام تر راتګ وړاندې د ۶۰۰ م کال نقشه

اسلام د پوره دین په توګه د ټول بشریت لپاره د خوښې یو زیری شو او د نړۍ له اوسني بحراني حالت څخه د راوتلو لپاره د نړۍ د خالق له لوري را واستول شو. د اسلام لاربښوونې پداسې حال کې چې د عیسی علیه السلام د محبت، ګډ ژوندانه، صبر، ملګرتیا، ورورلۍ او سولې څخه برخمنې دي، د موسی علیه السلام په څیر د بې عدالتۍ په وړاندې د سختې مبارزې او مقاومت ټینګار هم کوي. اسلام یو علمي، عملي، څو بُعدي، پوره او هر اړخیز دین دی چې لاربښوونې یې د بشري ژوندانه ټول اړخونه، زاویې او ابعاد په ښې طریقې سره تر څیړنې لاندې نیولی دي. انسان یې له ټولنې څخه د یوازې کیدو ژغورلی دی، بې عدالتي یې د هر انسان په وړاندې (که

۱ اسلام هیڅکله دا ادعا نده کړې چې یو نوی دین دی بلکې د پخوانیو آسماني دینونو پوره کوونکی او تصدیق کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان دی که غیر مسلمان) منع کړیده، خپل عقاید یې په غیر مسلمانانو باندې تحمیل کړي نه دي او ټولې لارښوونې یې د الهي عدالت په محور راڅرخي.[۱]

قرآن کریم پیژندنه د ټول اسلام د لارښوونو او د اسلام د پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د لارښوونو د پیژندلو وسیله ده.

قرآن کریم د تورات او انجیل تکمیلوونکی دی چې د انسان د ژوندانه ټول اړخونه د فلسفې، حکمت، قصص، عقایدو په قالب کې له اخلاقي او روحي احکامو نیولې تر اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، حقوقي، سیاسي، حتی د حمام، معاشرت، څښاک، خوراک، ملګرتیا، غیزت، سخاوت او ګډ ژوندانه تر آدابو پورې ټول په ځان کې لري او کورونو ته د کورني ژوند، ګاونډیتوب او د خوب تر کوټې او کوروالي تر مسایلو پورې پکې نغښتې دي.

د قرآن د لارښوونو تاکید یو اړخیز نه دی، اسلامي قوې د عدالت د ترسره کیدو په پار ټول اړخونه او لوري په نظر کې نیولي دي او د عدالت په محور کې یې هر اړخیز پیوستون اساس ایښی دی. د بیلګې په توګه د نفساني غریزو او معنوي تمایلاتو ترمنځ عدل؛ پداسې حال کې چې انسانانو ته د لمونځ، روژې، تقوا او ذکر امر کوي، جسماني، شهواني، مادي او نفساني اړتیاوې هم له هیره نه باسي. په یوې اسلامي ټولنه کې عدالت له استثناء پرته د قومیت، ژبې، نژاد او سیاسي، ټولنیز او اقتصادي حالت څخه پرته په ټولو د تطبیق او عملي کیدو وړ دی.

سوله او جګړه په اسلام کې مطلقې پدیدې نه دي، تل یې خپل پیروان سولې ته تشویق کړي او د سولې هرې غوښتنې ته یې لبیک ویلی دی؛ خو هیڅکله یې عدالت د سولې او امنیت قرباني کړی نه دی او کله چې د حق او عدالت د ترازو پله کم وزنه

---

[۱] سورهٔ بقره؛ آیهٔ ۲۵۶؛ لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ... (۲۶۵) ژباړه: په دین کې هیڅ اکراه او زور نشته (څوک دا حق نلري چې بل یو په زور سره د دین منلو ته مجبور کړي، بلکې هر څوک په خپلواکه توګه د عقل څخه په کار اخیستو او د څیړنې او مطالعې په پایله کې باید دین ومني).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویده، نو د براق او بران (ښو او بدو) په تورو یې ترمنځ اندازه برابره کړیده. د اسلام تګلاره د نړیوالې سولې د رامنځته کولو لپاره د انسان له باطن څخه پیل او هغه یې له خپل ځان سره په سوله کې راوستی دی، بیا یې سوله په کورنۍ کې تر رواج وروسته په ټولنه کې راوستې ده او بلاخره یې نړیواله کوي. اسلام هیڅکله د خپل تحمیل لپاره په خلکو باندې توره نه دې را ایستې، بلکې په اسلامي هیوادونو کې د ټولو دینونو پیروان په سوله او امنیت کې ژوند کوي، خو د تاریخ په اوږدو کې د ځینو هغو خلکو له خوا چې د اسلامي دعوت له اساساتو څخه یې ناسم درک کړی و ځینې ښویېدنې ترسره شوې دي، خو د اسلام روح او روان له دا ډول ښویېدنو څخه پاک دی.

بشر له غلامۍ رنځیده، قرآن د یو علمي او عملي لارښود په توګه، د دې ستونزې د حل لپاره یوه سیستماتیکه اوږدمهاله تګلاره وړاندې کړه، آن تر دې چې هر آیات یې د ازادۍ نارې وهي. د اسلام په اقتصادي او سیاسي نظام کې د غلامۍ او مریتوب ځای نه دی پاتې. د آزادۍ په رامنځته کیدو سره، غلامان په ټولنه کې داسې مدغم شول چې حتی د دموکراسۍ په عصري سیستم کې یې تصور ناشونی دی. لکه څنګه چې حضرت بلال رضی الله عنه په آزادیدو سره د اسلامي ټولنې سردارانو باندې بدل شو. په عین حال کې، په شلمه پیړۍ کې په امریکا کې د غلامۍ د سیستم په له منځه وړلو کې کلونه تیر شول څو تور پوستان په ټولنه کې مدغم شي او حتی تر اوسه هم دا ستونزه نه ده حل شوې او لا هم مدغم نه دي.

په اسلام کې تعصب، قوم پالنه، نژاد پالنه، ملیت پالنه او اشرافیت ځای نه لري او اسلام په خپل قلمرو کې د دا ډول ناروغیو په له منځه وړلو سخت ټینګار کړی دی. لکه څنګه چې الله (جل جلاله) فرمایي: ای خلکو! موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړئ او بیا مو تاسې قومونه او قبیلې وګرځولئ، چې تاسې یو او بل سره وپېژنئ. په حقیقت کې د الله (جل جلاله) په وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زيات پرهيزګار وي. په باوري ډول الله (جل جلاله) په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی[۱].

اسلام د ټولنې د اساس تشکيل له خلکو او اشخاصو پيلوي چې محور يې وجدان، مينه او ښه اخلاق دي. لکه چې الله (جل جلاله) خپل خوږ پيغمبر ته خطاب کوي: او ته (ای پيغمبره!) د اخلاقو لوړه مرتبه لرې.[۲] نيک اسلامي اخلاق يوازې په انسانانو پورې منحصر نه دي؛ بلکې ټول مخلوقات په بر کې نيسي.

پيغمبر (صلی الله عليه وسلم)لی الله عليه وسلم وفرمايل: يو کس په لاره روان و، د لارې په منځ کې تږی شو، يو څاه يې پيدا کړه، لاندې لاړ او اوبه يې وڅښلې، پورته راغی نو وې ليدل چې يو سپی له تندې څخه ساه اخلي، سړي له ځانه سره وويل: دا سپی هم زما په څير تږی دی. څاه ته وګرځيد او خپله پښه (د پښو بوټ) يې له اوبو ډکه کړه او هغه يې په غاښونو راپورته کړه او سپی يې موړ کړ. خدای ته شکر اداء کړ او خدای وبخښه. ورته وويل شول: ای د الله رسوله! ايا موږ ته د چارپايانو په ترحم باندې هم اجر او ثواب شته؟ ويې فرمايل: هو! د هر ژوندي موجود په مرستې سره اجر او ثواب شته.[۳]

محمد (صلی الله عليه وسلم) يو نالوستی يتيم، شپون، غريب او د عيسی او موسی عليهم السلام يو ترکيب دی؛ کله د بې عدالتيو په وړاندې په مبارزې او د الله کلمې د لوړوالي لپاره له تورې سره په وينو باندې له يارانو څخه مخکې وي او کله يې شفقت دومره وي هغه څوک چې ايرې ورباندې اچوي ملګری ورته وايي او د ناروغۍ پوښتنې ته ورځي. د مکې د فتحې پرمهال د قدرت په اوج کې، هغه څوک چې خپله د ده يارانو او ملګرو په ازار او ځورولو يې لاس پورې کړی و، له خپلو ځايونو يې شړلي وو او حتی د

---

[۱] سورۀ الحجرات؛ آيۀ ۱۳؛ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (۱۳)

[۲] سورۀ القلم؛ آيۀ ۴؛ وَ اِنّکَ لَعَلی خُلُقٍ عَظيمٍ (۴)

[۳] صحيح بخاري؛ حديث ۵٦٦٣ او صحيح مسلم؛ حديث ۲۲۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



گران کاکا د سید الشهدا (حضرت حمزه) سینه یې څیرلې وه او نورې څیرې چې د ظلمونو، توطیو او شکنجو ښکار شوې وې، ورته وایي: ای قریشو! اندیښنه مه کوئ چې له تاسو سره به څه وکړم؟ او بالاخره د مهربانۍ او بخښنې له تله وایي چې: ځئ ټول آزاد یاست!

اسلام د تر ټولو پوره دین په توګه د بشري ژوندانه ټول اړخونه رانغاړي حتی د ځمکې او چاپیریال ساتنې مسایل هم پکې دي. ډاکتر ویلینګ دین په لنډه توګه داسې تعریف کړی دی: دین د خالق او انسان ترمنځ د ځمکې د کُرې د ساتنې لپاره تړون دی[۱]. اسلام هم له دې تعریف وتی نه دی، ځکه چې د اسلام ټولې لارښوونې په خاورینه کُره کې د بشر د ارام ژوندانه او د انسانانو او ټولو مخلوقاتو لپاره دې کرې د ساتنې او جوړونې لپاره نازل شوی دی. الله (جل جلاله) بني آدم ته په ځمکه کې خپل خلیفه وایي، لکه چې فرمایي: ستا پروردګار پرښتو ته وویل: زه په ځمکه کې خلیفه ګمارم، پرښتو وویل: ایا داسې څوک پکې ګمارې چې پکې فساد وکړي او وینې تویې کړي، پداسې حال کې چې موږ په پاکۍ سره ستا ستاینه کوو ، ویې فرمایل: زه په هغه پوه یم چې تاسو نه پوهیږئ.[۲]

**اسلام په مکه کې**

محمد (صلی الله علیه وسلم) له پیغمبر کیدو وړاندې، کله چې د عربو ټاپوزمه د بت پالنې، الحادي او شرکي عقایدو، اشرافیت او قومي او نژادي جنګونو او تجملاتو په مستۍ کې ډوبه وه او دومره ناپوهي پرې حاکمه وه چې خپلې لوڼې یې ژوندۍ ښخولې، ځان یې له دا ډول ټولو اعمالو او افکارو لرې وساته او خپلې ډیری شپې یې د

---

[۱] Willing Daun; Money the Twelfth and Final Religion; p 12-13

[۲] سورهٔ بقره؛ آیهٔ ۳۰؛ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّى أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ (۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل یوازیني معبود د عبادت لپاره په حرا غار کې تیرولې. اسلام له بعثت څخه وړاندې حاکمو شرایطو ته د جاهلیت د وخت خطاب کړی دی.

په اسلام کې د جاهلیت زمانه

هغې ټولنې ته ویل کیږي چې فساد، بې عدالتي، ظلم او نهلیزم Nihilism یا د پوچ پالنې عقادې پکې حاکم وي.

د ٦١٠ میلادي کال په روژه کې د حرا[1] په غار کې یوه پیښه رامنځته شوه، د بشریت د تاریخ جریان ته یې بدلون ورکړ. یوه شپه چې محمد (صلی الله علیه وسلم) د رب العلمین درگاه ته په زاریو بوخت وو، الله (جل جلاله) هغه ته د جبرائیل علیه السلام په واسطه د بشري ټولنې د رهبرۍ لپاره ماموریت بیان کړ. د بعثت په دریو لومړیو کلونو کې د اسلام دعوت یوازې د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم)لی الله علیه وسلم په خپلوانو پورې منحصر وو او له عامه بلنې څخه ځان ساتل کیده. بي بي خدیجه رضی الله عنها د محمد (صلی الله علیه وسلم) لومړۍ میرمنه، د سوداگرۍ شریکه او د ژوند هم رازه لومړنی څوک وو چې د هغه نبوت یې ومنه او اسلام یې راوړ او بیا ورپسې د هغه د کاکا زوی حضرت علی او بیا د هغه نږدې ملگری حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنهم په اسلام مشرف شول. د بلنې په عامیدو سره د اسلام د پیروانو شمیر زیات شو او په عین حال کې مخالفتونه هم پیل شول د اسلام لارښوونې د مکې د قومونو د مشرانو، سوداگرو او اشرافو لپاره د هضم وړ نه وې؛ ځکه چې د هغوی سیاسي، اقتصادي او ټولنیز تسلط یې له خطر سره مخ کاوه. هغوی ډېر کلونه په ټولنه باندې له سیاسي، ټولنیز او اقتصادي مطلق تسلط څخه خوند اخیسته. د دې تسلط د له منځه وړلو له امله یې ځان نا مصئونه احساسوه او له داسې اسلام سره چې د دې تسلطونو پرخلاف یې په عدالت باندې تاکید کاوه، په دښمنۍ لاس پورې کړ. ابوالحکم چې

[1] د حرا غار د ثبیر په غره کې د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د بعثت ځای وو. د غار خوله شمال لور ته ده او پکې شاوخوا پنځه تنه ناست کسان ځایدلی شي او لوړوالی یې هم د انسان د ونې په اندازې دی. د حرا غار د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د عبادت ځای وو د کال ځینې ورځې په ځانگړې توگه د روژې مبارکه میاشت یې پکې عبادت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د محمد (صلی الله علیه وسلم) لخوا په ابو جهل ونومول شو، ابوسفیان، امیه او ځو تنه د مکې نور مشرانو د مسلمانانو په ازارولو او ځورولو لاس پورې کړ او د اسلام د مخکښو مسلمانو ځو تنه یې په شهادت ورسول. بلال رضی الله عنه چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) له لیدنې وړاندې یې د ایمان نور په زړه کې ځلیده او د هغه آیات لیوال وو چې لږ لږ یې غوږ ته رسیدلی و او اسلام ته د را اوښتو لپاره یې د خپل ارباب له امر څخه سرغړونه وکړه او په زړورتیا سره یې اسلام راوړل ښکاره کړل، ځو ورځې یې په لوږې او تندې سره ګرم او سوځیدونکي لمر ته شکنجه کړ؛ خو د ایمان نور یې داسې زړه او روح نیولي وو چې هیڅ درد او رنځ هغه له احد احد ویلو څخه راونه ګرځاوه.

محمد (صلی الله علیه وسلم) او د هغه یارانو ته د مشرکینو لخوا ازار او ځورونه هغوی له مقدسې دندې (رسالت) څخه راونه ګرځول او تل یې د الله (جل جلاله) لور ته پرته له کوم ډار او د مشرکینو د تهمت له شرم څخه پرته دوام ورکاوه. یوه ورځ یې د صفا په غره کې د (یا مباحاه) په کلمې سره چې عربانو د خبرداري پرځای کاروي، د ټولو پام ځانته راواړوه، هلته یې له خپل ممتاز شخصیت او په امانت دارۍ او رښتینولۍ یې د پخوانۍ سابقې له مخې خلکو ته پداسې حال کې چې غرونو یې اواز منعکسوه وویل: اې خلکو! که تاسو ته ووایم چې د دې غره شاته ستاسو دښمنانو موضع نیولی او ستاسو په مالونو او ځانونو د تیري اراده لري، باور کوئ؟ ټولو ومنله او یې ویل: هو! ځکه چې موږ تر اوسه له تا دروغ ندي اوریدلي. ویل فرمایل: ای د قریش ډلې! خپل ځان له اوره وساتئ! زه تاسو ته د خدای پر وړاندې څه نشم کولی، زه تاسو له سخت عذابه ویروم، زه د هماغه نندارچي په څیر یم چې دښمن له لرې ویني او بیا سمدستي خپل قوم ته د نجات لپاره ورځغلي او په یو ځانګړي شعار سره هغوی ته د دې دښمن په هکله خبر ورکوي.[1] خو مشرکینو بیا هم انکار وکړ او د حضرت محمد (صلی الله

[1] طبري تاریخ؛ ۳ جلد، ۱۱۷۰ مخ، السیره الحلبیه؛ لومړی ټوک؛ ۳۱۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه وسلم) ویناوو ته پام ونکړ، له دې سربیره یې د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) او د درانه شخصیت هغه پاک دین (اسلام) د تخریب لپاره هڅې او دښمني پیل کړه. د محمد (صلی الله علیه وسلم) د تعهد په وړاندې د حق د پیغام د رسولو (اسلام) لپاره له زور څخه کار اخیستنه مایوسوونکې وه؛ ځکه نو مشرکینو له بیلابیلو لاروچارو کار واخیست او د زر، ښځې او سیاسي حاکمیت وړاندیز یې وکړ؛ خو د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ستر شخصیت له دا ډول دنیوی شیانو څخه لوړ وو او بالاخره یې خپل وروستی کار د محمد (صلی الله علیه وسلم) د تره په وینا سره ترسره کړ؛ خو محمد (صلی الله علیه وسلم) خپل کاکا ته په خطاب کې داسې وفرمایل: ای کاکا! که لمر راته په یوه لاس او سپوږمۍ راته په بل لاس کې کیږدې، تر مرګه به له خپل رسالته لاس وانخلم.[1]

د مکې د اغیزمن، قدرتمند او مشر شخصیت او د وراره له سرسخت ملاتړي کاکا ابوطالب او د اقتصادي ملاتړې او همرازې بي بي خدیجې تر مرګ وروسته د مشرکینو د فشار او ځورونې په زیاتیدو سره حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) له یارانو سره مدینې ته د هجرت کولو اراده وکړه او په هجرت سره د اسلام د جنترۍ تاریخ چې د هجري تاریخ په نامه یادیږي، پیل وکړ.

**په مدینه کې اسلام او د جګړې پیل**

د یثرب (اوسنۍ مدینې) میلمه پالنې د مکې څو کلنه ځورونه او نا ارامۍ او همدارنګه د سوزنده او وچې صحرا او اوږدې لارې ستړیا په خوښیو واړوله. هغه پیغمبر چې تر دې وړاندې یې تل د مسلمانانو په عقیده جوړونې[2] فکر کاوه، اوس یې له عقیدې جوړونې پرته د اسلامي دولت په جوړولو پیل وکړ.

---

[1] ابن هشام؛ السیرة النبویه؛ لومړی ټوک؛ ۲٦۵-۲٦٦ مخونه

[2] اسلام، تر هر څه وارډمخه د شخص په اصلاحاتو پیل کوي او د هغه عقیده پوره کوي، ځکه چې همدا عقیده ده چې هغه له مهمل او کمزوري فکر څخه ژغوري او د مخلوقات له تلپاتې نړۍ او پیاوړتیا سره یې تړي. او همدا عقیده د دې لامل ګرځي چې خپل فاني عمر د نه پناه کیدونکي ژوند د لاسته راوړلو لپاره تیر کړي او د هر ډول بې عدالتۍ په وړاندې په زوړتیا سره ودریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آنحضرت صلی الله علیه وسلم په لومړي قدم کې د دولت د جوړونې لپاره، د یو مرکز جوړولو چارې پیل کړې چې پکې مشورو د یویشتمې پیړۍ پارلمانونه خاموش کول، شاګرد پکې اوسنی اکاډمیسن حیرانوه او د عباداتو سیستم پکې هندي زاهدان په تعجب کوي چې نن ورځ د مسجد النبوي په نوم پېژندل کیږي.

حضرت صلی الله علیه وسلم په پیل کې، د لومړني اساسي قانون په جوړولو چې د عصري او کتبي اساسي قانون په توګه ګڼل کیږي، د دستور المدینې په نوم جوړ کړ. د دې اساسي قانون له مخې، غیر مسلمانانو له مسلمانانو سره په یوې ټولنې کې ژوند کاوه او له مساوي حقونو څخه برخمن وو. ځینې آزادۍ چې په دې قانون کې راغلي دي:

- الهي امنیت د ټولو اقشارو لپاره مساوي دی.
- غیر مسلمانان له مسلمانانو سره یو ډول سیاسي او فرهنګي حقونه لري، هغوی له خپل دین څخه د پیروۍ حق هم لري.
- غیر مسلمانانو د امت په وړاندې په جنګونو کې شریک کیږي. د دې دوو ترمنځ باید د خیانت هیڅ ډول حس موجود نه وي.
- غیر مسلمانان د مسلمانانو په جنګونو کې په شریک کیدو مجبور دي.

د دې اساسي قانون د تطبیق پایلې د فاضلې مدینې (د ارمان ښار) منځته راتګ وو. فاضله مدینه هغه ښار دی چې ارستوکراسي، فیوډالیزم، سوسیالیزم، فاشیزم، لیبرالیزم او د بشري فکري مکتبونه پکې نه ځایدل او هرڅه د الهي عدالت په محور څرخیدل؛ غلام پکې سردار کیده او اشراف زاده ګانو پکې وهل خوړل، د هغو قبیلو دښمنانو چې کلونه کلونه یو د بل وینو ته تږي ناست وو، په ورورولۍ او خوشحالۍ یې یو بل ته غیږې خلاصې کړې. ښاریانو یې د خوړ اذان د غږ په اوریدو سره، خپل مالونه په عام محضر کې پریښودل او له کوچنۍ ویرې پرته یې د یوازیني معبود عبادت کاوه. هغه پانګوالو چې کلونه کلونه یې په عیش او عشرت کې ژوند کړی وو، په صدقه او بخشش کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښي ولیده او خپلې شتمنۍ یې د الله په لاره کې مصرفولې. حاکم یې له عامو خلکو سره توپیر نه لره. اقتصادي وضع یې له هغوی سره برابره او حتی کله کله به راښکته هم وه. د الله د امر په وړاندې هیڅ دموکراسي نه وه او بالاخره یو داسې ښار وو چې هغه خیال او ارمان چې افلاطون او ارسطو یې تصور نشو کولی او د بشریت تاریخ یې ساری نه لره. هو! د محمد فاضله مدینه او اسلامي دولت داسې و.

خو د محمد مدینه یوازې په اخلاقیاتو منحصره نه وه؛ بلکه د بل هر دولت په څیر د امرالله مطابق د قدرت په جوړولو لاس پورې کړ[1]. د مدینه فاضله او اسلام د قدرت بنسټ یوازې په اقتصاد، وسلې او اردو نه دی (دا د قدرت مهم اجزا دي)، بلکې د قدرت بنسټ او تهداب په ایمان، ارزښتونو، علم، آزادۍ، یووالي، نظم او رهبرۍ کې نغښتی دی.

له همدې امله ده چې مسلمانانو ته تر هغې د جنګ اجازه ونشوه چې د سیاسي او عمومي ازادیو او فردي او داخلي ازادیو څخه برخمن شو. مسلمانان د قدرت د بنسټونو تر جوړیدو وروسته د جنګ (جهاد) اجازه ترلاسه کړه او همدا وه چې نوی په ښنو دریدلی اردو په کمزورو او کوچنیو سلاحو سره د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) تر مشرۍ لاندې، د قریشو غاښ لرونکې او ستره اردو په ګونډو کړه.

## د اسلام د خلافت پیل او له خزر قوم سره ټکر

د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په رحلت سره د اسلامي ټولنې مشري حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته وسپارل شوه او هغه امپراتوري چې د اسلام ستر پیغمبر یې وعده کړیوه، د اسلامي خلافت لاندې په پراختیا پیل وکړ. له ځینې

---

[1] سورۀ الانفال؛ آیۀ ۶۰؛ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ (۶۰) ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې وسې ډیر زیات طاقت او تیار زین کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. ترڅو چې په دې وسیله د الله (جل جلاله) پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هیبت راولئ، چې تاسې یې نه پېژنئ خو الله (جل جلاله) یې پېژني. د الله (جل جلاله) په لاره کې چې تاسې هر څه ولګوئ، د هغو پوره بشپړ مکافات به ستاسې لوري ته راوګرځول شي او تاسې سره به هیڅکله ظلم ونه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخلي ستونزو په راڅرګندیدو سره سره لکه د دروغجنو پیغمبرانو او مرتدینو راپیدا کیدل او د مسلمانانو قبایلي بغاوت بیا هم اسلامي خلافت د فارس (ساسانیانو د امپراتورۍ) او بیزانس (ختیځ روم) په لور د پرمختګ په حال کې وو.

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه، د بیت المقدس په نیولو سره د اسلامي خلافت د ختیځې اروپا تر سرحدونو او په نننی ایران کې د فارس د زردشتي امپراتورۍ په رانړولو سره راورساوه.

د مسلمانانو د دریيم خلیفه (حضرت عثمان) په وخت کې د مسلمانانو ترمنځ د دوو لومړنیو خلیفه ګانو په پرتله جنجالونه زیات شو او د حضرت عثمان رضی الله عنه شهادت د اسلامي امت ترمنځ د لومړنۍ فتنې د رامنځته کیدو لامل شو. حضرت عایشه رضی الله عنها د اسلام د پیغمبر میرمن، له حضرت علي کرم الله وجهه سره چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) د کاکا زوی و او د اسلام د څلورم خلیفه په توګه ټاکل شوی و، په جمل جنګ کې پرخلاف شوه چې د مبارک صلی الله علیه وسلم د امت ترمنځ د لومړنۍ فتنې لامل شوه. نن ورځ باید مسلمانان په دې جنګ کې د طرفینو د سموالي او ناسموالي په اړه له قضاوتونو ډډه وکړي او قضاوت دې یوازیني قاضي ته پریږدي؛ ځکه چې د دې مخالفت په اړه قضاوتونو د اسلام نننی امت وضعیت کومه ګټه نده کړې، بلکې د اسلامي امت د پارچه پارچه کیدو لامل شوې ده او د دښمن ژرندې ته اوبه اچول دي؛ نو له دې امله باید اسلامي امت د دواړو لورو دحقانیت په اثبات ځان بوخت نکړي.

د حضرت علي رضی الله عنه په شهادت سره د قدرت واګې معاویه په لاس کې واخیست چې د خپل زوی (یزید ابن معاویه) د ولیعهد په ټاکنې سره د اسلام په تاریخ کې د دویمې لوی فتنې منځته را تګ وو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسی حضرت امام حسین پوهیده چې له خلیفه کیدو سره د وینې اړیکه نلري او بیعت د اسلامي خلافت پایه او اساس دی؛ نو د یزید ابن معاویه په وړاندې یې قیام وکړ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کربلا غمجنه پیښه رامنځته شوه. سره له دې چې امام حسین رضی الله عنه د اسلامی راشده خلافت د بیا رغونې لپاره خپل ځان، کورنۍ او یاران قربان کړل؛ خو تر اوسه اسلامي خلافت په ښه شکل سره په پښو ونه درید او د کربلا د پیښې څخه وروسته اسلامي امت د امام حسین د پاڅون په ناسم درک سره خپلمنځي اختلافاتو لاس پورې کړ او د اسلامي امت ترمنځ د یو ستر درز د رامنځته کیدو لامل شو.

د یزید تر حکومت وروسته، نظام په شکل د اشکالو په یو شاهي حکومت بدل شو. د امویانو پر مهال د خلافت اصلي معنی له منځه تلې وه، د امویانو کورنۍ د اشرافیت ژوند کاوه، نه د حضرت عمر له عدالته خبر وو او نه هم د حضرت علي له حکمته، پرته د عمر ابن عبدالعزیز د خلافت له دورې څخه چې د هغه عدالت تاریخ لیکوونکي حیران کړل؛ خو له بلې خوا د امویانو



د اموریانو په واسطه جوړه شوې سکه

پرمهال په هنر، معمارۍ، د منسوجات صنعت، فلزي صنعت او مالدارۍ کې ډېر پرمختګونه وشول چې ترې سترګې نشي پټیدلی.

امویانو همدارنګه د اسلام د امپراتورۍ په پراختیا لاس پورې کړی وو. د ختیځ روم د بیزانس د امپراتورۍ په شړلو سره د اسلام قوي او ستره اردو له یوې بلې ډلې سره چې خزر نومیده، مخ شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له بده مرغه چې د غرب ډېر تاریخي کتابونه او حتی د اسلامي معاصر تاریخ کتابونو یې په اړه هیڅ یادونه نده کړې. آرتر کوستلر د کوپن هاګن له پوهنتون څخه د سنینګ جایزې ګټونکی، د اروپایي فرهنګونو په مطالعاتو کې د با ارزښته برخې اخیستو لپاره پخپل کتاب (دیارلسمې قبیلې) کې د خزر د تاریخ په اړه داسې لیکي: د خزرانو د امپراتورۍ کیسه یو تر ټولو بې رحمانه چل دی چې تاریخ تر اوسه ترسره کړیدی.[1] خزران د قفقاز په غرونو کې یوه قبیله وه چې د بشري تاریخ په اوږدو کې یې جلا ژوند لره چې د نړۍ ستر مؤرخین یې د پیدایښت، ژوند او له منځه تلو په اړه مغشوش دي.

په نوموړي کتاب[2] کې د خزرانو ځانګړتیاوې داسې په ګوته شوې دي:

- په بدو ځیرو او د وحشي حیواناتو په خویونو سره، وحشي انسانان
- د ښځو په ځیر ویښته اوږده ویښته یې لرل، ډېرو یې لویې او بدې ځیرې لرلې.
- خزران دوه ډوله دي: تور پوستي خزران چې له هندیانو سره ورته والی لري او سپین پوستي خزران چې ډېر ښکلي دي.

---

۱ Arthur Koestler; The Thirteenth Tribe; p 5

۲ Ibid; p 6

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د امویانو پرمهال د اسلامي خلافت لمن**

دا امپراتوري چې لومړی د کُن په امپراتورۍ پیژندل کیده، د خزر قوم په راتگ سره د خزر په نوم ونومول شوه. خزرانو د ژوند عجیب طرز، رواجونه او فرهنگ لره، پادشاهانو یې له څو ټاکل شویو کسو څخه پرته بل چا نشو لیدلی، له هیڅ پیژندل شویو دینونو څخه پیروي نه کوله، په ځینو غونډو کې به یې انسان قرباني کول. پداسې حال کې چې دوی په سیمه کې تر ټولو شتمنه امپراتوري گڼل کیده، هیڅ ډول صادرات او صنایع یې نه لرل، بلکې تر ټولو ستره سوداگري یې د غلامانو پیر او پلور، جنسي تجارت او د سوداگریزو کاروانونو غلا کول وو. د یهودیت په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره غیر سامي[1] خلک په ډیر مرموز او ماهرانه توگه هغه دین ته چې پیروان یې د یو ځانگړي نژاد پورې تړلی بولي (یهودیت)، واوښتل.

---

[1] سامي قومونه نن ورځ عربو په ځانگړې توگه اسراییلیانو (عبرانیانو) ته کارول کیږي. د سامي ژبو تر ټولو ژوندۍ نمونې هم عربي، عبربي او آشوري دي. نن ورځ که څوک د یهودیانو حقیقتونه را برسېره کړي، سامي ضد ورته ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د خزري عسکر د شپږ مخيز ستوري نښان چې د اوسني اسرائيلو د بيرغ نښه هم ده.**

خزران نه يوازې يهوديان شول، بلکې يو شمير يې عيسويان شول او ډير لږ شمير يې مسلمانان هم شول. هغوی دين د خپلو عقيدو لپاره انتخاب کړی نه وو، بلکې اصلي هدف يې په نړۍ کې سياسي نفوذ وو. د يهودو دين په دولسو اسرائيلي قبيلو پورې تړاو لري او غير اسرائيلي نژادونه يې دې دين ته نشي داخليدلی. همدا لامل دی چې آرتر کوستلر د خزر يهوديان په يهوديت کې ديارلسمه قبيله گڼي.

ابن فضلان چې دې سيمې ته يې د عباسي خليفه د استازي په توگه سفر کړی و، پخپل کتاب (د ابن فضلان سفرنامې) کې خپلې د سترگو ليدلې خاطرې په دې توگه را اخلي: د خزر د پادشاه عادت دادې چې پنځه ويشت ښځې بايد ولري، هر يوه يې د گاونډيو پادشاهانو لوڼې دي او که يې خوښه وي او کنه په نکاح کوي يې. هغه له ځانه سره د خوب کولو لپاره شپيته وينځې هم لري. د هغه د واکمنۍ دوره څلويښت کاله ده او يوه ورځ هم پرې واوښته، عام وگړي او خپل نږدې خپلوان وژني او وايي چې: د دې کس عقل کم شوی دی، د پادشاه تر خښولو وروسته د هغه چا څټ وهي چې د ده په دفن کولو کې موجود وو څو دا معلومه نشي چې قبر يې په کومې کوټه کې دی.

کله چې يې د خپلو عسکرو ټولگی کوم خواته لېږه په هيڅ وجې بايد شاتگ ونکړي، که يې ماتې خوړه، هر يو يې چې بيرته راگرځيده، وژل کيږي؛ خو که د لښکر مشر ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوري؛ نو هغه يې راغوښته او د هغه لوښې او ښځې يې د هغوی پر وړاندې نورو ته وربخښلې.[۱]

خزران او د هغوی پاچايان يهوديان دي. موږ بايد پوه شو چې په موسوي (په موسی عليه السلام پورې تړلی) قبيلوي حاكميت كې خزر حاكمې قبيلې او ملت ته ويل كيږي. بلغاريان او نورو كاونډيان يې د (شاه) تر واكمنۍ لاندې وو او شاه ته يې د خدای په ځير عبادت كاوه، ځينې په دې نظر دي چې خزران ياجوج او ماجوج دي.[۲]

د ياجوج او ماجوج په اړه بدبختانه ډيرې افسانې، جوړ شوي روايات او دروغ جوړ شوي دي چې تر ډيره يې مسلمانان هم اغيزمن كړيدي، ځينې يې ډير كوچني او ځينې يې ډير لوی او ځينې يې عجيب و غريب موجودات ګڼي. ياجوج او ماجوج عادي انسانان دي او له نورو انسانانو سره په جسمي، فزيكي او بيولوژيكي شكل او كړو وړو كې توپير نلري. لكه څنګه چې د ابن قتاده په روايت كې راغلي دي: ياجوج او ماجوج د يافث بن نوح[۳] له نسل څخه دوه قبيلې دي او په بل روايت كې د ابو هريره څخه نقل دي چې: هغوی هم د نورو انسانانو په څير د آدم عليه السلام په نسل كې شامل دي.[٤] ابن كثير په خپل مشهور كتاب (الدايه و النهايه) كې ليكي: د ياجوج او ماجوج په اړه بيلابيل اقوال چې ځينې وايي ډيرې لوړې ونې لري او ځينې وايي ونې يې ډيرې لنډې دي، غلط او بې دليله دي، بلكې هغوی د نوح عليه السلام له اولادې څخه دي او د بني آدمو په څير شكلي او جسماني ځانګړنې لري.[٥]

په قرآن مجيد كې د ياجوج او ماجوج په اړه دوه ځله يادونه شويده، يو وار په كفه سورت كې چې د ذوالقرنين له داستان سره داسې پيليږي:

---

[۱] ابن فضلان؛ د ابن فضلان سفرنامه؛ ۱۱۵-۱۲۸ مخونه

[۲] The Thirteenth Tribe; Arthur Koestler; p 16

[۳] فتح الباري؛ شپږم جلد؛ ۲۹۷مخ

[٤] هماغه سرچينه

[٥] حافظ عمادالدين ابن كثير؛ الدايه و النهايه؛ شپږم جلد؛ ۱۱۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. ذوالقرنین داسې ځای ته رسیږي چې فکر کوي لمر په ختیځنو او تورو اوبو کې ډوبیږي.
۲. وړاندې تر دې چې ذوالقرنین یاجوج او ماجوج ته ورسیږي وایي: که هر چا ظلم وکړ نو عذاب به ورکړم، یعني هغه ظالمانو ته عذاب ورکاوه او نه یې بخښل.
۳. د لارې په اوږدو کې یاجوج او ماجوج ته رسیږي چې د دوو دیوالونو ترمنځ پراته دي او داسې خلک دي چې په هیڅ ژبه نه پوهیږي.
۴. هغو خلکو ذوالقرنین ته د یاجوج او ماجوج د فساد کیسې وکړې.
۵. ذوالقرنین د دوو غرونو ترمنځ د اوسپنیز دیوال په جوړولو سره د یاجوج او ماجوج د تگ راتگ لاره بنده کړه تر هغې چې د الله (جل جلاله) وعده نه وي رارسیدلې له دې ځایه نشي راوتلی.
٦. یاجوج او ماجوج د ځمکې پرمخ مفسدین دي.[1]

د قرآني حقایقو له مخې، د یاجوجو او ماجوجو جغرافیوي موقعیت د تورو اوبو (تورې بحیرې) په شاوخوا کې دہ. د تورې بحیرې په شاوخوا کې هغه دوه دیوالونه چې په قرآن او نبوي احادیثو کې یې ځانگړنې یادې شویدي، د ققفاز غرونه دي. په دې اړه ابن خلدون داسې لیکي: د اووم اقلیم په نویو برخو کې، په لویدیځه برخه کې تُرک قبیلې ژوند کوي چې ورته ققفاز وایي او په ختیځه خوا کې یې یاجوج او ماجوج دي او د دې دوو فاصلو ترمنځ د قاف غر دی او غره په منځ کې د سکندر دیوال دی چې قرآن هم ورته اشاره کړیده.[2]

---

[1] سوره کهف؛ له ۸۳ څخه تر ۹۸ پورې آیاتونه

[2] ابن خلدون؛ شپږم اقلیم؛ سریزه (د ابن خلدون دا وینا په قصص القرآن کې مولانا محمد حفظ الرحمن په ۱۵۰ مخ کې نقل کړیده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوالقرنین به ټولو ظالمانو ته عذاب ورکاوه، خو یاجوج او ماجوجو ته یې عذاب ورنکړ. د یاجوجو او ماجوجو قبیله ډیره پیاوړې وه؛ ځکه چې ذوالقرنین یې هم په عذاب ورکولو ناتوانه شو او یو اوسپنیز او مسي دیوال یې د هغوی په وړاندې جوړ کړ.

په دې سیمو کې ځینې قبایل د ساونتي په څیر اوسیدل چې د نړۍ له مروجو ژبو څخه یې ژبه بدله وه او حتی تر اوسه یې ژبه په لیکلې بڼه رسم او خط نلري. د قفقاز د غرونو ترمنځ یو تنګې وجود لري چې د داریال جورج (Darial Gorge) په نوم یادیږي چې د اوسپنې او مسو میده ګي هلته پیدا شویده. ابو کلام آزاد لیکي: دا دیوال د خزر او تورې بحیرو ترمنځ واقع دی او یو داسې ځای دی چې د قفقاز د غرونو لړۍ، د یو طبیعي دیوال په څیر د جنوب او شمال ترمنځ لاره قطع کوي او د دې غرونو په منځ کې یوازې په یو تنګي کې یوه لاره موجوده ده، دا لاره په اوس وخت کې د داریال تنګي په نامه یادیږي او د کیوکز او تفلیس په برخو کې واقع ده. اوس هم په دې برخو کې د اوسپنیز دیوال پاتې شونې شته دي او له شک پرته به د کوروش دیوال وي. د ذوالقرنین د دیوال په اړه ویل کیږي چې ډیره اوسپنه پکې کاریدلې او د دوو غرونو ترمنځ هم جوړ شویدی. د داریال معبر او تنګی هم د دوو لوړو غرونو ترمنځ واقع دی او دا دیوال هم چې ډیره اوسپنه پکې لیدل کیږي، په همدې دره کې موجود ده. په دې اړه له ارمني کتابونو څخه د ښه مدرک او شاهد په توګه کار اخیستی شو؛ ځکه چې له پیښنو څخه له نږدې بلد دي.[1]

د اسلام امپراتورۍ د امویانو د قدرت پرمهال غوښتل چې امپراتوري پراخه کړي او د قفقاز له غرونو تیر شي چې د خزرانو له سخت مقاومت سره مخامخ شول. له دې دیوال څخه د تیریدو لپاره د اسلام امپراتورۍ په څو سختو حملو لاس پورې کړ؛ خو تل د خزرانو له مقاومت سره مخ شول او له سختو جګړو وروسته یې ماتې ومنله. د مسلمانانو د نه ماتیدونکې اردو له ماتې څخه د دې قوم پیاوړتیا په ډاګه کیدای شي. د عمر بن

[1] مولانا ابوالکلام آزاد؛ ذوالقرنین او ستر کوروش؛ د باستاني پاریزي ژباړه؛ ۷۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالعزیز تر خلافت وروسته چې په دویم عمر مشهور و، د امویانو د امپراتورۍ له یو سخت بحراني حالت سره مخ شوه. قوي اختلافات زیات شول، د دین علما له سیاست لرې وساتل شول او مخالفت یې کاوه او تر ټولو مهمه دا چې عباسیانو د اموي حکومت په وړاندې مخالفت کاوه او غوښتل یې چې خلیفه باید د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) له کورنۍ څخه وي. په ۷۴۹ م کال کې عباسیان په عراق کې د امویانو د وروستي خلیفه (منصور) په ماتې بریالي شول او د امویانو خلافت پای وموند.

**عباسیان، صلیبي جګړې او د فریمیسنانو (Freemasons) منځته راتګ**

د عباسیانو د لومړي خلیفه ابوالعباس الصفا په خلیفه کیدو سره، پلازمینه له دمشق څخه کوفې ته او بالاخره بغداد ته انتقال شوه. عباسیانو هم د خپلو پخوانیو سیالانو (امویانو)، په څیر د اسلامي خلافت اصل (بیعت) ته پاملرنه ونکړه او سلطنتي او مثراثي لړۍ یې پیاوړې کړه. له ځینو تیروتنو سره سره بیاهم اسلامي او غیر اسلامي مؤرخین د عباسیانو دوره د اسلام زرینه دوره ګڼي، ځکه چې په دې موده کې د علم، هنر، فلسفې، شعر، طبابت، ریاضیاتو، ساینس، ستورو، معمارۍ او نورو بیلابیلو برخو کې د پام وړ پرمختګونه وشول.

عباسیانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د علم په اړه ویناوو څخه ډیر اغیزمن وو. مثلاً ویل به یې چې د یو عالم د قلم رنګ د شهید له وینې څخه پاک دی[1] او یقیناً عالمان د پیغمبرانو وارثان دي.[2] همدا لامل وو چې په بغداد کې یو علمي مرکز جوړ شو. په دې ځای کې به مسلمان او غیر مسلمان عالمان سره یوځای کیدل او د ټولې نړۍ پوهه به یې راټولوله. د مسلمانانو د هماغه مهال پوهنتونونه د نړۍ په کچه پیاوړي پوهنتونونه وو. په هغه وخت کې به مسلمانانو له هرې ممکنه زاویې او طریقې سره علم، که له اسلامي اساساتو سره په ټکر کې هم وو، تر څیړنې لاندې نیوه. هغه وخت د

[1] جامع البيان العلم؛ لومړی جلد؛ ۱۵۰ حدیث

[2] سنن ابوداوود؛ ۳٦٤۱ حدیث؛ سنن ترمذي ۲٦۸۲، سنن احمد بن حنبل؛ ۲۱۷٦۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر، تعقل او علم وخت وو. هغه وخت علما يوازې ملايانو ته نه ويل کيده. علماء پرته له دې چې ديني علم به يې لره، له نورو علومو سره به يې هم بلدتيا لرله. هغه چا چې يوازې په دين کې به يې ځيرنه کوله فقها ورته ويل کېده. هغه وخت علماوو په هر آيت او حديث باندې لکه څنګه الله (جل جلاله) او د هغه رسول ويلی وو، فکر او سوچ کاوه.[1] لکه چې د يو حديث په مفهوم راغلي دي: الله (جل جلاله) له علاج پرته مريضي نده پيدا کړی.[2] علماوو د همدې حديث په اړه د هماغه وخت د ټولو ناروغيو د علاج په ځيړنه پيل وکړ.

د نن ورځ عصري طب علم د هماغه وخت د اسلامي علماوو د فکر او ځيړونو پايله ده. په هغه وخت کې د اسلام علماء يوازې د مسلمانانو استادان نه وو بلکې د اروپايانو استادان هم وو. د اسلام علماء د ساينس په بشپړتيا کې عمده او ستر رول لوبولی دی چې له دې ډلې (الرازي، البيروني، ابن الهاثم، الجبرتي، التواسي، خوارزمي او نور) د خپل وخت تر ټولو پياوړي ساينس پوهان وو. د طب په برخه کې د ابن سينا په څير اغېزناک او ګټور شخصيت بې جوړې وو؛ ځکه چې د اوسني طب بنسټ يې کيښود. د هغه وخت د سترګو مسلمانو ډاکټرانو د سترګو دعمليات لپاره نرمې او پرمختللې الې کشف کړيوې. همدارنګه اسلامي علماوو د انسان د سترګې د مطالعې له مخې د نور له فزيک سره ډيره مرسته وکړه.

اسلامي علماء په الجبر او رياضياتو کې د ډيرو هڅو څخه وروسته په دې وتوانيدل چې د باينري اعدادو (Binary Code) د رازونو په پراختيا سره د ساعت، آبيارۍ سيستمونو (هايدروفزيک) او ميخانيکي سيستمونو په کشفولو کې مهمه ونډه واخلي. کرن

---

[1] د قرآن په ډيرو اياتونو کې الله (جل جلاله) انسانان د فکر نکولو په لامل نيولي دي او د (افلا تعقلون)، (افلا تتفکرون) او (افلا يتدبرون القران)، سره يې په بيلابيلو مباحثو کې فکر او سوچ کولو ته رابللي دي.

[2] صحيح بخاري؛ ۵٦۷۸ حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرمسترانګ د لویدیځې نړۍ مهشور دین پوه داسې لیکي: د هغه وخت د اسلامي علماوو ساینسي کشفیات د پخواني تاریخ له ټولو کشفیاتو څخه زیات دي.[۱]

د دیني مطالعو په برخه کې د نعمان ابن ثابت (امام ابو حنیفه)، امام احمد بن حنبل، محمد بن ادریس شافعي، امام مالک ابن انس او امام جعفر صادق رحیمهم الله په څیر پیاوړو دیني علماوو او مجتهدینو د دین په بیلابیلو برخو څیړنې وکړې او بیلابیلې فتواګانې او اجتهادونه یې صادر کړل چې نن ورځ یې د اسلام ستر مذهبونو تشکیل کړیدي.

خو د عباسیانو دوره له دې ټولو پرمختګونو سره سره، بیا هم له بحرانونو او کمزوریو څخه خالي نه وه. اقتصادي حالت مخ په کمزوتیا وه او د خلافت د ټولې ساحې کنترول ورته یو ستونزمن کار وو. د هسپانیې په څیر ځینې سرحدي ولایتونو ترې ځان بیلول پیل کړل او هارون الرشید د دې ستونزې د حل لپاره غوښتل چې امپراتوري د خپلو دوو زامنو ترمنځ وویشي چې دا کار یې تر مرګ وروسته د دواړو زامنو ترمنځ د داخلي جګړو لامل شو. د لسمې پیړۍ په وروستیو لسیزو کې اسماعیلیه ډلې په مصر کې بغاوت وکړ او د فاطمیانو امپراتوري یې رامنځ ته کړه، چې تر دوه سوه کلنو پورې یې دوام وکړ.

له بلې خوا سلجوقیان چې د تصوف مکتب ډېر تړي وو او د نظام الملک فارسي په واسطه اداره کیدل، د سلجوقیانو په نوم یې یوه نوې امپراتوري رامنځته کړه، چې جنوب لورته تر یمن، ختیځ ته تر آمو سینده او لویدیځ ته یې تر سوریې ادامه لرله. د سلجوقیانو په حکومت کې اسلامي ټولنه د اسلامي شریعت له مخې اداره کیدله. پداسې حال کې چې مسلمانان پخپلو داخلي جګړو او خپلمنځي اختلافاتو اخته شو او یو خلافت یې په څو سیاسي واحدونو بدل شو، د نړۍ بلې خواته (غربي اروپا کې) د کاتولیک کلیساوو پاپانو د خپلو داخلي جګړو د له منځه وړلو لپاره، مسلمانان د

---

[۱] Karen Armstrong (2002(; Islam: A Short History; p 56

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسیحیت د دین یوازیني دښمنان وروپیژندل چې وروسته دا کار د مسلمانانو په ستر سردردي واوښت.

د مسیحیت دین د یوې عقیدتي اختلافونو د لړۍ پر بنسټ په شرقي مسیحیت (ارتودوکس) او غربي مسیحیت (کاتولیک) باندې ویشل شوی وو، چې یو بل ته یې د دښمن په سترګه کتل. د روم د امپراتورۍ تر زوال ورسوته ارتودوکس مسیحیت د ختیځ روم امپراتوري (Byzantine) رامنځته کړه او غربي مسیحیان په ملک الطوایفۍ، فیوډالۍ او یو جهالت کې اوسیدل.

د غربي اروپا وګړو ترټولو بد ژوند لره. د فیوډال لږکیو (اقلیت) د خلکو له اکثریت څخه د جنګي حیواناتو په توګه کار اخیست او داخلي جګړې یې د خپلې اعاشې او اباطې د ترلاسه کولو لپاره کاروبار ګرځولې وې. له دې حالت څخه کلیسا ستړې شوې وه او د جګړې د مهار کیدو لپاره یې یو الهي اوربند اعلان کړ. د نجباوو ترمنځ د شنبې، یکشنبې، دوشنبې او ټولو هغو ورځو به اوږدو چې د کلیسا له خوا ورته د تقدس په خاطر رسمي رخصتي ورکړل شوې وي، جګړه منع شوه. د خلکو زیاتوالی، له علم څخه لرې والی او د اغیزمنتیا نشتون د فقر او بیچاره ګۍ د زیاتوالي لامل شو او کشیشان هم په فیوډالي نجباوو بدل شوي وو چې د الهي اوربند د له منځه تلو لامل شو.

تر دې وروسته جنګونه او فقر نور هم زیات شو، کلیسا د یوې بلې حللارې په فکر کې شوه. د جنګ د لوري د بدلولو لپاره یې د مسلمانانو د راپرځولو پیل وکړ، کلیسا خپلو خلکو ته مسلمانان د حضرت عیسی علیه السلام د زیږیدو د پاک ځای (اورشلیم) د ځمکې غاصبین، بد ملت او وینه تویونکي هیولاګان وروپیژندل.

په ۱۰۹۵ م کال کې دویم اوربانس پاپ د کلیسا له مشرانو څخه یوه شورا د فرانسې په جنوب کې تشکیل کړه. هغه هلته خپلو مخاطبینو ته د تاریخ تر ټولو حیرانوونکې وینا وکړه. نوموړي په دروغو سره د مسلمانو قومونو د بریاوو او تاوتریخوالو یو بد انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کړ، چې پکې بیت المقدس د دې وینه تویونکو تر پښو لاندې شوی وو.[۱] ملعون نژاد د بیت المقدس په ځمکه په بیرحمۍ سره حمله وکړه، اور یې ورپورې کړ او خلک یې ترې وویستل. هغوی له ځانه سره خپلو هیوادونو ته یو څه بندیان هم ویوړل او یو څه یې په وحشیانه توګه تر شکنجو او ځورونو وروسته له تیغه تیر کړل. هغوی محرابونه، پخپلو ناپاکه وجودونو سره تر مردارولو وروسته وران کړل.[۲] په ۱۰۹۹ م کال کې صلیبیان د بیت المقدس شاوخوا سیمو ته په رسیدو او محاصره کولو کې بریالي شول، چې د همدې کال په وروستیو کې یې په دې ښار باندې وروستیو حمله پیل کړه او بیت المقدس د صلیبیانو لاس ته ورغی. صلیبیان ښار ته له ننوتو سره سم د حیواناتو په څیر لیونی حالت ځانته غوره کړ. د غچ اخیستنې لپاره یې د مسلمان په وژلو او راز راز ظلمونو لاس پورې کړ. صلیبیانو هر مسلمان او یهودي له ښځې او ماشوم سره په خورا بې رحمۍ ووژل. د بیت المقدس لارې یې له وینو ډکې کړې او هیڅ یو داسې صلیبي به مو نه وو لیدلې، چې په وینو یې کالي تر ځنګنو لړل شوي نه وي. تاریخ پوهان په دې باور دي چې که مسلمانان پخپلو داخلي بې نظمیو او کشمکشونو اخته نه وای، نو د صلیبیانو غیر متمدنه، وحشي، جاهله او نامنظمه اردو به هیڅکله د مسلمانانو په ماتولو او په بیت المقدس کې په قتل عام کولو بریالی شوې نه وه. په بیت المقدس کې د معبد د قهرمانانو (Knight Templars) په نوم ډله راپیدا شوه. د ډیرو سرچینو په باور د معبد قهرمانان یا د سلیمان د معبد فقیر قهرمانان په ۱۱۱۸ م کال کې رامنځته شوه، خو داسې شواهد شته چې دا ډله څلور کاله وړاندې هم موجوده وه.[۳] له ۱۱۲۸ م کال راهیسې دا ډله په غیر معمول توګه پراخه شویده، نه یوازې یې ګمارنه زیاته شویده، بلکې ملکیتي او مالي مرستې هم لاسته راوړې دي. د یوه کال په موده کې یې په فرانسې، انګلستان، هسپانیې او پرتګال کې د ځمکو

---

[۱] تیموتي لوی بیئل؛ صلیبي جګړې؛ د سهیل سمي ژباړه؛ ۴۲ مخ

[۲] Frederick A.; Medieval History; Pop Orobanche II speach

[۳] Desmond Seward; The Monks of War; p 37

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوندان شول. د یوې لسیزې په اوږدو کې یې ملکیتونه ایټالی، اتریش، جرمني، هنګري او قسطنطنیې (اوسني استانبول) ته ورسیدل. په ۱۱۳۱م کال کې اروګان (Oregon) پادشاه د خپلې واکمنۍ دریمه برخه ور وسپارله. د دولسمې پیړۍ په منځنیو وختونو کې معبدیان په مسیحیت کې د یوازیني پیاوړي او شتمن سازمان په توګه پیژندل کیدل، البته د پاپانو په کچه نه وو. د معبدیانو اړیکې له هغو حاکمانو سره چې پکې یې ځمکې لرلې ضد و نقیض وې، د بیلګې په توګه په فرانسه کې یې اړیکې تل خچنې وې، له بلې خوا په هسپانیه بیا دا اړیکې په دوامداره توګه ښې وې او په انګلستان کې هم معبیان د شاهي کورنۍ له ملاتړ څخه برخمن وو. د صلیبیانو ترمنځ به ډیرې لږې پریکړې وې چې معبدیانو پکې رول نه لره. تاریخي شواهد ښیي چې معبدي قهرمانان په ژوره توګه د اروپا د شاهي حکومتونو په دننیو او بهرنیو چارو کې دخیل وو.[۱]



د بافومت مجسمه چې شیطاني عابدان ورته د شیطان په توګه عبادت

معبدیانو یو خاص نظم لره او غړي یې په بیلابیلو درجو کې وو، چې تر ټولو ستر یې د اعظم استاد (Grand Master) په نامه یادیده. ماریون ملول لیکي: معبدیانو د دوو اعظمو استادانو (Hugues de Payens & Richard de hastings) تر مشرۍ لاندې یې د تورات

---

۱ Reichard Leigh & Michael Baigent; The Temple and the Lodge; Ch. 2

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاسوهنه پیل وکړ.[۱] تورات هغه کتاب دی چې د الله (جل جلاله) له خوا په موسی علیه السلام نازل شوی دی. مخکې هم د بني اسرائیلو لخوا پکې لاسوهنه شوی وه، خو د معبدیانو لاسوهنه یوه پیاوړې اقتصادي، سیاسي او جیو پولیټیکي ریښه لري، د بیلګې په توګه د غیر یهودو لپاره د سود حلالول او د بین النهرین (د فرات له سیند څخه د نیل تر سیند پورې) سیمه د بني اسرائیلو د حکومت حق ګڼل.

معبدیانو د ډېرې شمتنۍ، بشري قوی، نظامي او دیپلوماتیکو مهارتونو په راټولو سره نظامي او سیاسي اغیزمنتیا لاسته راوړه. خو د دوی اقتصادي پیاوړتیا له سیاسي او نظامي هغې څخه کمه نه وه. ډېری مورخین په دې عقیده دي چې اوسنی عصري تکاملي اقتصادي سیسم د یهودو د سود خوړولو او په ځانګړې توګه د معبدیانو د کړنو پایله ده.

پداسې حال کې چې په مسیحیت کې سود خوړل حرام دي او په هغې وخت کې هم دا کار حرام ګڼل کیده، خو معبدیان ترې مستثناء وو او په ډېره لویه کچه قرضه یې وراندې کوله چې بیا به یې د هغې سود راټولوه [۲]. حتی تر دې چې د انګلستان شاهي کورنۍ هم د معبدیانو پوروړې وه. د انګلیسانو شاه (جان) له معبدیانو څخه ډېر قرضه اخیستې وه. همدارنګه درېیم هنري پادشاه له معبدیانو څخه دومره پوروړی وو چې د انګلستان ټول نظامي مصارف یې له هغې څخه ورکول او د انګلیس ملکه هم شخصاً د معبدیانو پوروړې وه؛ د اوسني سویسي بانک په څیر معبدیانو به اوږدمهالې پیسې راټولولې چې پیسې به د مالک تر مرګ وروسته (هغه چې خپله یې له معبد نه امانت اخیستې وي) بیرته د معبد کیدې. دیماند سیوارد لیکي: د معبدیانو په څیر هیڅ یو

---

[۱] Marion Melville; Life of Templers; p 93

[۲] Eleanor Ferris; The Financial Relations of the Knights Templars to the English Crown; pp 15-16

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان د سرمايه داری (Capitalism) له پرمختللي سره مرسته نده کړې[۱]. د پام وړ ټکی داده چې د معبديانو ټول اعظم استادان خزر وو.[۲]

د فرانسې پادشاه (پنځم فيليپ) چې لويل فيليپ هم مشهور وو، د معبديانو د ورځ تر ورځې اقتصادي او سياسي قدرت له زياتيدو څخه د خطر احساس کاوه او د دې ډلې د وژنې او نيولو فرمان يې صادر کړ. تر فرانسې وروسته څو نورو اروپايي هيوادونو هم د معبديانو د نيولو امر صادر کړ، خو دا کار سکاټلينډ ونکړ، ځکه چې د فرانسې دښمن وو او خپلې دروازې يې د معبديانو پرمخ پرانيستې. د فرانسې د پادشاه له ستر قدرت سره سره بيا هم هغه پدې ونه توانيد چې د معبديانو ستر استادان ونيسي او د هغوی خزانې لاسته راوړي. معبديان په مرموزه توګه له خپلو خزانو سره اسکاټلنډ ته پناه يوړه.

فيليپ د نيول شويو معبديانو په شکنجه کولو لاس پورې کړ چې د معبديانو په عجيبو رازونو يې اعتراف وکړ. په اعترافونو کې مهم دا وو چې معبديان د بافومت (Baphomet) يو شيطاني قدرت عبادت کوي.[۳] معبديان په داسې عباداتو تورن وو چې له امله د ماشومانو وژل، د جنين د سقط لپاره تدريس، د نا بالغو د شونډو ښکلول او همجنس بازي وه.

دې مسيحې عسکرو به هغه څوک چې د مسيحيت لپاره جنګيدل او ځانونه يې قربانول، د مسيحيت په بې احترامۍ او رد يې تورنول او حتی په صليب يې لاړې ورته توکولې.[٤] معبديانو په اسکاټلنډ کې د فريمسن (Freemasons) په نوم يوه بله پټه ډله رامنځ ته کړه. که څه هم پدې اړه کافي شواهد نشته چې د فريمسنيانو ډله دې تر

---

[۱] Desmond Seward; The Monks of War; p 213

[۲] Lev Gumilev; The Ethnosphere; p 423

[۳] بافومت يا وزه (مندز) د عبادت کوونکو په وينا يې هماغه ستر مار دی چې حوا ته يې دوکه ورکړه، ابليس، شيطان، لوسيفر يا د بافومت وزه. بافومت (لاوی) د پټو علومو له پلټونکو او شيطان پالونکو سره په اړيکه کې بيا ژوند شو. هغه انځور چې موږ يې په اصلي رسنيو کې وينو د (اليفانس لاوي) کاباليست په واسطه په نولسمې پیړۍ کې تحسين شوی ده دنده يې له جادو څخه د رازونو را برسيره کولو وو.

[٤] Richard Leigh & Michael Baigent; The Temple and the Lodge; Ch. 3

(c) ketabton.com: The Digital Library



معبدیانو پخوا موجوده نه وه، خو د فریمیسنیانو نوی نظام په پوره توګه د معبدیانو یوه لاسته راوړنه ګڼل کیږي.

له معبدي قهرمانانو سره د فریمیسنیانو لومړی ځل اړیکه د جرمني تبعی بارون کارل ګوتلیب په واسطه افشا شوه چې د فریمیسنرۍ لوړې درجې ته رسیدلی وو او په ۱۷۴۲ م کې د فریمیسن له ډلې سره یوځای شوی وو. هغه وایي: د لومړي ځل لپاره معبدیانو د فریمیسنري د نوي شکل په جوړولو لاس پورې کړ.[۱]

د فریمیسنیانو ډله د معاصرې پیړۍ یوه ګرمه موضوع ده. د بیلابیلو دینونو عالمان، څیړونکي، لیکوال او توطیه جوړونکي د فریمیسنیانو په اړه بیلابیل نظریات او اندونه لري. په دې کتاب کې د هغوی د ښه پیژندلو لپاره هڅه شویده چې دا ډله د دوی له خپلو ادرسونو څخه تر څیړنې لاندې ونیسي.



د فریمیسنانو نښان چې یوه سترګه (د دجال سترګه) شیطاني نور او هرم پکې دي

والتر لسلي هغه څوک چې د غربي لوژ یارک شایر یو مهم غړی دی پخپل کتاب (د میسنری مانا) کې دا ډله خلکو ته ورپیژندلې ده. د هغه په وینا میسنری په خپل ذات کې یو دین نه ده، بلکې د دیني پروسو یو سخت او دراماټیک شکل دی، چې د نړۍ د هر دین د سیستم ځای نیولی شي.

فریمیسنري څو درجې لري چې په لومړۍ درجه کې د نور ورکوونکي (شیطان) ته د رسیدلو لپاره د نفس په تزکیې تاکید شوی، چې دا تزکیه د ژوند رازونو ته د رسیدو

[۱] Rene Le Froestier; Freemasonry Templars and Occultists; pp 109,135,136

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ده. د فریمیسنري پټ رازونه د ژوند د رازونو په څیر ډیر پټ او پوښلي ساتل کیږي.

د فریمیسنري بنسټیز اصول وایي چې د دې ژوند تر ټولو ستر سازونه د صهیون[1] د سندرې په وړاندې هیڅ ګڼل کیږي. کبالیزم[2] د میسنري یو بل عمده سیستم ګڼل کیږي. د میسنري تر ټولو ستره درجه اعظم میسن دی، چې هیڅکله تیروتنه نه کوي او په ځمکه کې د اسماني پادشاهۍ خاوند دی. سلیمان ستر میسن دی چې آسماني پادشاهي یې خپله وه او په خپلو عباداتو کې وایو چې هغوی زموږ خدای ونیوه او پوهیږو چې چیرته یې ویوړ. د فریمیسنري ټولې کړنلارې په بیت المقدس کې د آسماني پادشاهۍ په جوړولو تاکید کوي. د صلیبیانو په لباس کې خزري معبدیان چې په دې پوه شول چې د بیت المقدس د آزادولو لپاره د متفرقو مسلمانانو هڅې ناکامې دي، په بیت المقدس کې یې د پادشاهۍ په جوړولو پیل وکړ. په دې جریان کې، عمادالدین زنګي چې د مسلمانانو له بحراني حالت څخه رنځیده، د وضعیت په دقیقې مطالعې سره د حللارې په فکر کې شو. هغه په دې عقیده وو چې د مسلمانانو یوازینۍ کمزورتیا داخلي اختلافات دي نو ځکه یې وغوښتل چې مسلمانان دې یو وار بیا د یوه امت په توګه متحد شي.

د عمادالدین د ډیرو هلو ځلو سره سره، مسلمانان د هغه په ژوندانه کې په یوه اتفاق نشول. د هغه زوی نورالدین زنګي هم د خپل پلار لاره ونیوله. د فاطمیانو امپراتوري په رانسکوریدو وه او صلیبیانو وغوښتل چې له چانسه ګټه واخلي او مصر هم تر خپلې ولکې لاندې راولي. نورالدین زنګي په مصر باندې د صلیبیانو له حملې څخه خبرو شو.

---

[1] د صهیون غر د بیت المقدس په ښار کې یو غر ده چې د پخواني ښار له دیوالونو بهر واقع ده. د صهیون غر په تاریخي توګه له اقصی مسجد سره اړیکه لري. دا کلمه کله کله د ټول مقدس هیواد لپاره هم کاریږي.

[2] کبالا له یهودي عباراتو سرچینه اخیستی او پیروان یې معمولاً د عرفاني مسایلو د تفسیر او توصیف لپاره له یهودي متنونو ګټه اخلي. د کبالا لارښوونېد یهودي پټو عباراتو د مانا د پوهیدو لپاره لکه تورات او د ربیانو د لیکنو لکه تلمود لپاره کاریدلی او د یهودي عبادت پټه مانا یې بیانوله. د کبالا پیروان په دې باور دي چې کبالا د نړۍ د دینونو تر راتګ وړاندې کاریده او له پخوانیو دینونو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلې اردو سره يې د فاطمينانو مرستې ته ودانګل او د هغو عقديتي اختلافاتو سره سره يې چې له فاطميانو سره يې لرل، د صليبيانو حمله خنثى کړه. د هغه له دې کار سره فاطمينان له هغوی سره مدغم شول او د صليبيانو په وړاندې متحد شول. د نور الدين زنګي تر مرګ وروسته د هغې وراره صلاح الدين ايوبي د مصر امير شو. صلاح الدين يو زړور او دين دار شخصيت وو او د تاريخ له سترو مسلمانو جنګياليو څخه شميرل کيږي. ايوبي يو داسې څوک وو چې هيڅکله يې په قصر کې ژوند ونکړ او تل يې په يوې ساده جونګړې کې د ژوند شپې تيرې کړې. د خپل نيکه د آرمان د پوره کولو لپاره يې مسلمانان سره يوځای کړل او د بيت المقدس د فتحې لپاره يې يو ستره اردو برابره کړه چې بالاخره په ۱۱۷۸ م کال کې له صليبيانو څخه د بيت المقدس په ازادولو بريالی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلامی تمدن ځینی لاسته راوړنی

**هنر**
- میناتوری
- ښکلی لیکنه
- نقاشی

**ساینس**
- اسطرلاب یا استرلاب
- ساینسی پروسی
- نجوم
- د نور فزیک

**ادبیات**
- شاعری
- ۱۰۰۱ او یو شپی
- ژب پیژندنه
- دژباړه فن

**طب**
- دمرض انتقال اورګانیزم د هوا له لاری
- بستری مریضان (روغتون)
- د سترګو عملیاتونه

**ریاضی**
- انجنیری
- عربی ارقام
- الجبر
- هندسه

**مهندسی او ښارونه**
- د قرطبی ښار
- باغونه، پارکونه، مسجدونه او عصری حمامونه
- ګنبدونه او قوسی معماری

**سوداګری**
- سوداګری لاری
- صنعت
- رواجول او هڅونه

**آموزش**
- مراکز دانش (پوهنتون ها)
- ترجمهٔ کتاب ها
- سفر های علمی
- کتاب خانه ها مراکز نشر

**فرهنګ**
- دفرهنګی تبادل پروګرامونه
- د بهرنیو هنرمندانو را غوښتل

**تاریخ**
- ابن خلدون

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مغولیان

په لرې ختیځ کې چنګیز خان د امپراتورۍ په جوړولو لاس پورې کړی و او مسلمانان باید یو بل ستر جنګ ته اماده شوي وی. جنګیز د یو تکړه جنګي رهبر په توګه، ډېر زر په دې وتوانید چې مغولیان سره راټول کړي او د جنګي ماشین په څیر یې په یوې ورانوونکې قوې بدل کړي.

هر ښار به چې د جنګیز په وړاندې مقاومت ښوده، تر فتحې وروسته به یې ښار وران او اوسیدونکي به یې ټول ووژل. کله چې محمد؛ د خوارزم پادشاه غوښتل په ایران او د آمو د سیند په څلورو غاړو کې خلافت جوړ کړي د مغولیانو لخوا تر سختې حملې لاندې ونیول شو او لومړی ایران او بیا آذربایجان او بالاخره سوریې ته په تیښته مجبور شو. دا سیمې د مفولیانو لخوا په خاورې او وینو سره یوشان شول او د مغولیانو تر واکمنۍ لاندې راغلل. تر ۱۲۳۱م کال وروسته، د مسلمانانو ښارونو په ترتیب سره په یو بل پسې سقوط کاوه، تر دې چې د اسلامي خلافت پلازمینه بغداد یې هم له لاسه ووت. د مغولو پر وړاندې لومړنی کس چې غبرګون یې وښود د مملوک په نوم ترکی بایبر سلطان وو. مملوکیانو د ایوبي امپراتورۍ په وړاندې چې د صلاح الدین ایوبي لخوا رامنځته شوې وه، کودتا وکړه او په نږدې ختیځ کې یې د مملوک امپراتوري رامنځته کړیوه. مغولیانو د ډیرو اسلامي هیوادونو او د نړۍ د ختیځ سیمو تر نیولو وروسته، خپل ستر حکومت چې د چنګیز د څلورو زامنو لخوا اداره کېده، په څلورو حکومتونو وویشه. مغولیان په څوارلسمه پیړۍ کې په اسلام مشرف شول؛ خو له مسلمانیدو سره سره یې بیا هم د اسلامي حکومتولۍ طریقه عملي نکړه او د مغولي قوانینو پر بنسټ یې حکومت مخکې وړه.

په پنځلمسې پیړۍ کې مغولیانو پریکړه وکړه څو د اسلام علماوو ته نور د اجتهاد حق ورنکړي او د اجتهاد د دروازو په تړلو سره حتی په نویو مسایلو کې هم، مسلمانان له پخوانیو علماوو څخه په پیروي کولو مکلف شول. د مغولیانو لاسوهنې اسلامي تمدن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخته ضربه ورکړه. مغولیانو د مسلمانانو ستر کتابتونونه او ښارونه وران کړل او اقتصادي سیستم یې له بحران سره مخ کړ. اسلامي تدریسي سیستم یې په پوره توګه بدل کړ.

د مغولیانو د سترې امپراتورۍ د زوال پرمهال، هغه حاکم چې د وخت یوه پیاوړې څیره وه، د تاریخ مزل یې بدل کړ.[۱] د ګوډ تیمور په نوم ترک قومه شخص، د جغتای د حکومت پرمهال په سمرقند ښار کې زیږیدلی و او د مغولیزم د نظریې تږې سړی و. تیمور خان د مغول له نسل څخه ګڼه او غوښتل یې چې هغه سیمې چې مغولو اداره کولې او له لاسه یې وتلی دي، بیرته ترلاسه کړي. تیمور ظاهراً د اسلام سرسخت ملاتړی وو، خو یوازینې هدف یې د فساد له منځه وړل وو او د دې کار لپاره یې له هیڅ ډول بې رحمۍ څخه لاس ندې اخیستې. هغه د چنګیز په څیر نه ماتیدونکی ښکاریده. په ۱۳۸۷ م کال کې یې ایران او بین النهرین فتح کړل. په ۱۳۹۵ م کال یې روسیه فتح کړه او په ۱۳۹۸ م کال یې هندوستان ته پښه ورسیده، هلته یې هندي بندیان ووژل او ډهلي یې وران کړ او بالاخره یې چین هم ونیو، چې هلته ووژل شو.

عثمانیان چې د ګوډ تیمور لخوا یې ماتې خوړلې وه، د هغه تر مرګ وروسته یو وار بیا راپورته شول او په وړاندې تګ یې پیل وکړ چې د عثماني امپراتورۍ په رامنځته کولو بریالي شول.

## عثمانیان او غربي عصري تمدن

د ګوډ تیمور له مرګ سره د هغه د امپراتورۍ زوال پیل شو او د اسلام قلمرو په دریو امپراتوریو تجزیه شو: په ایران کې د صفویانو امپراتوري، په هندوستان کې د مغولو امپراتوري او انتالیا، سوریه، شمالي افریقا او عربو په جزیره کې د عثمانیانو امپراتوري. دې دورې ته تاریخ پوهان د نړۍ د قدرت له مخې د اسلام د بریا دوره وایي. که څه هم دریواړو امپراتوریو په ځینو چارو (عدالت، مساوات او ټولنیزو چارو) کې اسلامي قوانین

---

[۱] Karen Armstrong (2002); Islam; Islam: A Short History; 2002; p 106

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پلي کول او دریواړو امپراتوریو د خلافت له اصل څخه مطلقه شاهي ته بدلون ورکړی وو. په دې منځ کې عثمانیانو خپل حکومت ته د خلافت نوم ورکړی وو او د اسلامي شریعت قوانین یې نافذ کړي وو، پداسې حال کې چې صفویانو د شعیه فقې پر بنا حکومتولي کوله او مغولیان د تصوف د مکتب پیروان وو.

عثمانیانو ډیر نظامي پرمختګونه وکړل چې له دې جملې د مسلمانانو پخوانی ارمان یعني د قسطنطنیې د فتحې پوره کیدل وو. دا فتح د سلطان محمد لخوا ترسره شوه او د همدې سترې فتحې له امله ورته سلطان محمد فاتح وایي. د پنځلسمې میلادي پیړۍ په وروستیو کې اسلام د نړۍ تر ټولو پیاوړی قدرت ګڼل کیده چې فتوحات یې په ختیځه اروپا کې تر روسیې او په افریقا کې د شمالي افریقا تر دښتو پورې رسیدل. ټوله نړۍ اسلامي ښکاریده او مسلمانان یو نه ماتیدونکی قدرت ګڼل کیده.

په فارس کې صفویانو د خپلې خوښې له مخې یې خپل شاهي قدرت ساته. د کربلا د ویرجنې پیښې د ماتم لمانځنې مراسمو په دې وخت کې یوه بله بڼه ځانته غوره کړه. پداسې حال چې ترانه ویونکو به په غمجنې او احساساتي بڼې سره د کربلا داستان وایه، د خلکو مخونه به له اوښکو لامده وو او سینه او سر به یې وهله تر دې چې د دې کار لپاره یې له ځنځیر لرونکې چړو او تورو څخه کار اخیسته. په دې مراسمو کې د صفویانو زیاتې د امام حسین رضی الله عنه د اصلي پیغام د هیرولو لامل شو او دا مراسم په یو عبادتي مراسمو واوښت. د صفویانو او عثمانیانو دوو امپراتوریو مذهبي تعصباتو ته لمن ووهله او لکه څنګه چې په صفوي امپراتورۍ کې سنیان ځوریدل کیدل، همدغسې به شعیه ګان هم په عثماني امپراتورۍ کې ازاریدل.

دا تعصبات دومره زیات شول چې صفویانو ځینو صحابه کرامو ته کنځلی کول رواج کړل. د شاه اسماعیل صفوی لخوا د سنیانو (اهل تسنن) پر وړاندې د جهاد اعلان د بابرشاه د پاڅون او د هند مرکزیت ته د مغولیانو د امپراتورۍ د رامنځته کیدو سبب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له عثمانیانو سره د صفویانو اړیکي چندان جوړې نه وې؛ خو د غربي اروپا اړیکې له عثمانیانو سره عادي او په ځینو ځایونو کې بیخي ښې ښکاریدې. سلطان محمد فاتح چې د غرب د فرهنگ او تاریخ لیوال وو، لومړنی عثماني پادشاه وو چې له غرب سره یې فرهنگي اړیکې پیل کړې. هغه خپل کتابتون د جغرافیې، طب، تاریخ او فلسفې له کتابونو څخه چې له بیلابیلو ژبو ژباړل شوي وو، ډک کړ. [1] د عثمانیانو پرمهال د نساجۍ، قالینو، کاشي، مرمرو او چرم صنعت ډیر پرمختگ کړی وو او دا پکې وړاندې تللي وو چې اروپایان به د دا ډول صنایعو د زده کړو لپاره استانبول ته راتلل او د عثمانیانو مهم صادرات به یې اروپا ته همدا صنایع وو.

له اسلامي هیوادونو څخه د صلیبیانو تر ماتې وروسته، اروپا یو وار بیا په اقتصادي تنگي کې پاتې شوه او دا چې له اسلامي سرچینو څخه یې تمه پرې شوې وه، نو د نورو ځمکو د نیولو په فکر کې شول. انگلیسانو په هغه وخت کې ځان غوره وگڼه او ځان یې د ځمکې پرمخ تر ټولو متمدنه خلک وشمیرل، تر دې چې اولیور کرمول (Oliver Cromwell) خدای هم یو انگلیسي کس اعلان کړ[2]. انگلیس له ښه بحري قدرت څخه برخمن و او په بحري څیړنې یې پیل وکړ. د انگلیسانو بیړۍ د کرستوفر کولمبس په مشرۍ د مایاها (اوسنۍ امریکا) ځمکو ته ورسیدې. د غرب وهلو ډیری مؤرخینو د ادعا برخلاف، امریکا ته د کولمبس رسیدل د یو نوي ځای د موندلو هڅه نه وه، بلکې د یو ظالمانه استعمار پیل وو چې د میلیونونو امریکایانو د قتل عام کولو لامل شو.

امریکا ته د کولمبس تر رسیدو وړاندې مسلمانانو له امریکا سره ښې سوداگریزې اړیکې لرلې او ځینې اصیل امریکایان په اسلام هم مشرف شوي وو. یو چینایي سند د سنگ د اسنادو (Sung Document) په نوم د مسلمانو بیړۍ چلونکو بحري سفر د مو-

---

[1] Pro. Dr. Mohamed El Gomati & Pro. Dr. Gunsel Renda; The Ottoman Empire and Europe: Cultural Encounter; p 2

[2] David E. Stannard; American Holocaust: Columbus and the Conquest of the New World; p 98

(c) ketabton.com: The Digital Library



لان-پی (امریکا) ځمکې ته ثبت کړیدی[۱]. امریکا ته د کولمبس رسیده چې خلک یې د دې هیواد کاشف بولي، د خلکو د سرچینو د نیولو لپاره یوه سریزه وه چې د هماغه وخت اروپایانو په پرتله یې ښه ژوند لره. هغه وخت به چې اروپایانو په هر هیواد حمله کوله، وینه تویول، عامه وژنه، ظلم، غلا او بربادي به یې کوله، چې له امریکا یې هم ورته چلند وکړ. ستنرد لیکي: اروپایي ملیشې جنوب شرق (امریکا) ته سفر کاوه او هر چیرې چې تلل وژنې، عامه قتل او امراض (د مرضونو د خپراوي له لارې یې وژنې کولې) انتقالول.[۲] امریکا ته په رسیدو سره سمدستي انګلیسانو د امریکا اصیل خلک تقریباً ټول ووژل. ورو ورو د اروپایانو سپین پوستو د هندي نژاد د سور پوستو او نورو بومي قبیلو ځای ونیو. سره له دې چې د اصیلو امریکایانو د قربانیانو دقیق ارقام مشخص نه دي؛ خو اټکل کیږي چې امریکا ته د کولمبس له رسیدو څخه د سلو او یو سلو پنځوسو کلونو ترمنځ له ۸۰ څخه تر ۹۵ سلنې پورې اصیلي امریکایان ورک شوي دي.[۳]

د ځینو اسلامي مشران له تیروتنو سره سره بیا هم مسلمانانو د یو زر کلن او پیاوړي تمدن څخه خوند اخیسته او غربي اروپا له فیوډالیزم، د کلیسا له ظلم او د وخت په تیارو کې رنځیده. اروپایان د سترو شویو حاکمو نظامونو د بې عدالتیو تر پیړیو پیړیو زغم وروسته د اسلامي پیاوړي تمدن په لیدو سره د بدلون غوښتونکی وه. په عین حال کې د فریمیسن پټه ټولنه هم د پراختیا په حال کې وه او ختیځه اروپا کې تر ټولو اغیزمنه ډله ګڼل کیده. انګلیسي مؤرخ مورس رابرتس لیکي: د ۱۷۵۰ م څخه تر ۱۸۳۰ م پورې پټې ټولنې په پراخه توګه په غربي اروپا کې موجودې وې او هڅه یې کوله چې مهمې پیښې په واک کې ولري.[٤] د دې پټو ټولنو ځینو غړو خپلې خاطرې

---

[۱] Abdus Sattar Ghazali; Chronology of Islam in America 1178-2011; p 2

[۲] David E. Stannard; American Holocaust: Columbus and the Conquest of the New World; p 102

[۳] Nanthan Nunn and Nancy Qian; Journal of Economic Perspectives; p 165 (The Columbian Exchange: A History of Disease, Food, and Ideas)

[٤] Jim Morris Roberts; The Mythology of the Secret Societies; p 347

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلی دي. د بیلګې په توګه؛ ګیاچینو پراتي لیکي: موږ ډېر زر سره بلد شو (پټې ډلې سره یوځای شوې) او یوه سیاسي رهبري مو جوړه کړه چې په مرسته یې ټولې هغه سیاسي پیښې چې په راتلونکو څو کلونو کې به د اروپا په لویه وچه کې رامنځ ته کیږي سره اړیکې ولري (سترې سیاسي پیښې مو مهار کولې)[۱].

په ۱۷۷٦ م کال کې د فریمیسنري په لوړو کړیو کې یوه ډله جوړه شوه چې د د روشن فکرانو (Illuminati) په نوم پیژندل کیده؛ د دې ډلې لاندې طبقې هم د نورو سیاسي ډلو په څیر د مشرانو له اجنډاګانو بې خبره وو او له هغوی څخه یې د لښکر د تورو الي په توګه کار اخیسته.[۲]

د امریکا د لویې وچې خلک چې د انګلیس د استعمار تر واکمنۍ لاندې یې ژوند کاوه، له بې عدالتۍ، ظلم، نژاد پالنې، غلامۍ او ارستوکراسۍ څخه رنځیدل او کرار کرار د انګلیس د شاهي ضد احساس مخ پر وړاندې تلل. په امریکا کې مستعمرو په یو بل پسې د خپلواکۍ اعلان کاوه او انګلیس هم غبرګون ښودلو ته تیار شو تر دې چې له دې مستعمرو سره یې سوداګریزې اړیکې بندی کړی او د دې مستعمرو سوداګریزو بیړیو ته د دښمن د بیړۍ په سترګه کتل کیدل. د امریکا د انقلاب له پیلیدو سره انګلیس د اردو له کموالي سره مخ شو او له اروپایي قدرتونو څخه یې د کرایي اردو (هغه مهال په غرب کې د نظامیانو کرایه کول رواج وو) غوښتنه وکړه. له جرمني څخه د اردو په کرایه کولو سره، حتی هغه خلک چې د انګلیس شاهي ته وفادار وو، د انګلیس د استعمار پر ضد شول او له انقلابیونو سره یو ځای شول. امریکایانو د انګلیس د اردو په وړاندې، د جنرال جورج واشنګټن تر قومندې لاندې له انقلابیونو څخه یو اردو تیاره کړه. دا اردو د بوسټن په نیولو بریالۍ شوه او د انګلیس دې ماتې د امریکا خلک د خپلواکۍ په لور هیله من کړل. د ۱۷۷٦ م کال په لومړیو کې د سم قضاوت

---

۱. Japp Kloostermal; The Rise and Fall of Secret Societies; p 7 .

۲ Japp Kloostermal; The Rise and Fall of Secret Societies; p 5

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Common Sense) په نوم یو کوچنۍ رساله د انقلابیونو له لوري چاپ شوه چې پکې د امریکا خلک خپلواکۍ ته هڅول شوي وو. دې رسالې ډیر زر شهرت ترلاسه کړ او شاوخوا پنځه لکه نسخې وپلورل شوه او په همدې کال کې د ټولو مستعمرو د آزادۍ د اعلان او د امریکا د متحده الایاتو د رامنځته کیدو لامل شوه.

په فرانسه کې د ۱۷۸۹ م کال په جولای میاشت کې ۸۰۰۰ تنو پاریسیانو چې ښځې او نارینه پکې وو په یوه دولتي زندان چې باستیل نومیده حمله وکړه. شپاړلسم شاه لویس چې قصر ته ورسید؛ نو له پیښې خبر شو، چیغې وکړې او وې پوښتل، ایا دا یو پاڅون دی؟ یو حیرانوونکې ځواب یې واورید: نه، یو انقلاب دی. د باستیل د زندان په ماتې سره، خلکو په ټوله فرانسه کې انقلاب پیل کړ. شپاړلسم شاه لویس هم ډار شوی وو او خلکو هم د بهرنیانو له حملې څخه ویره لرله. نو له همدې امله پادشاه په واک کې پاتې شو او په بدل کې یې هغه اصلاحات چې د خلکو لخوا غوښتل شوی وو او بشري حقونه پکې شامل وو، پادشاه ته وړاندې شول. خو د پادشاه لخوا رد شول. انقلابیون په کلیسا کې د اصلاحاتو غوښتونکي وو او کلیسا یې له سیاست څخه لرې غوښته. نو له دې امله کلیسا هم د انقلابیونو په وړاندې له پادشاه سره یو ځای شوه. په ۱۷۹۱ م کال کې ملي شورا (Natianal Assembly) نوی اساسي قانون تصویب کړ چې پکې د پادشاه صلاحیتونه راکم شوي وو. ځینې نورو اروپایي پادشاهانو لکه د جرمني او اتریش په څیر د خطر احساس وکړ او او د شپاړلسم لویس د بیرته مطلقه واکم د ترلاسه کولو لپاره یې ورسره یوځای شول. د جګړې په پیل کې انقلابي فرانسویانو ماتې وخوړه او د کمون پاریس (Paris Commune) په نوم یوه بله ډله رامنځته شوه چې دې ډلې شپاړلسم لویس بندي کړ. هغوی شاهي مجلس د شاهي سیستم په منحلولو مجبور کړ او ویې غوښتل چې یوازې سړي به د دولت او حکومتولۍ د سیستم په جوړولو کې ونډه اخلي. کمون پاریس د قانون جوړونې مجلس په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې واخیسته او د ښاري بشري حقونو قانون یې تصویب کړ چې ځینې مادې یې په لاندې توګه دي:

- د بیان آزادي د هر چا حق دی او هر څوک کولی شي په خپلواکه توګه لیکل او ویل وکړي.
- د هرې سیاسي ډلې موخه باید د بشر د حقونو لپاره د قانون سره سمه وي. په دې حقونو کې ازادي، د مالکیت، امنیت او د ظلم په وړاندې د مبارزې حقونه شامل دي.
- په آزادۍ کې ټول هغه کارونو شامل دي چې نورو خلکو ته پکې زیان ونه رسیږي.

کمون پاریس چې د واک خاوند شوی وه، په افراطي شکل یې له پادشاه او پلویانو څخه د غچ اخیستنې په لټه کې وو او په ۱۷۹۲ م کال کې یې پادشاه اعدام کړ. د پادشاه تر اعدام وروسته د اتریش، جرمني، هسپانیې، پرتګال، انګلیس او او روسیې اتحاد په فرانسې حمله وکړه. فرانسویانو له دې حملې څخه د مخنیوي لپاره د عامه امنیت د کمیتې په نوم یوه ۱۲ کسیزه ډله تشکیل کړه چې له فرانسې څخه په دفاع کې بریالۍ شوه. د بهرنیو ویرو تر له منځه تلو وروسته کمون پاریس د دننیو شورشیانو په ټکولو پیل وکړ. هغوی د کلیسا ډیر غړي ووژل او په هغو ښارونو کې چې شورش پکې وو عامه وژنه ترسره کړه. یو جرمني شاهد د دې قتل عام څخه خپله خاطره داسې لیکلی ده: ډیر کورونه یې وسوځول، ټولې کلیساوې او ودانۍ یې ورانې کړې.
کله چې زه یو وژونکي ځای ته ورسیدم، نو د خلکو وینې چې څو ساعته مخکې وژل شوي وو، په سړکونو روانې وې، ما د کمون پاریس ډلې ته وویل: دا به ښه وي چې د ټولو انسانانو وینې له سړکونو څخه پاکې کړو، یوه وویل: ولې یې پاکې کړو؟ دا د ارستوکراتانو او شورشیانو وینې دي، سپیان یې باید وڅکي.[1]

[1] Charles Downer Hazen; The French Rebolution and Napoleon; p 340

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي واقعيتونه ښيي چې پداسې حال کې چې دا انقلابونه (د فرانسې او امريکا انقلاب) د ټولنې له منځه راپيل شوی وو؛ خو ډيرو مشرانو او مخکښانو يې له فريميسنانو سره اړيکه لرله او د دې انقلابونو پايله چې وروسته يې بې خدايتوب او غربي سيکولرتوب رامنځته کړ، د فريميسنانو پلانونه وو. فريميسنري د امريکا په ځوانو متحده ايالاتو او د اتلمسې پيړۍ په اروپا کې مهم رول ولوبوه.[۱] ځکه چې د فرانسې د انقلاپ په لومړيو نظريو کې د ځينو فريميسنانو لاسوهنه ښرگنده وه.[۲]

فريميسنانو په فرانسې اکتفا ونکړه او په ټوله اروپا او نړۍ کې د خپلو نظريو د پراختيا او خپراوي غوښتونکي وو. کرن لوئيس ليکي: د نولسمې پيړۍ په لومړيو کې هسپانوي پټو ټولنو پادشاه اووم فرديناند د اساسي قانون تعديل ته مجبور کړ.[۳]

ويل کيږي چې د امريکا د متحده ايالاتو د بنسټ ايښودونکو څخه شپږ تنه چې د امريکا لومړنی جمهور رييس جنرال جورج واشنگټن هم پکې وو، د فريميسن د پټې دلې غړي وو.




د ميسنانو په واسطه د جورج واشنگټن د يادگار ميسني ودانۍ

د اتلسمې پيړۍ په تاريخي مزل کې د ډيرو تاريخي کتابونو پرخلاف، دلته نه له کوم حکومت، سياسي حرکت او نه هم کومې ايدیالوژۍ څخه يادونه کيږي، بلکې له يو اروپايي يهود څخه چې مير راتڅچالید (Mayer Amschel

---

[۱] Japp Kloostermal; The Rise and Fall of Secret Societies; p 2

[۲] Ibid; p 6

[۳] Richard Clogg; The Struggle for Greed independence; essay

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Rothschild) نومیږي چې وروسته یې کورنۍ د نړۍ سیاسي اقتصادي تاریخ ته بدلون ورکړ یادونه کیږي. میر راتچایلد یو عادي صراف وو خو ځان غوښتونکی خوی یې لره، د جرمني د فرانکفورټ په کوڅو کې په سوداګرۍ بوخت وو. له صرافۍ پرته یې د هغه وخت د نورو یهودیانو په څیر سود هم خوړه. د هغه وخت یهودیان په اروپا کې له ښه ټولنیز موقف څخه برخمن نه وو او میر راتچایلد درک کړیوه چې د خپلې سوداګرۍ د پراختیا لپاره سیاسي قدرت ته هم اړتیا لري.

د هغه وخت شاهانو د ځانګړي مصروفیت د نه لرلو او سترپیا له امله د سکو له کلکسیونونو د جوړو او عتیقه اثارو سره مینه لرله. میر راتچایلد له موقع ګټه پورته کړه او د فرانکفورت له پادشاه او د هغه وخت د نړۍ له شتمن مشر ویلیم سره یې د اړیکو د جوړولو لپاره د عتیقه اثارو په سوداګرۍ پیل وکړ او د عتیقه اثارو د یوې ښې مجموعې په موندلو او د فرانکفورت شاه ویلیم ته په وړاندې کولو سره یې له هغه سره دوستانه اړیکې رامنځته کړې. دی لومړنی یهودي وو چې په فرانکفورټ کې له کومې ستونزې پرته سوداګري کوله. کارل ورنر لیکي: د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې د پادشاه ویلیم او میر راتچایلد یهودي تر غیر معمولي او عجیبې ملګرتیا بل څه نشم لیکلی.[1]

د وخت تیریدو میر راتچایلد ته موقع برابره کړه څو ډیرې پیسې راټولې کړي او دومره یې پیدا کړې چې د فرانکفورټ د بازار ټولې پیسې یې په جیب کې وې[2] او د زامنو په رالویدو سره یې د سوداګرۍ فکر پراخه شو. میر راتچایلد او زامنو یې په ځانګړې توګه د کورنۍ نابغه نتن رانتچایلد (Nathan Mayer Rothschild) ډیر زر د شاهي کورنیو او بانکوالو ترمنځ د دلالانو په توګه مقرر شو. د وخت په تیریدو سره دا کورنۍ دومره مسلکي شوه چې د شاهانو او بانکوالو ترمنځ د معاملو پرمهال شاهان نه پوهیدل چې دوی له بانکوالو سره څه ډول معامله لري. دې پټې معاملې بانکوال خفه کړل او هڅه

---

[1] Karl S. Woerner; Five men of Frankfort; p 25

[2] Ibid; p 42

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وکړه چې د راتشچايلد کورنۍ له ځانه لرې کړي، خو پرې ناوخته وه او دا کورنۍ د هغه سياسي او اقتصادي قدرت له مخې چې ترلاسه کړې يې وه، ټوله لوبه يې برعکس کړه او ډېر ژر زيات بانکونه د راتشچايلډ د کورنۍ لاسته ورغلل او د راتشچايلډ کورنۍ په اروپا کې د يوې شتمنې کورنۍ په توګه رابرسيره شوه. دا چې دا کورنۍ څه وخت او څنګه له فريميسنانو سره يو ځای شوه، دقيق معلومات نشته، خو اوس د فريمسنرۍ د هرم د قدرت د غړو (Illuminati) په تر ټولو لوړه نقطه کې ګڼل کيږي.

په نولسمه پيړۍ کې اروپا کرار کرار پياوړې شوه او د اسلام نړۍ خپل يووالی له لاسه ورکړ او کمزورې شوه. انګليس د ګټه اخيستنې د اقتصادي سياست د لرلو له امله، په صنعت باندې پانګه اچونه پيل کړه. په صنعتي سکتور باندې پانګونه د ځينو مهمو کشفياتو لامل شوه چې تر ټولو مهمه هغه يې د بخار ماشين وه. د انګليس او نورو اروپايانو برخلاف، مسلمانان په داخلي کشمکشونو، د قدرت د ساتنې لپاره په هڅو، د قدرت، علم او اقتصادي په انحصار باندې بوخت وو، چې دا کار يې د اسلام د اصولو څخه د لريوالي او د غربي نوي په پښو دريدلي تمدن په پرتله د وروسته والي لامل شو.

د فرانسې انقلاب او تر هغې وروسته ځينې جريانات د ځينو نويو تاريخي پيښو د منځته راتلو لامل شو، چې بشريت پخوا تر دې تجربه کړي نه وو. آزادۍ يو نوی تعريف غوره کړ (يانې هر کار چې کولی شې خو چې بل ته زيان ونه رسوې). د ازادۍ تر ټولو ريشخند تعريف همدا ده؛ ځکه چې دا ضرر يوازې فزيکي ضرر وو او دا لنډ مهالې دی. د بيلګې په توګه: يو متاهل ميړه او ښځه له مجرده بل سړي او ښځې سره د اړيکو له ازادۍ څخه برخمن دي، پداسې حال کې چې دا کار فزيکي ضرر او لنډمهاليتوب نه لري؛ خو د کورنۍ د اساسي بنسټونو د له منځه تلو، د کورنۍ مينې د کميدلو سبب کيږي او په ټوله کې کورنۍ سيستم له منځه وړي او بالاخره د کورني سيستم په خرابيدو سره، ټولنه بې ارزښته او بې لارې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيکولريزم (Secularism) يوه بله پديده ده چې دين له سياست څخه لرې ساتي او په شخص پورې يې تړي. نور يوازينې خدای حکمروا نه ګڼي او بشري قوانين د الهي قوانينو ځايناستي بولي چې پايله يې بې خدايه سياسي سيستمونه او ټولنې دي. په سيکولر (بې خدايه) ټولنو کې بايد د قدرت او نفوذ هرم ته د رسيدو لپاره له ديني باورونو او عقايدو څخه تير شي او ديني عقايد او دين فقيرانواو لاندې خلکو ته پاتې کيږي. په دې حالت کې له دين څخه د خلکو اخيستنه بدلون کوي او له ديني باورونو او دين سره پاتې کيدل او ورته وفادارتوب د وروسته پاتې کيدو، فقر او ټيټ پاتې په نوم دي او دين په ټولنه کې خپل ارزښت له لاسه ورکوي. ملتپالنه د نوي غربي په پښو دريدلي تمدن يو بل پايله ده. په ملت پالنه کې د خدای جل جلاله ځمکه د ملتونو په ځمکو بدليږي چې پکې د ملتونو ګټو پکې د بشريت په ګټو غوره والي ورکول کيږي. دا پديدې او ځينې نورې الحادي پديدې د عصري غربي تمدن د رامنځ ته کيدو باعث شوی چې د روسيې يو تکړه عالم الکساندر دوګين او د اسلام تکړه عالم شيخ عمران نظر حسين يې شاهي دجال ګڼي. کله چې د دينونو اصل ته ورګرځو؛ نو په ډير ساده توب سره وينو چې پسامدرنيته (نړيوال کيدل، پساليبراليزم او پسا صنعتي ټولنې)، شاهي د سيح ضد يا دجال دي.[1] د متفکر مغز دجال د غرب د بې خدايه تمدن رامنځته کيده وو او لکه څنګه چې د دجال د دوو سترګو ترمنځ د کافر کلمه ليکل شويده، همداسې د دې تمدن په څيره کې کفر حک شوی دی.[2]

د دجال مطالعه د اسلامي موضوعاتو او وروستۍ زمانې يوه مهمه موضوع ده چې له بده مرغه اسلامي علماء ورته ډيره پاملرنه نده کړې او ډيری مسلمانان پخپلو ذهنونو کې له دجال څخه ناسم انځور لري. د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د وينا له مخې، هيڅ يو پيغمبر ندی مبعوث شوی، مګر دا چې خپل قوم يې د دجال له فتنې

---

[1] Alexander Dugin; The fouth Political theory; ch 1

[2] Imran N. Hosein; An Islamic View of Gog and Magog in the modern world; p 78, 79

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه خبر کړی نه وي.[۱] دجال ته په مسیحیت کې د Anti-Christ یا د مسیح ضد، په یهودیت کې د Erev Rav، په اسلام کې د مسیح الدجال یا دروغجن مسیح او حتی په هندویزم کې د کالي یوګام نوم کارول شوی دی. دجال په نړۍ کې د څلویښت ورځو لپاره فتنه کوي چې یوه ورځ به یې زموږ د عادي یو کال، یو ورځ یې د یوې میاشتې او یوه ورځ یې د یوې فهتې او ۳۷ ورځو په څیر وي.[۲] معاصرو فزیک پوهانو، مادي نړۍ په دریو مکاني او یو زماني بُعد (اوږدوالی، عرض او لوړوالی) کې تعریف کړې ده.

د انیشټین د نسبیت د تیورۍ او په دې تیورۍ باندې د فزیک د علماوو له څیړنې څخه وروسته ساینس پوهان په دې باور دي چې په ځمکه کې له آسمان سره وخت توپیر کوي او سره یو شان ندي او الله (جل جلاله) هم په قرآن کې یادوي چې زموږ یوه ورځ ستاسو (د ځمکې مودې) د زرو کلونو په څیر ده. الله (جل جلاله) اووه طبقې آسمان پیدا کړی دی او په هره طبقه کې یې وخت او ځای ځانکړي تعریفونه لري چې د ځمکني وخت او ځای له تعریفونو سره توپیر لري. زموږ په مادي نړۍ کې وخت او ځای د یو بل پوره کوونکي دي. نو له دې امله هغه څه چې زموږ وخت کې په فزیکي توګه نه وي، زموږ په ځای یا مکان کې هم په فزیکي توګه موجود ندی. دا چې په حدیث کې، د دجال درې لومړۍ ورځې زموږ په زماني سیستم کې یادې شوې ندي، کولې شو ووایو چې دجال په لومړیو دریو ورځو کې زموږ په مادي نړۍ کې په فزیکي توګه نه وي او یوازې په پاتې اووه دیرش ورځو کې چې زموږ (زموږ مکاني او زماني) د ورځو په څیر وي، هغه لیدلی شو. په لومړیو دریو ورځو کې چې دجال زموږ په مکاني او زماني سیستم کې موجود نه وي، خپلې فتنې د خپلو پیروانو په مرسته خپروي او پیروان یې د شیطانانو په مرسته په تماس کې وي. خدای ج فرمايي: ووایه: د خلکو پروردګار، شاه او معبود ته د پټوونکي وسوسه اچوونکي له شر څخه پناه وړم چې د خلکو په زړونو کې

---

[۱] صحیح بخاري؛ نهم جلد؛ ۸۸ کتاب؛ ۱۴۱ حدیث

[۲] صحیح مسلم؛ ۴۰۷۵ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسوسه کوي، که انسان دی او که جنيات دي.[1] الله (جل جلاله) د خپل کتاب په پای کې مور ته د شيطاني جنياتو او شيطان صفته انسانانو له وسوسو څخه خبرداری راکوي؛ نو همدا لامل دی چې شيطان د انسانانو په وسوسه کولو قادر دی. په حديث کې راغلي دي، چې د دجال پرمهال به شيطانان زيات (ترقي) شي.[2] ديويد کاريکو په هغه کتاب کې چې د فريميسنانو اړيکه يې له شيطانانو سره په اثبات رسولی ده، داسې ليکي: له ۱۹۷۰م کال راهيسې له ۵۵۰ داسې کسانو سره مخ شوی يم چې د شيطانانو پواسطه نيول شوي وو، چې ټول د فريميسنرۍ په لوژونو کې کاري سابقه يا پيشينه لري.[3] کله چې دجال لومړۍ درې ورځې تيرې کړي او په مادي نړۍ کې راڅرګنديږي. خپل ځان به مسيح عيسى خلکو ته ور وپيژني. له دې امله حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) هغه مسيح الدجال نومولی دی. شيخ عمران حسين په دې باور دی چې دجال به په لومړيو دريو ورځو کې د هرې ورځې لپاره ځانګړی عملياتي مرکز ټاکي چې په لومړۍ ورځ لويه امپراتوري (ورځ د کال په څير) يا انګلستان د دجال په استازيتوب زموږ په مادي نړۍ کې د هغه تر راتګ پورې په فتنه پيدا کولو او د نړۍ په تيارولو کې عمل کوي.[4] په اخره زمانه کې د درېواړو اسماني دينونو پيروان د مسيح عيسى عليه السلام په تمه دي. پداسې حال کې چې اسلام او مسيحيت د عيسى السلام بيا راتګ ته د نړيوال حکومت د عدل د راوستلو لپاره په تمه دي. يهوديت، عيسى عليه السلام دروغ ګڼي او د داسې مسيحا په تمه دي تر اوسه ندی راغلی او د هغه په راتګ سره به د تورات له وعدو سره سم د يهوديت زرينه دوره پيليږي او د يهوديت نړيوال حکومت چې له بيت المقدس او د سليمان عليه السلام له عبدات ځای څخه کنټروليده، تاسيس شي. يهوديانو د عيسى عليه السلام په دروغ

---

[1] سورة الناس؛ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (۱) مَلِكِ النَّاسِ (۲) إِلَهِ النَّاسِ (۳) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (۴) الَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ النَّاسِ (۵) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (۶)

[2] کنز الاعمال؛ لسم جلد؛ ۲۱۴ مخ

[3] David L. Carrico; The Egyptian-Masonic-Satanic Connection; p 136

[4] Imran N. Hosein; Surah Al – Kahf and Modern age; p 74

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼلو سره د دجال په واسطه خپلې دوکې ته لاره برابره کړه او دجال کولی شي خپل ځان ورته د هغوی مسیح معرفي کړي او د دې یهودیانو په مرسته خپلې حیلې او فتنې خپرې کړي او ځان په هغوی د مسیح په توګه ومني. دا حالت حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په ډېره ښه توګه اټکل کړیدی: د دجال ډېری پیوان به یهودیان وي.[1]

د دجال په لومړۍ ورځ (د برتانیې د امپراتورۍ پرمهال) په سویلي افریقې کې د دجال د پیروانو لپاره یوه مهمه پیښه رامنځته شوه، چې دجالي قدرت یې نور هم زیات کړ. په جنوبي افریقا کې یو ماشوم لوبې کولې چې پښه یې له یو ځلیدونکې تیږې سره ولګیده. دې ماشوم دا تیږه کورنۍ ته ویوړه. کورنۍ یې د قوم مشر او هغه بالاخره دولتي چارواکو ته وښوده او د سویلي افریقا دولت تر یو لږ څېړنو وروسته درک کړه چې دا ډبره الماس دي. د دومره سترو الماسو پیدا کیدل د الماسو د یو ستر نړیوال کان (کمبرلي) د پیدا کیدو او کشفیدو لپاره یوه زمینه برابره کړه. د دې ستر کان را ایستنه په ډیر لږ وخت کې د راتشچایلډ د کورنۍ اړوند کمپنیو لخوا انحصار شوه. مشهور مرغلرپیژندونکی جنس (Janse) لیکي: د کمبرلي کان په را ایستنه کې تر ټولو سترې کمپنې فرانسوي کمپنۍ وې چې د راتشچایلډ د کورنۍ لخوا اداره کیدې.[2] حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: ځمکه به خپلې خزانې دجال ته رابرسېره کړي. د کمبرلي د الماسو کان د ځمکې له خزانو څخه یو خزانه وه چې د دجال د پیروانو لپاره راوویستل شوه.[3] په ۱۹۱۴م کال کې د ۵ بیرلو په اندازه الماس له دې ځای څخه د راتشچایلډ د کورنۍ لخوا راوویستل شول او د هغوی لاس ته نه باوریدونکې پانګه لاسته ورغله. که د شیخ عمران حسین، الکساندر دوګین، داکټر رحیم پور ازغدي، شیخ ډاکتر محمد انصاري او نورو علماوو د ادعاګانې له مخې که غربي عصري تمدن د دجال تمدن وګڼو، نو د نړیوال حکومت جوړولو تیارې، بیت المقدس د دې

---

[1] صحیح مسلم؛ ۷۰۳۴ حدیث

[2] A.J. A. (Bram) Janse; Gems & Gemology; p 237

[3] صحیح مسلم؛ ۷۰۴۱ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت د پلازمينې کيدو او د سليمان عبادتځای چې د اقصی مسجد په شاوخوا کې د شاهي تخت په څير ده، دا اجنډاوې هم په همدې توګه دي.

يهوديان لومړني کسان دي چې د دجال د دوکې په جال کې لويدلي او هغه يې د رښتينې مسيح په توګه منلی دی او هغه ته کار کول يې رښتيني مسيح ته کار کول ګڼلي دي. د دروغجن مسيح د اجنډاوو د عملي کولو او هغه ته د نړۍ د تيارولو لپاره بايد يهوديان د يووالي دين په ځانګړې توګه اسلام کمزوری او بالاخره له منځه يوسي. د هغه وخت دوه سترې امپراتورۍ وې چې د يوازينې خدای عبادت يې کاوه، يوه يې د ارتودوکس مسيحي امپراتوري (تزار) او بله يې د اسلام ستره امپراتوري (عثماني) وه. دا دواړه امپراتورۍ د دجالي هيود د اجنډاوو او په پاکه ځمکه کې د يهودي دولت د راوستلو تر ټولو ستر خنډ او ديوال ګڼل کيدې. د دجال پيروانو د دومره سترو اجنډاوو د عملي کولو لپاره يوازې په يهوديانو اکتفا ونکړه، نو ځکه يې د صهيونيزم په نوم يو بل حرکت پيل کړ چې د فريميسنرۍ يوه بله نسخه ده. د لومړي ځل لپاره يې د بشريت په تاريخ کې د يهودي-مسيحي اتحاد رامنځته کړ چې له دې وړاندې ناممکنه ښکاريده. ليکوال او خبريال ډنمارکي الاصله اروپايي يهودي هرزل تئودور له پنځوسو ډلو يهودو څخه د يهودو علماوو او مفکرينو يو ۳۰۰ سوه کسيز کنفرانس جوړ کړ. دا کنفرانس په پوره پټه توګه د سويس هيواد په بال ښار کې په ۱۸۹۷م کال کې ترسره شو. تئودور هرزل د سياسي وضعې بدلونو ته په پام سره د غرب په ګټه او ختيځ په زيان د يو يهودي هيواد د جوړيدو خبرې وکړې او دا مسئله تر جدي څيړنې لاندې ونيوله او په هماغه کال يې د يهودو د دولت په نوم يو کتاب وليکه چې پکې د يهودو له قوم څخه غوښتل شوي وو چې تاسو بايد د نورو ټولو مليتونو په څير چې د ځان لپاره يو دولت او هيواد لري، ولرئ چې بايد د يهودو دولت د فلسطين په ځمکه کې رامنځته شي. د صهيونيزم حرکت، لکه څنګه چې له نوم يې څرګنديږي همکار سازمان يې فريميسنري وو او يوازې يو موخه يې لره چې د صهيون تپه چېرته چې د سليمان عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



السلام عبادت ځای وو ونیسي او له دې عبادتځای څخه د دجال د نړیوال حکومت د جوړولو لپاره کار واخلي. په دې حرکت کې یوازې یهودیان نه وو بلکې ډېر قدرت لرونکي مسیحیان او حتی ځیني مسلمان ښودونکي اشخاص هم شامل وو. دا یهودي-مسیحي اتحاد قرآنکریم هم پیش بیني کړې دی. مسلمانان یې له دې اتحاد سره د دوستۍ او همکارۍ نه په کلکه منع کړيدي او هغه څوک چې دوستۍ ته یې تن ورکوي د محمد (صلی الله علیه وسلم) له امت څخه خارجیږي.[1] په رسمي بڼه (د صهیونیزم نظریه له کلونو راهیسې د دې دجالیانو په زړونو کې موجوده ده) د صهیونیزم د حرکت رامنځته کیدل د فرعون د جسد له پیدا کیدو سره برابر ده چې دا د الله (جل جلاله) له لوري دې فرعونیانو ته یوه خبرتیا او نښه ده. الله (جل جلاله) فرماییاوس به نو موږ یوازې ستا جوثه (مړی) وژغورو، ترڅو د هغو کسانو لپاره چې په تا پسې دي، یو عبرت وي او له شک پرته زموږ له نښو څخه ډېر خلک بې خبره دي.[2]
نو له دې امله قرآنکریم د فرعون د جسد په اړه یو حیرانوونکې وړاندوینه کړیده او د هغه پیدا کیدل یې د الله (جل جلاله) یو خبرتیایي نښه ګڼلې ده. دا کشف د یهودیانو او د صهیونیزم د حرکت لپاره یوه خبرتیا ده چې د فرعون د جسد له پیدا کیدو سره سم رامنځته شو. دا واضح ده چې د صهیونیزم د حرکت په جوړیدو کې د دجال متفکر مغز وو. مفهوم داده چې یهودیان د دجال په واسطه رهبري شویدي او د داسې لارې په اوږدو کې حرکت کوي چې له الهي مجازاتو او بربادیو سره مخ کیږي او د فرعون په

[1] سورۀ المائده؛ آیۀ۵۱؛ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (۵۱) ژباړه: اې مؤمنانو! یهودیان او عیسویان خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو منځو کې سره ملګري دي او که ستاسې څخه څوک هغوی خپل ملګري نیسي، نو بیا هغه هم په هماغو کې شمېرل کېږي. په دې کې شک نشته چې الله (جل جلاله) ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

[2] سوره یونس؛ آیه ۹۲؛ فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ ﴿۹۲﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرنوشت به اخته کيږي. د فرعون د جسد پيدا کيدل د فرعونيانو لپاره سرچپه شمير او د اخرالزمان ښودونکی دی.[۱]

د يهودو د دولت د پروژې د ترسره کولو لپاره تئودور هرزل د بوديجې په راټولو لاس پورې کړ چې د راتشچايلډ د کورنۍ او نورو سترو يهوديانو لخوا د سترې پانګې په راټولو بريالی شو. هرزل په دې پانګې سره وغوښتل څو وروستی عثماني خليفه عبدالحميد واخلي چې په بيت المقدس کې د يهوديانو له استوګنې سره موافقه وکړي. عبدالحميد د هرزل دې وړاندې ته د توطئې په سترګه وکتل او په بيت المقدس کې يې د يهوديانو ټوليزې استوګنې سره موافقه ونکړه.

د عثمانيانو په څير د روسيې تزاريان هم د اروپايي يهوديانو د دجالي اجنډاوو په وړاندې خطر ګڼل کيده؛ نو ځکه يې د دې دوو امپراتوريو د له منځه وړلو لپاره نړيوال پلانونه ونيول. په روسيه کې صهيونيستانو د ولاديمير لنين په مشرۍ د بلشويک (Bolshevik) په نوم د کمونيستي انقلاب نظريې په روزنې لاس پورې کړ. لنين د مور لخوا يهود وو او يهوديانو د هغه په لومړني سياسي دفتر باندې واک لره او د بلشويک په انقلاب کې دويم مهم سړی چې ليئون تروتسکي نوميده، ډيره هڅه يې کوله چې د يهودو په ګټه خپل هويت او ليوالتيا پټه کړي[۲]. صهيونيستان په عثماني قلمرو کې هم د نفوذ په فکر کې وو او خپلو لاسپوڅو ته يې په دې ځمکو کې روزنه ورکوله. په ترکيه کې يې مصطفی کمال (اتاترک) او د عربو په جزيره کې يې د حجاز حکمران شريف حسين او عبدالعزيز ابن سعود وټاکل. خو دا دوه امپراتورۍ دومره هم کمزورې نه وې چې د څو تنو او يا يو عادي سياسي حرکت په بغاوت سره له منځه لاړې شي. د دې دوو امپراتوريو د کمزورتيا لپاره دوی بايد په يوې سترې جګړې کې برخه اخيستې وه؛ نو له همدې امله صهيونيستانو لومړۍ نړيواله جګړه په لاره واچوله. په ۱۹۱۴م کال

[۱] Imran N. Hosein; Jerusalem in the Quran; p 101-103

[۲] Kevin Macdonald; The Culture of Critique; p 53, 96

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې صهونیستانو د اتریش – مجارستان ولعهد فرانیس فردیناد وواژه او په دې کار یې روسیه تورنه کړه. داکتر هنري مکو وایي: د پټو فریمیسني لاستو پواسطه د اتریش د ولیعهد (فردیناند) وژل کیدل چې وروسته په لومړۍ نړیوالې جګړې واوښت د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر یوولسمې ته ورته یوه پلان شوې پیښه وه[۱]. د فردیناند په وژل کیدو سره اتریش – مجارستان له روسیې سره جګړه اعلان کړه. جرمني له اتریش - مجارستان سره ملاتړ وکړ او انګلیس د جرمني په مخالفت کې واقع شو. په دې منځ کې هغه قدرت چې نه یې غوښتل په دې جګه کې ښکیل شي، د عثمانیانو امپراتوري وه؛ خو انګلیسانو له روسیې سره د یوې پټې هوکړې له مخې په قسطنطنیې باندې د حکومت کولو وعده ورکړیوه او د روس بحري قواوې د عثمانیانو اوبو ته ننوتې چې د عثمانیانو غبرګون په جګړه کې د ښکیلتیا لامل شو. میلیم ولفورټ لیکي: د جرمني او روسیې ترمنځ د دیپلوماتیک بحران په لړ کې، په ترکیې باندې د جرمنې د حملې پرمهال کومه سیمه چې روسیې تر خپلې ولکې لاندې غوښته، فرانسې هم د بالکان د لومړي جنګ په څیر په دې تاکید کاوه چې روسیه دې د جرمني په وړاندې جدي اقدامات وکړي.

د بېلګې په توګه سزونوف (د روسیې د باندنیو چارو وزیر) په بیلابیلو ځایونو کې ویلي وو چې که روسیې له جرمني سره د جګړې خطر منلی وو، د روسیې په پلویتوب د انګلیس ملاتړ تضمین شوی وو.[۲] په دې جګړه کې جرمني د لومړي ځل لپاره له داسې وسلو کار واخیست چې ساری یې تر دې وړاندې نه وو لیدل شوی او نړۍ ترې بې خبره وه، د بحري قواو په مرسته یې انګلیس محاصره کړ. د انګلیس محاصره او بې چاره کیدل هغه څه وو چې صهیونیستانو او د راتشچایلډ کورنۍ ورته انتظار کاوه. صهیونیستان انګلیسانو ته په دې شرط ورغلل چې په فلسطین کې د یهودو د دولت له

---

[۱] Henry Makow PhD; Illuminati; p 185

[۲] William C. Wohlroth; The Peception of Power: Russia in the Pre-1914 Balance; p 367

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړيدو سره مرسته کوي؛ نو دوی به يې په بدل کې د جګړې د ملاتړ لپاره امريکا راولي.

انګليس دې وړانديز ته لبيک ووايه او د بلفور اعلاميه چې د راتشچايلډ په عنوان ليکل شوې وه او پکې په فلسطين کې د يهودو د دولت د جوړيدو لپاره د انګليس هر اړخيزې مرستې يادې شوې وې، لاسليک شوه. دا چې صهيونيستان د امريکا په سياست کې له ډير نفوذ څخه برخمن وو، نو په اسانۍ سره يې وکولی شول چې امريکا په جګړه کې د انګليسانو ملاتړ ته راولي او له وعدې سره سم انګليس د محاصرې له ګواښه وژغورل شو. صهيونيستان په لومړۍ نړيوالی جګړې کې د امريکا د ننوتو تر شا وو. هغوی په جنګ کې د امريکا د ننوتو په بدل کې، له ترکانو څخه د فلسطين د نيولو تبادله[۱]. د انګليس جاسوسانو شريف حسين ته د عربو پادشاهي او اووه مليونه پونډه منلي وو او شريف حسين له خلافت سره بغاوت وکړ او د آزادۍ اعلان يې وکړ چې په ۱۹۱٦ م کال کې يې وکولی شول د جدې او مکې واک په لاس کې کړي او بالاخره په ۱۹۱۹م کال کې يې د مدينې ښار ونيو او بيا ورپسې حجاز هم د شريف حسين لاسته ورغی. دويم شخص عبدالعزيز بن سعود وو چې اولاده يې اوس هم د سعودي عربستان شاهان دي، چې هغه وخت يې په سياست کې دومره اغيز نلره، نو له دې امله يې د ډيرو لږو پيسو په وړاندې (مياشتې معاش ۵۰۰۰ پونډه استرلنګه) باندې په انګليسانو وپلوره او له خلافته يې سرغړونه وکړه. په ۱۹۱۹م کال کې اسلامي خلافت د له منځه تلو په حال کې وو او د انګليس اردو بيت المقدس ونيو چې دا د صهيونيستانو لپاره د خوښۍ يوه ستره ورځ وه. همدا کال وو چې د يونان اردو د ترکيې انتاليا ونيوله دا چې ترکانو د دوی په اړه د يونانيانو له کينې څخه ويره لرله، نو ډير وويريدل، همدا وه چې انګليسانو ورته خپل وړانديز وکړ او ځان يې د ترکيې د ملاتړې په توګه وښود.

---

۱ Henry Makow PhD; Illuminati; p 8

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفی کمال د ټولو قهرمانانو د قهرمان په توګه راڅرګند شو او یو کال نه وو تیر شوی چې مصطفی کمال په ترکیه کې جمهوري اعلان کړه او خلیفه د عیسویت د پاپ په څیر په ترکیه کې هم له سیاسي او اجرایي قدرت څخه پاتې شو چې په ۱۹۲۴ م کال کې د ترکیې جمهوریت په پوره توګه خلافت له منځه یوړ. اسلامي نړۍ هم د اروپا په څیر په سیکولر او ملت پالونکو هیوادونو واوښته او نور په اسلام کې د یوه امت په نوم څه پاتې نه وو.

Foreign Office,
November 2nd, 1917.

Dear Lord Rothschild,

I have much pleasure in conveying to you, on behalf of His Majesty's Government, the following declaration of sympathy with Jewish Zionist aspirations which has been submitted to, and approved by, the Cabinet

"His Majesty's Government view with favour the establishment in Palestine of a national home for the Jewish people, and will use their best endeavours to facilitate the achievement of this object, it being clearly understood that nothing shall be done which may prejudice the civil and religious rights of existing non-Jewish communities in Palestine, or the rights and political status enjoyed by Jews in any other country"

I should be grateful if you would bring this declaration to the knowledge of the Zionist Federation.




(c) ketabton.com: The Digital Library




# دویم څپرکی

## نیواک (استعمار) او استثمار



د ځمکې پرمخ تر ټولو پیاوړې ډلــه رسنۍ دي، دا وړتیا لري چې مجرم بیــګناه او بیګناه شخص مجرم ثابــت کړي او دا واقعي قدرت؛ ځکه ده چــې د خـــلکو ذهـــنونه يې پــه واکـــــ کـــــې دي.

ملکام اکس شهید



هغوی (استــعمارچیان)؛ امریکایي اســلام غــواړي، هغوی د داسې اسلام غوښتونکي دي چې د اودس په ماتـــوونکو کـــې فـــتوا ورکـــړي؛ خو د مســلمانانو د مالي، ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي شرایطو په اړه هیڅ ونه وايي. واقعاً چې ریشـخند او بلکه بدبختي ده.

شهید سید قطب

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پيسو تاريخ

نړۍ په يو داسې عصر کې ده چې د بشريت تاريخ يې سارى نه دې تجربه کړى. دا زمانه، د چټک پرمختګ، چټک بدلون، معلوماتو، ټکنالوژۍ، علم، اقتصاد، سوداګرۍ او نړيوالتوب وخت دى؛ خو دا وخت داسې شى نه دى چې ښکاره شي؛ بلکې د فتنو او دوکو وخت دى چې پکې خپلواکي د غلامۍ، جګړه د سولې، جهالت د زور، نيکمرغي د شتمنۍ د لرلو، علم پکې له معتبر ځاى څخه د ټاپه شوي کاغذ او سوداګري او اقتصادي پکې خولې پورته کولو ته وايي او په ظاهره او باطن کې له يو بل سره متضاد دي چې دا فتنې او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دجال د وخت له وړاندوينې سره برابر دي. زموږ د وخت تر ټولو ستره فتنه، د سرمايه دارۍ د نړيوال اقتصادي نظام دى چې پکې ډيرى پانګې د ګردش په حال کې نه دي، ستر پانګوال تضمين شوي پيسه لرونکي دي، فقيران د تل په څير د غربت د ميلو ترشا بنديان دي. د نړۍ د ټولې پانګې له مجموعې څخه يې ۵۹ سلنه د ۴۵۰ کسو ميلياردرانو په لاس کې دي او ۸۰ سلنه يې د څو سترو هيوادونو په لاس کې دي[۱]. او بالاخره ډيره خلک د وخت په تيريدو سره د پانګوالو په کوچنيو اقليتونو غلامۍ تلک کې ايساريږي. د اوسني اقتصادي نظام باندې پوهيدا د پيسو د تاريخ په ځانګړې توګه د بريښنايي يا کاغذي پيسو له مطاعلې او پوهې پرته شونې ندى.

لومړنيو انسانانو د دې لپاره چې يو شى به بل نه لره، خپل مال به ورسره بدلوه، مثلاً د وربشو د لرلو لپاره يې غنم ورسره بدلول او له جنسو څخه د پيسو په توګه کار اخيستل کيده؛ ځکه پيسې د راکړې ورکړې وسيله ده. د خلکو، قبيلو، امپراتوريو او تمدنونو ترمنځ د راکړې ورکړې په زياتديو او د بشر په تکاميل سره جنس په جنس بدلونې سوداګري له ستونزو سره مخ کړه او د هغې د سستوالي لامل ورګځيده، نو له دې امله ګران بيه فلزي سکې (په ځانګړې توګه سره زر او نقره) د پيسو په توګه رامنځته شوې. د تاريخ په اوږدو کې د پول يوه اصلي ځانګړتيا د هغې ذاتي ارزښت وو. يعني، هر هغه څه چې د پيسو په واسطه يې راکړه ورکړه کيده، پخپل ذات هم د ارزښت وړ وو، د

---

[۱] Michel Chossudovsky; The Globalizaion of Poverty and The New World order; pp 7 & 21

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلگې په توګه غنم، خرما، نقره، سپین زره او نور. د نقرې او سرو زرو سکې، د بشریت په تاریخ کې د پیسو تر ټولو اوږد دوړ دی چې تر میلاد وړاندې له بابل او یونان څخه د فرانسې تر انقلابه پورې وکاریدې. د سرو زرو او نقرو او د پیسو ټول هغه دولونه چې د ذاتي ارزښت لرونکي دي، له شیطان صفته او واک پاله انسانانو څخه د مستقیم مهار کولو واک اخلي، نو له دې امله د دجال په لومړۍ ورځ او د لومړۍ ورځې په عملیاتي مرکز (برتانیې) کې، اتم هنري پادشاه د پیسو د کنټرول د رانیول او د پیسو د ارزښ د مهارولو لپاره په تقلب لاس پورې کړ او د نقرې په اوبو سره یې د مسي سکو په رنګولو خلک په رنګ کولو سره یې خلک د دې تقلبي سکو منلو د اصلي سکو په مساوي ارزښت مجبور کړل او د خلکو د دوکه کولو په دې حالت یې د انګلیس د شاهي دولت ستره پانګه لاسته راوړه[1]. همدارنګه یې په دیارلسمه پیړۍ کې په اروپا کې کتبي حوالې، سوداګرو او بانکوالو سره مرسته کوله څو د حجیمو حواله د انتقال پرځای، حوالې له بانکونو څخه واخلي او ترې به یې انتقالولی. دا حوالې د بانکوالو او هغو کسانو لخوا چې د ضرب طلا فابریکې یې لرلې، هغو کسانو ته لیږل کیدې چې ورسره به د سرو زرو او نقرې د اندازې له مخې ایښودل شوې وې. کرار کرار دا حوالې د پیسو په توګه د اصلي پیسو په بدل کې رواج شوې او په راکړه ورکړه چې کاریدې او ورسوته د بانکنوټونو په نوم ونومول شوې. د ډیرو پیړو لپاره بانکنوټونه په سرو زرو او نقرې او د نقرې او سرو زرو په سکو متکي وو چې بیا یې هم مستقیم مهار جوړونه ناشونی کوله، سره له دې چې بانکوالو د بیلابیلو حیلو او چلونو له مخې د غیر قانوني شتمنۍ لپاره ترې کار اخیسته، مثلاً هغه سره زر او نقره چې د بانکنوټونو په بدل کې ورسره ذخیره کیدل چې ورسره به د امانت په توګه ایښودل شوی وو، دوی پوهیدل چې ټول خلک په ډله ییزه توګه په خپل ذخیره شویو نقرو او طلاوو پسې نه راځي، نو ځکه یې په سود باندې قرض ورکول او یوه سرمایه په دوو ځایونو کې د دوو مرجعو ترڅنګ یعني د بانکوال او د پانګې د خاوند سره د ګردش په حال کې وه او همدارنګه د صادر شویو بانکنوټونو اندازه د ذخیره شویو سرو زرو او نقرو سره سمه نه وه، نو له دې امله یې د

[1] James Robertson; The History of Money; p 7

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې پشتوانی. له مخې ډېر بانک نوټونه بازار ته وړاندې کول او له هيڅ څخه يې سرمايه ترلاسه کوله، په دې اړه د شپاړلسمط پيړۍ کاتوليک کشيش داسې وايي: سوداگر او بانکوال د خپلو ابتکاري کړنو د کشف لپاره له څو ډوله چلونو کار اخيلي چې موږ يې په پوهيدو وړ نه يو.

تر دې ځايه حيلې او چلونه داسې جوړ شوي وو څو قرضه له سود سره چې په ميسحيت کې گناه گڼل کيږي، پټه کړي، خو کرار کرار يې له مسيحيت څخه د سود خوړولو گناه لرې کړه او بانکوال په دې وتوانيدل چې په ازاده توگه په سود پور ورکړي او د چلونو تمرکز يې له هيڅ څخه د بيسو توليد شو چې توليد شوې پيسو يو وار بيا په سود پور ورکړي[۱]. دا چلونه ددې سبب شول څو بانکوال يوازې د بانکنوټونه د چاپ په بيه او د په دې بانکنوټونه پرمخ د ارقامو په ليکلو د سرو زرو او نقرې ارزښت هغوی ته ورکړي او د ځان لپره له هيڅ څخه سرمايه توليد کړي. بشري تاريخ په دې شاهد دی، هغه کسان چې ډېره شتمني يې لرله، ډېر قدرت او واک يې هم لره او همدارنگه ډېری دې خلکو خپله پانگه له غير مشروعو لارو لاسته راوړه، د واک او شتمنی په ترلاسه کولو سره يې حرص زيات شو او د نور واک د ساتنې او ترلاسه کولو او همدارنگه د ډېر شتمنې او غلاميتوب د ساتنې پسې شول. اروپايي بانکوال هم چې په هغه وخت کې د واک او شتمنی خاوندان وو او همدارنگه د هغه مهال په حکومتونو کې يې له سياسي نفوذ څخه خوند اخيسته، د خپلو واک او شتمنی په پراختيا پسې شول تر دې چې د ملي پيسو د کنترول د په لارې اچولو طرح جوړه کړه او د دې کار لپاره يې لومړنی اړوند هيواد د دجال د لومړی ورځ عملياتي مرکز وو. دا کاره ده چې هيڅ هيواد نه غواړي چې خپلې پيسې په شخصي ټولنې پورې وتړي، نو له دې امله هغه بانکوالو چې سياسي نفوذ يې لره، برتانيه او فرانسه يې له يو بل سره يې د جنگ په لور وهڅول. په ۱٦۹۴م کال کې د فرانسې د څوارلسم پادشاه لويس او انگلستان ترمنځ جگړه د يوې واقعې باعث شوه چې د پيسو په تاريخ کې تر ټولو ستره مرحله گڼل کيږي. د برتانيې پادشاه دريم ويليم د جگړې د مخکې وړلو لپآره ډېرو پيسو ته اړتيا لرله او د برتانيې

[۱] همدا سرچينه؛ ۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمان د ماليې پورته کولو ته حاضر نه وو، نو له دې امله د ويليم پيټرسن اسکاټلندي په مرسته، د لندن ځينې سوداګرو پادشاه ويليم دې ته قانع کړ چې يو بانک جوړ کړي څو دا بانک پادشاه ويليم ته پيسې په پور ورکړي. دا بانک سره له دې چې يو شخصي سوداګريز بانک وو د انګليس د بانک په نوم ونومول شو. دا بانک باوري وو چې د خپلو پورونو ګټه لاسته راوړلی شي، ځکه حکومت د سود د ورکولو لپاره له ماليو څخه ګټه واخلي، د بيرته ورکولو له تاکيد پرته وکړ په دې شرط قرضه وړاندې کړه چې ګټه يې ورکړل شي او دې کار حکومت د لا پسې ډيرې قرضې اخيستلو ته تشويق کړ.

حکومتونو په ټوله نړۍ کې دا لاره تعقيب کړه چې نن ورځ خلک د خپلو درنو ماليو په واسطه د شخصي بانکونو د سود په ورکولو مجبور دي[1]. د انګليس د شخصي بانک تشکيل چې د انګليس پيسې يې چاپولې، د بشريت د تاريخ تر ټولو ستر اقتصادي فساد ګڼل کيږي چې تر اوسه يې انسانان په اقتصادي ګوانتامو کې را ايسار کړيدي او تر اوسه به داسې هيڅ انسان پيدا نکړې چې له دوکو او جعلي اقتصادي سيستم تر اغيز لاندې چې لومړنی هغه يې د انګليس بانک وو پيدا نکړئ. په اتلسمه پيړۍ کې د راتشچايلډ د کورنۍ په اقصتادي پورته والي او د جعلي او خلکو ته د دروغو سره د ګډ سيستم په خپريدو سره د ملي بانک پديدې په لاسته ورتلو سره، د دې کورنۍ ته دا زمينه برابره شوه ترڅو هغه پلانونه چې خزرانو په اتمه پيړۍ کې په سر کې لرل، عملي اړخ ورکړي.

د امريکا د متحدو ايالتونو د کانګرس کانديد دوکتور کن مټو (Ken Matto) ليکي: په ۱۷۷۳م کال کې مير انچل باور (راتشچايلډ)، د طلا ويلې کيدو د فابريکې مالک، صراف او پانګوال د ولس پرنفوذه او پانګوال سړي خپل کاري دفتر ته د جرمني په فرانکفورټ کې راوبلل. له دې ناستې څخه د هغې موخه له دې ناستې څخه دا وه چې دا کسان دې ته قانع کړي چې که خپلې پانګې سره يوځای نکړي، نو د پانګو،

[1] همدا سرچينه، ۱۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعي او انساني سرچینو کنترول به ورته په ټوله کې نړۍ کې ناممکن شي او خپل ۲۵ مرحلې پلان ورته وړاندې کړ[1].

د دې دیارلسو کورنیو ۲۵ مرحله اي پلان چې فریتس اسپرنگماییر (Fritz Springmeier) یې د روشن فکرانو د دیارلس شیطاني نسبه (Illuminati) بولي، د صهیون د مشرانو د ۲۴ پروتوکولو په څیر په یو تاریخي حقیقت په توگه ندی ثابت شوی خو نننی او د څو وروستیو پیړیو تاریخي پیښې او مرحلې د دې پلانونو د رښتیا کیدو شاهدې دي چې د صهیون د مشرانو د ۲۴ پروتوکولو یوه بله نسخه ده. په دې پلانونو کې ځینې مهمې برخې د علمي ویناوو پر ځای له وحشت او ترور څخه استفاده، د سیاسي قدرت د ترلاسه کولو لپاره د لیبرالیزم تبلیغ، د طبقاتي جگړو رامنځته کول، د دیارلسو کورنیو پټ پاتې کیدل تر دې چې واک یې دې حد ته ورسیږي چې د دولت او خلکو زور پرې ونه رسیږي، د معلوماتو او رسنیو کنترول، د مشهورو شعارونو په واسطه له سیستماتیک چلونو څخه کار اخیستل او د هغې د خلاف عملي کول، د شرابو، زنا، موسیقۍ، مخدره توکو او نورو اخلاقي فسادوو په واسطه د ځوان نسل فاسدول او همدارنگه بیلابیلو تیوریو (مارکسیزم، لنینیزم، فشایزم، انارشیزم او نور) ته یې راښکل چې پوهیږو چې دا (دیارلس کورنۍ) دروغ دي، او بالاخره د نوي نړیوال نظم (New World Order) په نوم د یو نړیوال حکومت رامنځته کول دي. تر دې ناستې وروسته، راتشچایلډ خپل پنځه زامن د اروپا پنځو مهمو ښارونو ته واستول او ډیر زر یې د اروپا د مهمو هیوادون د پیسو واک په لاس کې واخیست. راتشچایلډ او ورسره نورې دیارلس کورنۍ چې د خزر له نسب څخه دي، ټول یې په بیت المقدس په مرکزیت سره د یو نړیوال حکومت د رامنځته کولو هیله لرله او له همدې امله له برتانیې څخه په جغرافیایي او نفوسي لحاظ یو کوچني هیواد وو د واک د انتقال په فکر کې شول او له همدې امله یې شمالي امریکا ته چې په جغرافیایي لحاظ ستر او د نفوس له پلوه هم ډیر وو، واک انتقالوه څو دا نړیوالې اجنډاوې د نوي رامنځته شوي قدرت په مرسته عملي کړي. د دې لپاره چې هغوی په توانیږي چې له امریکا څخه د خپلو سترو

[1] Ken Matto; The History of the Federal Reseve System; p 4

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلانونو د څارونکي په توګه کار واخلي نو باید متخصصه طبقه په کنترول کې راولي او د سرګردانو خلکو طبقه غلامه کړي چې دا کار یوازې د پیسو په زور شونې وو.
امریکا تر خپلواکۍ وړاندې د برتانیې په بیلابیلو مستعمرو ویشل شوې وه او هرې مستعمرې یې د مرکزي بانک په واسطه د ځان لپاره جلا پیسې چاپولې. د انقلاب په پیل کیدو سره مستعمرو د جګړې د مخکې وړلو لپاره ډیرو پیسو ته اړتیا لرله، نو له دې امله د هرې مستعمرې بانکونو ډیرې پیسې چاپ کړې چې تر انقلاب وروسته د پیسو د تورم سبب وګرځیدې او د هرې مستعمرې پیسو له دې امله چې په بازار کې له حده ډیرې وې، خپل ارزښت له لاسه ورکړ او په دې حالت کې اروپایي بانکوالو یو مرکزي بانک چې د انګلیس بانک ته ورته وو، وړاندیز وکړ او په امریکا کې لومړنی مرکزي بانک د شمالي امریکا د بانک په نامه رامنځته شو.
دا بانک هم د پیسو د کم ارزښته کیدو له امله له رکود (ماتې) سره مخ شو او تر تاسیس څلور کاله وروسته په ۱۷۸۵م کال کې له منځه لاړ. خو له دې سره سره بیا هم اروپایي بانکوالو په امریکا کې د پیسو د کنترول د ترلاسه کولو او د یو مرکزي بانک د بیا جوړولو هڅې پرینښودې او د امریکا د اساسي قانون د تشکیل په کمیسیون کې یې د یو نوي بانک د جوړولو طرح وړاندې کړه. توماس جیفرسن د امریکا یو بنسټ ایښودنکی او پخوانی ولسمشر به دې اړه وایي: که د امریکا خلک شخصي بانکونو ته د خپلو پیسو د عرضه کولو اجازه ورکړي لومړی له تورم او بیا د بیو د راټیټوالي په واسطه به بانکونو او شرکتونه چې هم مهاله به له دې پدیدې سره وده وکړیو له خلکو څخه ملکیتونه غلا کړي تر دې چې یو ورځ به یې ماشومان په بې کورۍ په هغې لویې وچې کې وزیږیږي چې پلرونو یې نیولې وه[1]. همدارنګه د امریکا یو بل بنسټ ایښودونکی ګورنر موریس په دې اړه وایي: پانګوال تل هڅه کوي چې خپل واک وساتي او پاتې خلک غلامان کړي. هغوی تل دا کار کړیدی او تل به یې کوي. که موږ د حکومت په مرسته هغوی په یوه محدوده کې ونه ساتو، هغوی به د نورو ځایونو په څیر دلته هم

[1] Patrick S. J. Carmack; The Money Changers; p 29

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله اغیزه ولري[۱]. د امریکا د دوو بنسټ ایښودونکو له مخالفت سره سره بیا هم بانکوال وتوانیدل چې د سیاسي مشرانو ترمنځ د نفوذ په مرسته د پیسو واک د امریکا کانګرس او حکومت ته ورنکړي او په مقابل کې یې د امریکا د لومړني بانک په نامه د امریکا د نوي بانک منشور د دې هیواد په کانګرس کې تصویب کړ.

د امریکا لومړنی بانک لومړنۍ پانګه لس ملیونه ډالره وه چې دوه ملیونه یې د فدرال حکومت او پاتې یې د شخصي پانګوالو د پانګې اچونې په واسطه شوې وه. د دې بانک له ۲۵ تنو مشرانو څخه یې پنځه تنه د حکومت او پاتې شل تنه یې د شخصي پانګوالو په واسطه ټاکل کیدل[۲].

د مشرانو په کمیټه کې د شخصي خلکو د شمیر د ډیروالي له امله به ډیری پریکړې د شخصي پانګوالو په ګټه کیدې. د انګلیس بانک په څیر د دې بانک نوم هم داسې ایښودل شوی وو چې خلک پرې د حکومتي بانک ګمان وکړي او همدارنګه یې هیڅکله فردي شریکانو نومونه رابرسېره نشي؛ خو ډیری محققین په دې باور دي چې راتشچایلډ د دې بانک یوه تر ټولو محرکه قوه ده. د امریکا دولت ډیر زر له دې بانک څخه پوروړی شو او توماس جیفرسن چې د دې پور په پایلو پوهیده په ناتوانۍ او غم سره له دې باک څخه د امریکا د مشرانو او دولت د غلامۍ نندارچي شو. په دې اړه یې پخپلې یوې بیانیې کې داسې وویل: هیله مې داده چې په اساسي قانون کې د اصلاح یو امکان موجود وای چې له فدرال حکومته یې د پور اخیستلو واک اخیستی وای[۳]. او همدارنګه یې په یو بل ځای کې وویل: په پوره باوري یم چې بانکي ټولنې له نظامي اردو څخه خطرناکې دي[٤]. کله چې توماس جیفرسن د امریکا ولسمشر شو، د بانکوالو او د هغوی د نورو ملګرو په ټولو هڅو سره یې بیا هم ورته د امریکا د لومړني بانک د جوړیدو اجازه ورنکړه. خو وروسته بیا بانکوال وتوانیدل چې د امریکا د لومړني بانک په څیر یو بل مرکزي بانک د امریکا د دویم بانک په نامه رامنځته کړي چې د امریکا د

---

[۱] Jannifer nedelsky; Private Property and the Limit of American Constitutionalism; p 80

[۲] Roger T. Johnson; Historical Beginning… the Federal Reserve; p 8

[۳] Congressional Record-Senate; Feb 10 1997; S-1148

[٤] Jeff Barnes; Children of Liberty; p 164

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحدو ايالتونو ديم بانک له لومړني سره ډېره ورته والی لره او يوازې لومړني پانګې سره توپير لره چې ۳۵ مليونه ډالره وه. د لومړي بانک په څير يې يو پر پنځمه برخه په حکومت اړه لرله او يو پر پنځمه برخه يې هم حکومتي مشرانو وو، همدارنګه د لومړي بانک په څير د دې بانک منشور هم د شلو کلنو لپاره تصويب شو[۱]. کله چې انډريو جکسن په ۱۸۲۹م کال کې د امريکا ولسمشر شو، د پيسو سره د تړلو دوکو او چل د سيستم په وړاندې يې مبارزه پيل کړه او پداسې حال کې د امريکا کانګرس څلور کاله تر وخت مخکې د متحدو ايالتونو د دويم بانک منشور نوی تصويب کړ، رئيس جمهور د رد له واک (ويټو) څخه کار واخيست او د دې مرکزي بانک د نوي والي مانع شو. د ولسمشرۍ په دويمه دوره کې جکسن خپل ماليې وزير ته له دې بانک څخه د حکومتي شتمنيو د را ايستلو فرمان صادر کړ، چې د ماليې وزير له کار څخه ډډه وکړه او جکسن مجبور شو چې د هغه د منفکۍ امر صادر کړي، تر ده وروسته د ماليې دويم وزير هم د لومړني په سرنوشت اخته شو تر دې چې له دې بانک څخه د حکومت د شتمنيو په راويستو باندې د دې څوکۍ درېيم وزير بريالی شو. ولسمشر د شخصي مرکزي بانک د له منځه وړلو په فکر کې وو، خو د پرنفوذه او شاوخوا خلکو له ډېرو مخالفتونو سره مخ شو. د هغه په اړه د مرکزي بانک رئيس وايي: دا لايق ولسمشر که دا فکر کوي چې په دې توانيدلی دی چې له هنديانو سره سرونه غوڅ کړي او قاضيان بنديان کړي او فکر کوي چې لاس يې بانک ته هم رسيدای شي؛ نو تيروتنه کوي[۲]. په ولسمشر باندې فشار راوړلو لپاره مرکزي بانک له بازار څخه د پيسو راټولونه پيل کړه (Money Contraction) چې دې کار مالي ستونزه رامنځته کړه. همدارنګه بانکوالو د ولسمشر د وژلو هڅې هم وکړې د اسلحې د ناکاريدو له امله بريالی نه شول او د هغه تورن کس د رواني ناروغۍ د لرلو له امله خوشې شو. بانکوال د امريکا د متحدو ايالتونو په کانګرس کې د پياوړې ډلې په لرلو سره د امريکا په تاريخ کې د لومړۍ ځل لپاره د د ولسمشرۍ د سلبولو هڅه د رايو په اکثريت وکړه، خو ولسمشر جکسن

---

۱ Roger T. Johnson; Historical Beginning.. The Federal Reserve; p 9

۲ Edward Kaplan; The Bank of the United State and American Economy; p 133

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقاومت وکړ او بالاخره یې مرکزي بانک داسې له منځه یوړ چې راتلونکو اویاوو کلونو پورې بل شخصي مرکزي بانک د امریکا په متحدو ایالتونو کې جوړ نشو. پداسې حال کې چې ولسمشر جکسن د مرکزي بانک له منځه وړل ځېل تر ټولو ستره بریا ګڼله، د بانکوالو د واک د راکمیدو لپاره یې کوم نوی سیستم رامنځته نکړای شو او بانکوالو د کوچنیو ایالتي بانکونو په واسطه د ذخیرې د یوې برخې په واسطه د بانکوالۍ پدیده (Fractional Reserve Banking) چې پکې بانکوال کولی شي د لږې ذخیرې په مرسته د ذخیرې د څو چنده  بانکنوټونه عرضه کړي (د بیلګې په توګه که د ۱۰۰۰ افغانیو سره زر ولري، د ۱۰۰۰۰ افغانیو په اندازه بانک نوټونه عرضه کولی شي) په دې توګه یې د پیسو په مهار کولو لاس پورې کړ او له هیڅ څخه یې سرمایه لاسته راوړله. د پیسو دې سیستم تر ۱۸٦۱م کال پورې د بانکوالو واک زیات کړ او د عوامو له پانګو یې خپله ډیروله تر دې چې د امریکا شپاړلسم ولسمشر ابراهام لنکن وغوښتل ترڅو له بانکوالو څخه واک په پوره توګه واخلي او د پیسو کنترول حکومت ته ورکړي، نو له دې امله یې د شنو پیسو (GreenBuck) په نوم نوی پیسې چې د حکومت لخوا چاپیدلی، لاس پورې کړ او ویې غوښتل چې د حکومت پور له منځه یوسي. د لنکن پرمهال، په امریکا کې داخلي جګړې پیل شوې او همدارنګه اروپایي قدرتونو چې د لنکن د پیسو سیستم یې خطرناکه ګڼه، غوښتل په امریکا حمله وکړي. پداسې حال کې چې په لنکن باندې داخلي او بهرني فشارونه مخ په زیاتیدو وو، تزاري روسیې د لنکن مرستې ته راودانګل، هغه په دې پوهیده چې د دې پردې تر شا د اروپا بانکوال دي او تر امریکا وروستۍ موخه روسیه ده. تزاري روسیې له ولسمشر لنکن سره د داخلي جګړې د لمنځه وړلو لپاره له مالي مرسته پرته په امریکا باندې حمله د تزار په امپراتورۍ حمله وګڼله چې لنکن یې د رامنځته شوي بحران څخه وژغوره.

خو مخکې له دې چې لنکن وتوانیږي د پیسو یو داسې سیستم رامنځته کړي چې د حکومت په لاس کې وي او دا کار قانوني کړي، د اروپایي بانکوالو په واسطه ووژل شو، چې د اروپایي بانکوالو په واسطه د دې کار ثبوت د ده له مرګ څخه څو کاله وروسته یو کاناډایي خبریال ته په لاس ورغی چې له یو امریکایي جاسوس څخه یې ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وو او په کاناډایي ورځپاڼه کې یې داسې ولیکل: د غلامانو ازادوونکی ښاغلی ابراهام لنکن، د یوې ډلې د دسیسې په واسطه چې د نړیوالو بانکوالو استازیتوب یې کاوه، ووژل شو[1]. لنکن تر مرګ وړاندې په یوه لیک کې خپل ملګري ته داسې لیکلي وو: د سولې پرمهال د پیسو ملت د ځان ښکار کوي او د بدبختۍ پرمهال یې د ملت په وړاندې ترې توطیه جوړوي. د پیسو واک له سطلنت څخه ظالم، له اوتوکراسۍ څخه ګستاخ تر او بروکراسۍ څخه ځان غوښتونکی دی[2]. اوتوون بیسمارک د جرمني حاکم د لنکن د قتل په اړه داسې وایي:

د لنکن مړینه د مسیحیت لپاره یوه فاجعه ده. زه دا ویره لرم چې بهرني بانکوال پخپلو ماهرانه چلونو سره د امریکا ټول شتمني په واک واخلي او ترې د یو عصري سیستماتیک تمدن د خرابولو لپآره کار واخلي[3]. د لنکن په له منځه تلو سره، شنې پیسې چې حکمي پیسې یعنی ملاتړ یې نلره او د بازار د غوښتنې سره سم په ډیره اندازه د داخلي جګړې د مصارفو لپآره چاپ شوی وی، خپل ارزښت له لاسه ورکړ تر دې چې د سرو زرو په ملاتړ سره پیسو تر داخلي جګړو څوارلس کاله وروسته د بانکوال د فشاروو له مخې ځای ونیو. همدارنګه د لنکن د حکومت د بانکوالۍ ملي قانون چې د ایالتي بانکونو په واسطه یې د بانکنوټونو عرضه کول منع کړی وو او دا صلاحیت یې څو سترو بانکونو ته ورکړی وو چې منشور یې د فدرال حکومت په واسطه تصویب شوی و، تر ډیرو کلونو یې دوام وکړ. څو ستونزه دا وه چې دې بانکونو د وال سټریټ (Wall Street) په مرکزیت سره فعالیت کاوه او د بانکوالی د قدرت د ملي باکوالۍ سیستم یې سلب کړی و او حکومت د بانکوالو په پرتله پیاوړی کیده چې بانکوال له دې حالت څخه ناخوښه وو او په امریکا کې د شخصي مرکزي بانک د جوړولو په هڅه کې شول، ځکه یوازې همداسې یو بانک کولې شي چې د بانکوالو دایمي قدرت تضمین کړي. بانکوالو د خپلو سیاسي پیاوړو ډلو په واسطه، د انډیانا پولس (Indianapolis) په نوم د

---

[1] Michael A. Kirchubel; Vile Acts of Evil- Volume 1- Banking in America; p 62

[2] Ron Hayhurst; How to Interpret History; 63

[3] Chris Waltik; Wealth Builgind Strategies in Enery, Metals and Other Markets; p 182

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسو یو کمیسیون جوړ کړ ترڅو په خپلې ګټې سره د پیسو سیستم اصلاح کړي. د دې کمیسیون ډیره غړي داسې څوک چې په بانکوالو او سترو شتمنانو پورې یې تړاو لره او دې پانګوالو په دې کمیسیون کې له پنځه سوه زره ډالرو څخه ډیره پانګه اچونه وکړه[۱]. بالاخره

د دې کمسیون وروستي راپور د یو مرکزي بانک د جوړولو وړاندیز وکړ چې یوازې پیسې به عرضه کوي[۲]. اصلاح غوښتونکي یا هغو کسان چې غوښتل یې اوسنی سیستم د پرمختګ مانع وښيي او یو مرکزي بانک جوړ، په ۱۹۰۰م کال کې وتوانیدل ترڅو د سرو زرو د معیار قانون چې تولې پیسې پکې سره زر او یا هم د سرو زرو پشتوانه وه، تصویب کړ. خو دا کار د پیسو د اوسني سیستم په لمنځه وړلو پیل شو او دا قانون یې د ملي بانکوالۍ د سیتم د اصلاح لپاره پرانیسته، په دې اړه فرنک ویلیم امریکایي اقتصاد پوه لیکي: دا واضح او ښکاره ده چې بالاخره کانګرس یو وار بیا د ملي بانکوالۍ د سیتم په بدلون مجبوریږي[۳]. د جیمز لیونګستن په نوم امریکایي مؤرخ لیکي: دا ماده د یو مرکزي بانک د رامنځته کیدو لپاره د لومړني قدم په توګه جوړه شوې وه[٤]. بالاخره، په ۱۹۱۳م کال کې بانکوال د امریکا د فدرالي ذخیروي بانک (Federal Reserve Bank) په نوم د یو شخصي مرکزي نوي بانک په جوړیدو بریالی شول چې د نوم پرخلاف یې نه د فدرال حکومت پورې تړلې یو بانک وو او نه د پیسو له عرض کولو سره د سره زرو د ذخیرې لپاره یې لازمه اندازه لرله.که څه هم بانکوالو د نوي سیستم نوم د سرو زرو په پشتوانی سره د پیسو یا سرو زرو د معیار سیستم نوموه، د نوی پیسو ماهیت دا ډول خواص نلرل، بلکې په حقیقت کې د سرو زرو د معیار د اغوا کوونکي په نوم یې کاغذي تورمي پیسې رامنځته کړی. کله چې په نړۍ باندې د دجال د لومړۍ ورځې

[۱] Murray N. Rothbard; The Origins of the Federal Reserve; p 23

[۲] The Final Report of Indianapolis Monetary Commission; Journal of Political Economy 6 (June, 1898); pp 293-293-322

[۳] Frank W. Taussig; The Currency Act of 1900, Quarterly Uournal of Economics 14 (may, 1900); p 414

[٤] james Livengston; Origins of Federal Resurve System: Money, Class, and Corporate Capitalism, 1890-1913; pp 150-154

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملياتي مرکز واک لره او پکس برتانيکا (Pax-Britannica) ورته ويل کيده، د سرو زرو د معيار اغواکوونکي تر نامه لاندې يې، د سرو زرو د يوې سترز اندازې په راټولو سره چې له افريقا، هندوستان او نورو مستعمرو څخه يې راغلا کړې وې، داسې يو سيستم جوړ کړ چې د نړۍ يوازيني پيسې چې له سرو زرو سره بدليدې، استرلنگ پونډ وو او په حقيقت کې استرلنگ پونډ په نړيوال بازار کې د سرو زرو په توگه پيژندل کيدی او نورو هيوادونو د سرو زرو د ذخيرې پرځای استرلنگ پونډ ذخيره کاوه چې دې کار د استرلنگ پونډ ارزښت نور هم لوړوه او دا چې استرلنگ پوند ته نړيواله اړتيا پيدا کيده، نو له ډير چاپ سره سره يې بيا هم خپل ارزښ له لاسه ورنکړ او برتانيې د نړۍ د با ارزښتنه سرچينې د هغو پيسو په وړاندې چې هيڅ ذاتي ارزښت يې نه لره، لاسته راوړې.

د پيړيو لپاره برتانيې په دې فاسد نړيوال سيستم لاس پورې کړی وو او اوس دا مرداده دنده د دجال د دويمې ورځې عملياتي مرکز او امريکا ته انتقال شوه. په لومړي گام کې، امريکا د خپلو خلکو د پانگولو د کنترول او د امريکايانو د غلامۍ د زمينې د برابرولو لپاره داسې کار وکړ چې د بشريت د تاريخ تر ټولو ستره غلا يې گڼلی شو. د امريکا دولت د سرو زرو د سکو لرل د دې هيواد اوسيدونکو ته منع اعلان کړل. په هغې وخت کې د سرو زرو هر اونس د ۲۰ ډالرو ارزښت لره او خلکو د سرو زرو هر اونس د شلو ډالرو په وړاندې بانک ته وسپارل. وروسته د ۱۹۳۴م کال په جنورۍ کې د امريکا حکومت د ډالرو ارزښت د سرو زرو په وړاندې ۴۱ سلنه راکم کړ او بيا يې د سرو زرو د لرلو قانون باطل کړ. د امريکا خلک بيرته بانکونو ته ورغلل (د ډالرو په وړاندې د بې اعتبارۍ له امله) او بيرته يې هر اونس سره زر بيرته د ۳۵ ډالرو په وړاندې وپيرودل او په دې کار سره خپله ۴۱ سلنه پانگه له لاسه ورکړه[1].

د نړيوالو بانکوالو او يا انترناسيونااليسستانو وروستی هدف چې د يو نړيوال حکومت د رامنځته کولو په هڅه کې وو، يوازې امريکا نه وه، بلکې په ټوله نړۍ يې اقتصادي، سياسي او فرهنگي راج غوښته.

[1] Imran N. Hosein; The Gold Dinar and Silver Dirham: Islam and the Future of Money; p 35

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې امله يې د امریکا په علمي، څېړنيزو ټولنو، رسنيو، سياسي ګوند او مدني ټولنو کې د پيسو په مصروفولو سره د ازاد بازار اقتصادي نظام او ليبراليستي نظريو په علمي ښودلو لاس پورې کړ او د خپلو پلانونو د تطبيق لپاره يې نړيوالې ټولنې رامنځته کړې. تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته چې نړۍ له پکس برتانيکا څخه پکس امريکانا (Pas-Americana) په لور په حرکت کې وه، د ملګرو ملتونو په څير د نړيوالو سياسي سازمانونو د جوړولو ترڅنګ يې د برټن ووډز په کنفرانس کې د اقتصادي نړيواله ټولنه هم په امريکا کې جوړه کړه.

**بريټن ووډز (Bretton Woods)**

کله چې د نړۍ هيوادونه په دويمه نړيواله جګړه اخته وو، د امريکا د متحدو ايالتو په نوي همشاير ايالت برټن ووډز کې د امريکا او برتانيې په مشر ۴۴ هيوادونو د ۱۹۴۴م کال د جولای په مياشت کې تر جګړې وروسته د اقتصادي طرحو په اړه خبرې اترې وکړې. د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال، ډيرو هيوادونو د جګړې د مصارفو لپاره زياتې پيسې چاپ کړې وې او له دې امله يې له سرو زرو سره د هغې د تبادلې ورتيا له منځه يوړه چې د پيسو د تورم سبب شو او د بريټن ووډز د کنفرانس د ګډونوالو لپاره ښه چانس ګڼل کيده څو د نظر وړ هوکړه ليک لاسليک کړي. د بريټن ووډز کنفرانس په دريو کميسيونو ويشل شوی وو چې لومړی هغه يې د پيسو نړيوال صندوق، دويم کمسيون يې د بيا رغونې او پراختيا بانک چې وروسته په نړيوال بانک واوښت او دريم کميسيون يې داسې ټولنه رامنځته کړه چې د نړيوالو اقتصادي همکاريو بله وسيله تر بحث لاندې ونيسي.

پداسې حال کې چې ډيری هيوادونو فکر کاوه چې دد کنفرانس د هوکړه ليک په مادو کې تصميم نيوونکي دي، د امريکا او برتانيې ترمنځ په ۱۹۴۲م کال کې په غير رسمي توګه په دې اړه خبرې اترې پيل شوې وې. امريکايانو له برتانويانو او نورو هيوادونو له استازو سره د ۱۹۴۳م کال تر اوړي پورې خبرې اترو ته ادامه ورکړه. د امريکا او برتانيې د استازو ترمنځ د ۱۹۴۳م کال د جون په ۲۲ او ۲۳ نيټه د ليدنو پرمهال د يو نړيوال کنفرانس کې د پيسو د نړيوال صندوق په اړه د يوې ګډې بيانې پلان جوړ شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکا او برتانيې استازو د سپتمبر له ۱۵ څخه د اکتوبر تر نهمې نيټې پورې نهه ځله ناسته وکړه. د پيسو د نړيوالو صندوق د رامنځته کيدو په اړه د کارپوهانو د کډې بيانيې هوکړه ليک د ۱۹۴۴م کال په اپريل کې لاسليک شو، پداسې حال کې چې په دې هوکړه ليک کې د پيسو د نړيوال صندوق او د بيا رغونې د بانک او نړيوال انکشاف په اړه ټول موضوعات نه وو ياد شوي، يوه لاره يې د برټن ووډز لپاره چې د امريکا او برتانيې استازو په کې موافقه کړيوه برابره کړه او امريکا او برتانيې هغه په نورو هيوادونو ومنله[1].

د بريټن ووډز د کنفرانس پايله له دريو نړيوالو اقتصادي ټولنو له جوړيدو څخه عبارت وو چې پکې د پيسو نړيوال صندوق (IMF)، د پرمختګ او بيا رغونې نړيوال بانک (IBRD) يا اوسنی نړيوال بانک (WB) او د سوداګرۍ نړيوال سازمان (ITO) چې وروسته په سوداګرۍ او تعرفو باندې د عمومي هوکړې (GATT) په نامه بدل شو او اوس د سوداګرۍ د نړيوال سازمان (WTO) په نامه پيژندل کيږي، شامل دي.

له دې پرته دې کنفرانس داسې موافقت نامه لاسليک کړه چې د هغې قوانين د غرب او په ځانګړې توګه د امريکا د ګټو تضميمن کوونکی او اوسمهال د امريکا د بهرنې سياست يوه ستره وسله ګڼل کيږي. د يادو ټولنو د اداره کولو سيستم دموکراتيک نه وو او هر غړي هيواد پکې د مساوي پريکړې د لرلو حق نلري، بلکې امريکا پکې د ځو غړو د رای ورکولو حق لري او اداره يې له واشنګټن څخه کيږي. د برټن ووډز هوکړه ليک پداسې شرايطو کې لاسليک شو چې په جګړه کې ډيرى ښکيلو هيوادونو ورته کافي وخت نه لره او حتی د دې کنفرانس غړو هيوادونو ډيرو استازو حتی د کنفرانس رسمي ژبه (انګليسي) هم زده نه وه او د دې هوکړې ليک سخت متنونه يې په سمه توګه نشو تحليل کولی، چې په دې اړه ون دارمل ليکلي: په برټن ووډز کې د ۴۴ هيوادونو استازو داسې موافقت نامه لاسليک کړه چې د هغې لوستلو ته يې وخت نلره[2].

---

[1] Mikesell R; The Bretton Woods Debates: a Memoir, Essay on International Finance; p 192

[2] Van A. Dormael; Bretton Woods: Birth of Monetary System; p 226

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برتن ووډز کنفرانس چې د امريکا د ماليې وزير او همدارنگه د هغې درې کميسيونونه د امريکايانو او برتانويانو په واسطه اداره کيدل د نويو تشکيل شويو سازمانونو په چوکاټ کې يې د نړيوالې ذخيروي پيسو په توگه امريکايي ډالر داسې تصويب کړل چې د سرو زرو يو انس له ۳۵ ډالرو سره معال وو او نورې ملي پيسې د تبادلې د يو ثابت نرخ سره د ډالر او يا هم د هغې د سرو زرو په وړاندې د بدليدو وړ وي. په سرو باندز د ډالرو د بدلونې حق يوازې په حکومتونو او دولتونو پورې تړلی وو او خلکو نشو کولي خپلې پيسې په سرو زرو سره بدلې کړي. هيڅ هيواد حق نلره چې خپلې پيسې د پيسو د نړيوال صندوق له اجازې په ۱,۵ سلنو او د دې سازمان د غړو له اجازې پرته له ۸ سلنو ډيره کم ارزښته کړي. په دې سره، امريکايي ډالرو د هغې لوړې غوښتنې له مخې چې په نړيوال بازار کې يې پيدا کړی وو او ټولو غړو هيوادونو هغه د هيواد د پانگې په توگه ذخيره کولې، د نړۍ تر ټولو ستره با ارزښته پيسه شوه او امريکا هم د نيوالو غوښتنې ليده او له موقع يې گټه پورته کوله، ډير اندازه ډالر يې چاپول، پداسې حال کې چې د سرو زرو لړه فيصدي د چاپ شويو ډالرو له اندازې سره يې سمه ذخيره نه لرله.

په دې کار سره امريکا د برتانيې ځای ونيو او د نړۍ د ستر او پياوړي اقتصاد په توگه په نړۍ کې راڅرگند شو. خو د امريکا او برتاينې موخه د بريتن ووډزر هوکړه ليک ته پابندي نه وه، بلکې له دې موافقت نامې څخه يې د نورو هيوادونو د غلام کولو او بيلوالي په توگه کار اخيسته.

د تبادلې ثابت نرخ داسې تصويب شوی وو چې استرلنگ پونډ د نړۍ تر ټولو لوړه پيسې په توگه تقريباً د ډالر څلور چنده ارزښت لره چې دا کار په نړيوال بازار کې د برتانيې د توليداتو د لوړيدو باعث شو او له همدې امله د برتانيې د توليداتو لپاره غوښتنه راکمه شوه او د برتانيې دولت د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۹م کال کې خپله پيسه د برټن ووډز د هوکړه ليک پرخلاف چې خپله لاسليک کړيوه د د پيسو د نړيوال صندوق او د دې سازمان د غړو له اجازې پرته ۳۰,۵ سلنه راښکته کړه او په کرار کرار ډول يې د خپلو پيسو د ارزښت په راکمولو پيل وکړ چې د ډالرو په وړاندې د نړيوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې اعتبارۍ سبب شو. په ۱۹۷۰م کلونو کې فرانسې کله چې د ډالرو د ارزښت نوساني کيدل ليده، خپلې ډالري ذخيرې يې د امريکا په لور واستولې او په وړاندې يې د سرو زرو غوښتونکې شوه او دا چې امريکا عرضه شويو ډالرو په اندېا ذخيره شوي سره زر په بدل کې نه لرل، په ډېره بې شرماه توګه يې د خپل مسووليت څخه چې په لاسليک شوي هوکړه ليک کې کړيوه او مشري يې هم په غاړه وه، سرغړونه وکړه او ريچارډ نکسن د فرانسې دولت ته د يوې بيانيې په ترځ کې وويل: رقيبانو په ورسوتيو اوونيو کې د امريکايي ډالر په وړاندې عيار جنګ په لاره واچوه...

نو له دې امله ما هم د ماليې وزير ته امر وکړ چې د ډالرو څخه د دفاع لپاره د رقيبانو په وړاندې لازمې کړنې ترسره کړي. ما وزير کونلي (Konly) ته امر وکړ څو په موقتي توګه له ډالرو سره د سرو زرو او نورو ذخيره شويو پانګونو بدلونه ودروي. يوازې پرته له دې چې د امريکا د متحدو ايالاتو او پيسو د ثبات په ګټه وي[1]. ريچاډ نکسن د بريتن ووډز سيستم په پوره توګه له منځه يوړه د اسعارو د بدولنې د ثابت نرخ د له منځه تلو سبب شو او د نړۍ پيسې له کوم ذاتي ارزښت او پشتوانۍ پرته د چاپ شويو شميرو سره د يو کاغذ په شکل تر اوسه د تاويدو په حال کې دي. يوازې هغه څه يې چې تر اوس پورې د بريتن ووډز له کنفنرانس څخه پاتې دي د امريکا تر مشرۍ لاندې د يو ناليدونکي ظلم په توګه نړيوالې ټولنې دي. ريچارډ نيکسن د ډالر د بحراني حالت لپآره د حلارې په فکر کې شو او د ډالر د نړيوال ارزښت د ساتنې لپاره يې د پطرو ډالر (Petrodollar) عالي نظريه وړاندې کړه. د ډالرو په حکمي (له پشتوانۍ پرته) کيدو سره، نورو هيوادونو د ډالرو ذخيره کيدو ته دلچسپي نلرله او که ټولو هيوادونو له بانکي ذخيرو څخه خپل ډالرو ويستل او په امريکا کې ښکته پورته کيدل نو په باور سره به د پيسو تورم د ډالرو د سقوط لامل ګرځيدلی وي، امريکايي ډالر له منځه تلل او د امريکا امپراتوري تر ځوانيدو وړاندې د مرګ مزه څکله. خو ريچارډ نکسن د ډالرو د نړيوالې غوښتنې د ساتنې لپاره سعودي عربستان ته سفر وکړ او د دې هيواد شاهي کورنۍ يې په دې قانع کړه څو د وخت تر ټولو د ستر اقتصادي توليد (نفت) خرڅلاو يوازې د ډالرو

---

[1] Kamran Dakhah; The Evolution of Macroeconomic Theory and Policy; p 118

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندې ترسره کړي او د دې کار په بدل کې ورته امریکا د آل سعود کورنۍ ته د بهرنیو او داخلي ګواښونو په وړاندې شاهي کورنۍ ته د ساتنې وعده ورکړه.
تر سعودي عربستان وروسته، د اوپک (OPEC) غړو هیوادونو او بیا وروسته د نفتو ټولو صادروونکو هیوادونو خپل نفت د ډالرو په وړاندې خرڅول، یعني که کوم هیواد غوښتل نفت واخلي، نو لومړی یې باید ډالر پیرلی وای او د اخیستل شویو ډالرو څخه وروسته یې نفت اخیستلی شوای. په همدې توګه ډالر یو وار بیا د نړیوالې پیسې په توګه اوس د پطروډالر په نامه پیژندل کیږي، یو وار بیا یې په نړۍ کې د امریکا واکمني تضمین کړه او د عثماني خلافت له منځه وړلو وروسته د آل سعود کورنۍ دویم ستر خیانت له اسلامي نړۍ او بشریت سره ترسره کړ. د ډالرو په حکمي کیدو سره، د امریکا د ذخیروي بانک او د ټولو شخصي مرکزي بانکونو برخوال چې په یو ډول له یارلسو کورنیو سره تړاو لري او د راتشچایلډ په کار ځای کې نړیوال ستر پلان جوړ کړی وو، پرته له دې چې د کوم شخصي، حکومتي او نړیوال سازمان لخوا وڅارل شوې، د کاغذي پیسو په چاپ لاس پورې کړ او له هیڅ څخه یې نه باوریدونکې پانګه تولید کړه او د نړۍ ټول حکومتونه یې پوروړي کړل چې نړیوال ناخالص مقروضیت په ۲۰۱۵م کال کې ۱۵۲ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده[1]. د ټولو هیوادونو (ځمکې) د مقروضیت مجموعه ۱۵۲ تریلیونه ډالرو ته رسیده، خو پوښتنه داده چې ځمکه له چا څخه پوروړې ده؟

په باوري توګه چې ځمکې له مریخ او یا هم له کومې بلې سیارې څخه پور نه دی اخیستی، بلکې هیوادونو له شخصي بانکونو څخه د دولتي کړنو د مالي وجوهو د ترسره کولو لپاره پور اخیستی دی او نړیوال بانکوال چې تر اوسه هم د خپل هویت له ښکاره کولو څخه ډډه کوي، د حکومتونو لرونکې دي او ولسمشران یې د نانځکو په څیر ساز ته ګډیږي. امریکایي سناتور د امریکا د فدرالي ذخیروي بانک په اړه وایي: ډیری امریکایان د پیسو د نړیوال پور ورکونکو څخه واقعي پوهه نلري... د ذخیروي فدرالي

---

[1] International Monetary Fund (IMF); World Economic and Financial Surveys: Fiscal Monitor; Debt: Use it Wisely; Oct 2016; p1

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستم حساب هیڅکله څارل شوی نه دی، دا سیستم د کانګرس له کنترول څخه بهر عمل کوي[۱] سره له دې چې امریکا د برتن ووډزر سییستم مات کړ، د دې هوکړه لیک پواسطه د رامنځته شویو ټولنو د فقر رامنځته کولو او یکه تازی (Hegemony) کولو نړیوال کولو لپاره کار اخلي.

اقتصادي مستعمره کول او غیر سیاسي مستعمره کول د برتن ووډز تر کنفرانس وروسته پداسې حال کې چې غربیانو له مستعمره هیوادونو څخه په ظاهري بڼه نظامي او سیاسي توګه پریښود، خو د بیلابیلو اقتصادي سازمانونو لکه د پیسو د نړیوال صندوق ، نړیوال بانک او نړیوال سوداګرۍ سازمان په رامنځته کولو سره ددې هیوادونو په اقتصادي استعمار یې لاس پورې کړ.

نړۍ اوس د غرب تر کنترول اانديې سازمانونو په واسطه اداره کیږي چې عبارت دي له د امریکا د متحدو ایالتو په مشرۍ د G7[۲] او G8[۳] په واسطه د پیسو د نړیوال صندوق، نړیوال بانک، د نړیوال سوداګرۍ سازمان او د اقتصادي پراختیا او همکارۍ سازمان (OECD) په واسطه اداره کیږي[٤]. د امریکا په مشرۍ د پیسو د نړیوال صندوق، نړیوال بانک او نړیوال سوداګریز سازمان په څیر سازمانونه د نړۍ د غلامۍ یو خطرناک مثلث جوړ کړیدی. د نړۍ غلامي د دې خطرناک مثلث په مرسته هغه مهال شونې ده چې فقر ټوله نړۍ ونیسي او هیوادونو له دې سازمانونو څخه سوال او خیر غوښتلو ته مجبور شي او له فقر څخه د خلاصي لپاره له سود سره تړلي پورونه او داسې پالیسۍ ومني چې د اقتصادي غلامۍ ترڅنګ نور فقر هم وزیږوي. د دې لپاره چې نړیوال د نړیوال حکومت یا نوي نړیوال نظم ته ګونډه ووهي، باید لومړی د غلامۍ سیستم داسې ته لاړ شي چې د نړیوال حکومت لپاره کار کوي او بالاخره یې مسیح الدجال د مشر په توګه وي. اقتصادي غلامي ددې سیستم تر ټولو مهم برخه ده چې د هغې تګلارې داسې

---

[۱] Patrick S. J. Carmack; The money Changers; p 4

[۲] G7 یا د اوو پیاوړو هیوادونو ډله چې پکې امریکا، کاناډا، فرانسه، جرمني، ایټالیا، جاپان او انګلستان شامل دي.

[۳] G8 یا د اروپایي اتحادیې په شمول اووه ګونې ډله

[٤] Richard Peet; Unholy Trinity: The IMF, World Bank and WTO; p 62

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړې شوې دي څو د امريکا په مشرۍ اقتصادي سازمانونه، لومړی فقير هيوادونه هدف وټاکي او بيا فقر په ټوله نړۍ کې نړيوال کړي.

د سترو غربي هيوادونو له سياست پوهانو چې له پيړيو راهيسې ترې بانکونو د دې نړيوالې طرحې لپاره د نانځکو په توګه کار اخيستی د ټولې نړۍ د نانځکې کيدو لپاره ترې کار اخلي. د دې لپاره چې يو هيواد او خلک يې د غلامۍ سيستم ومنيږ بايد دومره مجبور شي چې د غلامۍ له منلو پرته بل بديل ونلري او هغه يوازينې لاره چې هيوادونه يې د غلامۍ منلو ته مجبور کړيدي، د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د سازمانونو په واسطه د دې هيوادونو پوروړي کول دي. د اسعارو د نرخ د ثابتې تبادلې د سيستم تر له منځه تلو وروسته د هيوادونو ملي پيسې په پوره توګه په تورمي پيسو بدلې شوی چې تل يې ارزښت د نوسان په حال کې وي او په دې سره يې د پيسو د نړيوال صندوق لپاره چې د پيسو د نړيوالو قوانينو او اړيکو د تنيمولو يوازيني سازمان دی، د ټولو هيوادونو د پيسو د ارزښت د مهار کولو چانس برابر کړيدی. د دې لپاره چې هيوادونه له نړيوال بانک او د پيسو د نړيوال صندوق څخه د پور اخيستلو لپاره مجبور شي د دې هيوادونو پيسې د همدې سازمان لخوا کم ارزښته کيږي او دولتونه د بوديجې د برابرولو لپاره له دې سازمان څخه پور اخيستو ته مجبوريږي او که کوم هيواد مقاومت وښيي، د هغه هيواد مشرانو ته د رشوت ورکولو هڅه کوي او کله چې يې مشران فاسد نه وي يا دا چې د امريکا د جاسوسۍ د سازمان لخوا وژل کيږي او يا د امريکا په مشرۍ د ناټو په نظامي لاسوهنې په واسطه د مقاومو هيوادونو نظام له منځه ځي[1].اوسنی اقتصادي سيستم خلکو ته د علمي ټولنو او د غربي رسنيو لخوا داسې بغرنج ښودل کيږي چې عام خلک پرې نه شي پوهيدلی او اقتصادي کار پوهان د هغو علمي کتابونو په واسطه چې د غربي ټولنو لخوا يې د سانسور مرحله تيره کړيوي وي، اکتفا کوي. نو له دې امله د برټن ووډز سازمانونو ته پراختيا ورکوي او د خپل هيواد د پراختيا لپاه د دې سازمانو غړيتوپ يو حتمي کار ګڼي، پداسې حال کې د دې هيوادونو پورونه له دوو خطرناکو پديدو سود او د ساختماري تعديل په څير مشروطيتونو

[1] لا زيات معلومات د يو اقتصادي جنايتکار د اعترافونو په کتاب کې چې د جان پرکينز ليکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ملې وي. دا ټولنې په دې پوهیږي چې هیوادونه یې له ورکړل شویو قرضونو او ورسره د اړوند سود له زوره نشي وتلی، د ملي قرضونو د پراخولو لپاره یې داسې قرض ورکوي چې اکثر د قرض اخیستونکو هیوادونو په داخل کې نه وي او پوروړي هیوادونه د اخیستل شوي قرض له باره نه شي وتلی، سربیره پرې هر کال کلنې ګټې فیصدي هم ورزیاتیږي او د دې سترو قرضونو کې ډوبیږي. هغه هیوادونو چې ښه اقتاصدي پالیسۍ او سرچینې لري او کولی شي اخیستل شوی پور بیرته ورکړي، د دې سازمانونو لخوا د اقتصادي یرغلونو لاندې د پویس د ارزښت په مهار کولو لاندې راولي. ځکه دا سازمانونه دا سازمانونه هیڅ هیواد له پور څخه ازاد نه غواړي. د ملي پیسو بې ثباته کول د نړیوال بانک او د پیسو د نړیوال صندوق د پټو اجنډاوو یوه کلیدي موخه ده.

د پیسو د کم ارزښته کول په ناڅاپي او سمدستي توګه د بیو د لوړوالي لامل ګرځي او په ورته وخت کې د کاري قوې د ارزښت او واقعي عاید د راښکته کیدو لامل ګرځي[۱].

همدارنګه دا بحران د پورونو د بیرته اداکولو د سختوالي لامل ګرځي او یاد هیواد همداسې پوروړې پاتې کیږي. کله چې هیوادونه د پور په ورکړې ناتوانه شي، دا سازمانونه د یو ملاتړي په توګه د بربادۍ له یوې نوی نسخې سره راڅرګندیږي او د پخوانیو قرضونو د ادا کولو لپاره، نوي قرضونه د اصلاحاتو په څیر له نویو شرایطو سره ورته وړاندې کوي. د نوي قرض له جملې څخه ډیر برخه په پخوانیو حسابونو کې پاتې کیږي او ډیره لږه برخه یې هیوادونو ته د اقتصادي پالیسو د اصلاح لپاره ښکته پورته کیږي. د پیسو د نړیوال صندوق تر واک لاندې د بودیجې د سختوالي پالیسي(budgetary austerity) ، کم ارزښته کول، د سوداګرۍ ازادۍ او شخصي کول په ۱۵۰ پوروړو هیوادونو کې عملی کیږي. پوروړي ملتونه د مرکزي بانک او اقتصاد وزارت د حاکمیت حق ته په غاړې ایښودنې مجبوریږي

چې د یو کلن اقتصادي او پیسو پالیسۍ کنترول په غاړه لري، دولتي ټولنې له منځه ځي او د اقتصادي سرپرستي یو سیستم (د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د ټولنو په واسطه رامنځته کیږي. یو موازي دولت چې واک یې له مدني ټولنې څخه زیات وي، د

---

۱ Michel Chossudovsky; The Globalization of Poverty and the New World order; p 48

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال اقتصادي سازمانونو لخوا جوړیږي. هغه هیوادونه چې د پیسو د نړیوال صندوق د کړنو او موخو سره سم عمل نه کوي، تور لیست ته لویږي[۱].

کله چې هیوادونه د خپل قرض د بیرته ورکولو توان ونلري، د واشنګټن تر مشرۍ لاندې اقتصادي ټولنې د حکومت د مصارفو د راکمولو او د عایداتو د زیاتوالي لپاره د اقتصادي سختوالي پالیسي (Austerity) وړاندې کوي. اقتصادي سختوالی هغه پالیسۍ ته ویل کیږي چې موخه د حکومت د اقتصاد ښه وي. په دې پالیسۍ کې په عمده توګه د عامه سکتور د دندو کموالی، د عامه خدماتو کارمندانو ته د امتیازونو او اضافه کاریو کموالی، د دولتي ټولنو شخصي کول او د دولتي خدماتو کموالی پکې شامل دي. د دې ډول پالیسو بنسټیز هدف د حکومتي مصارفو راکمول او د قرضونو ورکول دي[۲].

دا چې په ښکاره توګه هیوادونه خپل پور ادا کړي، پرته له دې چې خپل کارمندان منفک کړي او د پاتې شویو کارمندانو امتیازونه راکم کړي په خلکو او په ځانګړې توګه په ټیټو منځنیو طبقو خلکو باندې درنې مالیې وضع کوي ځکه نړیوال شرکتونو د بهرنۍ پانګې اچونې په لیوالتیا سره له دې مالیو څخه معاف کیږي. د حکومتونو په واسطه د کارکوونکو راکمول د بیکارۍ د کچې د زیاتوالي لامل ګرځي او همدارنګه د امتیازونو راکمول او مالیو لوړول د فقر لامل ګرځي چې دا هم د واشنګټن یو عمده موخه ده، ځکه چې د غریبو خلکو کنترول او تر واک لاندې کول اسانه کیږي. یوه ژوندۍ بیلګه یې په اوسني یونان کې لیدلی شو. الکسس سپراس (Alexis Tsipras) د چپ پالو یا سریزا (Syriza) له ګوند څخه د یونان صدارت ته کاندید د یونان په ټاکنیزو سیالیو کې یې د سخت پالنې پرضد شعارونه ورکړل او د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د سخت پالو پالیسو سازمانونو او اروپايي اقتصادي ټولنو څخه د یونان سترو شوو خلکو ده ته په دې هیله رایه ورکړه چې دا اقتصادي سخت پالنه به له منځه یوسي. کله چې د یونان صدراعظم شو او ویې غوښتل چې د یونان د سخت پالنې

[۱] همدا سرچینه؛ ۱۹ مخ

[۲] European Union Center of North Carolina; EU Briefings, Policy Area: The Politics of Austerity; p 1

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسۍ په منځه یوسي. د ظالم اقتصادي ټولنو له خوا یې دوه انتخابه ولیدل: یا به ددې سازمانونو پالیسیانې مني او به هم د اروپا له اتحادیې څخه وځي. اکسس سپراس د دوو ټاکنو انتخابول د عمومي رایو لپاره خلکو ته پریښودل او په ۲۰۱۵ م کال کې یې د ټولپوښتنې لپاره عمومي رایې په لاره واچولې؛ خو د عموي رایو پرخلاف د غرب د ټولنې تر فشار لاندې یې یو وار بیا غربیانو ثابته کړه چې اکثریت رایې او دموکراسي هغه مهال معتبره ګڼل کیږي چې پکې یې خپلې ګټې په خطر کې واقع نه وي. دا پالیسۍ د افغانستان په هیواد کې هم د ترسره کیدو په حال کې ده او د افغانستان خلک هم ورځ تر بلې په اقتصادي سختۍ کې راګیر دي او د موازي ټولنو د یو ځای کیدو په نامه د حکومتي کارکوونکو په منفک کولو لاس پورې کړی او د حکومت د عوایدو په لوړولو سره درنې مالیې په کسبه کارانو، عادي خلکو او کارکوونکو باندې وضع کیږي. د مخابراتي شرکتونو په څیر څو ملتیتي شرکتونه چې عاید له اسمان سره لګیږي، ددې پرځای چې د خپلو مصرفي کارتونو له عایداتو څخه مالیه ورکړي، د افغانستان خلک چې هر فامیل پنځلس زره افغانۍ عاید لري[1] د دې مالیو په ورکولو سره له تورمي پیسو څخه مجبور دي چې ارزښت یې په تدریجي توګه د کمیدو په حال کې ده.

د پیسو کم ارزښته کول د پانګو د غلا کولو او د فقر کولو یو نړیواله وسیله ده. له پشتوانۍ او ذاتي ارزښت پرته کاغذي پیسې د مهار کیدو قابلیت لري او د دې پیسو مهار کیدنه د پیسو د سترو ټولنو په واسطه اسانه ده. د پیسو کم ارزښته کیدل د دولت د لاسوهنې په واسطه د واشنګټن د مشرۍ لاندې د ټولو په فشارونو سره او د راپیدا شویو بهرنیو عواملو پواسطه د دې ټولنو په واسطه صورت نیسي. د پیسو کم ارزښته کول یو ډارماتیک ترینه او حتی جنجال جوړونکی اقدام دی چې یو حکومت یې په لاره اچوي. د معاداتو له مخې د پیسو په ارزښت کې بدلون د امریکایي ډالرو په وړاندې اندازه کیږي، نو له دې امله کم ارزښته کول د یوې بهرنۍ پیسې د قیمت راټیټول دی

---

[1] The Asia Foundation; A Survey of Afghan People: Afghanistan in 2015; p 76

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډالر په وړاندې[۱]. د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د ټولنې په حکومت کې د اداکولو د تعادل راوستو او اقتصادي اصلاحاتو په بهانو سره، هیوادونه د پیسو کم ارزښته کولو ته مجبوروي او اکثره دولتونه د پیسو په کم ارزښته کولو کې احتیاط کوي او همدارنګه د غرب رقیب هیوادونه د خپلو پیسو د کم ارزښته کولو څخه ډډه کوي، نو له دې امله دغه سازمانونه له بیلابیلو غیر قانوني لارو د دې هیوادونو د پیسو په بې ارزښته کولو لاس پورې کوي؛ مثلاً: اقتصادي تحریم پرې وضع کوي، د یادو هیوادونو د اقتصادي ثبات په اړه دروغجن راپورونه خپروي او حتی د غربي همغږو ټولنو لکه CIA، پنټاګون او ناټو په واسطه د سیاسي بحرانونه رامنځ ته کوي.

نړیوال اقتصادي نظام داسې چې ټول اقتصادي اړیکې له یو بل سره تړلی دي، یعنې کله چې له یوه اړخه زیان ویني، بله اړخ ګټه کوي. د یو هیواد د پیسو په کم ارزښته کیدو سره، د هغه هیواد خلک د ارزښت د راکمیدو په تناسب، خپله پانګه له لاسه ورکوي او یوازې هغه هیوادونو له دې زیان څخه ګټه پورته کوي چې پیسې یې د نړۍ د ذخیروي پیسو په توګه پیژندل کیږي او نورې پیسې د دوی د پیسو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

کاغذي جعلي او پوچې پیسې تل د ارزښتي سقوط په حال کې وي او د هرې کاغذي پیسې له پیدا څخه وروسته تر اوسه پورې د امریکایي ډالر په وړاندې د کم ارزښته کیدو په حال کې دي او امریکایي ډالر د خدماتو او تولیداتو په وړاندې د کم ارزښته کیدو په حال کې دی چې د سترو اقتصادي لوبغاړو لپاره یې د اصیلو نړیوالو د پآنګو د غلا کولو لپاره موقع برابره کړیده. یوه بیلګه یې ترکیه ده چې د ۱۹۹۴م کال په لومړۍ ربعه کې یې ترکیې لیرې د امریکایي ډالر په وړاندې خپل ۵۰ سلنه ارزښت له لاسه ورکړ[۲]. په ۱۹۹۴م کال کې د ترکیې د خلکو پانګې پداسې حال کې ورکې شوې چې ظاهراً هیڅ غل د ترکیې د خلکو د کورونو مخې ته ونه لیدل شو، پداسې حال کې چې

---

۱ Richard N. Cooper; Currency Devaluation in Developing Countries; p 3

۲ Oya Celasun. Macroeconomics and Growth Group; Development Research Department; The World Bank; The 1994 Currency Crisis in Turkey; p 2

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي کاغذي پیسې د ډالر په وړاندې د کم ارزښته کیدو په حال کې وې. د مالونو بیې ډالر محوره دیو یعني که چیرته په ۱۹۹۳م کال کې یو ترکې په ۱۰۰ ترکي لیرو باندې یو تلویزیون اخیستی شو، په ۱۹۹۴م کال کې یې په ۲۰۰ ترکیې لیرو اخیسته.د نورو هیوادونو د پیسو کم ارزښته کیدل او د غربیانو د پیسو با ارزښته کېدل د واشنګټن تر رهبرۍ لاندې د سازمانونو د چلونو په واسطه د کار د قوې اقتصاد ارزانه کیږي د نورو هیوادونو خلک (د دریمې نړۍ) په لږو پیسو په وړاندې خپله کاري انرژي د کمو غربي پیسو په وړاندې مصرفوي

په دې حالت کې غربي څو ملیتي شرکتونه له دې ارزانه کاري قوې څخه ګټه اخلي او خپل تولیدات د غربي مارک په وهلو سره څو چنده له واقعي ارزښت څخه په لوړه بیه پلوري. همدارنګه د ډله ییزو رسنیو او نورو غربي سازمانونو اغیز دومره خپور شوی دی چې دا کارکوونکي په غربي مارک سره تولیدات ډیر خوښوي او د باکیفیته محلي تولیداتو له اخیستو څخه په ارزانه بیه ډډه کوي. د ډالرو د با ارزښته ساتلو لپآره دا اړینه ده چې امریکایي په ټوله نړۍ کې د ګرځیدو په حال کې وي او برعلاوه، نړیوالی سوداګریز بیې هم ډالر محوره وي، نو له دې امله د سوداګرۍ د ازادۍ په نامه، د نړۍ د ډالر کیدو پالیسي عملي کیږي.

غربیانو وروسته تر دې چې په ختیځو مستعمري ملکونو کې سختې ماتې وخوړې، نور یې نه غوښتل چې فزیکي استعمار ته ادامه ورکړي، نو له دې امله یې د فکري او فرهنګي له استعمار پرته په مالي او اقتصادي استعمار هم پیل وکړ چې درې ستر اقتصادي نړیوال سازمانونه چې اوس د اقتصادي مردار مثلث جوړوو په بریټن ووډز کنفرانس کې په لاره واچوه.

دا درې سازمانونه له یو بل سره په همغږیتوب داسې کار کوي چې دې یووالي ته د نړیوال مالي او اقتصادي وزارت نوم ورکړ؛ خو دا وزارت پداسې حال کې چې نړیوالې سوداګریزې اړیکې کنترولوي، یوازې او یوازې د یهودي – مسیحي (صهیونیستي هیوادونو) اتحاد ګټې تامینوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق د پور څخه د پیسو د اندازې د کموالي او نورو استعماري پالیسو په بدل کې، هیوادونو د نړیوال سوداګریز سازمان غړیتوب ته مجبوروي چې د ملي اقتصاد د له منځه وړلو او د وارداتو په تشویق سره د داخلي تولیداتو د له منځه وړلو لپاره یو عمده وسیله ګڼل کیږي. د برټن ووډز سازمانونه ادعا کوي چې د دې سازمانونو پواسطه د وړاندې شویو تعرفو جوړښت د صادراتو ضد پالیسې پکې شامله ده چې د صادراتي اقتصاد د کموالي سبب کیږي او د صادراتي سکتور په وړاندې د محلي بازار په پراختیا تشویق کوي. سره له دې چې ډېر لږ شواهد شته چې دا پالیسۍ د صادراتو په ګټه د منابعو د بدلون لامل ګرځي[1] و برعکس د دې سازمانونو په واسطه وړاندیز شویو تعرفوو څو ملیتي شرکتونه وارداتو ته وهڅول او حتی محلی تولیدات هم هغوی ته سپاري.

د نړیوال سوداګرۍ سازمان غړي هیوادونه د داسې تعرفو د سیستم منلو باندې مجبور دي چې په صهیونیستي څو ملیتي شرکتونو په خدماتو او تولیداتو وارداتي مالیه یې کمه کړیده او په مقابل کې یې د دې شرکتونو د رقیبو محلي تولیداتو باندې درنه مالیه وضع کړیده.

همدارنګه د سوداګرۍ د ازادۍ پالیسې لاندې او د بهرنیو پآنګو اچونو د تشویق په تګلارې سره دا ستر شرکتونه له مالیو معاف شویدی او په مقابل کې یې، محلي کوچني شرکتونه د درنو مالیو په ورکولو سره مجبوریږي چې د داخلي سوداګرۍ د له منځه تلو سبب کیږي او سوداګر او کارکوونکي یې د څو ملیتي شرکتي لمنو ته لویږي او د هغوی غلامي مني. د صهیونیستي څو ملیتي شرکتونو راننوتل له ځانه سره د شخصي کولو یوه بل پالیسی لري ترڅو وکولی شي چې طبیعي منابع او هغه منابع چې د خدای جل جلاله لخوا خلکو تحفه شویدي وتښتوي.

امریکا د نړیوالی امپراتورۍ د جوړونې او ساتنې لپاره د هیوادونو اقتاصدي کنترول او منابعو ته اړ دی، نو له دې امله د ساختاري اصلاحاتو تر پالیسی لاندې د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک پوروړي شرکتونو د عامه خدماتو او دولتي شتمنیو د دولتي

[1] Michel Chossudovsky; The Globalization of Poverty and The New World order; p 54

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنو په شخصي کولو مجبوروي. د دې ټولنو ساختاري اصلاحاتو کې یوه هیواد ته د پرمختګ او پراختیا لپاره یوازې د پروژو د ټاکنې حق ورکول کیږي او دا ټولنې پریکړه کوي چې کومه پروژه د دې هیواد په ګټه ده او کومه پروژه ورته زیانمنه ده چې دا ټولنې ډیری د خپلو پورونو په واسطه داسې پروژې عملي کوي چې د صهیونیستي څو ملیتي شرکتونو او امریکا ګټې پکې تامین وي. د بیلګې په توګه په افغانستان کې یې لومړی هغه پروژې عملي شوې چې د ناټو د تجهیزاتو د انتقال لپاره یې اسانتیا رامنځته کړه. کله چې دې ټولنو پریکړه وکړه چې کومه پروژه د یوه هیواد لپاره چې پیسې یې په هغې هیواد باندې د پور په توګه شمیرل کیږي، عملي شي د شخصي کولو او د سوداګرۍ د ازادۍ تر پالیسو لاندې داسې شرکتونو ته ورکوي چې که په خپله خوښه هماغه کار ته برابر وي. دا شرکتونو اکثره هماغه څو ملیتي شرکتونه وي چې د امریکا له متحدو ایالتونو څخه منشا اخلي. په حقیقت کې دا ټولنې پداسې حال کې چې یو هیواد پوروړی کوي، پیسې د امریکا له متحدو ایالتونو څخه نه راباسي او یوازې د امریکا له یو ایالت کې له بانکي حساب څخه د امریکا په بل ایالت کې یو امریکایي شرکت ته انتقالوي. د دې سترې دوکې مثال کولی شو په افغانستان کې په واضح توګه د لویې لارو د جوړولو په پروژو کې ووینو. امریکا په ډیرې بې شرمۍ سره ادعا کوي چې میلیاردونه ډالر یې له افغانستان سره مرسته کړیده، پداسې حال کې چې د لسګونو او سلګونو میلیارډ ډالرو پروژو او د افغانستان لویې لارې یې دوو سترو امریکایي شرکتونو د لویزبرجر او آی آر ډي سره قرارداد کړې وې (ویل کیږي چې د امریکا د ولسمشر معاون ډیک چیني د دې شرکتونو برخوال وو) چې دې دوه شرکتونو ډیرې لږې پیسې محلي قراردادیانو ته د دې کار د ترسره کولو لپاره بیلې کړې او نورې پاتې پیسې له رارسیدو وړاندې او یا وروسته بیرته امریکا ته انتقال شوې. په همدې توګه ټول هیوادونه د هغو پیسو پواسطه چې هیڅکله د امریکا د متحدو ایالتو څخه نه وځي، داسې پوروړي کیږي چې بیرته یې ورکول ناممکن وي او بالاخره د دې پیسو په بدل کې د امریکا د متحدو ایالتو تر مشرۍ لاندې ټولنې له هغوی څخه د طبیعي منابعو غوښتنه کوي او هیوادونه د دې طبیعي ورکولو ته مجبوریږي څو یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي څو مليتي شرکتونو باندې په ناچيزه بيه وپلوري او په حقيقت کې امريکا د ارزښته هيوادونه طبيعي منابع د چل او دوکې په واسطه لاسته راوړي.

په دې ډول چلونو او ظلم سره امرکيا وتوانيده چې د دجال د دويمې ورځې د عملياتي مرکز په توګه، خپله شيطاني امپراتوري د غير اانساني فتنو د پراختيا لپآره جوړه کړي او کله چې هر هيواد يا کس د دې امپراتورۍ په وړاندې ودريږي، د امريکا د اردو او صهيونيستي متحدينو (ناټو) په واسطه يې د له منځه وړلو پلان د بې شرمانه او دروغو بهانو سره نيول کيږي. په دې اړه د امريکا د استخباراتي سازمان (CIA) پخوانی مامور جان پرکينز په خپلو اعترافونو کې د يو اقتصادي جنايتکار د اعترافاتو په نوم وايي چې امريکا د خپلې امپراتورۍ د جوړونې او ساتنې لپاره داسې کسان چې د امريکا د هجموني (Hegemony) په وړاندې دريږي، لومړی هغوی د پيسو او واک د وعدو په مرسته فاسدوي او بيا هم دا هڅه ناکامه شوه، د هغوی د وژنې طرحه په لاره اچوي؛ څکه چې د پانامې دوه ولسمشران د CIA پواسطه ووژل شول او که دا طرح هم ناکامه شوه، لکه څنګه چې له صدام حسين سره وشول، امريکا خپله نظامي قوه د هغه د له منځه وړلو لپاره ګماري.

په ۲۰۰۱م کال کې صدام حسين د لومړي ځل لپآره د پرودالر په وړاندې ودريده او ويې غوښتل ترڅو خپل نفت په يورو باندې وپلوري، خو دا چې د نفتو خرڅلاو په ډالرو (Petrodollar) باندې د امريکايي پيسو يوازينې پشتوانه لري، امريکا په عراق باندې د ډله ييزې وژنې د وسلو د لرلو تور ولګاوه او له دې تور څخه يې په دې هيواد باندې د حملې د مقدمې په توګه کار واخيست چې د عراق تر نيولو وروسته د امريکا شيطاني هيواد اعتراف وکړ چې عراق د ډله ييزو وژنو وسلې نلرلې[1]. همدارنګه د ليبيا پاچا معمر القذافي د افريقا د اتحادې په جوړولو سره وغوښتل په ليبيا کې د سرو او سپينو زرو د سکو پولي سيستم جوړ کړي او بيا يې په افريقا کې په لاره واچوي چې د ډالرو د هجموني لپاره ستر خطر ګڼل کيده. نو له دې امله ناټو د امريکا په مشرۍ پرې حمله

[1] د لا زياتو معلوماتو لپاره د Marin Katusa کتاب The Colder War: How the Global Energy Trade Slipped From Americal Grasp ته مراجعه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او د هغه په وژل کیدو سره یې د افریقا یوازیني باثباته هیواد په خاورو او وینو سره برابر کړ. د دې اقتصادي نړیوالو ټولنو پالیسیانې په نړۍ کې د نړیوال فقر د رامنځته کیدو لامل شو او د دې ټولنو د ظاهري پلانونو پرخلاف نړیوالې اقتصادي نابرابرۍ په تعجیلي چټکتیا سره د زیاتیدو په حال کې دي چې په ټولنو کې د اقتصدي طبقو د رامنځته کیدو او د دې طبقو ترمنځ د بدبینۍ او نفرت د رامنځته کیدو سبب شو. د پیسو نړیوال صندوق د د فقر د له منځه وړلو لپاره د خپلو پالیسو په نه اغیزمنتیا اعتراف کوي: په وروستۍ لسیزه کې په دې اړه چې ایا د (IMF) پروګرامونه اغیزمن دي کنه؟ ډیرې څیړنې شویدي. د اوسنیو څیړنو له مخې، هیڅوک نشي ویلی چې د مالي وجوهو د برابرۍ د پروګرامونو منلو د پراختیا په اغیزه مرسته کړیوي. په حقیقت کې دا څرګنده شویده چې دا پروګرامونه، د تورم زیاتوالی او د پراختیا د مقیاس سقوط له ځانه سره لري[۱]. اوسنی اقتصادي سیستم له پورته دوکو پرته، یوه بله غولونکې پدیده هم له ځانه سره لري چې د برخو یا د بورس د بازار (Stock Market) په نامه یادیږي.

**د برخو یا بورس بازار**

د غرب د عصري تمدن اقتصادي نظام یو داسې نظام دی چې د کوچنیو اقلیتونو (اکثره د صهیونیزم مشرانو) ګټو او د خلکو په غلام کولو ته کار کوي. د دې لږکیو (اقلیت) د ګټو د تامین لپاره، د پانګوالۍ اقتصادي نظام د سهامو د بازار پدیده له ځانه سره لري. ستر شرکتونه چې د سترو پروژو د مالي وجوهو د تامین لپاره چې د پروژې لپاره اړونده بودیجه نلري، خپلې برخو د سهامو په بازار کې په څو برخو ویشي او دا برخې په دې بازار کې د خرڅلاو لپاره داوطلبۍ ته ږدي. د خلکو په واسطه د دې برخو اخیستل، شرکتونو خپل مالي صندوق یا وجوه د سترو پانګو اچونو لپاره لاسته راوړل او د هغو خلکو لپاره چې دا سهام اخلي، په سترو شرکتونو کې د شراکت یو باطل خیال ورکول کیږي. اکثره د سهامو د پیر او پلور شرایط داسې دي چې د سهم خرڅوونکی شرکت د خلکو په واسطه د سرمایه ګذارۍ شوو پیسو په بیرته ورکولو مجبور

---

[۱] Mohsin Khan; The Macro Economic Effects of Fund Supported Adjustment Programs: IMF staff Papers; Vol. 37; No. 2; 1990; pp 196, 222

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي او خلک يوازې کولی شي دغه سهام د بورس په بازار کې وپلوري. د شرکتونو د سهامو قيمت ظاهراً نظر د هماغه شرکت د پرمختګ ته زياتيږي او يا کميږي او پداسې حال کې چې خلکو ته د شراکت يو باطل خيال ورکول کيږي، هغوی د شرکتونو د سترو بخرو له پيرلو سره سره بيا هم په دې شرکتونو کې د تصميم نيونې حق نلري. د سهامو بازار په حقيقت کې د سترو شرکتونو لپآره ديو وړيا بانک په څير ده چې د دې بانک په واسطه، شرکتونه سترې پانګې پرته له دې چې په بيرته ورکولو يې مجبور وي، له عامو خلکو څخه به دوکو سره په لاس راوړي. د سهامو بازار د دې ترڅنګ چې د سترو شرکتونو لپآره د شيدو غوا ده، د منځنۍ طبقې د پانګو د سرقت يو عالي وسيله هم ګڼل کيږي چې دا کار د سترو شرکتونو د سهامو د بازار په مهارولو او د رسنيو په محرکو قوو سره ترسره کيږي. اوسمهال د سهامو بازار د هيوادونو د اقتصاد د اغيزمنتيا ښودونکې ده چې د هغې په لوړوالي سره د خلکو اقتصادي وضع ښه کيږي او د هغې په سقوط سره په هيوادونو کې اقتصادي بحران رامنځته کيږي چې د پانګې اچونې دا ستره اندازه او اهميت په دې بازارونو کې د اقتصادي نخبګانو او مهاروونکو لپاره د سرمايو د سرقت ښه موقع برابره کړيده.

کله چې د خلکو پانګې د شرکتونو د برخو په اخيستلو مصرف شوی، مهاروونکي په بيلابيلو لارو سره د خلکو د پانګو د غلا کولو لپاره د برخو بيې زياتولی او کمولی شي. کله کله چې د يو شرکت د سهم د زياد اندازې په اخيستو سره د نوموړي شرکت د سهامو ارزښت په تدريجي توګه لوړيږي او خلک د دې شرکت پرمختګ ته په کتو سره د هغې د سهامو په پيرلو لاس پروې کويو کله چې د يو شرکت په سهامو کې د ډيرو پانګو اندازه راټوله شوه، مهارکوونکي د هغه شرکت په اړه د منفي اقتصادي راپورونو په خپرولو او همدارنګه د سهامو په بيا ځلې خرڅلاو سره داسې خلکو ته ښيي چې دا شرکتونه د رکود او ماتې په حال کې دي چې په دې کار سره سهام په ناڅاپي توګه خپل ارزښت له لاسه ورکوي او خلک له دې ويرې چې سهام بيا سقوط ونکړي، هغه خرڅوي او ستره ضربه او تاوان ويني او مهارکوونکي يو وار بيا دا سهامو په ديره ارزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیه اخلي او په تدریجي توګه یې په همدې چلونو سره د هغې د بیې په لوړولو لاس پورې کوي.
د منیسولا له پوهنتون څخه راجیش کوما اګروال او د هوستن له پوهنتون څخه ګوجونوو په دې اړه خپلې څیړنې ترسره کړیدي چې هغوی د سهامو د بازار له ۱۴۳ مهاروونکو حالتو سره مخ شویدي، وایي: مهارکوونکي لومړی سهام اخلي او بیا یې پلوري[1]. همدارنګه اقتصادي نخبګان د بورس د بازار له سقوط او له حکومتونو څخه د پیسو په اخیستو سره د اقتصادي بحران په رامنځته کولو ډېر سترو او نه ماتیدونکو شرکتونو (Too Big to Fail) ته نجات ورکوي او کوچني او منځني پانګوال د غربت په لور رابښکته کوي او ځانونو ته په همدې توګه ګټه رسوي. په دې اړه په اقتصاد کې د نوبل د جایزې ګټونکی جوزف استګلتس اقتصاد په اړه داسې وایي: دې نخبګانو، په امریکا کې په ۲۰۰۸م کال کې د بورس د بازار سقوط او اقتصادي بحرانونه رامنځته کړل[2]. د اوسنی نړۍ اقتصادي نظام په پوره توګه یو غیر عادلانه، د طبقو او نابرابریو منځته راوړونکی، فقر ته کشونکی، ظالمانه او غیر اسلامي دی.

**اوسنی اقتصادي نظام او اسلام**

کله چې د (الیوم اکلت لکم دینکم و اتممت علیم نعمتی و رضیت لکم الاسلام دینا[3]) نازل شو، مسلمانانو فکر وکړ چې د قران کریم د ایتونو د نزول لړۍ د دې ایت په نازلیدو سره پای ته ورسیده او تر دې وروسته به ایت نازل نشي، خو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تر وفات کیدو څو ورځې وړاندې الله (جل جلاله) د سود په اړه ایات نازل کړ او هغه یې له خدای او رسول جګړه وګڼله: اې مؤمنانو! که په رښتیا سره مو ایمان راوړی وي، نو له خدایه وویریږئ او ستاسې چې کوم سود پر خلکو پاته دی، هغه ور پریږدئ- خو که تاسې داسې ونه کړل، نو خبر اوسئ چې د الله (جل جلاله) او د

[1] The University of Chicago; Jounal of Business (2006); Vol. 79; No. 4; P 1917

[2] Joseph E. Stiglitz; The Price of Inequality, General Principles; Moving money from the bottom of the pyramid to the top

[3] سورالمائده، ۳ آیات، نن ما ستاسې دین، ستاسې لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړ او ستاسې لپاره مې اسلام ستاسې د دین په توګه منظور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پیغمبر لخوا ستاسې پر خلاف د جګړې اعلان دی. که اوس هم توبه وباسي (او سود پرېږدئ)، نو تاسې د خپلې پانګې اخیستلو حقدار یاست، مه تاسې تیری کوئ او نه به پر تاسې تیری وشي[1].

سود په اسلام کې یوه تر ټولو خطرناکه کبیره ګناه ګڼل کیږي چې بشریت ته یې فاجعه راوړونکې پایلې له ځانه سره لري. اسلامي ښوونې تل له سود خوړولو څخه د لریوالي تاکید کوي او هغه تر ټولو بده پدیده ګڼي. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) هغه کسان باندې لعنت ویلی دی چې سود خوري، سود اخلي او د سود معاملې لیکي[2]. همدارنګه په یو بل حدیث کې سود په دری اویا برخو ویشل شوی دی چې تر ټولو لږ جدیت یې له مور سره د زنا معادل ګڼلې ده[3]. د غرب د عصري تمدن او د هغې په اقتصادي نظام په رامنځته کیدو سره چې د بانکوالۍ په نوم یوه نوی پدیده یې له ځانه سره لرله، په سود اخیستلو او خوړلو باندې سره له دې چې په ټولو اسماني دینونو کې یوه ستره ګناه شمیرل کیږي، مشروعیت ورکړل شو او د یو قانوني سوداګرۍ په توګه شمیرل کیږي؛ خو الله (جل جلاله) د هغه چا لپاره چې سود اخیستل او سودخوړل سوداګري ګڼي، داسې اخطار ورکوي:کوم خلک چې سود خوري، د هغو حال به د هغه چا غوندې وي چې پېریانو نیولی وی او پر دې حال د هغو د اخته کېدو دلیل دا دی چې وایي: (تجارت خو هم لکه سود غوندې شی دی.) په داسې حال کې چې الله تجارت روا او سود ناروا کړیدی. نو چا ته چې د هغه د رب له لوري دا نصیحت ورسیدې او په راتلونکي کې یې د سود له خوړولو څخه ډډه وکړه، نو څه چې یې مخکې خوړلي هغه خو یې خوړلي دي، د هغه معامله له خدای سره ده؛

---

[1] سوره البقره، ۲۷۸ څخه تر ۲۷۹ آیتونو پورې: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۲۷۸﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۹﴾

[2] صحیح مسلم؛ ۱۵۹۸ حدیث

[3] المستدرک علی الصحیحین؛ ۲۲۵۹ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څوک چې له دې حکم څخه وروسته بیا هم همداسې کار کوي، هغوی دوزخیان دي، تل به په کې اوسیږي.[۱]

الله جل جلاله سود له سوداګرۍ څخه جلا کړیدی او هغه یې حرام ګرځولی دی، نو د سواګرۍ او سود ترمنځ توپیر څه دی؟ سوداګري هغې معاملې ته ویل کیږي چې پکې د دواړو لورو ترمنځ د ګټې او زیان امکان موجود وي، پداسې حال کې چې په سودي معاملاتو کې د سود ورکوونکو ګټه او د سود اخیستونکو زیان تضمین شوی دی. د اسلامي سوداګرۍ په معاملاتو کې پانګې د ګردش او ګرځیدو په حال کې وي ځکه چې په اسلامي سوداګرۍ کې ګټه او زیان شته دي او د یوې ډلې او کس لاسته د پانګو راټولیده له دوکو پرته ستونزمنه وي؛ نو له دې امله پانګې لاس په لاس د ګرځیدو په حال کې وي چې له کنز څخه چې یوه حرامه اسلامي پدیده ده[۲] مخنیوي کیږي، پداسې حال کې د سود په بنسټ په اقتصادي نظام کې د پیسو په منظمې راټولونې او د سود له احتمالي خطر پرته نغدی پیسې راټولیږي او پانګې یې په تدریجي ډول له ځانه سره ذخیره کیږي او له ګرځیدو پاتې کیږي او بالاخره د نن ورځې په څیر یو داسې اقتصادي نظام رامنځته کیږي چې  د نړۍ لس سلنه پیسه دار وګړي په نوي سلنو پانګو سره خوند اخلي او نوي سلنه خلک د لس سلنو پانګو پسې سرګردانه دي. اوسني اقتصادي نظام په پوره توګه په سود ولاړ دی تر دې چې د دې نظام پیسې هم سودي دي.

مخکې له دې چې کاغذي حکمي پیسې پیدا شي، لومړی د هغې پواسطه سود پیدا کیږي، ځکه چې تقریباً په ټولو ملکونو کې د دې کاغذي پیسو د چاپ مسوولیت له شخصي مرکزي بانکونو پورې تړاو لري او دا بانکونه هغه مهال پیسې چاپ ته سپاري

---

[۱] الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىَ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٧٥﴾

[۲] سوره التوبه، ۳۴ آیات: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾، ژباړه: اې مؤمنانو! د دې اهل کتابو د زیاترو علماوو او روحانیونو حال دادې چې د خلکو مالونه په ناروا لارو خوري او هغوی د الله له لارې څخه منع کوي او هغه خلک چې سره او سپین زر خزانه کوي او د خدای په لاره کې یې نه لګوي؛ نو دوی ته د دردناکه عذاب زیری ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حکومتونه د پور غوښتنه وکړي چې دا کار په ښکاره توګه له سود سره تړلی ده. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څوارلس سوه کاله وړاندې د بشریت د نن ورځې حالت په ډېرې حیرانتیا سره داسې اټکل کړی دی: په یقیني توګه به په انسانانو داسې ورځ راورسیږي چې هر کس به سود خوري (یا ورکوي) او که څوک داسې ونکړي نو اغېز به یې پرې وي[1]. د دې لپاره چې دجال وتوانیږي د سود فتنه نړیواله کړي او ټول انسانان په مستقیم او غیر مستقیمه توګه په سودي معاملو کې ښکیل کړي، په لومړي ګام کې یې هغه پیسې چې د ذاتي ارزښت لرونکې دي له منځه یوړی تر دې چې وتوانیده د پیسو د ارزښت پشتوانه هم له منځه یوسي او داسې پیسې یې رامنځته کړی چې ارزښت یې یوازې په چل ول سره په هغه اعتبار کې چې خلک یې ورته لري نغښتې دی. له بده مرغه د غربیانو په واسطه د پیسو د جوړ سیستم څخه د مسلمانانو درک چې د اسلام د قسم خوړونکو دښمانو په واسطه د پانګو په قانوني غلا کې ډېر مهم رول لري، لږ دی او نه هم په دې پوهیږي چې د پیسو سیستم به بالاخره په مسلمانانو باندې د اسلام د دښمنانو اقتصادي دیکتاتورۍ سبب شي، په دې اړه په دې د تاریخي پړاو په دې مرحله کې د یهودي – مسیحي اتحاد په اقتصادي غلامۍ کې ډېری مسلمانان راغلي دي.

له ټولو بده داده چې د اسلام علما په چل او دوکې سره د اغګل شویو عصري پیسو په اړه غلي دي، حتی کله چې دوی وپوهیږي چې د پیسو په دې عصري سیستم کې چې یو څه ناسم دي، نو د ناسموالي او حرام ګڼلو جرات یې نه کوي. په اسلامي هیوادونو کې حاکم حکومتونه، د دې ننداري تر ټولو رقت انګیزترین لوبغاړي دي، نه هغوی د اوسنیو پیسو د خطرناک حقیقت درک کوي او نه هم غواړي چې درک یې کړي او دلیل یې د یهودي-مسیحي اتحاد لپآره د دې حکومتنو چاپلوسي ده چې اوس په نړۍ حکومت کوي[2]. د اسلام له مخې پیسې د ذاتي ارزښ او ګټور عمر لرونکي دي چې ارزښت یې مهار کیدی نشي او د هغې د ارزښت کم و زیات کیدل هم د انسانانو په

---

[1] سنن ابو داود. کتاب البیع، باب: فی اجتناب الشبهات

[2] Imran N. Hosein; The Gold Dinar and Silver Dirham: Islam and the Future of Money; p 8

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه په اسانۍ سره د نوساني کیدو قابلیت نه لري. په قرآن مجید کې ډېر مهال کله چې د پیسو یادونه شویده د دینار (د سرو زرو سکې) او درهم (سپینو زرو سکې) کلمې یادې شوی دي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت له مخې، کله چې په بازار کې د دې سکو کموالی احساسیده، نور شیان چې د ګټور عمر او ذاتي ارزښت لرونکی وې، د پیسو په توګه کاریدلې، د بیلګې په توګه: خرما، وربشی، جواري، غنم او نور.
حضرت بلال رضی اله عنه له یو ټوکرۍ ښو خرماوو سره د  محمد (صلی الله علیه وسلم)  خواته ورغی او هغه یې محمد صلی اله عیله وسلم ته وړاندې کړې.  محمد (صلی الله علیه وسلم)  خرماوو ته وکتل ویې ویل:  بلاله! دا ډېری ښایسته خرما دي، دا دې له کومه ځای راوړې؟ بلال رضی الله عنه ځواب ورکړ: اې د الله (جل جلاله) رسوله! ما دوه ټوکرۍ عادي خرما لرلې او هغه مې له دې ښو او چیندل شویو خرما سره بدلې کړې. ان حضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا کار د سود ماهیت ځانته غوره کوي[1]. په یو بل روایت کې راغلي دي چې د حضرت محمد صلی په وخت کې یو اوښ له پنځو اوښانو سره بدل شوی دی[2]. د دې کار لپاره قانع کوونکی دلیل چې ولې د دوه ټوکریو خرما بدلول له یوې سره سود ګڼل کیږي او او یو اوښ له څو نورو سره سود نه دی، دا دې چې خرما په هغه وخت کې چې په بازار کې د سره او سپینو زرو د سکو د کموالي پرمهال د پیسو په توګه کاریدلې او د پیسو له بدلیدو څخه ګټه سود ګڼل کیږي او اوښ ځکه د پیسو په توګه نشي کاریدلی چې د هغې ګټور عمر معلوم نه ده او د مړینې امکان هره لحظه شته دی. که مسلمانانو په اوسني انحطاط کې چې لمن یې ورته نیولې ده، قرار نلره او د سرو او سپین زرو د حلالو سکو څخه یې ګټه اخیستې وه، هیڅکله به یو امریکایي پیسو واحد د اکثرو اسلامي هیوادونو د ۷۰ پیسو له واحد سره نه برابریده او اوس به صهیونیستي غربیانو په مسلمانانو باندې اوسنۍ اقتصادي دیکتاتوري واک نلره. د عصري پیسې ارزښت د پیسو د نړیوالو ټولنو په واسطه مهار کیدای شي، خو دا ټولنې له دې وړتیا څخه د بشري ټولنې او په ځانګړې توګه د

[1] صحیح مسلم؛ ۳۸۷۱ حدیث

[2] امام مالک؛ الموطا؛ ۳۰ فصل؛ ٦١ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي هیوادونو د فقیر لپاره کار اخلي. د پیسو د مهار کولو واک غرباینو ته دا زمینه برابره کړیده څو د اسلامي نړۍ طبیعي زیرمې او تولیداتو ارزښت پخپلې گټې مهار کړي چې دا کار په اسلام کې حرام گڼل کیږي، لکه په دې اړه په یو مبارک آیت کې داسې راغلي دي: اې قومه له عدالت سره سم تول او پیمانه کوئ او خلکو ته د هغو په شیانو کې تاوان مه ور اړوئ او په ځمکه کې فساد مه خوروئ[۱].

[۱] سوره هود، ۸۵ آيات: وَيَا قَوْمِ أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۸۵﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

THE WORLD BANK

INTERNATIONAL MONETARY FUND

WORLD TRADE ORGANIZATION

# درېیم څپرکی

# اقتصادي نیواک (استعمار)

د پیسو په اړه د حقیقي پوهې نشتوالی د اقتصادي غلامۍ او فقر لامل ګرځي

**Sunday Adelaja**

د اقتصادي خپلواکۍ لپاره یوې بیې ته مجبور یې، خو دا بیه له هغې بیې څخه ډېر لږه ده چې د ټول ژوند د اقتصادي غلامۍ لپاره یې ورکوې.

**Manoj Arora**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیسو تاریخ

نړۍ په یو داسې عصر کې ده چې د بشریت تاریخ یې ساری نه دې تجربه کړی. دا زمانه، د چټک پرمختګ، چټک بدلون، معلوماتو، ټکنالوژۍ، علم، اقتصاد، سوداګرۍ او نړیوالتوب وخت دی؛ خو دا وخت داسې شی نه دی چې ښکاره شي؛ بلکې د فتنو او دوکو وخت دی چې پکې خپلواکي د غلامۍ، جګړه د سولې، جهالت د زور، نیکمرغي د شتمنۍ د لرلو، علم پکې له معتبر ځای څخه د ټاپه شوي کاغذ او سوداګري او اقتصادي پکې خولې پورته کولو ته وايي او په ظاهره او باطن کې له یو بل سره متضاد دي چې دا فتنې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دجال د وخت له وړاندوینې سره برابر دي. زموږ د وخت تر ټولو ستره فتنه، د سرمایه دارۍ د نړیوال اقتصادي نظام دی چې پکې ډیری پانګې د ګردش په حال کې نه دي، ستر پانګوال تضمین شوي پیسه لرونکي دي، فقیران د تل په څیر د غربت د میلو ترشا بندیان دي. د نړۍ د ټولې پانګې له مجموعې څخه یې ۵۹ سلنه د ۴۵۰ کسو میلیاردرانو په لاس کې دي او ۸۰ سلنه یې د څو سترو هیوادونو په لاس کې دي[۱]. او بالاخره ډیره خلک د وخت په تیریدو سره د پانګوالو په کوچنیو اقلیتونو غلامۍ تلک کې ایساریږي. د اوسني اقتصادي نظام باندې پوهیدا د پیسو د تاریخ په ځانګړې توګه د بریښنایي یا کاغذي پیسو له مطاعلې او پوهې پرته شونې ندی.

لومړنیو انسانانو د دې لپاره چې یو شی به بل نه لره، خپل مال به ورسره بدلوه، مثلاً د وربشو د لرلو لپاره یې غنم ورسره بدلول او له جنسو څخه د پیسو په توګه کار اخیستل کیده؛ ځکه پیسې د راکړې ورکړې وسیله ده. د خلکو، قبیلو، امپراتوریو او تمدنونو ترمنځ د راکړې ورکړې په زیاتدیو او د بشر په تکامیل سره جنس په جنس بدلونې سوداګري له ستونزو سره مخ کړه او د هغې د سستوالي لامل ورګځیده، نو له دې امله ګران بیه فلزي سکې (په ځانګړې توګه سره زر او نقره) د پیسو په توګه رامنځته شوې. د تاریخ په اوږدو کې د پول یوه اصلي ځانګړتیا د هغې ذاتي ارزښت وو. یعني، هر هغه څه چې د پیسو په واسطه یې راکړه ورکړه کیده، پخپل ذات هم د ارزښت وړ وو، د

---

[۱] Michel Chossudovsky; The Globalizaion of Poverty and The New World order; pp 7 & 21

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلگې په توگه غنم، خرما، نقره، سپین زره او نور. د نقرې او سرو زرو سکې، د بشریت په تاریخ کې د پیسو تر ټولو اوږد دول دی چې تر میلاد وړاندې له بابل او یونان څخه د فرانسې تر انقلابه پورې وکارېدې. د سرو زرو او نقرو او د پیسو ټول هغه ډولونه چې د ذاتي ارزښت لرونکي دي، له شیطان صفته او واک پاله انسانانو څخه د مستقیم مهار کولو واک اخلي، نو له دې امله د دجال په لومړۍ ورځ او د لومړۍ ورځې په عملیاتي مرکز (برتانیې) کې، اتم هنري پادشاه د پیسو د کنترول د رانیول او د پیسو د ارزښ د مهارولو لپاره په تقلب لاس پورې کړ او د نقرې په اوبو سره یې د مسي سکو په رنگولو خلک په رنګ کولو سره یې خلک د دې تقلبي سکو منلو د اصلي سکو په مساوي ارزښت مجبور کړل او د خلکو د دوکه کولو په دې حالت یې د انگلیس د شاهي دولت ستره پانګه لاسته راوړه[۱]. همدارنګه یې په دیارلسمه پیړۍ کې په اروپا کې کتبي حوالې، سوداګرو او بانکوالو سره مرسته کوله څو د حجیمو حواله د انتقال پرځای، حوالې له بانکونو څخه واخلي او ترې به یې انتقالولی. دا حوالې د بانکوالو او هغو کسانو لخوا چې د ضرب طلا فابریکې یې لرلې، هغو کسانو ته لیږل کیدې چې ورسره به د سرو زرو او نقرې د اندازې له مخې ایښودل شوې وې. کرار کرار دا حوالې د پیسو په توگه د اصلي پیسو په بدل کې رواج شوې او په راکړه ورکړه چې کارېدې او ورسوته د بانکنوټونو په نوم ونومول شوې. د ډېرو پېړو لپاره بانکنوټونه په سرو زرو او نقرې او د نقرې او سرو زرو په سکو متکي وو چې بیا یې هم مستقیم مهار جوړونه ناشونی کوله، سره له دې چې بانکوالو د بیلابیلو حیلو او چلونو له مخې د غیر قانوني شتمنۍ لپاره ترې کار اخیسته، مثلاً هغه سره زر او نقره چې د بانکنوټونو په بدل کې ورسره ذخیره کیدل چې ورسره به د امانت په توگه ایښودل شوی وو، دوی پوهیدل چې ټول خلک په ډله ییزه توگه په خپل ذخیره شویو نقرو او طلاوو پسې نه راځي، نو ځکه یې په سود باندې قرض ورکول او یوه سرمایه په دوو ځایونو کې د دوو مرجعو ترڅنګ یعني د بانکوال او د پانګې د خاوند سره د ګردش په حال کې وه او همدارنګه د صادر شویو بانکنوټونو اندازه د ذخیره شویو سرو زرو او نقرو سره سمه نه وه، نو له دې امله یې د

---

[۱] James Robertson; The History of Money; p 7

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړې پشتوانی له مخې ډېر بانک نوټونه بازار ته وړاندې کول او له هیڅ څخه یې سرمایه ترلاسه کوله، په دې اړه د شپاړلسمط پیړۍ کاتولیک کشیش داسې وایي: سوداګر او بانکوال د خپلو ابتکاري کړنو د کشف لپاره له څو ډوله چلونو کار اخیلي چې موږ یې په پوهیدو وړ نه یو.

تر دې ځایه حیلې او چلونه داسې جوړ شوي وو څو قرضه له سود سره چې په میسحیت کې ګناه ګڼل کیږي، پټه کړي، خو کرار کرار یې له مسیحیت څخه د سود خوړولو ګناه لرې کړه او بانکوال په دې وتوانیدل چې په ازاده توګه په سود پور ورکړي او د چلونو تمرکز یې له هیڅ څخه د بیسو تولید شو چې تولید شوې پیسو یو وار بیا په سود پور ورکړي[1]. دا چلونه ددې سبب شول څو بانکوال یوازې د بانکنوټونه د چاپ په بیه او د په دې بانکنوټونه پرمخ د ارقامو په لیکلو د سرو زرو او نقرې ارزښت هغوی ته ورکړي او د ځان لپره له هیڅ څخه سرمایه تولید کړي. بشري تاریخ په دې شاهد دی، هغه کسان چې ډېره شتمني یې لرله، ډېر قدرت او واک یې هم لره او همدارنګه ډېری دې خلکو خپله پانګه له غیر مشروعو لارو لاسته راوړه، د واک او شتمنی په ترلاسه کولو سره یې حرص زیات شو او د نور واک د ساتنې او ترلاسه کولو او همدارنګه د ډېر شتمنې او غلامیتوب د ساتنې پسې شول. اروپایي بانکوال هم چې په هغه وخت کې د واک او شتمنی خاوندان وو او همدارنګه د هغه مهال په حکومتونو کې یې له سیاسي نفوذ څخه خوند اخیسته، د خپلو واک او شتمنی په پراختیا پسې شول تر دې چې د ملي پیسو د کنترول د په لارې اچولو طرح جوړه کړه او د دې کار لپاره یې لومړنی اړوند هیواد د دجال د لومړی ورځ عملیاتي مرکز وو. دا کاره ده چې هیڅ هیواد نه غواړي چې خپلې پیسې په شخصي ټولنې پورې وتړي، نو له دې امله هغه بانکوالو چې سیاسي نفوذ یې لره، برتانیه او فرانسه یې له یو بل سره یې د جنګ په لور وهڅول. په ۱٦۹۴م کال کې د فرانسې د څوارلسم پادشاه لویس او انګلستان ترمنځ جګړه د یوې واقعې باعث شوه چې د پیسو په تاریخ کې تر ټولو ستره مرحله ګڼل کیږي. د برتانیې پادشاه دریم ویلیم د جګړې د مخکې وړلو لپآره ډېرو پیسو ته اړتیا لرله او د برتانیې

[1] همدا سرچینه؛ ۹ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمان د ماليې پورته کولو ته حاضر نه وو، نو له دې امله د ويليم پيټرسن اسکاټلندي په مرسته، د لندن ځينې سوداګرو پادشاه ويليم دې ته قانع کړ چې يو بانک جوړ کړي ځو دا بانک پادشاه ويليم ته پيسې په پور ورکړي. دا بانک سره له دې چې يو شخصي سوداګريز بانک وو د انګليس د بانک په نوم ونومول شو. دا بانک باوري وو چې د خپلو پورونو ګټه لاسته راوړلی شي، ځکه حکومت د سود د ورکولو لپاره له ماليو څخه ګټه واخلي، د بيرته ورکولو له تاکيد پرته وکړ په دې شرط قرضه وړاندې کړه چې ګټه يې ورکړل شي او دې کار حکومت د لا پسې ډېرې قرضې اخيستلو ته تشويق کړ.
حکومتونو په ټوله نړۍ کې دا لاره تعقيب کړه چې نن ورځ خلک د خپلو درنو ماليو په واسطه د شخصي بانکونو د سود په ورکولو مجبور دي[1]. د انګليس د شخصي بانک تشکيل چې د انګليس پيسې يې چاپولې، د بشريت د تاريخ تر ټولو ستر اقتصادي فساد ګڼل کيږي چې تر اوسه يې انسانان په اقتصادي ګوانتامو کې را ايسار کړيدي او تر اوسه به داسې هيڅ انسان پيدا نکړې چې له دوکو او جعلي اقتصادي سيستم تر اغيز لاندې چې لومړنی هغه يې د انګليس بانک وو پيدا نکړئ. په اتلسمه پيړۍ کې د راتشچايلډ د کورنۍ په اقصتادي پورته والي او د جعلي او خلکو ته د دروغو سره د ګډ سيستم په خپريدو سره د ملي بانک پديدې په لاسته ورتلو سره، د دې کورنۍ ته دا زمينه برابره شوه ترڅو هغه پلانونه چې خزرانو په اتمه پيړۍ کې په سر کې لرل، عملي اړخ ورکړي.
د امريکا د متحدو ايالتونو د کانګرس کانديد دوکتور کن مټو (Ken Matto) ليکي: په ۱۷۷۳م کال کې مير انچل باور (راتشچايلډ)، د طلا ويلې کيدو د فابريکې مالک، صراف او پانګوال د ولس پرنفوذه او پانګوال سړي خپل کاري دفتر ته د جرمني په فرانکفورټ کې راوبلل. له دې ناستې څخه د هغې موخه  له دې ناستې څخه دا وه چې دا کسان دې ته قانع کړي چې که خپلې پانګې سره يوځای نکړي، نو د پانګو،

[1] همدا سرچينه، ۱۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعي او انساني سرچینو کنترول به ورته په ټوله کې نړۍ کې ناممکن شي او خپل ۲۵ مرحلې پلان ورته وړاندې کړ[1].

د دې دیارلسو کورنیو ۲۵ مرحله اي پلان چې فریتس اسپرنگماییر (Fritz Springmeier) یې د روشن فکرانو د دیارلس شیطاني نسبه (Illuminati) بولي، د صهیون د مشرانو د ۲۴ پروتوکولو په څیر په یو تاریخي حقیقت په توگه ندی ثابت شوی خو نننی او د څو وروستیو پیړیو تاریخي پیښې او مرحلې د دې پلانونو د رښتیا کیدو شاهدې دي چې د صهیون د مشرانو د ۲۴ پروتوکولو یوه بله نسخه ده. په دې پلانونو کې ځینې مهمې برخې د علمي وینااوو پر ځای له وحشت او ترور څخه استفاده، د سیاسي قدرت د ترلاسه کولو لپاره د لیبرالیزم تبلیغ، د طبقاتي جگړو رامنځته کول، د دیارلسو کورنیو پټ پاتې کیدل تر دې چې واک یې دې حد ته ورسیږي چې د دولت او خلکو زور پرې ونه رسیږي، د معلوماتو او رسنیو کنترول، د مشهورو شعارونو په واسطه له سیستماتیک چلونو څخه کار اخیستل او د هغې د خلاف عملي کول، د شرابو، زنا، موسیقۍ، مخدره توکو او نورو اخلاقي فسادوو په واسطه د ځوان نسل فاسدول او همدارنگه بیلابیلو تیوریو (مارکسیزم، لنینیزم، فشایزم، انارشیزم او نور) ته یې راښکل چې پوهیږو چې دا (دیارلس کورنۍ) دروغ دي، او بالاخره د نوي نړیوال نظم (New World Order) په نوم د یو نړیوال حکومت رامنځته کول دي. تر دې ناستې وروسته، راتشچایلډ خپل پنځه زامن د اروپا پنځو مهمو ښارونو ته واستول او ډیر زر یې د اروپا د مهمو هیوادون د پیسو واک په لاس کې واخیست. راتشچایلډ او ورسره نورې دیارلس کورنۍ چې د خزر له نسب څخه دي، ټول یې په بیت المقدس په مرکزیت سره د یو نړیوال حکومت د رامنځته کولو هیله لرله او له همدې امله له برتانیې څخه په جغرافیایي او نفوسي لحاظ یو کوچني هیواد وو د واک د انتقال په فکر کې شول او له همدې امله یې شمالي امریکا ته چې په جغرافیایي لحاظ ستر او د نفوس له پلوه هم ډیر وو، واک انتقالوه څو دا نړیوالې اجنډاوې د نوي رامنځته شوي قدرت په مرسته عملي کړي. د دې لپاره چې هغوی په توانیږي چې له امریکا څخه د خپلو سترو

[1] Ken Matto; The History of the Federal Reseve System; p 4

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلانونو د څارونکي په توګه کار واخلي نو باید متخصصه طبقه په کنټرول کې راولي او د سرګردانو خلکو طبقه غلامه کړي چې دا کار یوازې د پیسو په زور شونې وو.

امریکا تر خپلواکۍ وړاندې د برتانیې په بیلابیلو مستعمرو ویشل شوې وه او هرې مستعمرې یې د مرکزي بانک په واسطه د ځان لپاره جلا پیسې چاپولې. د انقلاب په پیل کیدو سره مستعمرو د جګړې د مخکې وړلو لپاره ډیرو پیسو ته اړتیا لرله، نو له دې امله د هرې مستعمرې بانکونو ډیرې پیسې چاپ کړې چې تر انقلاب وروسته د پیسو د تورم سبب وګرځیدې او د هرې مستعمرې پیسو له دې امله چې په بازار کې له حده ډیرې وې، خپل ارزښت له لاسه ورکړ او په دې حالت کې اروپایي بانکوالو یو مرکزي بانک چې د انګلیس بانک ته ورته وو، وړاندیز وکړ او په امریکا کې لومړنی مرکزي بانک د شمالي امریکا د بانک په نامه رامنځته شو.

دا بانک هم د پیسو د کم ارزښته کیدو له امله له رکود (ماتې) سره مخ شو او تر تاسیس څلور کاله وروسته په ۱۷۸۵م کال کې له منځه لاړ. خو له دې سره سره بیا هم اروپایي بانکوالو په امریکا کې د پیسو د کنټرول د ترلاسه کولو او د یو مرکزي بانک د بیا جوړولو هڅې پرینښودې او د امریکا د اساسي قانون د تشکیل په کمیسیون کې یې د یو نوي بانک د جوړولو طرح وړاندې کړه. توماس جیفرسن د امریکا یو بنسټ ایښودنکی او پخوانی ولسمشر به دې اړه وایي: که د امریکا خلک شخصي بانکونو ته د خپلو پیسو د عرضه کولو اجازه ورکړي لومړی له تورم او بیا د بیو د راټیټوالي په واسطه به بانکونو او شرکتونه چې هم مهاله به له دې پدیدې سره وده وکړیو له خلکو څخه ملکیتونه غلا کړي تر دې چې یو ورځ به یې ماشومان په بې کورۍ په هغې لویې وچې کې وزیږیږي چې پلرونو یې نیولې وه[1]. همدارنګه د امریکا یو بل بنسټ ایښودونکی ګورنر موریس په دې اړه وایي: پانګوال تل هڅه کوي چې خپل واک وساتي او پاتې خلک غلامان کړي. هغوی تل دا کار کړیدی او تل به یې کوي. که موږ د حکومت په مرسته هغوی په یوه محدوده کې ونه ساتو، هغوی به د نورو ځایونو په څیر دلته هم

---

[1] Patrick S. J. Carmack; The Money Changers; p 29

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله اغیزه ولري[۱]. د امریکا د دوو بنسټ ایښودونکو له مخالفت سره سره بیا هم بانکوال وتوانیدل چې د سیاسي مشرانو ترمنځ د نفوذ په مرسته د پیسو واک د امریکا کانګرس او حکومت ته ورنکړي او په مقابل کې یې د امریکا د لومړني بانک په نامه د امریکا د نوي بانک منشور د دې هیواد په کانګرس کې تصویب کړ.

د امریکا لومړنی بانک لومړنۍ پانګه لس ملیونه ډالره وه چې دوه ملیونه یې د فدرال حکومت او پاتې یې د شخصي پانګوالو د پانګې اچونې په واسطه شوې وه. د دې بانک له ۲۵ تنو مشرانو څخه یې پنځه تنه د حکومت او پاتې شل تنه یې د شخصي پانګوالو په واسطه ټاکل کیدل[۲].

د مشرانو په کمیټه کې د شخصي خلکو د شمیر د ډیروالي له امله به ډیری پریکړې د شخصي پانګوالو په ګټه کیدې. د انګلیس بانک په څیر د دې بانک نوم هم داسې ایښودل شوی وو چې خلک پرې د حکومتي بانک ګمان وکړي او همدارنګه یې هیڅکله فردي شریکانو نومونه رابرسېره نشي؛ خو ډیری محققین په دې باور دي چې راتشچایلډ د دې بانک یوه تر ټولو محرکه قوه ده. د امریکا دولت ډیر زر له دې بانک څخه پوروړی شو او توماس جیفرسن چې د دې پور په پایلو پوهیده په ناتوانۍ او غم سره له دې باک څخه د امریکا د مشرانو او دولت د غلامۍ نندارچي شو. په دې اړه یې پخپلې یوې بیانیې کې داسې وویل: هیله مې داده چې په اساسي قانون کې د اصلاح یو امکان موجود وای چې له فدرال حکومته یې د پور اخیستلو واک اخیستی وای[۳]. او همدارنګه یې په یو بل ځای کې وویل: په پوره باوري یم چې بانکي ټولنې له نظامي اردو څخه خطرناکې دي[٤]. کله چې توماس جیفرسن د امریکا ولسمشر شو، د بانکوالو او د هغوی د نورو ملګرو په ټولو هڅو سره یې بیا هم ورته د امریکا د لومړني بانک د جوړیدو اجازه ورنکړه. خو وروسته بیا بانکوال وتوانیدل چې د امریکا د لومړني بانک په څیر یو بل مرکزي بانک د امریکا د دویم بانک په نامه رامنځته کړي چې د امریکا د

---

[۱] Jannifer nedelsky; Private Property and the Limit of American Constitutionalism; p 80

[۲] Roger T. Johnson; Historical Beginning… the Federal Reserve; p 8

[۳] Congressional Record-Senate; Feb 10 1997; S-1148

[٤] Jeff Barnes; Children of Liberty; p 164

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحدو ايالتونو ديم بانک له لومړني سره ډيره ورته والی لره او يوازې لومړني پانګې سره توپير لره چې ۳۵ مليونه ډالره وه. د لومړي بانک په څير يې يو پر پنځمه برخه په حکومت اړه لرله او يو پر پنځمه برخه يې هم حکومتي مشرانو وو، همدارنګه د لومړي بانک په څير د دې بانک منشور هم د شلو کلنو لپاره تصويب شو[۱]. کله چې اندريو جکسن په ۱۸۲۹م کال کې د امريکا ولسمشر شو، د پيسو سره د تړلو دوکو او چل د سيستم په وړاندې يې مبارزه پيل کړه او پداسې حال کې د امريکا کانګرس څلور کاله تر وخت مخکې د متحدو ايالتونو د دويم بانک منشور نوی تصويب کړ، رئيس جمهور د رد له واک (ويټو) څخه کار واخيست او د دې مرکزي بانک د نوي والي مانع شو. د ولسمشرۍ په دويمه دوره کې جکسن خپل ماليې وزير ته له دې بانک څخه د حکومتي شتمنيو د را ايستلو فرمان صادر کړ، چې د ماليې وزير له کار څخه ډډه وکړه او جکسن مجبور شو چې د هغه د منفکۍ امر صادر کړي، تر ده وروسته د ماليې دويم وزير هم د لومړني په سرنوشت اخته شو تر دې چې له دې بانک څخه د حکومت د شتمنيو په راويستو باندې د دې څوکۍ دريېم وزير بريالی شو. ولسمشر د شخصي مرکزي بانک د له منځه وړلو په فکر کې وو، خو د پرنفوذه او شاوخوا خلکو له ډيرو مخالفتونو سره مخ شو. د هغه په اړه د مرکزي بانک رئيس وايي: دا لايق ولسمشر که دا فکر کوي چې په دې توانيدلی دی چې له هنديانو سره سرونه غوځ کړي او قاضيان بنديان کړي او فکر کوي چې لاس يې بانک ته هم رسيدای شي؛ نو تيروتنه کوي[۲]. په ولسمشر باندې فشار راوړلو لپاره مرکزي بانک له بازار څخه د پيسو راټولونه پيل کړه (Money Contraction) چې دې کار مالي ستونزه رامنځته کړه. همدارنګه بانکوالو د ولسمشر د وژلو هڅې هم وکړې د اسلحې د ناکاريدو له امله بريالی نه شول او د هغه تورن کس د رواني ناروغۍ د لرلو له امله خوشې شو. بانکوال د امريکا د متحدو ايالتونو په کانګرس کې د پياوړې ډلې په لرلو سره د امريکا په تاريخ کې د لومړۍ ځل لپاره د د ولسمشرۍ د سلبولو هڅه د رايو په اکثريت وکړه، خو ولسمشر جکسن

Roger T. Johnson; Historical Beginning.. The Federal Reserve; p 9 [۱]

Edward Kaplan; The Bank of the United State and American Economy; p 133 [۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقاومت وکړ او بالاخره یې مرکزي بانک داسې له منځه یوړ چې راتلونکو اویاوو کلونو پورې بل شخصي مرکزي بانک د امریکا په متحدو ایالتونو کې جوړ نشو. پداسې حال کې چې ولسمشر جکسن د مرکزي بانک له منځه وړل ځپل تر ټولو ستره بریا ګڼله، د بانکوالو د واک د راکمیدو لپاره یې کوم نوی سیستم رامنځته نکړای شو او بانکوالو د کوچنیو ایالتي بانکونو په واسطه د ذخیرې د یوې برخې په واسطه د بانکوالۍ پدیده (Fractional Reserve Banking) چې پکې بانکوال کولی شي د لږې ذخیرې په مرسته د ذخیرې د څو چنده بانکنوټونه عرضه کړي (د بیلګې په توګه که د ۱۰۰۰ افغانیو سره زر ولري، د ۱۰۰۰۰ افغانیو په اندازه بانک نوټونه عرضه کولی شي) په دې توګه یې د پیسو په مهار کولو لاس پورې کړ او له هیڅ څخه یې سرمایه لاسته راوړله. د پیسو دې سیستم تر ۱۸۶۱م کال پورې د بانکوالو واک زیات کړ او د عوامو له پانګو یې خپله ډیروله تر دې چې د امریکا شپاړلسم ولسمشر ابراهام لنکن وغوښتل ترڅو له بانکوالو څخه واک په پوره توګه واخلي او د پیسو کنترول حکومت ته ورکړي، نو له دې امله یې د شنو پیسو (GreenBuck) په نوم نوی پیسې چې د حکومت لخوا چاپیدلی، لاس پورې کړ او ویې غوښتل چې د حکومت پور له منځه یوسي. د لنکن پرمهال، په امریکا کې داخلي جګړې پیل شوې او همدارنګه اروپایي قدرتونو چې د لنکن د پیسو سیستم یې خطرناکه ګڼه، غوښتل په امریکا حمله وکړي. پداسې حال کې چې په لنکن باندې داخلي او بهرني فشارونه مخ په زیاتیدو وو، تزاري روسیې د لنکن مرستې ته راودانګل، هغه په دې پوهیده چې د دې پردې تر شا د اروپا بانکوال دي او تر امریکا وروستۍ موخه روسیه ده. تزاري روسیې له ولسمشر لنکن سره د داخلي جګړې د لمنځه وړلو لپاره له مالي مرسته پرته په امریکا باندې حمله د تزار په امپراتورۍ حمله وګڼله چې لنکن یې د رامنځته شوي بحران څخه وژغوره.

خو مخکې له دې چې لنکن وتوانیږي د پیسو یو داسې سیستم رامنځته کړي چې د حکومت په لاس کې وي او دا کار قانوني کړي، د اروپایي بانکوالو په واسطه ووژل شو، چې د اروپایي بانکوالو په واسطه د دې کار ثبوت د ده له مرګ څخه څو کاله وروسته یو کاناډایي خبریال ته په لاس ورغی چې له یو امریکایي جاسوس څخه یې ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وو او په کاناډایي ورځپاڼه کې یې داسې ولیکل: د غلامانو ازادوونکی ښاغلی ابراهام لنکن، د یوې ډلې د دسیسې په واسطه چې د نړیوالو بانکوالو استازیتوب یې کاوه، ووژل شو[۱]. لنکن تر مرگ وړاندې په یوه لیک کې خپل ملگري ته داسې لیکلي وو: د سولې پرمهال د پیسو ملت د ځان ښکار کوي او د بدبختۍ پرمهال یې د ملت په وړاندې ترې توطیه جوړوي. د پیسو واک له سطلنت څخه ظالم، له اوتوکراسۍ څخه گستاخ تر او بروکراسۍ څخه ځان غوښتونکی دی[۲]. اوتوون بیسمارک د جرمني حاکم د لنکن د قتل په اړه داسې وایي:

د لنکن مړینه د مسیحیت لپاره یوه فاجعه ده. زه دا ویره لرم چې بهرني بانکوال پخپلو ماهرانه چلونو سره د امریکا ټول شتمني په واک واخلي او ترې د یو عصري سیستماتیک تمدن د خرابولو لپآره کار واخلي[۳]. د لنکن په له منځه تلو سره، شنې پیسې چې حکمي پیسې یعنی ملاتړ یې نلره او د بازار د غوښتنې سره سم په ډیره اندازه د داخلي جگړې د مصارفو لپآره چاپ شوی وی، خپل ارزښت له لاسه ورکړ تر دې چې د سرو زرو په ملاتړ سره پیسو تر داخلي جگړو ځوارلس کاله وروسته د بانکوال د فشاروو له مخې ځای ونیو. همدارنگه د لنکن د حکومت د بانکوالۍ ملي قانون چې د ایالتي بانکونو په واسطه یې د بانکنوټونو عرضه کول منع کړی وو او دا صلاحیت یې څو سترو بانکونو ته ورکړی وو چې منشور یې د فدرال حکومت په واسطه تصویب شوی و، تر ډیرو کلونو یې دوام وکړ. خو ستونزه دا وه چې دې بانکونو د وال سټریټ (Wall Street) په مرکزیت سره فعالیت کاوه او د بانکوالی د قدرت د ملي باکوالۍ سیستم یې سلب کړی و او حکومت د بانکوالو په پرتله پیاوړی کیده چې بانکوال له دې حالت څخه ناخوښه وو او په امریکا کې د شخصي مرکزي بانک د جوړولو په هڅه کې شول، ځکه یوازې همداسې یو بانک کولې شي چې د بانکوالو دایمي قدرت تضمین کړي. بانکوالو د خپلو سیاسي پیاوړو ډلو په واسطه، د انډیانا پولس (Indianapolis) په نوم د

[۱] Michael A. Kirchubel; Vile Acts of Evil- Volume 1- Banking in America; p 62

[۲] Ron Hayhurst; How to Interpret History; 63

[۳] Chris Waltik; Wealth Builgind Strategies in Enery, Metals and Other Markets; p 182

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسو يو کميسيون جوړ کړ ترڅو په خپلې ګټې سره د پيسو سيستم اصلاح کړي. د دې کميسيون ډيره غړي داسې څوک چې په بانکوالو او سترو شتمنانو پورې يې تړاو لره او دې پانګوالو په دې کميسيون کې له پنځه سوه زره ډالرو څخه ډيره پانګه اچونه وکړه[۱]. بالاخره

د دې کمسيون وروستي راپور د يو مرکزي بانک د جوړولو وړانديز وکړ چې يوازې پيسې به عرضه کوي[۲]. اصلاح غوښتونکي يا هغو کسان چې غوښتل يې اوسنی سيستم د پرمختګ مانع وښيي او يو مرکزي بانک جوړ، په ۱۹۰۰م کال کې وتوانيدل ترڅو د سرو زرو د معيار قانون چې تولې پيسې پکې سره زر او يا هم د سرو زرو پشتوانه وه، تصويب کړ. خو دا کار د پيسو د اوسني سيستم په لمنځه وړلو پيل شو او دا قانون يې د ملي بانکوالۍ د سيتم د اصلاح لپاره پرانيسته، په دې اړه فرنک ويليم امريکايي اقتصاد پوه ليکي: دا واضح او ښکاره ده چې بالاخره کانګرس يو وار بيا د ملي بانکوالۍ د سيتم په بدلون مجبوريږي[۳]. د جيمز ليونګستن په نوم امريکايي مؤرخ ليکي: دا ماده د يو مرکزي بانک د رامنځته کيدو لپاره د لومړني قدم په توګه جوړه شوې وه[٤]. بالاخره، په ۱۹۱۳م کال کې بانکوال د امريکا د فدرالي ذخيروي بانک (Federal Reserve Bank) په نوم د يو شخصي مرکزي نوي بانک په جوړيدو بريالی شول چې د نوم پرخلاف يې نه د فدرال حکومت پورې تړلې يو بانک وو او نه د پيسو له عرض کولو سره د سره زرو د ذخيرې لپاره يې لازمه اندازه لرله.که څه هم بانکوالو د نوي سيستم نوم د سرو زرو په پشتوانی سره د پيسو يا سرو زرو د معيار سيستم نوموه، د نوی پيسو ماهيت دا ډول خواص نلرل، بلکې په حقيقت کې د سرو زرو د معيار د اغوا کوونکي په نوم يې کاغذي تورمي پيسې رامنځته کړی. کله چې په نړی باندې د دجال د لومړۍ ورځې

---

[۱] Murray N. Rothbard; The Origins of the Federal Reserve; p 23

[۲] The Final Report of Indianapolis Monetary Commission; Journal of Political Economy 6 (June, 1898); pp 293-293-322

[۳] Frank W. Taussig; The Currency Act of 1900, Quarterly Uournal of Economics 14 (may, 1900); p 414

[٤] james Livengston; Origins of Federal Resurve System: Money, Class, and Corporate Capitalism, 1890-1913; pp 150-154

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیاتي مرکز واک لره او پکس برتانیکا (Pax-Britannica) ورته ویل کیده، د سرو زرو د معیار اغواکوونکي تر نامه لاندې يې، د سرو زرو د يوې سترز اندازې په راټولو سره چې له افریقا، هندوستان او نورو مستعمرو څخه يې راغلا کړې وې، داسې يو سیستم جوړ کړ چې د نړۍ یوازیني پیسې چې له سرو زرو سره بدلیدې، استرلنګ پونډ وو او په حقیقت کې استرلنګ پونډ په نړیوال بازار کې د سرو زرو په توګه پیژندل کیدی او نورو هیوادونو د سرو زرو د ذخیرې پرځای استرلنګ پونډ ذخیره کاوه چې دې کار د استرلنګ پونډ ارزښت نور هم لوړوه او دا چې استرلنګ پوند ته نړیواله اړتیا پیدا کیده، نو له ډیر چاپ سره سره يې بیا هم خپل ارزښ له لاسه ورنکړ او برتانیې د نړۍ د با ارزښتنه سرچینې د هغو پیسو په وړاندې چې هیڅ ذاتي ارزښت يې نه لره، لاسته راوړې.

د پیړیو لپاره برتانیې په دې فاسد نړیوال سیستم لاس پورې کړی وو او اوس دا مردادہ دنده د دجال د دویمې ورځې عملیاتي مرکز او امریکا ته انتقال شوه. په لومړي ګام کې، امریکا د خپلو خلکو د پانګولو د کنترول او د امریکایانو د غلامۍ د زمینې د برابرولو لپاره داسې کار وکړ چې د بشریت د تاریخ تر ټولو ستره غلا يې ګڼلی شو. د امریکا دولت د سرو زرو د سکو لرل د دې هیواد اوسیدونکو ته منع اعلان کړل. په هغې وخت کې د سرو زرو هر اونس د ۲۰ ډالرو ارزښت لره او خلکو د سرو زرو هر اونس د شلو ډالرو په وړاندې بانک ته وسپارل. وروسته د ۱۹۳۴م کال په جنورۍ کې د امریکا حکومت د ډالرو ارزښت د سرو زرو په وړاندې ۴۱ سلنه راکم کړ او بیا يې د سرو زرو د لرلو قانون باطل کړ. د امریکا خلک بیرته بانکونو ته ورغلل (د ډالرو په وړاندې د بې اعتبارۍ له امله) او بیرته يې هر اونس سره زر بیرته د ۳۵ ډالرو په وړاندې وپیرودل او په دې کار سره خپله ۴۱ سلنه پانګه له لاسه ورکړه[۱].

د نړیوالو بانکوالو او یا انترناسیونالیسستانو وروستی هدف چې د یو نړیوال حکومت د رامنځته کولو په هڅه کې وو، یوازې امریکا نه وه، بلکې په ټوله نړۍ يې اقتصادي، سیاسي او فرهنګي راج غوښته.

---

۱ Imran N. Hosein; The Gold Dinar and Silver Dirham: Islam and the Future of Money; p 35

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې امله يې د امريکا په علمي، څېړنيزو ټولنو، رسنيو، سياسي گوند او مدني ټولنو کې د پيسو په مصروفولو سره د ازاد بازار اقتصادي نظام او ليبراليستي نظريو په علمي ښودلو لاس پورې کړ او د خپلو پلانونو د تطبيق لپاره يې نړيوالې ټولنې رامنځته کړې. تر دويمې نړيوالې جگړې وروسته چې نړۍ له پکس برتانيکا څخه پکس امريکانا (Pas-Americana) په لور په حرکت کې وه، د ملگرو ملتونو په څير د نړيوالو سياسي سازمانونو د جوړولو ترڅنگ يې د برټن ووډز په کنفرانس کې د اقتصادي نړيواله ټولنه هم په امريکا کې جوړه کړه.

**بريټن ووډز (Bretton Woods)**

کله چې د نړۍ هيوادونه په دويمه نړيواله جگړه اخته وو، د امريکا د متحدو ايالتو په نوي همشاير ايالت برټن ووډز کې د امريکا او برتانيې په مشر ۴۴ هيوادونو د ۱۹۴۴م کال د جولای په مياشت کې تر جگړې وروسته د اقتصادي طرحو په اړه خبرې اترې وکړې. د دويمې نړيوالې جگړې پرمهال، ډېرو هيوادونو د جگړې د مصارفو لپاره زياتې پيسې چاپ کړې وې او له دې امله يې له سرو زرو سره د هغې د تبادلې وړتيا له منځه يوړه چې د پيسو د تورم سبب شو او د بريټن ووډز د کنفرانس د گډونوالو لپاره ښه چانس گڼل کيده څو د نظر وړ هوکړه ليک لاسليک کړي. د بريټن ووډز کنفرانس په دريو کميسيونو ويشل شوی وو چې لومړی هغه يې د پيسو نړيوال صندوق، دويم کمسيون يې د بيا رغونې او پراختيا بانک چې وروسته په نړيوال بانک واوښت او درېيم کميسيون يې داسې ټولنه رامنځته کړه چې د نړيوالو اقتصادي همکاريو بله وسيله تر بحث لاندې ونيسي.

پداسې حال کې چې ډېری هيوادونو فکر کاوه چې دد کنفرانس د هوکړه ليک په مادو کې تصميم نيوونکي دي، د امريکا او برتانيې ترمنځ په ۱۹۴۲م کال کې په غير رسمي توگه په دې اړه خبرې اترې پيل شوې وې. امريکايانو له برتانويانو او نورو هيوادونو له استازو سره د ۱۹۴۳م کال تر اوړي پورې خبرې اترو ته ادامه ورکړه. د امريکا او برتانيې د استازو ترمنځ د ۱۹۴۳م کال د جون په ۲۲ او ۲۳ نيټه د ليدنو پرمهال د يو نړيوال کنفرانس کې د پيسو د نړيوال صندوق په اړه د يوې گډې بيانې پلان جوړ شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا او برتانیې استازو د سپتمبر له ۱۵ څخه د اکتوبر تر نهمې نیټې پورې نهه ځله ناسته وکړه. د پیسو د نړیوالو صندوق د رامنځته کیدو په اړه د کارپوهانو د کډې بیانیې هوکړه لیک د ۱۹۴۴م کال په اپریل کې لاسلیک شو، پداسې حال کې چې په دې هوکړه لیک کې د پیسو د نړیوال صندوق او د بیا رغونې د بانک او نړیوال انکشاف په اړه ټول موضوعات نه وو یاد شوي، یوه لاره یې د برټن ووډز لپاره چې د امریکا او برتانیې استازو په کې موافقه کړیوه برابره کړه او امریکا او برتانیې هغه په نورو هیوادونو ومنله[1].

د بریټن ووډز د کنفرانس پایله له دریو نړیوالو اقتصادي ټولنو له جوړیدو څخه عبارت وو چې پکې د پیسو نړیوال صندوق (IMF)، د پرمختګ او بیا رغونې نړیوال بانک (IBRD) یا اوسنی نړیوال بانک (WB) او د سوداګرۍ نړیوال سازمان (ITO) چې وروسته په سوداګرۍ او تعرفو باندې د عمومې هوکړې (GATT) په نامه بدل شو او اوس د سوداګرۍ د نړیوال سازمان (WTO) په نامه پیژندل کیږي، شامل دي.

له دې پرته دې کنفرانس داسې موافقت نامه لاسلیک کړه چې د هغې قوانین د غرب او په ځانګړې توګه د امریکا د ګټو تضمیمن کوونکی او اوسمهال د امریکا د بهرنې سیاست یوه ستره وسله ګڼل کیږي. د یادو ټولنو د اداره کولو سیستم دموکراتیک نه وو او هر غړي هیواد پکې د مساوي پریکړې د لرلو حق نلري، بلکې امریکا پکې د ځو غړو د رای ورکولو حق لري او اداره یې له واشنګټن څخه کیږي. د برټن ووډز هوکړه لیک پداسې شرایطو کې لاسلیک شو چې په جګړه کې ډیری ښکیلو هیوادونو ورته کافي وخت نه لره او حتی د دې کنفرانس غړو هیوادونو ډیرو استازو حتی د کنفرانس رسمي ژبه (انګلیسي) هم زده نه وه او د دې هوکړې لیک سخت متنونه یې په سمه توګه نشو تحلیل کولی، چې په دې اړه ون دارمل لیکلي: په برټن ووډز کې د ۴۴ هیوادونو استازو داسې موافقت نامه لاسلیک کړه چې د هغې لوستلو ته یې وخت نلره[2].

---

[1] Mikesell R; The Bretton Woods Debates: a Memoir, Essay on International Finance; p 192

[2] Van A. Dormael; Bretton Woods: Birth of Monetary System; p 226

(c) ketabton.com: The Digital Library



د برتن ووډز کنفرانس چې د امریکا د مالیې وزیر او همدارنګه د هغې درې کمیسیونونه د امریکایانو او برتانویانو په واسطه اداره کیدل د نویو تشکیل شویو سازمانونو په چوکاټ کې یې د نړیوالې ذخیروي پیسو په توګه امریکایي ډالر داسې تصویب کړل چې د سرو زرو یو انس له ۳۵ ډالرو سره معال وو او نورې ملي پیسې د تبادلې د یو ثابت نرخ سره د ډالر او یا هم د هغې د سرو زرو په وړاندې د بدلیدو وړ وي. په سرو باندز د ډالرو د بدلونې حق یوازې په حکومتونو او دولتونو پورې تړلی وو او خلکو نشو کولي خپلې پیسې په سرو زرو سره بدلې کړي. هیڅ هیواد حق نلره چې خپلې پیسې د پیسو د نړیوال صندوق له اجازې په ۱,۵ سلنو او د دې سازمان د غړو له اجازې پرته له ۸ سلنو ډیره کم ارزښته کړي. په دې سره، امریکایي ډالرو د هغې لوړې غوښتنې له مخې چې په نړیوال بازار کې یې پیدا کړی وو او ټولو غړو هیوادونو هغه د هیواد د پانګې په توګه ذخیره کولې، د نړۍ تر ټولو ستره با ارزښته پیسه شوه او امریکا هم د نیوالو غوښتنې لیده او له موقع یې ګټه پورته کوله، ډیر اندازه ډالر یې چاپول، پداسې حال کې چې د سرو زرو لړه فیصدي د چاپ شویو ډالرو له اندازې سره یې سمه ذخیره نه لرله.

په دې کار سره امریکا د برتانیې ځای ونیو او د نړۍ د ستر او پیاوړي اقتصاد په توګه په نړۍ کې راڅرګند شو. خو د امریکا او برتاینې موخه د بریتن ووډزر هوکړه لیک ته پابندي نه وه، بلکې له دې موافقت نامې څخه یې د نورو هیوادونو د غلام کولو او بیلوالي په توګه کار اخیسته.

د تبادلې ثابت نرخ داسې تصویب شوی وو چې اسټرلنګ پونډ د نړۍ تر ټولو لوړه پیسې په توګه تقریباً د ډالر څلور چنده ارزښت لره چې دا کار په نړیوال بازار کې د برتانیې د تولیداتو د لوړیدو باعث شو او له همدې امله د برتانیې د تولیداتو لپاره غوښتنه راکمه شوه او د برتانیې دولت د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۹م کال کې خپله پیسه د برټن ووډز د هوکړه لیک پرخلاف چې خپله لاسلیک کړیوه د د پیسو د نړیوال صندوق او د دې سازمان د غړو له اجازې پرته ۳۰,۵ سلنه رانبکته کړه او په کرار کرار ډول یې د خپلو پیسو د ارزښت په راکمولو پیل وکړ چې د ډالرو په وړاندې د نړیوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې اعتبارۍ سبب شو. په ۱۹۷۰م کلونو کې فرانسې کله چې د ډالرو د ارزښت نوساني کيدل ليده، خپلې ډالري ذخيرې يې د امريکا په لور واستولې او په وړاندې يې د سرو زرو غوښتونکې شوه او دا چې امريکا عرضه شويو ډالرو په اندېا ذخيره شوي سره زر په بدل کې نه لرل، په ډېره بې شرماه توگه يې د خپل مسووليت څخه چې په لاسليک شوي هوکړه ليک کې کړيوه او مشري يې هم په غاړه وه، سرغړونه وکړه او ريچارډ نکسن د فرانسې دولت ته د يوې بيانيې په ترځ کې وويل: رقيبانو په ورسوتيو اوونيو کې د امريکايي ډالر په وړاندې عيار جنگ په لاره واچوه...

نو له دې امله ما هم د ماليې وزير ته امر وکړ چې د ډالرو څخه د دفاع لپاره د رقيبانو په وړاندې لازمې کړنې ترسره کړي. ما وزير کونلي (Konly) ته امر وکړ څو په موقتي توگه له ډالرو سره د سرو زرو او نورو ذخيره شويو پانگونو بدلونه ودروي. يوازې پرته له دې چې د امريکا د متحدو ايالاتو او پيسو د ثبات په گټه وي[1]. ريچاډ نکسن د بريتن ووډز سيستم په پوره توگه له منځه يوړه د اسعارو د بدولنې د ثابت نرخ د له منځه تلو سبب شو او د نړۍ پيسې له کوم ذاتي ارزښت او پشتوانۍ پرته د چاپ شويو شميرو سره د يو کاغذ په شکل تر اوسه د تاويدو په حال کې دي. يوازې هغه څه يې چې تر اوس پورې د بريتن ووډز له کنفرانس څخه پاتې دي د امريکا تر مشرۍ لاندې د يو ناليدونکي ظلم په توگه نړيوالې ټولنې دي. ريچارډ نيکسن د ډالر د بحراني حالت لپآره د حلارې په فکر کې شو او د ډالر د نړيوال ارزښت د ساتنې لپاره يې د پطرو ډالر (Petrodollar) عالي نظريه وړاندې کړه. د ډالرو په حکمي (له پشتوانۍ پرته) کيدو سره، نورو هيوادونو د ډالرو ذخيره کيدو ته دلچسپي نلرله او که ټولو هيوادونو له بانکي ذخيرو څخه خپل ډالرو ويستل او په امريکا کې ښکته پورته کيدل نو په باور سره به د پيسو تورم د ډالرو د سقوط لامل گرځيدلی وي، امريکايي ډالر له منځه تلل او د امريکا امپراتورۍ تر ځوانيدو وړاندې د مرگ مزه څکله. خو ريچارډ نکسن د ډالرو د نړيوالې غوښتنې د ساتنې لپاره سعودي عربستان ته سفر وکړ او د دې هيواد شاهي کورنۍ يې په دې قانع کړه څو د وخت تر ټولو د ستر اقتصادي توليد (نفت) خرڅلاو يوازې د ډالرو

[1] Kamran Dakhah; The Evolution of Macroeconomic Theory and Policy; p 118

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندې ترسره کړي او د دې کار په بدل کې ورته امریکا د آل سعود کورنۍ ته د بهرنیو او داخلي ګواښونو په وړاندې شاهي کورنۍ ته د ساتنې وعده ورکړه.
تر سعودي عربستان وروسته، د اوپک (OPEC) غړو هیوادونو او بیا وروسته د نفتو ټولو صادروونکو هیوادونو خپل نفت د ډالرو په وړاندې خرڅول، یعني که کوم هیواد غوښتل نفت واخلي، نو لومړی یې باید ډالر پیرلی وای او د اخیستل شویو ډالرو څخه وروسته یې نفت اخیستلی شوای. په همدې توګه ډالر یو وار بیا د نړیوالې پیسې په توګه اوس د پطروډالر په نامه پیژندل کیږي، یو وار بیا یې په نړۍ کې د امریکا واکمني تضمین کړه او د عثماني خلافت له منځه وړلو وروسته د آل سعود کورنۍ دویم ستر خیانت له اسلامي نړۍ او بشریت سره ترسره کړ. د ډالرو په حکمي کیدو سره، د امریکا د ذخیروي بانک او د ټولو شخصي مرکزي بانکونو برخوال چې په یو ډول له یارلسو کورنیو سره تړاو لري او د راتشچایلډ په کار ځای کې نړیوال ستر پلان جوړ کړی وو، پرته له دې چې د کوم شخصي، حکومتي او نړیوال سازمان لخوا وڅارل شوې، د کاغذي پیسو په چاپ لاس پورې کړ او له هیڅ څخه یې نه باوریدونکی پانګه تولید کړه او د نړۍ ټول حکومتونه یې پوروړي کړل چې نړیوال ناخالص مقروضیت په ۲۰۱۵م کال کې ۱۵۲ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده[۱]. د ټولو هیوادونو (ځمکې) د مقروضیت مجموعه ۱۵۲ تریلیونه ډالرو ته رسیده، خو پوښتنه داده چې ځمکه له چا څخه پوروړې ده؟

په باوري توګه چې ځمکې له مریخ او یا هم له کومې بلې سیارې څخه پور نه دی اخیستی، بلکې هیوادونو له شخصي بانکونو څخه د دولتي کړنو د مالي وجوهو د ترسره کولو لپاره پور اخیستی دی او نړیوال بانکوال چې تر اوسه هم د خپل هویت له ښکاره کولو څخه ډډه کوي، د حکومتونو لرونکې دي او ولسمشران یې د نانځکو په څیر ساز ته ګډیږي. امریکایي سناتور د امریکا د فدرالي ذخیروي بانک په اړه وایي: ډیری امریکایان د پیسو د نړیوال پور ورکونکو څخه واقعي پوهه نلري... د ذخیروي فدرالي

---

[۱] International Monetary Fund (IMF); World Economic and Financial Surveys: Fiscal Monitor; Debt: Use it Wisely; Oct 2016; p1

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستم حساب هیڅکله څارل شوی نه دی، دا سیستم د کانگرس له کنترول څخه بهر عمل کوي[۱] سره له دې چې امریکا د برتن ووډزر سییستم مات کړ، د دې هوکړه لیک پواسطه د رامنځته شویو ټولنو د فقر رامنځته کولو او یکه تازی (Hegemony) کولو نړیوال کولو لپاره کار اخلي.

اقتصادي مستعمره کول او غیر سیاسي مستعمره کول د برتن ووډز تر کنفرانس وروسته پداسې حال کې چې غربیانو له مستعمره هیوادونو څخه په ظاهري بڼه نظامي او سیاسي توگه پریښود، خو د بیلابیلو اقتصادي سازمانونو لکه د پیسو د نړیوال صندوق ، نړیوال بانک او نړیوال سوداگرۍ سازمان په رامنځته کولو سره ددې هیوادونو په اقتصادي استعمار یې لاس پورې کړ.

نړۍ اوس د غرب تر کنترول الندې سازمانونو په واسطه اداره کیږي چې عبارت دي له د امریکا د متحدو ایالتو په مشرۍ د G7[۲] او G8[۳] په واسطه د پیسو د نړیوال صندوق، نړیوال بانک، د نړیوال سوداگرۍ سازمان او د اقتصادي پراختیا او همکارۍ سازمان (OECD) په واسطه اداره کیږي[٤]. د امریکا په مشرۍ د پیسو د نړیوال صندوق، نړیوال بانک او نړیوال سوداگریز سازمان په څیر سازمانونه د نړۍ د غلامۍ یو خطرناک مثلث جوړ کړیدی. د نړۍ غلامي د دې خطرناک مثلث په مرسته هغه مهال شونې ده چې فقر ټوله نړۍ ونیسي او هیوادونو له دې سازمانونو څخه سوال او خیر غوښتلو ته مجبور شي او له فقر څخه د خلاصي لپاره له سود سره تړلي پورونه او داسې پالیسۍ ومني چې د اقتصادي غلامۍ ترڅنگ نور فقر هم وزیږوي. د دې لپاره چې نړیوال د نړیوال حکومت یا نوي نړیوال نظم ته گونډه ووهي، باید لومړی د غلامۍ سیستم داسې ته لاړ شي چې د نړیوال حکومت لپاره کار کوي او بالاخره یې مسیح الدجال د مشر په توگه وي. اقتصادي غلامي ددې سیستم تر ټولو مهم برخه ده چې د هغې تگلارې داسې

---

[۱] Patrick S. J. Carmack; The money Changers; p 4

[۲] G7 یا د اوو پیاوړو هیوادونو ډله چې پکې امریکا، کاناډا، فرانسه، جرمني، ایټالیا، جاپان او انگلستان شامل دي.

[۳] G8 یا د اروپایي اتحادیې په شمول اووه گونې ډله

[٤] Richard Peet; Unholy Trinity: The IMF, World Bank and WTO; p 62

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړې شوې دي څو د امریکا په مشرۍ اقتصادي سازمانونه، لومړی فقیر هیوادونه هدف وټاکي او بیا فقر په ټوله نړۍ کې نړیوال کړي.

د سترو غربي هیوادونو له سیاست پوهانو چې له پیړیو راهیسې ترې بانکونو د دې نړیوالې طرحې لپاره د نانځکو په توګه کار اخیستی د ټولې نړۍ د نانځکې کیدو لپاره ترې کار اخلي. د دې لپاره چې یو هیواد او خلک یې د غلامۍ سیستم ومنیږ باید دومره مجبور شي چې د غلامۍ له منلو پرته بل بدیل ونلري او هغه یوازینې لاره چې هیوادونه یې د غلامۍ منلو ته مجبور کړیدي، د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د سازمانونو په واسطه د دې هیوادونو پوروړي کول دي. د اسعارو د نرخ د ثابتې تبادلې د سیستم تر له منځه تلو وروسته د هیوادونو ملي پیسې په پوره توګه په تورمي پیسو بدلې شوی چې تل یې ارزښت د نوسان په حال کې وي او په دې سره یې د پیسو د نړیوال صندوق لپاره چې د پیسو د نړیوالو قوانینو او اړیکو د تنیمولو یوازینې سازمان دی، د ټولو هیوادونو د پیسو د ارزښت د مهار کولو چانس برابر کړیدی. د دې لپاره چې هیوادونه له نړیوال بانک او د پیسو د نړیوال صندوق څخه د پور اخیستلو لپاره مجبور شي د دې هیوادونو پیسې د همدې سازمان لخوا کم ارزښته کیږي او دولتونه د بودیجې د برابرولو لپاره له دې سازمان څخه پور اخیستو ته مجبوریږي او که کوم هیواد مقاومت وښیي، د هغه هیواد مشرانو ته د رشوت ورکولو هڅه کوي او کله چې یې مشران فاسد نه وي یا دا چې د امریکا د جاسوسۍ د سازمان لخوا وژل کیږي او یا د امریکا په مشرۍ د ناټو په نظامي لاسوهنې په واسطه د مقاومو هیوادونو نظام له منځه ځي[1].اوسنی اقتصادي سیستم خلکو ته د علمي ټولنو او د غربي رسنیو لخوا داسې بغرنج ښودل کیږي چې عام خلک پرې نه شي پوهیدلی او اقتصادي کار پوهان د هغو علمي کتابونو په واسطه چې د غربي ټولنو لخوا یې د سانسور مرحله تیره کړیوي وي، اکتفا کوي. نو له دې امله د برټن ووډز سازمانونو ته پراختیا ورکوي او د خپل هیواد د پراختیا لپاه د دې سازمانو غړیتوب یو حتمي کار ګڼي، پداسې حال کې د دې هیوادونو پورونه له دوو خطرناکو پدیدو سود او د ساختماري تعدیل په څیر مشروطیتونو

[1] لا زیات معلومات د یو اقتصادي جنایتکار د اعترافونو په کتاب کې چې د جان پرکینز لیکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ملې وي. دا ټولنې په دې پوهيږي چې هيوادونه يې له ورکړل شويو قرضونو او ورسره د اړوند سود له زوره نشي وتلی، د ملي قرضونو د پراخولو لپاره يې داسې قرض ورکوي چې اکثر د قرض اخيستونکو هيوادونو په داخل کې نه وي او پوروړي هيوادونه د اخيستل شوي قرض له باره نه شي وتلی، سربيره پرې هر کال کلنې گټې فيصدي هم ورزياتيږي او د دې سترو قرضونو کې ډوبيږي. هغه هيوادونو چې ښه اقتاصدي پاليسۍ او سرچينې لري او کولی شي اخيستل شوی پور بيرته ورکړي، د دې سازمانونو لخوا د اقتصادي يرغلونو لاندې د پويس د ارزښت په مهار کولو لاندې راولي. ځکه دا سازمانونه دا سازمانونه هيڅ هيواد له پور څخه ازاد نه غواړي. د ملي پيسو بې ثباته کول د نړيوال بانک او د پيسو د نړيوال صندوق د پټو اجنډاوو يوه کليدي موخه ده.

د پيسو د کم ارزښته کول په ناڅاپي او سمدستي توگه د بيو د لوړوالي لامل گرځي او په ورته وخت کې د کاري قوې د ارزښت او واقعي عايد د راښکته کيدو لامل گرځي[1].

همدارنگه دا بحران د پورونو د بيرته اداکولو د سختوالي لامل گرځي او ياد هيواد همداسې پوروړې پاتې کيږي. کله چې هيوادونه د پور په ورکړې ناتوانه شي، دا سازمانونه د يو ملاتړي په توگه د بربادۍ له يوې نوی نسخې سره راڅرگنديږي او د پخوانيو قرضونو د ادا کولو لپاره، نوي قرضونه د اصلاحاتو په څير له نويو شرايطو سره ورته وړاندې کوي. د نوي قرض له جملې څخه ډير برخه په پخوانيو حسابونو کې پاتې کيږي او ډيره لږه برخه يې هيوادونو ته د اقتصادي پاليسو د اصلاح لپاره ښکته پورته کيږي. د پيسو د نړيوال صندوق تر واک لاندې د بوديجې د سختوالي پاليسي(budgetary austerity) ، کم ارزښته کول، د سوداگرۍ ازادۍ او شخصي کول په ۱۵۰ پوروړو هيوادونو کې عملی کيږي. پوروړي ملتونه د مرکزي بانک او اقتصاد وزارت د حاکميت حق ته په غاړې اېښودنې مجبوريږي

چې د يو کلن اقتصادي او پيسو پاليسۍ کنترول په غاړه لري، دولتي ټولنې له منځه ځي او د اقتصادي سرپرستي يو سيستم (د واشنگټن تر مشرۍ لاندې د ټولنو په واسطه رامنځته کيږي. يو موازي دولت چې واک يې له مدني ټولنې څخه زيات وي، د

---

[1] Michel Chossudovsky; The Globalization of Poverty and the New World order; p 48

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال اقتصادي سازمانونو لخوا جوړیږي. هغه هیوادونه چې د پیسو د نړیوال صندوق د کړنو او موخو سره سم عمل نه کوي، تور لیست ته لویږي[۱].

کله چې هیوادونه د خپل قرض د بیرته ورکولو توان ونلري، د واشنګټن تر مشرۍ لاندې اقتصادي ټولنې د حکومت د مصارفو د راکمولو او د عایداتو د زیاتوالي لپاره د اقتصادي سختوالي پالیسي (Austerity) وړاندې کوي. اقتصادي سختوالی هغه پالیسۍ ته ویل کیږي چې موخه د حکومت د اقتصاد ښه وي. په دې پالیسۍ کې په عمده توګه د عامه سکتور د دندو کموالی، د عامه خدماتو کارمندانو ته د امتیازونو او اضافه کاریو کموالی، د دولتي ټولنو شخصي کول او د دولتي خدماتو کموالی پکې شامل دي. د دې ډول پالیسو بنسټیز هدف د حکومتي مصارفو راکمول او د قرضونو ورکول دي[۲].

دا چې په ښکاره توګه هیوادونه خپل پور ادا کړي، پرته له دې چې خپل کارمندان منفک کړي او د پاتې شویو کارمندانو امتیازونه راکم کړي په خلکو او په ځانګړې توګه په ټیټو منځنیو طبقو خلکو باندې درنې مالیې وضع کوي ځکه نړیوال شرکتونو د بهرنۍ پانګې اچونې په لیوالتیا سره له دې مالیو څخه معاف کیږي. د حکومتونو په واسطه د کارکوونکو راکمول د بیکارۍ د کچې د زیاتوالي لامل ګرځي او همدارنګه د امتیازونو راکمول او مالیو لوړول د فقر لامل ګرځي چې دا هم د واشنګټن یو عمده موخه ده، ځکه چې د غریبو خلکو کنترول او تر واک لاندې کول اسانه کیږي. یوه ژوندۍ بیلګه یې په اوسني یونان کې لیدلی شو. الکسس سپراس (Alexis Tsipras) د چپ پالو یا سریزا (Syriza) له ګوند څخه د یونان صدارت ته کاندید د یونان په ټاکنیزو سیالیو کې یې د سخت پالنې پرضد شعارونه ورکړل او د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د سخت پالو پالیسو سازمانونو او اروپایي اقتصادي ټولنو څخه د یونان سترو شوو خلکو ده ته په دې هیله رایه ورکړه چې دا اقتصادي سخت پالنه به له منځه یوسي. کله چې د یونان صدراعظم شو او ویې غوښتل چې د یونان د سخت پالنې

---

[۱] همدا سرچینه؛ ۱۹ مخ

[۲] European Union Center of North Carolina; EU Briefings, Policy Area: The Politics of Austerity; p 1

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسۍ په منځه یوسي. د ظالم اقتصادي ټولنو له خوا یې دوه انتخابه ولیدل: یا به ددې سازمانونو پالیسیانې مني او به هم د اروپا له اتحادیې څخه وځي. اکسس سپراس د دوو ټاکنو انتخابول د عمومي رایو لپاره خلکو ته پریښودل او په ۲۰۱۵ م کال کې یې د ټولپوښتنې لپاره عمومي رایې په لاره واچولې؛ خو د عموي رایو پرخلاف د غرب د ټولنې تر فشار لاندې یې یو وار بیا غربیانو ثابته کړه چې اکثریت رایې او دموکراسي هغه مهال معتبره ګڼل کیږي چې پکې یې خپلې ګټې په خطر کې واقع نه وي. دا پالیسۍ د افغانستان په هیواد کې هم د ترسره کیدو په حال کې ده او د افغانستان خلک هم ورځ تر بلې په اقتصادي سختۍ کې راګیر دي او د موازي ټولنو د یو ځای کیدو په نامه د حکومتي کارکوونکو په منفک کولو لاس پورې کړی او د حکومت د عوایدو په لوړولو سره درنې مالیې په کسبه کارانو، عادي خلکو او کارکوونکو باندې وضع کیږي. د مخابراتي شرکتونو په څیر څو ملتیتي شرکتونه چې عاید له اسمان سره لګیږي، ددې پرځای چې د خپلو مصرفي کارتونو له عایداتو څخه مالیه ورکړي، د افغانستان خلک چې هر فامیل پنځلس زره افغانۍ عاید لري[1] د دې مالیو په ورکولو سره له تورمي پیسو څخه مجبور دي چې ارزښت یې په تدریجي توګه د کمیدو په حال کې ده.

د پیسو کم ارزښته کول د پانګو د غلا کولو او د فقر کولو یو نړیواله وسیله ده. له پشتوانۍ او ذاتي ارزښت پرته کاغذي پیسې د مهار کیدو قابلیت لري او د دې پیسو مهار کیدنه د پیسو د سترو ټولنو په واسطه اسانه ده. د پیسو کم ارزښته کیدل د دولت د لاسوهنې په واسطه د واشنګټن د مشرۍ لاندې د ټولو په فشارونو سره او د راپیدا شویو بهرنیو عواملو پواسطه د دې ټولنو په واسطه صورت نیسي. د پیسو کم ارزښته کول یو ډارماتیک ترینه او حتی جنجال جوړونکی اقدام دی چې یو حکومت یې په لاره اچوي. د معاداتو له مخې د پیسو په ارزښت کې بدلون د امریکایي ډالرو په وړاندې اندازه کیږي، نو له دې امله کم ارزښته کول د یوې بهرنۍ پیسې د قیمت راټیټول دی

[1] The Asia Foundation; A Survey of Afghan People: Afghanistan in 2015; p 76

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډالر په وړاندې[۱]. د واشنګټن تر مشرۍ لاندې د ټولنې په حکومت کې د اداکولو د تعادل راوستو او اقتصادي اصلاحاتو په بهانو سره، هیوادونه د پیسو کم ارزښته کولو ته مجبوروي او اکثره دولتونه د پیسو په کم ارزښته کولو کې احتیاط کوي او همدارنګه د غرب رقیب هیوادونه د خپلو پیسو د کم ارزښته کولو څخه ډډه کوي، نو له دې امله دغه سازمانونه له بیلابیلو غیر قانوني لارو د دې هیوادونو د پیسو په بې ارزښته کولو لاس پورې کوي؛ مثلاً: اقتصادي تحریم پرې وضع کوي، د یادو هیوادونو د اقتصادي ثبات په اړه دروغجن راپورونه خپروي او حتی د غربي همغږو ټولنو لکه CIA، پنټاګون او ناټو په واسطه د سیاسي بحرانونه رامنځ ته کوي.

نړیوال اقتصادي نظام داسې چې ټول اقتصادي اړیکې له یو بل سره تړلی دي، یعنې کله چې له یوه اړخه زیان ویني، بله اړخ ګټه کوي. د یو هیواد د پیسو په کم ارزښته کیدو سره، د هغه هیواد خلک د ارزښت د راکمیدو په تناسب، خپله پانګه له لاسه ورکوي او یوازې هغه هیوادونو له دې زیان څخه ګټه پورته کوي چې پیسې یې د نړۍ د ذخیروي پیسو په توګه پیژندل کیږي او نورې پیسې د دوی د پیسو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

کاغذي جعلي او پوچې پیسې تل د ارزښتي سقوط په حال کې وي او د هرې کاغذي پیسې له پیدا څخه وروسته تر اوسه پورې د امریکایي ډالر په وړاندې د کم ارزښته کیدو په حال کې دي او امریکایي ډالر د خدماتو او تولیداتو په وړاندې د کم ارزښته کیدو په حال کې دی چې د سترو اقتصادي لوبغاړو لپاره یې د اصیلو نړیوالو د پآنګو د غلا کولو لپاره موقع برابره کړیده. یوه بیلګه یې ترکیه ده چې د ۱۹۹۴م کال په لومړۍ ربعه کې یې ترکیې لیرې د امریکایي ډالر په وړاندې خپل ۵۰ سلنه ارزښت له لاسه ورکړ[۲]. په ۱۹۹۴م کال کې د ترکیې د خلکو پانګې پداسې حال کې ورکې شوې چې ظاهراً هیڅ غل د ترکیې د خلکو د کورونو مخې ته ونه لیدل شو، پداسې حال کې چې

۱ Richard N. Cooper; Currency Devaluation in Developing Countries; p 3

۲ Oya Celasun. Macroeconomics and Growth Group; Development Research Department; The World Bank; The 1994 Currency Crisis in Turkey; p 2

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي کاغذي پيسې د ډالر په وړاندې د کم ارزښته کيدو په حال کې وي. د مالونو بيې ډالر محوره ديو يعني که چيرته په ۱۹۹۳م کال کې يو ترکې په ۱۰۰ ترکي ليرو باندې يو تلويزيون اخيستی شو، په ۱۹۹۴م کال کې يې په ۲۰۰ ترکيې ليرو اخيسته.د نورو هيوادونو د پيسو کم ارزښته کيدل او د غربيانو د پيسو با ابرزښته کېدل د واشنګټن تر رهبرۍ لاندې د سازمانونو د چلونو په واسطه د کار د قوې اقتصاد ارزانه کيږي د نورو هيوادونو خلک (د دريمې نړۍ) په لږو پيسو په وړاندې خپله کاري انرژي د کمو غربي پيسو په وړاندې مصرفوي

په دې حالت کې غربي څو مليتي شرکتونه له دې ارزانه کاري قوې څخه ګټه اخلي او خپل توليدات د غربي مارک په وهلو سره څو چنده له واقعي ارزښت څخه په لوړه بيه پلوري. همدارنګه د ډله ييزو رسنيو او نورو غربي سازمانونو اغيز دومره خپور شوی دی چې دا کارکوونکي په غربي مارک سره توليدات ډير خوښوي او د باکيفيته محلي توليداتو له اخيستو څخه په ارزانه بيه ډډه کوي. د ډالرو د با ارزښته ساتلو لپآره دا اړينه ده چې امريکايي په ټوله نړۍ کې د ګرځيدو په حال کې وي او برعلاوه، نړيوالې سوداګريز بيې هم ډالر محوره وي، نو له دې امله د سوداګرۍ د ازادۍ په نامه، د نړۍ د ډالر کيدو پاليسي عملي کيږي.

غربيانو وروسته تر دې چې په ختيځو مستعمري ملکونو کې سختې ماتې وخوړې، نور يې نه غوښتل چې فزيکي استعمار ته ادامه ورکړي، نو له دې امله يې د فکري او فرهنګي له استعمار پرته په مالي او اقتصادي استعمار هم پيل وکړ چې درې ستر اقتصادي نړيوال سازمانونه چې اوس د اقتصادي مردار مثلث جوړوو په بريټن ووډز کنفرانس کې په لاره واچوه.

دا درې سازمانونه له يو بل سره په همغږيتوب داسې کار کوي چې دې يووالي ته د نړيوال مالي او اقتصادي وزارت نوم ورکړ؛ خو دا وزارت پداسې حال کې چې نړيوالې سوداګريزې اړيکې کنترولوي، يوازې او يوازې د يهودي – مسيحي (صهيونيستي هيوادونو) اتحاد ګټې تامينوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړيوال بانک او د پيسو نړيوال صندوق د پور ځخه د پيسو د اندازې د کموالي او نورو استعماري پاليسو په بدل کې، هيوادونو د نړيوال سوداګريز سازمان غړيتوب ته مجبوروي چې د ملي اقتصاد د له منځه وړلو او د وارداتو په تشويق سره د داخلي توليداتو د له منځه وړلو لپاره يو عمده وسيله ګڼل کيږي. د برټن ووډز سازمانونه ادعا کوي چې د دې سازمانونو پواسطه د وړاندې شويو تعرفو جوړښت د صادراتو ضد پاليسې پکې شامله ده چې د صادراتي اقتصاد د کموالي سبب کيږي او د صادراتي سکتور په وړاندې د محلي بازار په پراختيا تشويق کوي. سره له دې چې ډېر لږ شواهد شته چې دا پاليسی د صادراتو په ګټه د منابعو د بدلون لامل ګرځي[1] و برعکس د دې سازمانونو په واسطه وړانديز شويو تعرفوو څو مليتي شرکتونه وارداتو ته وهڅول او حتی محلی توليدات هم هغوی ته سپاري.

د نړيوال سوداګری سازمان غړي هيوادونه د داسې تعرفو د سيستم منلو باندې مجبور دي چې په صهيونيستي څو مليتي شرکتونو په خدماتو او توليداتو وارداتي ماليه يې کمه کړيده او په مقابل کې يې د دې شرکتونو د رقيبو محلي توليداتو باندې درنه ماليه وضع کړيده.

همدارنګه د سوداګری د ازادی پاليسې لاندې او د بهرنيو پآنګو اچونو د تشويق په تګلارې سره دا ستر شرکتونه له ماليو معاف شويدی او په مقابل کې يې، محلي کوچني شرکتونه د درنو ماليو په ورکولو سره مجبوريږي چې د داخلي سوداګری د له منځه تلو سبب کيږي او سوداګر او کارکوونکي يې د څو مليتي شرکتي لمنو ته لويږي او د هغوی غلامي مني. د صهيونيستي څو مليتي شرکتونو راننوتل له ځانه سره د شخصي کولو يوه بل پاليسی لري ترڅو وکولی شي چې طبيعي منابع او هغه منابع چې د خدای جل جلاله لخوا خلکو تحفه شويدي وتښتوي.

امريکا د نړيوالی امپراتوری د جوړونې او ساتنې لپاره د هيوادونو اقتاصدي کنترول او منابعو ته اړ دی، نو له دې امله د ساختاري اصلاحاتو تر پاليسی لاندې د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک پوروړي شرکتونو د عامه خدماتو او دولتي شتمنيو د دولتي

---

[1] Michel Chossudovsky; The Globalization of Poverty and The New World order; p 54

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنو په شخصي کولو مجبوروي. د دې ټولنو ساختاري اصلاحاتو کې يوه هيواد ته د پرمختگ او پراختيا لپاره يوازې د پروژو د ټاکنې حق ورکول کيږي او دا ټولنې پريکړه کوي چې کومه پروژه د دې هيواد په گټه ده او کومه پروژه ورته زيانمنه ده چې دا ټونلې ډيرى د خپلو پورونو په واسطه داسې پروژې عملي کوي چې د صهيونيستي څو مليتي شرکتونو او امريکا گټې پکې تامين وي. د بيلگې په توگه په افغانستان کې يې لومړى هغه پروژې عملي شوې چې د ناټو د تجهيزاتو د انتقال لپاره يې اسانتيا رامنځته کړه. کله چې دې ټولنو پريکړه وکړه چې کومه پروژه د يوه هيواد لپاره چې پيسې يې په هغې هيواد باندې د پور په توگه شميرل کيږي، عملي شي د شخصي کولو او د سوداگرۍ د ازادۍ تر پاليسو لاندې داسې شرکتونو ته ورکوي چې که په خپله خوښه هماغه کار ته برابر وي. دا شرکتونو اکثره هماغه څو مليتي شرکتونه وي چې د امريکا له متحدو ايالتونو څخه منشا اخلي. په حقيقت کې دا ټولنې پداسې حال کې چې يو هيواد پوروړى کوي، پيسې د امريکا له متحدو ايالتونو څخه نه راباسي او يوازې د امريکا له يو ايالت کې له بانکي حساب څخه د امريکا په بل ايالت کې يو امريکايي شرکت ته انتقالوي. د دې سترې دوکې مثال کولى شو په افغانستان کې په واضح توگه د لويې لارو د جوړولو په پروژو کې ووينو. امريکا په ډيرې بې شرمۍ سره ادعا کوي چې ميلياردونه ډالر يې له افغانستان سره مرسته کړيده، پداسې حال کې چې د لسگونو او سلگونو ميلياړډ ډالرو پروژو او د افغانستان لويې لارې يې دوو سترو امريکايي شرکتونو د لويزبرجر او آی آر ډي سره قرارداد کړې وې (ويل کيږي چې د امريکا د ولسمشر معاون ډيک چيني د دې شرکتونو برخوال وو) چې دې دوه شرکتونو ډيرې لږې پيسې محلي قرارداديانو ته د دې کار د ترسره کولو لپاره بيلې کړې او نورې پاتې پيسې له رارسيدو وړاندې او يا وروسته بيرته امريکا ته انتقال شوې. په همدې توگه ټول هيوادونه د هغو پيسو پواسطه چې هيڅکله د امريکا د متحدو ايالتو څخه نه وځي، داسې پوروړي کيږي چې بيرته يې ورکول ناممکن وي او بالاخره د دې پيسو په بدل کې د امريکا د متحدو ايالتو تر مشرۍ لاندې ټولنې له هغوی څخه د طبيعي منابعو غوښتنه کوي او هيوادونه د دې طبيعي ورکولو ته مجبوريږى څو يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي څو مليتي شرکتونو باندې په ناچيزه بيه وپلوري او په حقيقت کې امريکا د ارزښته هيوادونه طبيعي منابع د چل او دوکې په واسطه لاسته راوړي.

په دې ډول چلونو او ظلم سره امرکيا وتوانيده چې د دجال د دويمې ورځې د عملياتي مرکز په توګه، خپله شيطاني امپراتوري د غير اانساني فتنو د پراختيا لپآره جوړه کړي او کله چې هر هيواد يا کس د دې امپراتورۍ په وړاندې ودريږي، د امريکا د اردو او صهيونيستي متحدينو (ناټو) په واسطه يې د له منځه وړلو پلان د بې شرمانه او دروغو بهانو سره نيول کيږي. په دې اړه د امريکا د استخباراتي سازمان (CIA) پخوانی مامور جان پرکينز په خپلو اعترافونو کې د يو اقتصادي جنايتکار د اعترافاتو په نوم وايي چې امريکا د خپلې امپراتورۍ د جوړونې او ساتنې لپاره داسې کسان چې د امريکا د هجموني (Hegemony) په وړاندې دريږي، لومړی هغوی د پيسو او واک د وعدو په مرسته فاسدوي او بيا هم دا هڅه ناکامه شوه، د هغوی د وژنې طرحه په لاره اچوي؛ څکه چې د پانامې دوه ولسمشران د CIA پواسطه ووژل شول او که دا طرح هم ناکامه شوه، لکه څنګه چې له صدام حسين سره وشول، امريکا خپله نظامي قوه د هغه د له منځه وړلو لپاره ګماري.

په ۲۰۰۱م کال کې صدام حسين د لومړي ځل لپآره د پرودالر په وړاندې ودريده او ويې غوښتل ترڅو خپل نفت په يورو باندې وپلوري، خو دا چې د نفتو خرڅلاو په ډالرو (Petrodollar) باندې د امريکايي پيسو يوازينې پشتوانه لري، امريکا په عراق باندې د ډله ييزې وژنې د وسلو د لرلو تور ولګاوه او له دې تور څخه يې په دې هيواد باندې د حملې د مقدمې په توګه کار واخيست چې د عراق تر نيولو وروسته د امريکا شيطاني هيواد اعتراف وکړ چې عراق د ډله ييزو وژنو وسلې نلرلې[۱]. همدارنګه د ليبيا پاچا معمر القذافي د افريقا د اتحادې په جوړولو سره وغوښتل په ليبيا کې د سرو او سپينو زرو د سکو پولي سيستم جوړ کړي او بيا يې په افريقا کې په لاره واچوي چې د ډالرو د هجموني لپاره ستر خطر ګڼل کيده. نو له دې امله ناټو د امريکا په مشرۍ پرې حمله

---

[۱] د لا زياتو معلوماتو لپاره د Marin Katusa کتاب The Colder War: How the Global Energy Trade Slipped From Americal Grasp ته مراجعه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او د هغه په وژل کيدو سره يې د افريقا يوازيني باثباته هيواد په خاورو او وينو سره برابر کړ. د دې اقتصادي نړيوالو ټولنو پاليسيانې په نړۍ کې د نړيوال فقر د رامنځته کيدو لامل شو او د دې ټولنو د ظاهري پلانونو پرخلاف نړيوالې اقتصادي نابرابرۍ په تعجيلي چټکتيا سره د زياتيدو په حال کې دي چې په ټولنو کې د اقتصدي طبقو د رامنځته کيدو او د دې طبقو ترمنځ د بدبينۍ او نفرت د رامنځته کيدو سبب شو. د پيسو نړيوال صندوق د د فقر د له منځه وړلو لپاره د خپلو پاليسو په نه اغيزمنتيا اعتراف کوي: په وروستۍ لسيزه کې په دې اړه چې ايا د (IMF) پروگرامونه اغيزمن دي کنه؟ ډيرې څيړنې شويدي. د اوسنيو څيړنو له مخې، هيڅوک نشي ويلی چې د مالي وجوهو د برابرۍ د پروگرامونو منلو د پراختيا په اغيزه مرسته کړيوي. په حقيقت کې دا څرگنده شويده چې دا پروگرامونه، د تورم زياتوالی او د پراختيا د مقياس سقوط له ځانه سره لري[1]. اوسنی اقتصادي سيستم له پورته دوکو پرته، يوه بله غولونکي پديده هم له ځانه سره لري چې د برخو يا د بورس د بازار (Stock Market) په نامه يادېږي.

**د برخو يا بورس بازار**

د غرب د عصري تمدن اقتصادي نظام يو داسې نظام دی چې د کوچنيو اقليتونو (اکثره د صهيونيزم مشرانو) گټو او د خلکو په غلام کولو ته کار کوي. د دې لږکيو (اقليت) د گټو د تامين لپاره، د پانگوالۍ اقتصادي نظام د سهامو د بازار پديده له ځانه سره لري. ستر شرکتونه چې د سترو پروژو د مالي وجوهو د تامين لپاره چې د پروژې لپاره اړونده بوديجه نلري، خپلې برخو د سهامو په بازار کې په څو برخو ويشي او دا برخې په دې بازار کې د خرڅلاو لپاره داوطلبۍ ته ږدي. د خلکو په واسطه د دې برخو اخيستل، شرکتونو خپل مالي صندوق يا وجوه د سترو پانگو اچونو لپاره لاسته راوړل او د هغو خلکو لپاره چې دا سهام اخلي، په سترو شرکتونو کې د شراکت يو باطل خيال ورکول کيږي. اکثره د سهامو د پير او پلور شرايط داسې دي چې د سهم خرڅوونکی شرکت د خلکو په واسطه د سرمايه گذارۍ شوو پيسو په بيرته ورکولو مجبور

[1] Mohsin Khan; The Macro Economic Effects of Fund Supported Adjustment Programs: IMF staff Papers; Vol. 37; No. 2; 1990; pp 196, 222

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي او خلک یوازې کولی شي دغه سهام د بورس په بازار کې وپلوري. د شرکتونو د سهامو قیمت ظاهراً نظر د هماغه شرکت د پرمختګ ته زیاتیږي او یا کمیږي او پداسې حال کې چې خلکو ته د شراکت یو باطل خیال ورکول کیږي، هغوی د شرکتونو د سترو بخرو له پیرلو سره سره بیا هم په دې شرکتونو کې د تصمیم نیونې حق نلري. د سهامو بازار په حقیقت کې د سترو شرکتونو لپآره دیو وړیا بانک په څیر ده چې د دې بانک په واسطه، شرکتونه سترې پانګې پرته له دې چې په بیرته ورکولو یې مجبور وي، له عامو خلکو څخه به دوکو سره په لاس راوړي. د سهامو بازار د دې ترڅنګ چې د سترو شرکتونو لپآره د شیدو غوا ده، د منځنۍ طبقې د پانګو د سرقت یو عالي وسیله هم ګڼل کیږي چې دا کار د سترو شرکتونو د سهامو د بازار په مهارولو او د رسنیو په محرکو قوو سره ترسره کیږي. اوسمهال د سهامو بازار د هیوادونو د اقتصاد د اغیزمنتیا ښودونکې ده چې د هغې په لوړوالي سره د خلکو اقتصادي وضع ښه کیږي او د هغې په سقوط سره په هیوادونو کې اقتصادي بحران رامنځته کیږي چې د پانګې اچونې دا ستره اندازه او اهمیت په دې بازارونو کې د اقتصادي نخبګانو او مهاروونکو لپاره د سرمایو د سرقت ښه موقع برابره کړیده.

کله چې د خلکو پانګې د شرکتونو د برخو په اخیستلو مصرف شوی، مهاروونکي په بیلابیلو لارو سره د خلکو د پانګو د غلا کولو لپاره د برخو بیې زیاتولی او کمولی شي. کله کله چې د یو شرکت د سهم د زیاد اندازې په اخیستو سره د نوموړي شرکت د سهامو ارزښت په تدریجي توګه لوړیږي او خلک د دې شرکت پرمختګ ته په کتو سره د هغې د سهامو په پیرلو لاس پروې کویو کله چې د یو شرکت په سهامو کې د ډیرو پانګو اندازه راټوله شوه، مهارکوونکي د هغه شرکت په اړه د منفي اقتصادي راپورونو په خپرولو او همدارنګه د سهامو په بیا ځلې خرڅلاو سره داسې خلکو ته ښیي چې دا شرکتونه د رکود او ماتې په حال کې دي چې په دې کار سره سهام په ناڅاپي توګه خپل ارزښت له لاسه ورکوي او خلک له دې ویرې چې سهام بیا سقوط ونکړي، هغه خرڅوي او ستره ضربه او تاوان ویني او مهارکوونکي یو وار بیا دا سهامو په دیره ارزانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيه اخلي او په تدريجي توګه يې په همدې چلونو سره د هغې د بيې په لوړولو لاس پورې کوي.

د مينيسولا له پوهنتون څخه راجيش کوما اګروال او د هوستن له پوهنتون څخه ګوجونوو په دې اړه خپلې څيړنې ترسره کړيدي چې هغوی د سهامو د بازار له ۱۴۳ مهاروونکو حالتو سره مخ شويدي، وايي: مهارکوونکي لومړی سهام اخلي او بيا يې پلوري[۱]. همدارنګه اقتصادي نخبګان د بورس د بازار له سقوط او له حکومتونو څخه د پيسو په اخيستو سره د اقتصادي بحران په رامنځته کولو ډير سترو او نه ماتيدونکو شرکتونو (Too Big to Fail) ته نجات ورکوي او کوچني او منځني پانګوال د غربت په لور رانښکته کوي او ځانونو ته په همدې توګه ګټه رسوي. په دې اړه په اقتصاد کې د نوبل د جايزې ګټونکی جوزف استګلتس اقتصاد په اړه داسې وايي: دې نخبګانو، په امريکا کې په ۲۰۰۸م کال کې د بورس د بازار سقوط او اقتصادي بحرانونه رامنځته کړل[۲]. د اوسنۍ نړۍ اقتصادي نظام په پوره توګه يو غير عادلانه، د طبقو او نابرابريو منځته راوړونکی، فقر ته کشونکی، ظالمانه او غير اسلامي دی.

**اوسنی اقتصادي نظام او اسلام**

کله چې د (اليوم اکلت لکم دينکم و اتممت عليم نعمتی و رضيت لکم الاسلام دينا[۳]) نازل شو، مسلمانانو فکر وکړ چې د قران کريم د ايتونو د نزول لړۍ د دې ايت په نازليدو سره پای ته ورسيده او تر دې وروسته به ايت نازل نشي، خو د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) تر وفات کيدو څو ورځې وړاندې الله (جل جلاله) د سود په اړه ايات نازل کړ او هغه يې له خدای او رسول جګړه وګڼله: اې مؤمنانو! که په رښتيا سره مو ايمان راوړی وي، نو له خدايه ووېرېږئ او ستاسې چې کوم سود پر خلکو پاته دی، هغه ور پرېږدئ- خو که تاسې داسې ونه کړل، نو خبر اوسئ چې د الله (جل جلاله) او د

[۱] The University of Chicago; Jounal of Business (2006); Vol. 79; No. 4; P 1917

[۲] Joseph E. Stiglitz; The Price of Inequality, General Principles; Moving money from the bottom of the pyramid to the top

[۳] سورالمائده، ۳ آيات، نن ما ستاسې دين، ستاسې لپاره بشپړ کړ او خپل نعمت مې پر تاسې پوره کړ او ستاسې لپاره مې اسلام ستاسې د دين په توګه منظور کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پيغمبر لخوا ستاسې پر خلاف د جګړې اعلان دی. که اوس هم توبه وباسي (او سود پريږدئ)، نو تاسې د خپلې پانګې اخيستلو حقدار ياست، مه تاسې تيری کوئ او نه به پر تاسې تيری وشي[1].

سود په اسلام کې يوه تر ټولو خطرناکه کبيره ګناه ګڼل کيږي چې بشريت ته يې فاجعه راوړونکې پايلې له ځانه سره لري. اسلامي ښوونې تل له سود خوړولو څخه د لريوالي تاکيد کوي او هغه تر ټولو بده پديده ګڼي. حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) هغه کسان باندې لعنت ويلی دی چې سود خوري، سود اخلي او د سود معاملې ليکي[2]. همدارنګه په يو بل حديث کې سود په درې اويا برخو ويشل شوی دی چې تر ټولو لږ جديت يې له مور سره د زنا معادل ګڼلې ده[3]. د غرب د عصري تمدن او د هغې په اقتصادي نظام په رامنځته کيدو سره چې د بانکوالۍ په نوم يوه نوی پديده يې له ځانه سره لرله، په سود اخيستلو او خوړلو باندې سره له دې چې په ټولو اسماني دينونو کې يوه ستره ګناه شميرل کيږي، مشروعيت ورکړل شو او د يو قانوني سوداګرۍ په توګه شميرل کيږي؛ خو الله (جل جلاله) د هغه چا لپاره چې سود اخيستل او سودخوړل سوداګري ګڼي، داسې اخطار ورکوي:کوم خلک چې سود خوري، د هغو حال به د هغه چا غوندې وي چې پېريانو نيولی وی او پر دې حال د هغو د اخته کېدو دليل دا دی چې وايي: (تجارت خو هم لکه سود غوندې شی دی.) په داسې حال کې چې الله تجارت روا او سود ناروا کړيدی. نو چا ته چې د هغه د رب له لوري دا نصيحت ورسيدې او په راتلونکي کې يې د سود له خوړولو څخه ډډه وکړه، نو څه چې يې مخکې خوړلي هغه خو يې خوړلي دي، د هغه معامله له خدای سره ده؛

---

[1] سوره البقره، ۲۷۸ څخه تر ۲۷۹ آيتونو پورې: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۲۷۸﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۹﴾

[2] صحيح مسلم؛ ۱۵۹۸ حديث

[3] المستدرک علی الصحيحين؛ ۲۲۵۹ حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څوک چې له دې حکم څخه وروسته بیا هم همداسې کار کوي، هغوی دوزخیان دي، تل به په کې اوسیږي.[۱]

الله جل جلاله سود له سوداګرۍ څخه جلا کړیدی او هغه یې حرام ګرځولی دی، نو د سواګرۍ او سود ترمنځ توپیر څه دی؟ سوداګري هغې معاملې ته ویل کیږي چې پکې د دواړو لورو ترمنځ د ګټې او زیان امکان موجود وي، پداسې حال کې چې په سودي معاملاتو کې د سود ورکوونکو ګټه او د سود اخیستونکو زیان تضمین شوی دی. د اسلامي سوداګرۍ په معاملاتو کې پانګې د ګردش او ګرځیدو په حال کې وي ځکه چې په اسلامي سوداګرۍ کې ګټه او زیان شته دي او د یوې ډلې او کس لاسته د پانګو راټولیده له دوکو پرته ستونزمنه وي؛ نو له دې امله پانګې لاس په لاس د ګرځیدو په حال کې وي چې له کنز څخه چې یوه حرامه اسلامي پدیده ده[۲] مخنیوي کیږي، پداسې حال کې د سود په بنسټ په اقتصادي نظام کې د پیسو په منظمې راټولونې او د سود له احتمالي خطر پرته نغدی پیسې راټولیږي او پانګې یې په تدریجي ډول له ځانه سره ذخیره کیږي او له ګرځیدو پاتې کیږي او بالاخره د نن ورځې په څیر یو داسې اقتصادي نظام رامنځته کیږي چې د نړۍ لس سلنه پیسه دار وګړي په نوي سلنو پانګو سره خوند اخلي او نوي سلنه خلک د لس سلنو پانګو پسې سرګردانه دي. اوسني اقتصادي نظام په پوره توګه په سود ولاړ دی تر دې چې د دې نظام پیسې هم سودي دي.

مخکې له دې چې کاغذي حکمي پیسې پیدا شي، لومړی د هغې پواسطه سود پیدا کیږي، ځکه چې تقریباً په ټولو ملکونو کې د دې کاغذي پیسو د چاپ مسوولیت له شخصي مرکزي بانکونو پورې تړاو لري او دا بانکونه هغه مهال پیسې چاپ ته سپاري

---

[۱] الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لاَ يَقُومُونَ إِلاَّ كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُواْ إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَن جَاءهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۲۷۵﴾

[۲] سوره التوبه، ۳۴ آیات: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾، ژباړه: اې مؤمنانو! د دې اهل کتابو د زیاترو علماوو او روحانیونو حال دادې چې د خلکو مالونه په ناروا لارو خوري او هغوی د الله له لارې څخه منع کوي او هغه خلک چې سره او سپین زر خزانه کوي او د خدای په لاره کې یې نه لګوي؛ نو دوی ته د دردناکه عذاب زیری ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حکومتونه د پور غوښتنه وکړي چې دا کار په ښکاره توګه له سود سره تړلی ده.
حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څوارلس سوه کاله وړاندې د بشريت د نن ورځې حالت په ډېرې حيرانتيا سره داسې اټکل کړی دی: په يقيني توګه به په انسانانو داسې ورځ راورسيږي چې هر کس به سود خوري (يا ورکوي) او که څوک داسې ونکړي نو اغېز به يې پرې وي[1]. د دې لپاره چې دجال وتوانيږي د سود فتنه نړيواله کړي او ټول انسانان په مستقيم او غير مستقيمه توګه په سودي معاملو کې ښکيل کړي، په لومړي ګام کې يې هغه پيسې چې د ذاتي ارزښت لرونکې دي له منځه يوړی تر دې چې وتوانيده د پيسو د ارزښت پشتوانه هم له منځه يوسي او داسې پيسې يې رامنځته کړی چې ارزښت يې يوازې په چل ول سره په هغه اعتبار کې چې خلک يې ورته لري نغښتې دی. له بده مرغه د غربيانو په واسطه د پيسو د جوړ سيستم څخه د مسلمانانو درک چې د اسلام د قسم خوړونکو دښمانو په واسطه د پانګو په قانوني غلا کې ډېر مهم رول لري، لږ دی او نه هم په دې پوهيږي چې د پيسو سيستم به بالاخره په مسلمانانو باندې د اسلام د دښمنانو اقتصادي ديکتاتوری سبب شي، په دې اړه په دې د تاريخي پړاو په دې مرحله کې د يهودي – مسيحي اتحاد په اقتصادي غلامۍ کې ډېری مسلمانان راغلي دي.
له ټولو بده داده چې د اسلام علما په چل او دوکې سره د اغګل شويو عصري پيسو په اړه غلي دي، حتی کله چې دوی وپوهيږي چې د پيسو په دې عصري سيستم کې چې يو څه ناسم دي، نو د ناسموالي او حرام ګڼلو جرات يې نه کوي. په اسلامي هيوادونو کې حاکم حکومتونه، د دې ننداري تر ټولو رقت انګيزترين لوبغاړي دي، نه هغوی د اوسنيو پيسو د خطرناک حقيقت درک کوي او نه هم غواړي چې درک يې کړي او دليل يې د يهودي-مسيحي اتحاد لپآره د دې حکومتنو چاپلوسي ده چې اوس په نړۍ حکومت کوي[2]. د اسلام له مخې پيسې د ذاتي ارزښ او ګټور عمر لرونکي دي چې ارزښت يې مهار کيدی نشي او د هغې د ارزښت کم و زيات کيدل هم د انسانانو په

[1] سنن ابو داود. کتاب البيع، باب: في اجتناب الشبهات

[2] Imran N. Hosein; The Gold Dinar and Silver Dirham: Islam and the Future of Money; p 8

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه په اسانۍ سره د نوساني کيدو قابليت نه لري. په قرآن مجيد کې ډير مهال کله چې د پيسو يادونه شويده د دينار (د سرو زرو سکې) او درهم (سپينو زرو سکې) کلمې يادې شوی دي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنت له مخې، کله چې په بازار کې د دې سکو کموالی احساسيده، نور شيان چې د ګټور عمر او ذاتي ارزښت لرونکی وې، د پيسو په توګه کاريدلې، د بيلګې په توګه: خرما، وربشی، جواري، غنم او نور.

حضرت بلال رضی اله عنه له يو ټوکرۍ ښو خرماوو سره د محمد (صلی الله عليه وسلم) خواته ورغی او هغه يې محمد صلی اله عيله وسلم ته وړاندې کړې. محمد (صلی الله عليه وسلم) خرماوو ته وکتل ويې ويل: بلاله! دا ډېرې ښايسته خرما دي، دا دې له کومه ځای راوړې؟ بلال رضی الله عنه ځواب ورکړ: اې د الله (جل جلاله) رسوله! ما دوه ټوکرۍ عادي خرما لرلې او هغه مې له دې ښو او چيندل شويو خرما سره بدلې کړې. ان حضرت صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا کار د سود ماهيت ځانته غوره کوي[1]. په يو بل روايت کې راغلي دي چې د حضرت محمد صلی په وخت کې يو اوښ له پنځو اوښانو سره بدل شوی دی[2]. د دې کار لپاره قانع کوونکی دليل چې ولې د دوه ټوکريو خرما بدلول له يوې سره سود ګڼل کيږي او يو اوښ له څو نورو سره سود نه دی، دا دې چې خرما په هغه وخت کې چې په بازار کې د سره او سپينو زرو د سکو د کموالي پرمهال د پيسو په توګه کاريدلې او د پيسو له بدليدو څخه ګټه سود ګڼل کيږي او اوښ ځکه د پيسو په توګه نشي کاريدلی چې د هغې ګټور عمر معلوم نه ده او د مړينې امکان هره لحظه شته دی. که مسلمانانو په اوسني انحطاط کې چې لمن يې ورته نيولې ده، قرار نلره او د سرو او سپين زرو د حلالو سکو څخه يې ګټه اخيستې وه، هيڅکله به يو امريکايي پيسو واحد د اکثرو اسلامي هيوادونو د ۷۰ پيسو له واحد سره نه برابريده او اوس به صهيونيستي غربيانو په مسلمانانو باندې اوسنۍ اقتصادي ديکتاتوري واک نلره. د عصري پيسې ارزښت د پيسو د نړيوالو ټولنو په واسطه مهار کيدای شي، خو دا ټولنې له دې وړتيا څخه د بشري ټولنې او په ځانګړې توګه د

[1] صحيح مسلم؛ ۳۸۷۱ حديث

[2] امام مالک؛ الموطا؛ ۳۰ فصل؛ ٦١ حديث

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي هيوادونو د فقير لپاره کار اخلي. د پيسو د مهار کولو واک غربابنو ته دا زمينه برابره کړېده څو د اسلامي نړۍ طبيعي زيرمې او توليداتو ارزښت پخپلې گټې مهار کړي چې دا کار په اسلام کې حرام گڼل کيږي، لکه په دې اړه په يو مبارک آيت کې داسې راغلي دي: اې قومه له عدالت سره سم تول او پيمانه کوئ او خلکو ته د هغو په شيانو کې تاوان مه ور اړوئ او په ځمکه کې فساد مه خوروئ[1].

[1] سوره هود، ۸۵ آيات: وَيَا قَوْمِ أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۸۵﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library




# څلورم څپرکی

# ځینې اندیښنې او حل لارې




ملت پالنه پرته له دې چې له
داسې خلکو نفرت ولري چې هیڅکله
دې لیدلی نه وي او په داسې لاسته
راوړنو ویاړ وکړي چې پکې یې برخه
نلرله، بل څه ندي.

**Doug Stanhope**




له بده مرغه، د سنیانو او شیعه ګانو
ترمنځ ټول جنجالونه ستر قوتونه دي
چې د مسلمانانو ترمنځ دیني یووالی
نه غواړي.

**یوسف صانعی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملت پالنه**

اسلامي امت هيڅکله د خپل څوارلس سوه کلن تاريخ په اوږدو کې اوسنی بد حالت چې پکې دا وياړلی امت تر ظلم، بې اتفاقي او په هر اسلامي ښار کې داخلي جنګونه دي او د علم له کاروان څخه وروسته پاتې دي، ندی تجربه کړی.

د اسلامي امت د اوسني رقت بار د حالت لاملونه ډېر زيات دي، خو هغه تر ټولو مهم ستونزه چې داسلامي امت ګريوان يې نيولی دی، د اسلامي اموزو هيرول او پرځای يې د دښمنانو وارداتي فکرونو خپلول دي. يو له خطرناکو فکرونو څخه اسلامي نړۍ ته رانوتې دی، ملت پالنه او ملت پرستي (Nationalism) ده او دا کار د دې لامل شو څو هغه مسلمانان چې الله (جل جلاله) ورته د دوی په خپل منځ کې د وروښو خطاب کړيدی، له يو بل سره په جګړه کې واچوي. د اسلام دښمنانو د دې الهي سپيڅلي دين له پيل څخه د اسلامي امت په کمزوري کولو هڅه کړيده او له دې انساني دين سره يې د ښکاره جګړې له اعلان ځان ندې ژغورلی. کله چې صلاح الدين ايوبي په واسطه صليبيان له اسلامي هيوادونو څخه په بې شرمانه توګه وويستل شول او چنګيزي مغولو سره له هغو ډيرو ورانيو چې په اسلامي ښارونو کې يې ترسره کړی او د دين تر ښکلاو وروسته يې اسلام راوړ، د اسلام دښمنان دې ته قانع شول چې د اسلامي امت ماته د نظامي قوې په واسطه شونې نده، نو له همدې امله يې د دې ستر امت په ټوټه ټوټه کيدو پيل وکړ. د فرانسې تر انقلاب او له سياست څخه د دين تر بيلوالي وروسته دين په اروپا کې يوه شخصي کړنه وګڼل شوه او خپله ايډيالوژيک ځای يې له لاسه ورکړ چې د ايډيالوژيکي خلا د رامنځته کيدو لامل شو او دا چې د انسان فطرت له ايډيالوژۍ څخه خالي کيدی نشي او ايډيالوژيکي خلا د ټولنو د زوال سبب ګرځي.

نو له دې امله د دې خلا د ډکيدو لپاره ملت پالنه د يوې عقيدې او ايډيالوژۍ په توګه رامنځته شوه. ملت پالنه په دې برياله شوه چې هغه اروپايان چې يو وخت به د مسيح عليه السلام په نوم په ټوله اروپا کې له مسلمانانو سره په جګړه تر يو صليبي بيرغ لاندې په يو شکل راټوليدل په جلا ملتونو او له يوبل سره په دښمنانو بدل کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې بريا په ليدو سره هغو صهيونيستانو چې د بيت المقدس په مرکزيت سره د د دجال تر واک لاندې د يو نړيوال حکومت جوړيده يې موخه وه، وغوښتل څو تر اروپا وروسته خپل بل ستر رقيب يعني دا نړيوال حکومت (اسلام) هم د ملت پالنې په نوم ټوټه ټوټه کړي او د هيوادونو ترمنځ د اخلافتاتو څخه په کار اخيستو سره هغوی په ځان پورې وتړي چې د هغوی په وړاندې د نړيوال حکومت د جوړيدو پرمهال ونه دريږي او په ګونډو کيدو ته مجبور شي. صهيونيستنو د دې لپاره چې خپل الحادي عقايد په اسلامي نړۍ کې خپاره کي، لومړی بايد مسلمانان د اسلامي آموزو څخه په درک کې خدشه دار کړي او تر دې وروسته خپل نظريات د دې ځايناستی ور وپيژني، ځکه چې د برتانيې يهودي صدراعظم ډزراييلي يو ځل د قران کريم يو جلد د انګليسانو په يوه عمومي ناستې کې رواخيست او ورته په شارې يې وويل: مسلمانان به هيڅکله ماتې ونخوري ترهغې چې دا (قران) ترې وانخيستل شي[1]. د دې کار د ترسره کيدو لپاره صهيونيستي غربيان اسلامي نړۍ ته د خپلو مبلغينو استولو ته تيار شول د غربيانو تر فشار لاندې عثماني خلافت او د دې مبلغينو نقلونکو غربي ټولنو دې مبلغينو ته په اسلامي هيوادونو کې د فعاليت اجازه ورکړه. پداسې حال کې چې دا غربي مبلغې ټولنې اسلامي هيوادونو ته د ساينسي علومو د زده کړې او انسان دوستانه مرستو په نامه ننوتلې، اصلي موخه يې په اسلامي نړۍ کې د ټولنيزو او سياسي نظرياتو تدريس او رانبويستل وو. د غرب مبلغې ډلې په يو بل پسې د مسلمان امت د ليوالتيا د نشتوالي له امله ناکاميدلی او تړل کيدی، خو دې قسم خوړلو دښمانو له خپل هڅو لاس وانخيست چې وتوانيدل په بيروت کې د تبليغ يو مرکز جوړ کړي او د مسلمانانو د علاق د راړولو لپاره يې د دې ټولنې غړي د مسلمانانو له منځه وټاکل چې دې خلکو خپل دين په دې ملغينو باندې پلورلی وو او په غربي روشنفکرانو بدل شوی وو. د دې ټولنې تر بريالي کيدو وروسته، هغوی په شام او نورو اسلامي هيوادونو کې هم دا ډول ټولنې جوړوې کړی او د خپلو نظرياتو په تبليغ او د رسالو او کتابونو په چاپ او خپرولو يې پيل وکړ. د ناپليون په واسطه د مصر نيول کيدل د اسلامي نړۍ د غربي کيدو پيل

[1] Shabir Ahmad; Roots of Nationalism in Muslim World; p 9

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټل کېږي. فرانسويانو پرته له دې چې په مصر کې يې نوی تعليمي نصاب جوړ کړ، په دې هيواد کې يې د ملت پالنې تخم هم وشينده. فرانسوي علماء هغه کتابونه چې پکې د مصر تاريخي وياړونه، پخوانۍ تمدنونه او د مصر د پخواني فرهنګ جلال په ډېر وياړ سره ياد شوی او د مصر خلک يې ښه ښکارول، چاپ کړل چې له دې جملې څخه د Nationality په نامه د سيلوستر ديساسي کتاب او همدارنګه د يعقوب زوی کتاب چې له پلاره يهود او له موره ايټالوی وو او په پاريس کې ژوند کاوه د الوطن المصري په نامه يادولی شو. کله چې اراهيم پآدشاه د شام د اسلامي خلافت والي غوښتل د سوريې لپاره نوی تعليمي نصاب جوړ کړي، د دې مبلغينو لپاره ښه موقع وه ترڅو د نوی نصاب جوړونکي تر اغيز لاندې راولي او د مصر نصاب چې د غربي نظرياتو مبيين وو، سوريې ته راننباسي او په سويه کې هم ملتپالنه خپره کړي. په ترکيه کې هم يهودي علماوو په ترکي ژبه د ملت پالنې تشويق کوونکو کتابونو چاپ او ليکلو لاس پورې کړ. په اړه ستر پيژندل شوی مستشرق د نرنارد لوييس په نام اعتراف کوي چې اروپايي يهوديان (خزران)، د ترکيې ملت پاله روح راژوندی کړ[1].

په اسلامي نړۍ کې د ملت پالنې په خپريدو سره د ترکيانو او اعرابو ترمنځ نفرت رامنځته شو چې بالاخره اعرابو د عثماني خلافت په وړاندې بغاوت وکړ او د عثماني خلافت د له منځه تلو لامل وګرځيد تر دې چې د مسلمانانو ترمنځ ورځ تر بلې ملتپالنه زياتيد او د سايکس پيکات تر تړون وروسته د صهيونيستانو توطيو له امله اسلامي نړۍ د عربو په جزيره او منځني ختيځ کې د ملت پالنې په نظريو ولاړ نوي هيوادونه رامنځته کړل او اسلامي نړۍ يې په کوچنيو ټوټو وويشله.

ملتپالنې له لومړۍ ورځې بشريت ته د هيوادونو ترمنځ جنګونو او لومړی او دويمه نړيواله جګړه رامنځته کړيده او د اسلامي امت د يو موټيتوب دا کار يې چې د نړی پالو صهيونيستانو په وړاندې ستر خطر ګڼل کيده، له منځه يوړ او اسلامي امت يې د ملتپالو هيوادونو په نوم په کوچنو ډوډيو بدل کړل چې د نړۍ پالو لپاره يې ورته ژوول اسانه کړيدي. د دې پديدې له امله د افغانستان ملت، د پاکستان او ايران د ملت

[1] Bernard Lewis; Islam in History; p 132

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنان ګڼل کیږي او پاکستانیان له افغانستان پرته بنګلدیش هم خپل دښمن ګڼي. پداسې حال کې چې الله (جل جلاله) ټولو مسلمانانو ته د وروڼو خطاب کړیدی. نو له دې امله نا غوښتل شوی دښمنۍ له اسلام څخه د ناپوهۍ او ملتپالنې د پدیدې له امله رامنځته شوی دی او د دې هیوادونو سیکولر دولتونه له دین سره هیڅ اړیکه نلري، د خپل واک د ساتنې لپاره دې دښمنیو ته لمن وهي او د اسلام یو موټی امت د افغان، پاکستان، بنګله دیش، ایران او نورو ملتونو په نوم له یو بل سره واچول. تر اوسه ډیری مسلمانان د دې دښمنیو په علت پوه نه دي او د خپل ناپوهۍ له امله له الله (جل جلاله) څخه د یو بل بربادي غواړي او د مرګ شعارونه له یوبله قربانوي چې له دې حالت څخه د اسلام اصلي دښمنانو ګټه پورته کړه او یوې ډلې ته یې د دوست او بلې ته یې د دښمن په ویلو سره د دې محرکو باندې ډیر طبله ووهله چې د دې طبلې په خراب غږ سره د اصلي مسلمانانو غوږونه خراب کړل او مزدور او جاهله مسلمانان ورته ونخیدل. ملتپالنه د خلکو ترمنځ دیني اړیکه ردوي او وطن ته د مطلقط وفادارۍ او د ملت پالنې تر بیرغ لاندې غوښتنې سره خلک راټولوي چې له دین څخه د سیاست د بیلوالي (سیکولریزم) سبب کیږي او همدارنګه د یو نوې عقیدې په توګه، د دیني سیاست بدیل شوی دی او د دین په څیر هم ګڼل کیږي چې داکتر علامه محمد اقبال لاهوري دا وطلقه وفاداري په دې ډول بیان کړیده: اسلام له خدای سره وفاداري غواړي نه له تخت سره (سیاسي قدرت) او د ملت پالنې په وړاندې مطلقه وفاداري دولت-ملت ته غواړي او دولت یو بل خدای راپیژندي[۱]. ملتپالنې تل د هیوادوالو د ګټو لپآره د هغو کسانو د ګټو په وړاندې چې د یوې عقیدې او ځانګړې ایډیالوژۍ لرونکي دي کار کوي او سیاستونه یې هم په دې اساس ایښودل کیږي چې په دې سیاستونو کې د ښه او بد مسله د ملت د ګټو په وړاندې نه مطرح کیږي. د هیوادونو ترمځ جګړو، سیاسي اړیکو او نورو کې د ملتونو خلک د ملتپالنې په نوم که څه هم مقابل لوری په حقه وي، له خپل ملت څخه په ملاتړ مجبور دي او رقیب ملت سره له دې چې مظلوم واقع کیږي، د بد (اهریمنی) په سترګه ورته کتل کیږي. ملتپالان د خپل ملت د ښه

[۱] Zeenath Kausar; A Philosophical Critique of Nationalism; Reflection of Iqbal; p 4

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودلو لپاره د ښه او بد فلسفه په نظر کې نه نيسي، تاريخ کې لاسوهنه کوي، په پخوانيو افسانو او فرهنګونو باندې که څه هم دروغ او يا باطل وي، وياړ کوي او تر دې حده چې د خپلو پخوانيو ملي قهرمانانو او مشرانو په عبادات لاس پورې کوي چې په دې اړه ويل دورانت د نړۍ مشهور مؤرخ ليکي: نولسمې پيړۍ ملتپالنه کشف کړه او تقريباً ټول مؤرخين يې مفسد کړل[۱].

ملتپالنه په غرور، تکبر او شيطاني ښه والي باندې ولاړه ده چې ملتپالان خپل ځان له نورو ملتونو ښه ګڼي او نورو ته د بربري په سترګه ګوري او د شيطان په څير چې د تکبر له امله يې د خدای ج له امر څخه سرغړونه وکړه د خدای له امر څخه چې مومن خپل ورور وګڼي سرغړونه کوي. ملتپالنه يوه غير منطقي عقيده ده چې هربرت لوثی هغه داسې تعريف کړيده: ملتپالنه د ځينو اصولو په بنا يوه داسې عقيده ده چې له ساينسي او فکري پلوه منطقي نه ګڼل کيږي او يوازې د خپلو پيروانو په ذهنونو کې اعتبار لري[۲]. همدارنګه البرت انيشتين وايي: ملتپالنه د بشريت شري (سرخکان) او د ماشومانو ناروغي ده[۳]. د ملتپالو نظريه اچوونکي په جغرافيايي، ژبنيو، قومي، سياسي-اقتصادي او تاريخ او تمدن په عواملو باندې د يو ملت د جوړولو لپاره تکيه کوي، پداسې حال کې چې دير مهال دا نظريه جوړونکي خپله د دې همدې په وړاندې راځي او په لږ دليل سره رديږي. که د يوه ملت د جوړيدو عامل جغرافيه وي، نو ولې يو مصری د دې پرځای چې مصري ووايي، عربي نه وايي؟ که ژبه د يو ملت د جوړيدو عامل وي نو ولې ځينې کردان ترکي، عراقي، سوريه يي او ايراني دي؟ که نژاد د يوه ملت د جوړولو عامل وي نو ولې بلوڅ په ايران وا پاکستان پورې تړلي دي؟

او که تاريخ او تمدن د يو ملت د جوړولو عامل وي نو ولې ټول مسلمانان يو ملت نه دي؟ د ملتپالنې يووالی موقتي دی او تر هغې يو ملت متحد وي چې بهرنی خطر احساس کړي او کله چې هيواد د سولې او ثبات په حالت کې وي، بيلابيل قومونه او

---

[۱] Will Durant; The Mantions of Philosophy; p 239

[۲] Johann Herder; A Rehabilitation of Nationalism; p 85

[۳] Dryan Lawson; The Language f Space; p 164

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبې د واک د ويش په سر له يو بل سره سيالي کوي چې د ژبنيو او قومي تعصبونو د رامنځته کيدو لامل ګرځي. رامنځته شوي تعصبونه د اسلامي نړۍ په ملتونو کې په پوره توګه محسوسيدای شي او مسلمانان پرته له دې چې دا درک کړي چې ټول له يو پلار او مور څخه دي او الله (جل جلاله) د اسلامي نظريې پر بنسټ يووالی غواړي او برته له دې چې وپوهيږي چې زموږ پيشوا حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم تعصب بد ګڼلی دی او هغه کسان چې تعصب کوي د امت له دايرې وتلی دي، له يو بل سره جګړه کوي او د دښمن ژرندې ته اوبه اچوي.

ملتپالنه له اسلام سره يو بيګانه مفهوم دی؛ ځکه چې د قومي او فاميلي اړيکو پر بنسټ په يووالی باندې تاکيد کوي، پداسې حال کې چې اسلام خلک د الله (جل جلاله) په يووالی او د حضرت محمد د وحدت د عقيدې په محور يو کوي او په بل عبارت، اسلام ايډيالوژيکه اړيکه غواړي[۱]. په اسلام کې رنګ، نژاد، قوم، طاليفه، ژبه او جغرافيه مطرح نه ده او د ښه والي تومنه د انسان په تواق کې نغښتې ده. اسلام په هغ وخت کې چې ژبني او نژآدي تعصبونو په اوج کې وو، د تورپوستي حبشي حضرت بلال رضی الله عنه په مؤذن کولو، له پيغمير صلی سره د تورپوستي اسامه رضی په خپلولو، د پيغمبر په واسطه د سلمان فارسي په اهل بيت کولو او انصارو ته په فضليت ورکولو سره يې داسې امت جوړ کړ چې د دې امت ترمنځ مينه له قومونو، ژبو او بيلابيلو ډلو او اسلامي عقيدو ته يې مطلقه وفاداری د هغه وخت دوه سترې امپراتورۍ شرمنده او ړنګې کړې. اقبال د ملتپالنې تر عنوان لاندې دا چې ملت د وطن اساس نه ده، په خپل کتاب د بې هوشۍ رموز کې د شعر په ژبه داسې ليکي:

---

[۱] Shabir Ahmad; Roots of Nationalism in Muslim World; p 23

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثري بڼه:

وورګـــلوي يې قطـــــــــع کړيده | د مـــــــلت ودانۍ يې پرې جـوړيده
ترڅو وطــــن روښانه کـــــــــــړي | انسانان سره قـــبيلې قـــــبيلې کړي
دې ونې له عالميانو جـــنت وړی دی | ترخه جـــګړه يې رامنــــــځته کړيده
په نړۍ کـــــې خلک افـــــسانه شول | سـړی لــــه ســـــړي پـردی شــــو
له بدنه روح ولاړ او اوه غړي پاتې شول | انسانيت ورک شو او قومونه پاتې شول
هيواد د هغه دين معـــــــــــبود کړ | د هغه فکر مـــحمود مـــذمـــوم کړ
ترڅو چې د دې معبود پېښې ښــکلوئ | د سود په عيار باندې د حق نقد کـوئ

**فرقه پالنه**

يو بل تريخ او انکار نه منونکی حقيقت چې د اسلامي امت د دردوونکي حالت مسبب ګڼل کيږي، د دې امت بې اتفاقي ده. پداسې حال کې چې د غرب عصري دجالي تمدن د پخوانۍ او ژورې کينې له مخې چې له اسلامي عقيدې او تمدن سره يې لري، له اسلامي نړۍ سره خپله سخته دښمنې اعلان کړيده او په هر ډول لرونکو اسلحو سره زموږ په لور حمله کوي. مسلمانان د دې پرځای چې د پخوا په څير خپل داخلي اختلافات يوې خواته کيږدي او د يو موټي او متحد امت په چوکات کې د فرعونيانو د وخت په وړاندې مبارزه وکړي، له بده مرغه يې په خپلو کې د يو بل سره په جګړه دي او د ملت، قومو نژاد، ژبې او له ټولو مهمه مذهب، په نومونو سره د يو بل په وژلو اسلامي امت کمزوري کوي او که په غوښتل شوې او ناغوښتل شوې توګه د دښمنانو لخوا استعماليږي. کله چې د ايران انقلاب بريالی شو، پداسې حال کې چې صهيونيستان په ښکاره توګه ددې انقلاب مخالف وو، خو په باطن کې ځکه خوښ وو چې په اسلامي نړۍ کې يې  د خذهبي جګړې لپآره ښه وسله لاسته راوړه په ايران کې د نوي دولت په رامنځته کيدو سره د ايران او عربستان د ملت پالو حکومتونو او د ملت پآلو متحدينو ترمنځ يې رقابتونه پيل شول او دې سيکولر حکومتونو د خپلو ګټو د تامين او د واک د ساتنې لپاره د هيوادونو په دننه او بهر کې له مذهب څخه د يوې وسيلې په توګه کار پيل کړ، پداسې ډول چې ايران خپل ځان د اهل تشيع او د عربستان شاهي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خان د اهل تسننو استازي وښودل او د امت د نفرت په خپرولو سره يې پيل وکړ. اوسمهال چې اور سوځونکې جگړې تقريبا ډيرى اسلامي ښارونه نيولي دي، پرته له دې چې د صهيونيستانو او د هغوی هم ترونو تر سخت بمبارد لاندې مسلمانان رنځيږي، د ايران او عربستان لخوا د تمويل شويو ډلو له دې جگړو سره او د محمد (صلی الله عليه وسلم) د امت په وژلو کې ستره مرسته کوي. د الله (جل جلاله) د حق حاکميت اخيستل او بيا ملگرو ملتونو ته سپارل او بيا دولتونو ته د سيکولر حکومتونو په اسلامي مختاړو او وروستاړو سره نوم ايښودل او شرک چې د الهي عذاب سبب دی مرتکب کيدل چې ډيرى مسلمانان يې پرې ککړ دي او همدرانگه الله (جل جلاله) فرقه پالنې ته د شرک په توگه کتلی دي او اوس ډير مسلمنان په دې گناه هم اخته دي. الله (جل جلاله) فرمايي: (ټينگ اوسئ په دې خبره باندې) د الله لوري ته رجوع کوونکي، او د هغه څخه وويريږئ، او لمونځ قايم کړئ، او د مشرکانو څخه مه کيږئ[1].

الله ددې سترې گناه (شرک) په مقابل کې د سخت عذاب چې يو يې د يوې ډلې په واسطه د بلې تعذيبول دي، ورکړيده. لکه چې فرمايي: ووايه: الله تاسې ته له هغه او له بل هر کړاو څخه نجات درکوي، بيا تاسې نور له هغه سره شريکان گڼئ - ووايه: هغه پر دې قادر دی چې پر تاسې کوم عذاب له پاسه نازل کړي يا ستاسې تر قدمونو لاندې يې راپورته کړي، يا تاسې پر ډلو وويشي، ر يوې دلې باندې د بلې ډلې د زور خوند وڅکئ. وگوره! موږ په څه شان په مکرره توگه بېلابېلو لارو څخه خپلې نښانې دوی ته وړاندې کوو، ښايي چې دوی په دې حقيقت وپوهيږي.[2]

اسلامي امت په بيلابيلو ډلو ويشل شوی دی چې د يهودو او نصاراو په اړه د الله (جل جلاله) د وينا سره سم، مسلمانان هم له دين څخه له پوهې او برداشت سره خپل ځان حق گڼي او نورې ټولې ډلې باطلې شميري، ټول وايي يا زموږ لاره او يا هيڅ لاره.

---

[1] سوره الروم؛ ۳۱ او ۳۲ آيتونه؛ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿۳۱﴾ مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿۳۲﴾

[2] سوره الانعام؛ ۶۴ او ۶۵ آيتونه؛ قُلِ اللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شخصي برداشت او تاويلاتو په اړه دا ډول ليدلوری، يو ډول تکبر ده چې د ډلو ترمنځ د بدينيو او تعصبونو سبب شوی دی او د امت يووالی له منځه وړي. الله (جل جلاله) اسلامي امت ته د يو موټيتوب امر کړيدی او د ډلو رامنځته کول او په ډلو باندې وياړ کول يې ستره ګناه ګڼلی ده. الله (جل جلاله) فرمايي: ټول يوځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرک کيږئ مه. د الله (جل جلاله) هغه پيرزوينه در ياده کړئ چې بر تاسې يې کړيده: تاسې يو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسې په زړونو کې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورينه تاسې سره ورونه ورونه شئ. تاسې د يوې له اوره ډکې کندې پر غاړه ولاړ واست، الله ځيني وژغورلاست. به دې شان الله خپلې نښانې تاسې ته څرګندوي، په کار ده چې په دغو نښانو سره تاسې ته دخپلې ژغورنې سمه لاره په نظر درشي. [1] په يو بل ځای کې رسول صلی الله عليه وسلم ته په خطاب کې وايي: هغه کسان چې خپل دين يې ټوټه ټوټه کړ او ډلې ډلې شول، ته ورسره کار مه لره، خدای ج ورسره کار لري، هغه يې د کار او کړنې څخه خبر وي[2].

د ډلې پالنې ستونزه ورځ تر بلې په اسلامي نړۍ کې د پراختيا په حال کې ده او د ډلو ترمنځ بدبيني دې حد ته رسيدلې ده چې يو بل کافر بولي او د يو بل په وړاندې جهاد اعلانوي. د کافر ګڼلو کار کومه تاريخي مخيينه نلري، بلکې د اخرالزماني فتنو څخه ده چې له بده مرغه يې اوسمهال د اسلامي امت لمنه نيولې ده. هغه لومړنۍ ډله چې په اسلام کې تکفير رامنځته کړ، د خوارجو ډله وه چې حضرت محمد صلی ورته د ځمکې پرخ د بدترينو موجودانو خطاب وکړ. په اوسني وخت کې له بده مرغه له ډيرو مسلمانانو سره داسې ټاپه په لاس کې ده چې پکې د کافر کلمه حک (ليکل) شويده او هر هغه مسلمان چې د دوی د نظرياتو مخالف عمل کوي او يا هم نظر ورکويو د پلاس کې لرلې ټاپې په واسطه يې په تندي ورته د کفر کلمه وهي او کافر يې بولي. هغه ستر علماء او فقاء چې مذاهب او فرقې ورپورې تړل کيږي، هيڅکله يې يو بل ندي

[1] سوره آل عمران؛ ۱۰۳ آيات؛ وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَتَ اللّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىَ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿۱۰۳﴾

[2] سوره الانعام؛ آيه ۱۵۹؛ إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ ﴿۱۵۹﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافر ګڼلی او اسلامي امت یې د خپلو اجتهاداتو منلو ته مجبور کړي ندي، بلکې تر هر اجتهاد وروسته یې ویلی دي چې (والله اعلم) یا الله (جل جلاله) ښه پوهیږي او هیڅکله یې اسلامي امت ډله پالنې ته ندی تشویق کړی. د اسلام په څوارلس سوه کلن تاریخ کې ټولې اسلامي ډلې په وروګلوی سره د حج مراسم ادا کوي او هیڅکله کومې فرقې، ډلې او مذهب د امت د اجماع په واسطه دا الهي فریضه منع نه کړه، د الله (جل جلاله) کور ته د ننوتلو حق یوازې مسلمانان لري، نو که کومه ډله، فرقه او یا مذهب کافر وو نو باید د خدای کور ته یې د ورتګ اجازه نلرله. اوس چې امت په ستر انحطاط کې ده او هر خوا جهالت نیولې ده موږ ته لامزمه نده څو د پخوانیو علماء په مخالفت چې له موږ څخه په لږ نحطاط کې وو، د یو بل په کافر کولو لاس پورې کړو او د اسلامي امت ترمنځ د اختلافاتو سبب شو. حضرت محمد صل علیه وسلم فرمایلي دي: لکه څنګه چې بني اسرائیل په یو اویا ډلو وویشل شول، (زما امت) به هم په یو اویا ډلو وویشل شي. ټول به په دوزخ کې وي پرته له یوې ډلې[1]. ددې حدیث په اړه بیلابیل نظریات موجود دي چې ډیری علماء په دې عقیده دي چې د اور د اهلو څخه موخه، دایمي اور نه دی؛ بلکه هغه مسلمانان دي چې اصلي لاره کې تیروتي دي، د دې کار سزا به ویني؛ خو په دې کار سره د اسلام له دایرې څخه ندي وتلي، ځکه چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ورته (زما امت) ویلی دی. امام البیهقي په دې اړه وایي: د دې حدیث مفهوم دا ښیي چې هغوی به د یو ټاکلی مودې لپاره په اور کې سزا ووینو نه د تل لپاره؛ او دلیل دادې چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي چې زما امت به ډله ډله شي، نو له دې امله حضرت سره له دې چې ټول به یې دله ډله کیږي، خپل امت ګڼلی دی[2].

همدارنګه الخطابي وایي: د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) وینا چې زما امت به دري اویا ډلې ډلو باندې ویشل کیږي دا ښکاره کوي چې دا ډلې به د امت له

---

[1] سنن ترمذي، ۲٦۴۱ حدیث

[2] Surkheel Sharif. The Seventy Three Sects. P. 7

(c) ketabton.com: The Digital Library



دايرې څخه نه وځي، ځکه چې زما د امت خطاب ورته شوی دی[1]. د رسول الله صحابه کرام مسلمانانو ته د کافر کولو او تکفير د خطاب په اړه ډير زيات محتاط وو، په دې اړه له جابر بن عبدالله انصاري رضی څخه پوښتنه وشوه چې يو چا ته چې د مکې (د مسلمانانو قبلې) په لور لمونځ کوي، د کافر خطاب کړی دی؟ ويې ويل: نه! پوښتنه ترې وشوه چې ايا هغوی ته مشرک ويلی دی؟ ويې ويل معذا بالله، يعني په الله سره پناه غواړم[2]. حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي: درې شيان د ايمان ريښې دي: (۱) د هغه چا له وژلو ځان ژغورل چې لا اله الی الله وايي، (۲) هغه چا ته کافر او نامسلمان نه ويل چې هر ډول گناه ترسره کوي (۳) او غير مسلمان نه ويل هغه چا ته چې هر عمل ترسره کوي[3]. او په يو بل روايت کې راغلي دي چې يو کس عبيدالله بن عمر ته وويل: زه گاونډي لرم چې راته مشرک وايي او هغه ځواب ورکړ: لا اله الا الله ووايه او هغه دروغجن ثابت کړه[4].نن ورځ ډيری ډلپالنې سياسي اړخ لري او ډيری مسلمانان پرته له دې چې د تکفير د خطرونو او په اسلام کې د هغې د مخينې په اړه پوره معلومات ولري، يو بل کافر بولي، نو د عربستان، ايران ا وصهيونيستان په ژرندو کې اوبه دي.

**سياسي تعصبونه**

تعصب د اعتقاد يو ډول دی چې يو انسان يا يوه ډله خپل ځان له نورو انسانانو يا ډلو څخه ښه گڼي. هغه عناصر چې له مخې يې انسانان له نورو ځانونه ښه گڼي پکې نسل، نژاد، ژبه، د پوستکي رنگ، مذهب، نړيوالتوب، استعداد، ملت، فرهنگ، جغرافيه او سياسي ايډيالوژي ده چې د اسلام سپيڅلي دين په دې هر ډول تعصب او ښه والي باندې د بطلان خط راښکلی دی او ټول انسان يې له يو مور او پلار څخه مساوي گڼلي دي. حتی الله (جل جلاله) حضرت محمد مصطفی ته فرمايي: ووايه! زه خو ستاسې په

[1] همدا سرچينه، ۸ مخ

[2] المعجم الاوسط للطبرانی؛ باب الميم من اسمه محمد؛ ۷۵۴۸

[3] سنن ابوداود؛ ۲۱۷۰ حديث

[4] امام ابن اساکر؛ تبيين کذب المفتری؛ ۳۷۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیر یو انسان یم. ماته وحیې کیږي [۱]. نو له دې امله مسلمانان او مؤمنین باید له هر ډول ښه والي ګڼلو څخه ځان وژغوري، خو له بده مرغه د غربي عصري تمدن او د نظریاتو په خپراوي او د غرب په راتګ سره، مسلمانان داسې د غربي فکرونو تر یرغل لاندې راغلل چې نن ورځ یې په سلام منع شوی او حرامو ښه والیتوب باندې لاس پورې کړی او تر دې چې مسلمانان نن ورځ د اسلام د ښو سیاسي قوانیو او نظام لرونکي دي په سیاسي ښه والیتوب کې لاس وهي. مسلمان ځوانان د علم د ترلاسه کولو لپاره له خپلو کورونو څخه وځي، خو له دې وتلو سره سم په علمي مرکزونو کې د دې پرځای چې ورته اسلامي سیاسي، ټولنیز او اقتصادي نظام تدریس شي، د لیبرالیزم، سوسیالیزم، انارشیزم، فاشیزم او نورو په څیر بشري نظامونه په ویلو مجبوریږي او دا چې له اسلامي نظامونو څخه بې خبره پاتې کیږي، یا دا چې له پورته نظامونو څخه یو ځانته د خپلې ایډیالوژۍ په توګه ټاکي او د غیر اسلامي ایډیالوژۍ په لرلو سره د هغې له مخې په سیاسب تعصب لاس پورې کوي او یا هم غواړي د اسلام پوره دین ته د خپلې ایډیالوژۍ په چوکاټ کې ځای ورکړي او هغه توجیه کړي. د خپل باطل سیاسي نظام په چوکاټ کې د غرب داخلیده د ګوند او ګوند پالنې به نوم یوه بله ډالۍ له ځانه سره راوړي چې د تفرقې یوه بل ډول دی او له بده مرغه مسلمانان د ګوند او ګوندپالنې دا پدیده چې له اتحاد څخه د لریوالي او تفرقه سبب کیږي، د پرمختګ او روشنفکرۍ یو ډول یې ګڼي او د دې پدیدو په راخپلولو سره په کوچنیو ډلو باندې ویشل شویدي او پرې ویړ کوي. حزب پالنه د اسلامي امت ترمنځ د یووالي د رامنځته کیدو مخه نیسي، ځکه چې له غربي ایډیالوژیو سره ګوندونه مسلمانان غیر اسلامي ایدیالوژیو منلو ته تشویقوي او ګوندونه تر اسلامي شعار لاندې او د اسلامي مختاړو او وروستاړو سره هر یو خپل ځان د اسلام استازي پیژني او نور ګوندونه باطل

[۱] سوره الکهف؛ ۱۱۰ آیت؛ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴿۱۱۰﴾ ژباړه: اې محمده ورته ووایه: زه خو ستاسې په څیر یو انسان یم. ماته وحیې کیږي چې ستاسې خدای همدا یو خدای دی. نو څوک چې له خپل پروردګار سره د یو ځای کېدو په هیله وي، هغه ته په کار ده چې ښه عمل وکړي او په بندګۍ کې له خپل رب سره بل څوک شریک نکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼي. ګوندونه له خپلو غړو څخه د ګوند د قانون (اساسنامې) وفاداري غواړي او سیاسي موخو ته د رسیدو لپاره دا اساسنامه د اسلام په چوکاټ کې توجیه کوي او ځینو ځایونو کې خپل سیاسي موخو ته د رسیدو لپاره د اسلام د بنسټونو مخالف عمل کوي او حتی د خپلو مالي او سیاسي ملاتړ لپاره د دښمنانو غیږ ته ځان اچوي. په اسلامي نړۍ کې د ګوند پالنې تاریخ دا راښیي چې ګوندونه سره له دې چې خپلې کړنې د اسلام په لاره کې د مبارزې په نامه ښکاره کوي هیڅ مرسته یې له اسلامي امت سره نده کړې بلکې د اسلامي امت ترمنځ په بین الحزبي جګړو کې د وژنو او اختلافونو د رامنځته باعث شوي دي. کله چې د اتحاد جماهیر شوروي صهیونیستي قواو، د افغانستان اسلامي هیواد تر وحشیانه یرغل لاندې راوست، با غیرته مسلمانانو ددې غیر انساني تجاوز پر وړاندې مبارزه وکړه، خو له بده مرغه چې د اسلام د مکتب پرخلاف په ګوندونو وویشل شول چې د ښي خوا صهیونیستانو (لیبرال) ته له دې جهاد څخه د بدې ګټې اخیستنې لپاره چانس برابر کړ. د چپ خوا صهیونیستانو (کمونیستانو) تر وتلو وروسته پخلو کې د واک د ترلاسه کولو لپاره په اخلاف شول او د صهیونیستي سلاحو په واسطه یې په دې اسلامي هیواد کې د بې ګنا خلکو او یو بل په وژلو پیل وکړ، هغه صهیونیستان چې افغانانو له دې خاورې څخه شړلي وو دوباره ورته د ښه راغلاست په ویلو سره بیرته دا ځمکه په لاس ورکړه. همدارنګه د شام په هیواد کې سره له دې چې له څلویښتو زیات صهیونیستي هیوادونو، مسلمانان بې رحمانه ډول بمباروي، تلفات یې تر دې د اسلامي ګوندونو د خپلمنځني وژنو څخه لږ دي. نو له تاریخي تجربې څخه دا درک کولی شو چې نظر بهرنیو حملو ته د دې امت رقت بار حالت سبب وجه د مسلمانانو ناپوهي ده.

**غرب ځپنه او ناپوهي**

یقیناً د وروستۍ زمانې یوه نښه داده چې پوهه له منځه ځي او ناپوهي خپریږي[۱]. اوس وخت داسې وخت دی چې ناپوهي علم ګڼل کیږي. د لومړي ځل لپآره د بشر په تاریخ کې علم په دوو رسمي او غیر رسمي ډلو ویشل شوی دی. رسمي علم هغه ده چې په

[۱] صحیح مسلم؛ ۲٦٧١ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي مکتبونو، پوهنتونونو او رسنيو کې تدريسيږي او د دې داسې نصابونو له لارې لاسته راځي چې د غربي مرکزونو او په ځانګړې توګه د ډله ييزو ټولنو په واسطه تاييد شوی وي. دا رسمي زده کړې محصلينو او متعلمينو ته دا وربښيي څو د هرې ويل شوې کلمې او جملې پرته له دې چې سموالی يې وپوښتي، د سر په خوځولو سره يې تاييد کړي. رسمي علم چې د فرانسې تر انقلاب وروسته يې شهرت وموند، ددې علم د توليدونکي تمدن په څير ماده پالی وو او پکې له علميت څخه موخه ګټه غوښتنه وه چې حق او باطل پکې ځای نلره. دا حق هغه ده چې پکې شخصي ګټه نغښتی وي؛ خو واقعي (غير رسمي) علم ګټه غوښتونکې نده بلکې د هغې وروستۍ موخه د حق او باطل بيلوالی دی او حق ته د رسيدو لپاره سره له دې چې ټول دموکراتيک او ډله ييز مرکزونه يې مخالف وي او پرې انتقاد کوي، بيا هم د حق لاره نه پريږدي. ډيری خلک اوسمهال د مادي او دنيا د ښه ګټلو له امله په رسمي علم پسې دي او يوازې هغه کسان په حق او باطل پسې دي چې د بې عدالتۍ په خپريدو سره يې چې ملګري يې ازاروي، ستونې ورته خفه کړي او حق ته د رسيدو او د حق د پيغام رسولو له لارې هغه کسان دي چې غواړي د بې عدالتۍ په وړاندې مبارزه وکړي، خو د رسمي علم د شاګردانو او علماوو په واسطه، يعني هغو کسانو چې د خپلو تيوريو لپاره دليل نلري او عمليت غربي علماوو راخيستی، رسنۍ چې د دروغو پوپاګندو ستر مرکزونه دي، علمي مرکزونه چې په ړوند ډول غربي باطل الفاظ تکراروي او هغه قلابي ستوري چې د غربي مرکزونو او رسنيو لخوا ورته کاذب شهرت ورکړی شوی دی، تل تر تاخت و تاز يا تيري لاندې راغلي دي او د زوړ فکري، غير متمدن او حتی ليوني او احمق په څير لقبونو سره يې ورته خطاب کړی دی. همدا ده چې هغه محصلين چې غواړي د حق او باطل بيلوالی وکړي ورځ تر بلې کميږي او ټول په يو داسې کاروان کې سپاره دي چې نوم يې علم ده.

اوسني وخت ته د معلوماتو وخت وايي خو يو مشهور غربي متل ده چې وايي: د معلوماتو په زمانه کې تر ټولو د معلوماتو ستره وسله دروغ ده، له دې امله د لږ شمير حق پالو د کنترول کولو لپاره د هغو کسانو لخوا چې د حق موندنې لپاره يې نقاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلی دی د دروغو معلومات خپرېږي چې د علمي اغتشاش د رامنځته کېدو سبب شوی دی. د دموکراسۍ اندېښنه هم د اوسني وخت د علمي پرېشانۍ تر ټولو ستر مثال دی، حقیقت ته يې د رسيدو لپاره بايد زرګونه ضدو نقيض نظريې مطالعه کړی. يوازې په دې اړه د اسلام د موقف موندنې لپاره زرګونه اسلامي نظريې او فتواوې شته چې يو بل نفي کوي، د بېلګې په توګه يو مفتي وايي رای ورکول د اسلامي بيعت سره برابر دي، يو بل اسلام د دموکراسۍ په قالب کې تعريفوي، ځينې ورته د عام تام مشروعيت ورکوي او ډېری يې نفي کوي چې په دې منځ کې لوستونکی داسې په علمي اغتشاش کې ورک کېږي چې تر کلونو مطالعې او څېړنې وروسته بيا هم په اړه قطعي پرېکړې ته نشي رسيدلی. علمي اغتشاش دين ته هم راننوتی دی او د ستر اسلامي جهالت سبب شوی دی. ۱۲۴۰۰۰ صحابه کرام له رسول الله سره ناست دي او له حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) څخه زده کړه کوله، خو ډېر لږ يې په ديني مسايلو کې د فتوا په ورکول قادر وو خو محمد ص بهرتين نسل صحابه او تر هغې دوه وروسته نسله (تابعين او تب تابعين) ګڼلي دي[1].

هغه ښاغلي سره له دې چې مستقيماً يې له رسول الله ص په واسطه ښوونه او روزنه ترلاسه کړېوه، په اسلامي مسيلو کې يې د فتوا له صادرولو يا ډډه کوله او يا يې هم په ډېر محتاطانه خپل نظر څرګنداوه، خو اوس چې د اسلام نړۍ ټوله انحطاط نيولې ده او هره نوي پيښه له ځانه سره زرګونه فتنې لري او ډېر لږ به داسې مسلمان ومومو چې په يو نه يو ډول په فتنو کې ښکيل نه وي. په هر ښار او کلي کې زرګونه مفتيان دي چې د دوه يا درې کتابونو په ويلو سره، پرته له دې چې قران عظيم الشان په سمه توګه مطالعه او درک کړی وي او پرته له دې چې د قران کريم د اياتونو شان نزول يې مطالعه کړی وي، د الله (جل جلاله) له ويرې پرته فتواوې صادروي چې په مسلمان امت کې د فتنو سبب شويدی. دين اوس د څو ناپوهو ځوانانو لاسته ورغلی دی چې د انټرنيټي صفحو تر شا فتوا صادروي او د مسلمانانو په تکفير لاس پورې کوي. دا ځوانان غواړي په خپل خوښه دين ته خدمت وکړي، په ناسم ډول د اسلامي امت

---

[1] Shaykh Muhammad hisham Kabbani; The Approach of Armageddon?; p 105

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ د اختلافونو سبب شوي دي او حتی او له اسلام څخه د ناسم درک له امله د اسلام مقدس دين په نسبت د بدينيو سبب شوی دی. ځو ناسمې فتواوې د دې سبب شوې چې د اسلامي علماء اعتبار کمرنگی کړي د غرب ځپلو غلطو کارپوهانو په څو کلمو انگليسي او د څو غربي علماوو په سرچينه کولو په ځانگړې مستشرقينو سره ځان ته عالم ووايي او په اسلامي ټولنو کې د عالم اعتبار خپل کړي چې همدا ناپوهه غرب ځپلي په اسلامي امت کې يو ستر مشکل گڼل کيږي.

يو وخت وو چې د قرانکريم د يو ايت يا عربي منقول خبر په اوريدو سره مو خولې ترل کيدې او هر مخالف په خپل ځای کيناسته، اوس د هر نقل کې د فلاني غربي يوه جمله، زموږ خولې بندوي او په دې اړه کار دومره افتضاحي ته تلی دی چې د غرب ستور پيژوندونکي او فال بينان وړاندونيه په يو وار ټوله نړی په جنب او جوش کې راوړې او په ويره کې يې اچوي. اوس د منزل وحې له اسممني کتابونو تلې ده؛ رويټر او يونايټد پرس، دا سترې کمپنۍ د جعلي او غير جعلي خبرونو جوړونکې دي[1]. اوس عالم هغه څوک گڼل کيږي چې د غربيانو له نظره روشنفکر وي، د غربيانو په څير واغوندي، ووايي او ښکاره شي. دا غرب ځپلي روشنفکران هغه څوک دي چې لاس يې سترگو ته نيولی او د غرب ويناوې يې خپل کار گرځولی دی، ټولې نړۍ ته د غرب له عينکو گوري، له خپل فرهنگ، تاريخ او تمدن څخه بې خبره دي، د غربي رسنيو تر ټولو وفاداره ليدونکي دي او د هر څه لپاره ځواب لري او د نظر خاوندان دي او د کال د نوي ماډل موټر په راتلو او د خپلو قيمتي دريشو سره د فقيرو له طبقې څخه دفاع کوي. دوه ډوله غرب ځپلي په اسلامي ټولنه کې شته دي چې ډير گواښ کوي؛ يوه يې هغه غرب ځپلي دي چې د غربي ارزښتونو د تبليغ لپاره يې پيسې اخيستي او خپل دين او فرهنگ يې خرڅ کړيدي او هغه غرب ځپلي چې څو ورځې غرب ته د علمي بورسونو او رسمي او شخصي سفرونو له لارې سفر کړيدی او د غربي عصري تمدن په نظرياتو او افکارو سره د ملبسو رسنيو له لارې، پرته له دې چې د عصري تمدن له تياره باطن څخه ژور درک ولري د غرب خبرې کول يې خپله دنده گرځولې ده او په

---

[1] جلال آل احمد؛ غرب ځپنه؛ ۱۲۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناغوښتل شوې توګه د غربیانو وړیا وسله ګرځي. په دې اړه د انګلیسانو پخوانی لومړی وزیر توني بلیر وایي: موږ باید هغه حکومتونه او خلک چې د بقا اجازه ورته ورکوو، متقاعد کړو چې زموږ لاره وروستۍ لاره ده... موږ غواړو چې د مسلمانانو د پوهنتونو محصلین او د ښوونځیو ماشومان وړاندې له دې چې حتی پوه شي چې د ارزښتونو جګړه پیل شوې ده زموږ پلوي شي. موږ غواړو هغوی مغشوش او مست کړو[1]. غرب ځېلتوب او غرب ځپنه د دې سبب شوې ده څو مسلمانان د غرب وفاداره مقلدین شي او د اسلام اصیل ارزښتونه هیر کړي. په هر اسلامي ښار کې په قدم وهلو سره د غرب ځپنې ستونزه په ښکاره توګه لیدی شو. په هر ښاري ګرځیدو سره د مسلمان اولاد زوی چې وریځې یې ویستل شوې دي، ویښتان یې په عجیبو رنګونو سره سیخ سیخ شوي دي او اسمان ته اشاره لري، په لباس کې یې داسې یو انځور لیدل کیږي چې یو غربي هنري او ورزشي ستوری وي او د زنانه خویونه پکې وي چې پوهه یې د ټولنیزو شبکو له دایرې وتلې نه وي. د غربي ژوندانه څخه په فردي او ډله ییز ډول تقلید کول د مسلمانانو په واسطه د اسلامي تمدن د ژوندي کولو لپاره یو انکار نه منونکي او ستر خطر ګڼل کیږي او داسې ده لکه چې پداسې حال کې چې زموږ ځوانان په غربي غیر محجبو لباسونو ښایسته شوي دي او ځانته روشنفکر ښیي.

زموږ د فرهنګ محجوب او سنتي لباسونه په داخلي او خارجي موزیمونو کې بند دي او یوازې په ځانګړو پروګرامونو کې ننداري ته وړاندې کیږي چې دا جاهلانه تقلید د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د یوې وړاندوینې ربتیا کیده دي چې فرمایي: په یقین سره تاسو له خپل ځان څخه د پخوانیو قومونو لارې ذرع په ذرع (اینچ په اینچ) او وجب په وجب عملي کړئ، داسې چې که هغوی د مار په کوم سوري کې ننوتل، تاسو به هم هغوی تعقیب کړئ، صحابه و وپوښتل: ای د الله رسوله! ایا ستاسو موخه یهود او نصارا دي؟ ان حضرت ص ځواب ورکړ: نو څوک![2]

---

[1] Abdul Ghafur Muslim; Survival of the Islamic Ummah; p 12

[2] صحیح مسلم؛ ۴۸۲۲ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د القاب او اسلام محاصره**

د عثماني خلافت تر ړوپه کېدو وروسته، اسلامي نړۍ د اسلام د دښمنانو لخوا داسې محاصره شوه چې د هرې ورځې په تېريدو سره د دې محاصرې حلقه راتنګيدله. نن ورځ مسلمانان له دښمنانو سره په نظامي، اقتصادي، علمي او هر ډول قدرت سره نه شي پرتله کيدلی او پداسې حال کې چې تر بل هر وخته اوس د اسلامي تمدن جوړيدا ته اړتيا ده، مسلمانان په داسې انحطاط کې دي چې د غرب په وياندويانو بدل شويدي او د غربيانو په څير د حق غږ د بنسټ پالو، تاوتريخ پالو او تروربستانو په نوم راپيژنوي. صهيونيستان د اسلام تر شعار لاندې د څو ډلو په جوړولو سره د هغې نرمې قوې په واسطه چې په لاس کې يې لري، داسې په اسلام باندې پداسې نرمو حملو پيل وکړ چې اوس که يو باز کومه کوتر ښکار کړي، نو د صهيونيستي رسنيو په سرليکونو کې به وي چې (يوې مسلمانې تروريستې الوتکې، يو بله بې ګناه مرغۍ د يو تروريستي عمل په ترڅ کې ووژله) جوړوي او له بده مرغه مسلمانانو هم د رسنيو په قدم باندې پښه ايښې او د دا ډول سرليکونو له تحقيق پرته په منلو سره له صهيونيستي پلانونو سره مرسته کوي. خو که چيرته دې شاهين په ناڅاپي توګه يو يهودی او يا مسيحي له اوبو څخه راوويست، حتماً به يې کومه روحي او يا رواني نتاروغي لرله او هيڅ تروريستي اړيکه نه ګڼل کيږي؛ خو واقعاً تروريزم څه ده؟ او تروريست څوک دی؟

د تروريزم د تعريف لپاره سياسي او علمي هڅې او له جرمي تاوتريخوالي څخه يې بيلوالی يې نهايي پايلې ته ندی رسيدلی خو هغه تعريف چې ډېر ورسره موافق دي، تروريزم د سياسي موخو لپاره له تاوتريخوالي څخه کار اخيستل ګڼي چې دا تعريف د جګړې له تعريف سره ډېر ورته والي لري. تروريزم او جګړه په خپل ماهيت کې سره ډېر توپير نلري او تل په جنګي پروپاګندو کې د ويرې د رامنځته کولو د ويرې له وسلې څخه کار اخيستل کيږي. چنګيز خان به د هر ښار تر نيولو وړاندې، د هغې وګړې د پروپاګندو په رامنځته کولو او وسيلې سره په ويره کې اچول څو د هغې پر نفس باور را کم کړي او د مقاومت قدرت يې له منځه يوسي، نو له دې امله تروريزم له کړنې څخه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيره پورې رواني حالت دی. د تروريزم تاريخ منځني ختيځ ته راګرځي، يعني کله چې د فدايانو (Zealots) په نوم د يهوديانو يوې ډلې د رومي قواو په وړاندې په سيستماتيکو ترور لاس پورې کړ، نور يهوديان چې له نظر سره يې پلوي نه وو، ووژل شول او په او د روم حکومتي مامورين يې ووژل[۱]. په معاصر تاريخ کې د لومړي ځل لپاره، د تروريزم او ترور کلمه د فرانسې په انقلاب کې د جيکبنز (Jacobins) د ډلې لپاره وکارول شوه، يعنی کله چې دې ډلې د سيکولريزم د لاسته راوړلو لپاره تر لس ګونو زرو انسانانو څخه زيات ووژل او بيا کله چې مهاجرو يهوديانو غوښتل د اسرائيلو يهودي دولت په فلسطين کې جوړ کړي، د مسلمانانو په وړاندې يې په تروريستي کړنو لاس پورې کړ او په هغو ځايونو کې چې د انګليس دولت د يهوديانو په اشاره نه ګډيده، د انګليسانو په وړاندې يې ترې کار واخيست. خو اوسمهال د صهيونيستانو لپاره تروريزم په اسلامي نړۍ کې د غير عادلانه جګړو د توجيه کولو لپآره د عامه اذهانو کې د ويرې د رامنځته کولو مهمه وسيله ده. صهيونيستان د خپلو ظلمونو د توجيه کولو او د دې ظلمونو په وړاندې د مسلمانانو د مقاومت د له منځه وړلو لپاره څو اسلامي ډلې جوړ کړې او د روغجنو بيرغونو[۲] په څو حملو سره يې د رسنيو په واسطه ورته په ظاهره توګه مشروعي رنګ يې د تروريزم په وړاندې جګړه لاسته راوړه چې د دې په مرسته د عدالت غوښتنې هر غږ د اسلامي تروريستانو په نامه (چې خپله يې دا نوم رامنځته کړيدی) غلې کوي. هنري کسنجر د امريکا د بهرنيو چارو پخوانی وزير، ستر ديپلومات، جرمني الاصل يهود او هغه څوک چې نړيوال حکومت ته کار کوي وايي: موږ په امريکا

[۱] University of California Press; Edited by Gerard Chaliand and Arnaud Blin; Translated by Edward Schneider, Kathryn Pulver, and Jesse Browner; The History of Terrorism: From Antiquity to All Qaeda; pp 55 & 57

[۲] د درواغجنو بيرغونو عمليات، هغو عملياتو ته ويل کيږي چې د نظامي، شبه نظامي، معلوماتي يا سيسي ادارو له لوري ترسره کيږي چې داسې فکر رامنځته کړي چې دا عمليات نورو هيوادونو ترسره کړيدي. د بيلګې په توګه د لوري قواوې د يوه کلي د اوسيدونکو د قتل عام کولو او حملې او بيا وروسته په دې وژنو سره د بل لوري د تورن کولو لپاره د مقلبل لوري له نظامي لباس او بيرغ څخه په جګړه کې له دروغجنو بيرغونو څخه ګټل کيږي. د دروغجنو بيرغونو د علماتو له ترسره کولو څخه موخه د اصلي مرتکبينو د هويت پټ ساتنه او يا هم د مقابل لوري د بدنام کولو او په هغوئ د حملې لپاره د ترسره کولو يوه بهانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هغو ډله خلکو ته چې نړيوال سيستم نه مني، تروريستان وايو[۱]. همدارنګه جورج بوش د سپټمبر د يوولسمې پيښې څخه وروسته نړيوالو ته وويل: يا به له موږ سره ياست (زموږ ملاتړي) او يا به له تروريستانو سره ياست[۲].

نو د صهيونيستانو له نظره د تروريزم تعريف ډېر واضح او ښکاره دی، هر هغه ډله او خلک چې د صهيونيستي اجنډاوسره مخالفت وښيي، تروريست ورته ويل کيږي، لکه چې د فلسطين مجاهدينو د اسرائيلو د ټولو غاصبانو بې عدالتيو سره سره ورته د توروپست خطاب وشو. هغه مسلمانان چې د صهيونيستي پلانونو په وړاندې د علم او فکر له لارې مبارزه کوي، د بنسټ پالو په څير لقبونو باندې څنډو ته کيږي، پداسې حال کې چې هر واقعي مسلمان بنسټ پالې دی، ځکه چې د بنسټ پالنې مفهوم دادی چې د اسلام په بنسټيزو اساسات عمل کوي او هغه په خپل ژوندانه کې عملي کوي. هر هغه مسلمان چې اوس يې هم د ايمان نور په زړه کې ځليږي او د زړه او ظاهري بينش له مخې ځان د ټولو بې عدالتيو په وړاندې ويني، بايد د الله (جل جلاله) لخوا ورته د ورکړل شوی دندې له مخې: د حلارې په فکر کې شي او د الله د دين لپاره هغه عملي کړي.

**حل لاره**

اوسمهال د مسلمانانو نفوس تر ۱٫٦ بيليونو تنو زيات دی، يعنی د نړۍ هر څلورم وګړی مسلمان دی، خو بيا هم دا ستره بشري کتله په دوامداره توګه سپکه ده او تر ظلم لاندې نيول شويده، په نړيوال نظم کې مهمه اغيزه نلري او بالاخره په ډېر بده توګه په ټوله نړۍ کې وژل کيږي چې د هر واقعي مسلمان زړه دردوي او کينې يې حتی د چاوديدو په حال کې دي. په دې حالت کې مسلمانان د اوسني بې انصافانه نړيوال نظم سره غاړې ته شوي دي او په يو فرد پاله توګه په ژوندانه کې د خپل ځان او کورنۍ د ارامۍ لپاره د اسلامي امت په وړاندې د ظلم او بې انصافيو په وړاندې غلي ناست دي او يا هم د ژغورنې لپاره د حلارې په فکر کې دي. د اسلامي تمدن په زوال

---

[۱] Waldemar De Gregori; "Jews" "Non-Jewish Jews" and a Manifesto for Planetary Governance; p 73

[۲] South Asian Studies; A Research Journal of South Asian Studies; Vol 24; No 2; July-December, 2009; p 177

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مسلمانان د خپل بد حالت څخه د وتلو په فکر کې شول او د سید قطب، حسن البنا، داکتر علي شریعتي، سید جمال الدین افغانی، عمران نظر حسین او د اسلامي نړۍ نورو سترو علماو په څیر اسلامي متفکرین بیلابیلې حل لارې وړاندې کوي. اوس مهال، مسلمانان له اوسني بد حالت څخه د وتلو لپاره د حلارو په جنجال هم اخته دي او په سیاسي، ګوندي او فکري تعصبونو یې لاس پورې کړی دی. په دې برخه کې مسلمانان په بیلابیلو ډلو ویشل شوي دي چې حتی د خپلې حلارې د منلو لپاره په نورو باندې بد تبلیغات کوي او نورو مسلمانانو ته د ناکامله مسلمانانو خطاب کوي چې کولې شو په لاندې ډلو یې وویشو:

- هغه کسان چې جهاد د حل یوازینۍ لاره ګڼي،
- هغه کسان چې د اسلام له مخې ځان جوړونه یوازینې حل لاره ګڼي
- هغه کسان چې اقتصادي پرمختګ او پراختیا یوازینۍ حل لاره ګني.
- هغه کسان چې په مادي علومو (ساینس او ټکنالوژۍ) کې پرمختګ د حل یوازینې لاره ګڼي.
- هغه کسان چې اسلامي علوم یوازینۍ حل لاره ګڼي.
- هغه کسان چې مسلمانان او غیر مسلمانانو ته تبلیغ یوازیني حل لاره ګڼي.
- هغه کسان چې د عقیدې جوړول یوازې حل لاره ګڼي.
- او هغه کسان چې د حضرت عیسی ع او حضرت امام مهدی بیا راتګ یوازنې حلاره ګڼي.

د اسلام سپڅلی دین یو جامع، هر اړخیز او څو بعدي دین دی او اسلامي امت هم باید څو بُعدي فکر وکړي او یوازې د خپل ځان په واسطه وړاندیز شوې حل لاره وړاندې نه کړي. اوس مهال ټول مسلمانان د یادو ټولو حل لارو ته په همغیتوب سره اړتیا لري او د اسلام تاریخ ښیي چې د نوموړو لارو څخه د یوې په نظر کې نیولو او د نورو په پریښودلو سره ټاکل پایله لاسته نشي راتلی؛ نو له دې امله اسلامي امت په ذکر شویو ټولو برخو کې متخصصو او صادقو خلکو ته اړتیا لري. اسلامي امت اړتیا ترڅو د امت

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه برخه د الله (جل جلاله) په لاره کې جهاد وکړي او په عین حال کې دې ته هم اړتیا چې یو ډله یې د امت د ارامۍ لپاره په سیاینسي علومو او ټکنالوژۍ بوخته وي، د امت یوه برخه په اقتصادي ارامۍ فکر وکړي، یوه برخه یې د دین په تبلیغ لاس پورې کړي او یوه برخه یې د حضرت عیسی ع او امام مهدي د اخر وخت د راتلو د پیژندنې لپاره څیړنې ته ورکړي؛ خو حتمي او اړین ضرورت دادی چې ټول له یو بل سره په همغږۍ او د الله (جل جلاله) د رضا او په دې برخه کې د الله له دین سره د مرستې لپاره مبارزه وکړي.

د اسلامي امت د اوسنۍ معضلې د حلارې د موندنې کار د یو شخص، یوې ډلې او یا هم یو ځانګړي سازمان کار نه دی، بلکې دې ته اړتیا ده څو له ټولې نړۍ څخه اسلامي علما د حل لارې د موندنې لپاره هر ډول تعصب پرته او یوازې د الله رضا لپاره راټول شي او د قران او سنتو په رڼا کې ځان حللارې ته ورسوي چې د امت د اکثریت لپاره د منلو وړ وي؛ خو څو ټکي چې په ې حالت کې هر مسلمان ته په هر حالت کې د وتلو لپاره اړین دي:

۱. عقیده او ایمان: اسلام یو ساده او واضح عقیده ده چې پکې هیڅ ډول مغلق والی او ستونزه نشته. د الله په څیر بل هیڅ نشته، هغه د ټولو شیانو پیدا کوونکی دی او محمد ص د نورو انسانانو په څیر انسان دی، خو دا چې په هغه وحې شوې څو خلک د لاشریک یوازیني خدای د عبادت په لور راوګرځوي. نه اولاد لري او د چا څخه زیږیدلی دی[1]. له شک پرته اسلامي عقیده ډېره ساده او عام فهمه ده او د هغه پوهیدو ته فلسفي علومو، کلامي علومو، منطق او متداوله علومونو ته نشته، بلکې لږ تر لږه هر با هوشه او با ذکاوت انسان کولی شي اسلامي عقیده درک کړي، ځکه چې اسلامي عقیده د الله په وحدانیت باندې د پیداکوونکي، ساتونکي او د کایناتو د مالک په توګه راڅرخي او د ټولو چارو د حاکمیت حق خاص د الله (جل جلاله) لایزال ذات ته ده، نو له دې امله اسلام عقیده پرته له دې چې یوه

[1] شهید سید قط؛ د اسلام نظریه او نړیواله سوله؛ د سید ناصر خسرو شاهي ژباړه؛ ۴۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنوي عقیده او د انسان په باطن کې د سولې د رامنځته کولو لپاره یو وسیله ګڼل کیږي، یوه سیاسي عقیده هم ده، ځکه اسلامي عقیده ټولې کړنې د الله (جل جلاله) له قانون سره سمې غواړي. د اوسني حالت څخه د وتلو لپاره، مسلمانان باید په سیاسي او دنیو چارو کې د الله (جل جلاله) وحدانیت او د هغه پاک ذات د حاکمیت حق ته راسخه عقیده ولري. اسلامي عقیده د قوي ایمان پورې هم تړلې ده؛ ځکه چې همدا قوي ایمان ده چې انسانان له دنیوي قیدوبندونو څخه خلاصوي او د الله د وحدانیت په رڼا کې د هغه د رضا لپاره ژوند کوي، مري، خوري او کار کوي. اسلامي عقیده او پر هغې قوي ایمان مسلمانانو ته دا زده کوي چې د دنیا ژوند یو موقتي ژوند دی او لنډ ژوند دی او تلپاتې ژوند تر قیامت وروسته د نیکو او بدو اعمال د حساب په ورځ پیلیږي. د اسلام علما سره له دې چې ایمان په ژبه او په زړه باندې د اسلامي عقیدو اقرار ګڼي، د انسانانو اعمال هم په ایمان کې شامل ګڼي، په دې اړه عبدیالقاسم بن سلام وایي: ایمان د زړه په واسطه الله (جل جلاله) ته په صادقانه توګه تسلیمیدل، په ژبه یې د شهادت جاري کول او د (الله په اوامرو) باندې د جسم په واسطه عمل کول دی[1]. مذهبي مقدساتو ته ایمان او اعتقاد معجزه اسایي لري. ایمان زموږ قوت فوق العاده ډیروي او لوړوي یې او حتی زموږ دردونو ته دوا کیږي. ایمان هغه قوه ده چرته چې ټول مادي وسایلو بې اغیزې کیږي، اغیزمن واقع کیږي.

د ایمان همدا معجزه ډوله اغیزې دي چې قران مجید دا کلمه په بیلابیلو مشتقاتو سره ۸۵۰ ځله تکرار کړیده او هغه د اسلام د پرمختګ او د مسلمانانو د ښه والي عوامل ګڼلي دي او مسیحیان مثلا جرجي زیدان هم په ځینو ځایونو کې اعتراف کوي چې ایمان د اسلامي تمدن د پرمختګ یوازینی عامل دی، لکه چې لیکي: مسلمانان تر هر څه خپلو دیني بنسټونو ته ایمان لري، هغو له زړه معتقد دي د الله (جل جلاله) په امر د اسلام د

[1] Habib Ali al-Jifri. The Concept of Faith in Islam; p 13

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین پرمختګ لپاره جګړه کوي، که ووژل شي شهید به شي او البته د اخرت نعمتونه د دنیا له خوندونو ښه او دایمي دي[۱]. مسلمانان د قوي ایمان او راسخې عقیدې په رڼا کې یوازې او یوازې د الله (جل جلاله) د رضا لپاره حرکت کوي او د ژوند په ټولو چارو کې د الله د اوامر سره سم عمل کوي، نو له دې امله قوي ایمان د دې سبب کیږي څو مسلمانان د دنیوی زیانمنې پایلو څخه تیر شي، ستونزې وزغمي، سیکولر ټولنې رد کړي او د د الله په توکل د امر الفرایض (د اسلامي خلافت رامنځته کولو) لپاره چې پکې سیاسي، اقتصادیو ټولنیز او نورې چارې په یوازیني الله (جل جلاله) پورې اړه لري، کار کوي او امت له دا ډول حالت څخه خلاص کړي.

۲. دعا او توبه: د مؤمنینو تر ټولو ستره وسله دعا ده[۲]. خو اوسني مسلمانان دعا ډیره لږه پآملرنه لري. پداسې حال کې چې موږ مسلمانانو دعا نده هیره کړې او ډیر مهال دعا کوو، خو زموږ نظر او کړنه نسبت دعا ته ټکنۍ شویده. زموږ ډیرو دعاوو ځانته د تشریفاتو بڼه اخیستې ده او یوازې هغه مهال د خپلو ستونزو د حل لپاره دعا کوو چې ټولې دنیوی هڅې ناکامې شي. دعا له پیداکوونکي الله (جل جلاله) سره د راز او نیاز محاوره ده او د یو خارق العاده اهمیت لري چې د خوښۍ، آزادۍ غوښتنې، د پیاوړتیا د احساس او بهترینه مکالمې لپاره یو ډیر مهم عمل دی چې یو شخص یې لرلې شي. یوه ورځ حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د یو ډله خلکو له څنګه تیریده چې په یوه رنځ اخته وو، حضرت ص وفرمایل: دوی ولې له دې څخه د خلاصون لپاره الله ته دعا نه کوي. همدارنګه د بدر په جګړه کې، حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د شپې له مخې د مسلمانانو د بري لپاره دعا کوله. سلطان صلاح الدین ایوبي هم د شپې له خوا الله (جل جلاله) ته په زاري او ژړا کیده او دعا به ترې غوښتله او د مسلمانان د بري لپاره یې دعا کوله چې

[۱] خلیل الله مومند؛ د مسلمانانو انحطاط او د اسلام حیرانوونکی پرمختګ، ۲۲ او ۲۳ مخونه

[۲] بو عبدالله حاکم نیشاپوري؛ المستدرک علی الصحیحین؛ لومړی ټوک، ۴۹۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دواړو جګړو کې مسلمانان بریالي شول. نو له دې امله مسلمانان د مسلمان امت د ستونزمن حالت څخه د خلاصون لپاره شپه او ورځ د الله ذات ته په دعا لاس پورې کړي او د خپلې دعا په اجابت داسې ایمان ولري چې د باران د دعا پرمهال له کوره چترۍ سره راووځي. پرته له دې مسلمانان باید د خپلو دعاوو د قبلیدو لپاره له بدیو او ګناهونو توبه وکړي او د خپلو تیرو ګناهو او تیروتنو له امله له لایزالله الله (جل جلاله) ذات څخه بخښنه وغواړي، ځکه اسلامی د ګناهونو او خطاوو لپاره تحریکوونکي عوامل او انګیزې درک کوي او په وړاندې یې د توبې او استغفار لاره خلاصه کړیده. اوسمهال مسلمانان د سترو فتنو په زمانه کې ژوند کوي او په دې وخت کې له ګناه او تیروتنې پرته د مسلمانې امکان شته خو مسلمانان باید له الهي رحمت څخه نهیلي نشي او د ګناهونو د پنډونو په لیدو سره باید ځان د اسلام له لارې او ټولنې څخه لرې نکړي، بلکې په ایمان سره د الله بې حده بخښونکې او مهربان ذات ته توبه او استغفار وکړي او له خپلو مسلمانو ورونو سره په همغږیتوب د اسلامي امت د ارامۍ لپاره هلې ځلی وکړی، په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايي: ای بیغمبره (ص)! زما هغو (مؤمنو) بندګانو ته، چې په خپلو ځانونو یې تیری کړی دی، ووایه: د الله د رحمت څخه مه ناهیلي کیږئ، په یقینې ډول الله ټولې ګناوې بخښي؛ هغه ښه ښښونکی او مهربان دی[1]. همدارنګه حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: په هغه الله قسم چې زما روح د هغه په لاس کې ده، که تاسو ګناه ونکړئ، الله تعالی تاسو له منځه وړلئ! او ستاسو په ځای داسې کسان راوړل چې ګناه او بیا توبه وکړي او بخښنه وغواړي او الله (جل جلاله) بیا هغه وبخښي[2]. دلته په سلیم عقل سره وګورو، پوهیږو چې حضرت محمد د ګناه په لور نه یو تشویق

[1] سوره الزمر؛ ۵۳ آیت: قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿۵۳﴾

[2] صحیح مسلم؛ ۲۷۴۹ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، بلکې په هغه علم سره الله (جل جلاله) ورته ورکړې ده، درک کړي يې دي چې مسلمان امت به ګناه کوي او له همدې امله موږ ته دا پیغام راکوي چې د ګناه د کولو پرمهال به توبه او استغفار کوي او ځان له اسلام څخه نه باسو او نه هم نور خلک موږ د ګناهونو په لیدو سره له اسلام وباسي. توبه او استغفار د انسان د پوره کیدو سبب ګرځي او انسان د پوره ایمان په لور وړي.

۳. ځان جوړونه: د اسلامي امت ترمنځ مشهور مقوله ده چې وايي: (ځان جوړ کړه، نړۍ پخپله جوړیږي)، دا مقوله سره له دې چې تر یوه حده سمه ده، خو د فرد پالنې بوی ترې راځي او تر یو حده له له نړیوال استعمار او استثمار سره مرسته کوي. هغه درک چې ډیری مسلمانان يې له دې مقولې څخه لري دا ده چې لومړی باید یو انسان پوره مؤمن او مسلمان شي او بیا د اسلامي امت او ټولنې په فکر کې شي، خو په دې تمه چې لومړی ټول مسلمانان د اسلام او ایمان بشپړتیا ته ورسیږي د اسلام په عملي دین کې یو غیر عملي تمه ده. مسلمانان باید په دې بهیر کې چې ځان جوړوي، د اسلامي ټولنې د جوړولو په فکر کې هم وي او د مقولې برعکس هم اختیار نکړي، یعنې پرته له دې چې ځان جوړی، وغواړي ټولنه جوړه کړي. نو له دې امله ځان جوړونه د اسلامي امت د جوړولو یوه مهمه برخه ګڼل کیږي او مسلمانان باید د خپل ځان د جوړیدو ته ډیره پاملرنه وکړي او په عین حال کې اسلامي امت جوړیدو ته هم پام واړوي. د عبداتو ترسره کوي او لږ تر لږه د هغو عبداتو چې د مسلمان پنځه پناوې پکې دي، دا چې مسلمانانو لپاره دا عبادت د ګټو او پیغامونو د پوهیدا او د اسلامي اخلاقو د لرلو ترڅنګ، د ځان جوړونې یوه ستره برخه تشکیلوي. یو مسلمان باید د دې ترڅنګ چې پنځه وخته لمونځ ادا کوي، باید د لمونځ اساسي مفاهیمو باندې وپوهیږي او عملي يې کړي. کله چې په لمانځه کې وایو (ایک نعبد و ایاک نستعین) (یوازې تا ته عبادت کوو او یوازې له تا څخه مرسته غواړو)، نو باید په عمل کې هم یوازې او یوازې د الله (جل جلاله) عبادت وکړو او د ستونزو د حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره يوازې له همغه پاک ذات څخه مرسته وغواړو او هيڅ څوک، ټولنه او يا حکومت د تکيې ګاه په توګه نه وټاکو. کله چې سجدې ته ځو نو الله ته خپل ډېر زياته بندګي ورښيو نو بايد له الله (جل جلاله) پرته د هيچا او هيڅ شي په بند کې نه اوسو. کله چې په هر حرکت ک الله اکبر وايو، نو بايد ملګري ملتونه يا بل دولت لوی ونه ګڼو، او د حاکميت هغه حق چې په الله (جل جلاله) پورې اړه لريو هغوی ته ونه سپارو. بالاخره، داسې چې الله فرمايي، زموږ لمونځ بايد موږ له فحشا او منکراتو څخه لرې کړي. روژه، د دې ترڅنګ چې يوه اسلامي فريضه ده، د مسلمانانو لپاره يو ډېر مهم پيغام ده. د الله (جل جلاله) په امر سره د سهار له وختي څخه د ماښام تر تيارې پ،رې وږي پاتې مسلمانو ته دا ورښيي چې د دې نړۍ ژوند يوازې د الله لپاره دی او هغه مسلمان چې د روژې دا پيغام درک کوي، پوهيږي چې روژه نيول د دنيوي قيدوبندونو څخه د ازادي د پوهيدو لپاره يوه عمده او اغيزمن بنسټ دی او دا مسلمان يوازې د الله (جل جلاله) د رضا لپاره ژوند کوي او مري او د ي مسلمان ته کله چې يو عمل د الله (جل جلاله) د رضا لپاره ترسره کوي، هيڅ مهمه نه د چې نورخلک د هغه په اړه څه فکر کوي او هيڅ قدرت يې مخه نشي نيولی. په همدې توګه، ذکات هم د اسلامي ټولنې د اقتصادي ارامتيا لپاره يوه ستره مرسته ده، حج موږ ته د اسلامي امت يووالی رازده کوي او نور عبدات هم د اخروي ثواب ترڅنګ، دنيوي ګټې هم له ځانه سره لري. يوازې عبدات کافي نه دي، بلکې يو واقعي مؤمن او مسلمان بايد د اسلام په چوکاټ کې د نيکو او ښو اخلاقو لرونکی وي. الله (جل جلاله) د رسول الله ص په اړه فرمايي: او ته لوړ او ښه اخلاق لری[1] او همدارنګه په يو بل ځای کې زياتوي چې: ای پيغمبره (ص) دا د الله (جل جلاله) لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره دير نرم خويه جوړ شوی يې، که داسې نه وای او ته توند خويه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شاوخوا څخه

[1] سوره القلم؛ ۴ آيت؛ وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿٤﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواره شوی وای. د دوی خطاوی وبښه، د دوی لپاره بښنه غواړه، او د دین په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده پر کومه رایه ټینګه شي؛ نو پر الله توکل وکړه. د الله هغه خلک خوښیږي چې د هماغه په ډاډینه کار کوي[1].

حضرت محمد ص هم د مسلمانان د استاد په توګه هم په اخلاقو ډیر تاکید کړیدی او اخلاق او ایمان یې له یو بل څخه نه بیلیدونکی پدیدیی ګڼلی دي چې یو له بل پرته ارزښت نلري. مسلمانان د خپل ځان جوړونې لپاره له تکبر څخه لرې والی وکړي او دومره اسلامي اخلاق او تواضع ولري چې پکې د والدینو رضایت، له ټولو مسلمانانو او ګاونډیانو سره ښه کول او ورته زیان نه رسول شامل وي. د ګاونډي حقونه یې دومره لوړ کړي دي چې یو مؤمن نشي کولی خپله خیټه مړه کړي او د هغه ګاونډي په وږي نس ویده شي او بالاخرهښه او نیک اخلاق د ټولو انسانانو او حتی حیواناتو د اسلامي اخلاقو څخه ګڼل کیږي. د اسلامي اخلاقو د جوړیدو لپاره باید د اسلامي اخلاقو له کوچنی اړخ یعني هغه چا ته سلام ورکولو څخه چې پیژنو یې او کنه او له نژاد، قمویت او اقتصادي حالت څخه پرته پیل کوي، څکه حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په سلام اچولو ډیر تاکید کړی دی او اوسنی حالت چې خلک یوازې خپلو پیژندګلو ته سلام اچوي د اخرې زمانې د قیامت یوه علامه ګڼلی ده[2].

۴. علم: له کوچني شک پرته کولی شو ووایو چې د اسلامي زده کړو او علمي سیستم د نشتوالي له امله اسلامي امت وروسته پاتې او له ستونزو سره لاس او ګریوان دی. اوسنی روزنیز سیستم په یو داسې لابراتوار بدل شوی دی چې پکې مسلمانان قطع قطع او خمیره شوي دي او افکارو ته یې داسې

[1] سوره آل عمران؛ ۱۵۹ آیت؛ فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿۱۵۹﴾

[2] ابو عبدالله حاکم نیشاپوري؛ المستدرک علی الصحیحین؛ ۴ ټوک، ۴۴۵ او ۴۴۶ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل ورکړل شوی دی چې په غربي کاريکاتورونو بدل شي. په اسلامي نړۍ کې روزنيز سيستم بايد له اسلامي اموزوو (قران او سنتو) سره موازي وي او مسلمانان د دې ترڅنګ چې عصري علوم زده کوي، له اسلامي علوم او د اسلام له اساساتو هم بې خبره نه وي. هغه علم چې مسلمان يې زده کوي، بايد د مادي موخو څخه پرته د مشخص هدف لرونکی وي او مسلمانان بايد د اسلام تاريخ، د اسلام تمدن او د دې تمدن د انحطاط عوامل او د پرمختګ اسباب وپيژني، خپل وخت وپيژني او همدارنګه له پټو او ښکاره دسيسو سره دښمنان وپيژني. په اوسني نړيوال نظام کې چې اسلامي نړۍ پکې له پنځو په ډېرو ملتونو-دولتونو ويشل شويده او دا دولتونه – ملتونو تر ډېر د اسلام د دښمنانو تر مستقيم او غير مستقيم اغيز لاندې دي، له قران او سنتو سره د يوزاې روزنيز سيستم جوړول ناممکن ښکاري. نو له دې امله مسلمانان بايد په انفرادي توګه، د دې ترڅنګ چې د رسمي روزنې له مرکزونو څخه عصري علوم زده کوي، د اسلامي امت د بيا راژوندي کولو لپاره بايد اسلامي او نور اړين علوم هم زده کړي او د موجود وسيلو په مرسته لکه ټولنيزې شبکې، مسجدونه، غونډو او نورو په مرسته يې يو بل ته ورسوي. ځکه مسلمانان هم عصري علومو ته چې کنترول يې له دښمنانو سره ده او هم اسلامي علوموی او په ځانګړي د اسلام اقتصادي او سياسي نظام ته اړتيا لري. د زده شويو علومو رسول چې د اسلامي اساساتو سره هم ګامه ويو صدقه جاريه ګڼل کيږي او پرته له دې د امت د بيا راژوندي کيدو لپآره ستره مرسته ده، اخروي ثواب هم له ځانه سره لري.

۵. په معروفو امر او له نواهيو منع کول (امر بالمعروف او نهی عن المنکر): د اسلام دين د دعوت او تبليغ دين دی، خو له بده مرغه په اوس وخت چې دې اسلامي بارزې پديدې ته له نورو وختونو څخه لا ډېره جدي اړتيا ده. دا کار اوس د فرد پالنې د باطلې پديدې په راتلو سره ديره رالړه شويده او هغه ځانګړی ډله چې په دعوت او تبليغ بوخته ده، تر ډېره يې ظاهري عبداتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت ته پآملرنه کړيده او د اسلامي تمدن او فرهنگ د راژوندي کولو په پيژندو کې لړه پاملرنه کوي. د امر په معروف او نهی له منکر يو عنصر د اسلامي فرهنگ د ژوندي پآتې لپآره يوه محرکه قوه او الهي فريضه گڼل کيږي او د دې غني فرهنگ د بې پامۍ او غفلت څخه مخنيوی کوي. د فرهنگي استعمار اوسنی حالت چې د غربي فرهنگ په څنگ کې د د حقارت د احساس له امله دی، يوازې کولی شي د امت د انحطاط د دلايلو، اسبابو او حقايقو په څرگندولو او د اسلامي مفاهيمو په سمې پيژندنې او دا چې د مسلمانانو انحطاط نه بلکې غفلت دی، د دې پديدې په قالب کې محو کيږي.

يوه ټولنې تر هغې سياسي او اقتصادي خپلواکي نه لري چې فکري خپلواکي ونلري او د خپل فرهنگ او تمدن څخه بې خبره وي؛ نو له دې امله دا د هر مسلمان او په ځانگړي ډول د هر مسلمان ځوان فرض دی څو د دې ترڅنگ چې د اسلام د تمدن، تاريخ، فرهنگ، سياست او اقتصاد په اړه او همدارنگه د دښمنانو د دسيسو او کړنو په اړه څيړنه وکړي او د څيړنو تر پايلو رسيدو وروسته هغه په هرې شونې لارې نورو مسلمانانو ته ورسوي او اسلامي ټولنې د هوښيارتيا په لوري بوځي.

٦. صبر: يوه مهم اسلامي پديده چې ډير مهال يې په اړه ناسم پوهاوی کيږي، صبر ده. هغه درک چې ډيری مسلمانان يې له دې پديدې څخه لريو د هر ډول ظلم او بې عدالتۍ زغمل دي او دې ته انتظار ده چې الله (جل جلاله) دا ظلم او بې عدالتي لرې کړي او يا دا چې د ژغورنې لپاره يې ورته کس راواستوي. ډيری هغه خلک چې د امام مهدي او حضرت عيسی راتگ ته انتظار د امت د اوسني حالت حللاره گني، له دې مفهوم څخه کار اخلي، په داسې حال کې چې صبر د سختيو په وړاندې د مقاومت مفهوم لري. دا چې اسلام نه غواړي چې پيروان يې د ظلمونو او سختيو په وړاندې د مبارزې لپاره له غلطو لارو سره په داسې ځايونو کې مخکې شي چې د فزيکي مقاومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس ونلري، نو د صبر توصیه کوي؛ خو دا صبه هڅکله د غیر عادالانه نظامونو د ظلم د زغملو او منلو مانا نه ورکوي، بلکې صبر له غوسې څخه د مخنیوي لاره ده، ځکه اسلام پوهیږي چې غوسه د داسې کړنو او پرکیړو سبب ګرځي چې دښمن له غوسه شوي کس په پرتله ډیر لږ زیان وینې او له همدې امله ده چې غوسه په اسلام :ې نشته، په دې اړه په یوه حدیث کې داسې راغلي دي: یو چا رسول الله ص ته وویل: ماته نصیحت وکړه! ان حضرت ورته وفرمایل: غوسه او قهر مه کوه. سړي څو ځله همدا پوښتنه تکرار کړه او ان حضرت ص هر ځل همدا ځواب ورکړ[1]. او همدارنګه د ان حضرت ص په یو بل حدیث کې راغلي دي: قوي انسان هغه ندی چې بل راڅملوي، بلکې قوي هغه ده چې د غوسې پرمهال خپل ځان اداره کړي[2]. اوس مهال اسلامي امت د غوسه ناکو ځوانانو له امله ډیر ضربه ویني د دښمنانو له پټو او ښکاره دسیسو پورې. دا غوسه ناک ځوانان د اسلام په نامه په داسې کارونو لاس پورې کوي چې د اسلام روح ترې پآک او مبرا دی او په غوښتل شوی او ناغوښتل شوي توګه د دښمن د وسیلو په توګه کاریدلي دي او یا بې ګناه انسانان وژل شوي، د اسلام د سپیڅلي دین په بدنامۍ او کمزورتیا تمام شوی دي په داسې حال کې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ته له یوې پیښې وروسته خبر ورکړل شو چې د صفونو ترمنځ یې یوه نجلۍ وژلې ده، پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سخت نارامه شو، اصحاب وویل: یا د الله رسوله ولې نا ارامه شوې؟ هغه خو د کفار او مشرکانو یوه لور وه، پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په دې خبره غوسه شو او ویې فرمایل: دا خبره څه معنی لري؟ دوی له تاسو غوره دي، ځکه دوی تر اوسه لا په خپل پاک فطرت دي، ایا تاسو د مشرکانو بچیان نه وئ؟ هیڅکله ماشومان مه وژنئ،

---

[1] څلویښت نبوي حدیثونه؛ ١٦ حدیث

[2] صحیح مسلم؛ ٦٣١۴ حدیث او صحیح بخاري؛ ۱ کتاب؛ ۴۵ حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله.[۱] د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم)، مسلمانان د بې گناه مشرکانو او کافرو له وژلو منع کول؛ خو اوس دا غوسه ناک او صبره ځوانان د اسلام په نوم ماشومان، ښځې، مسلمان پیران د اسلام په نامه وژني او ورته د فی سبیل الله جهاد نوم ورکوي. صبر د دې ترڅنگ چې د اسلام د دښمنانو اوبشریت په وړاندې د مقاومت حس د پیدا کیدو سبب گرځي، د مسلمانانو په زړونو کې د ایمان قوت او هیلې حس پیاوړی کوي او ظلم د رانسکورولو لپآره په یو اسلامي اتحاد کې د اوسني وضعیت څخه وتلو د حل لارې په فکر لپاره هڅې کوي. مسلمنان باید په قوي ایمان او د ظلم په وړاندې د مبارزې په حس سره هیله له لاسه ورنکړي او ایمان ولري چې په الهي نصرت سره د مسلمانانو بري حتمي دی، الله (جل جلاله) فرمایي: دا خلک سختې دسیسې جوړوي- او زه به هم یو پوخ تدبیر کوم- نو پریږده (اې پیغمبره!) دا کافران څه لږ غوندې په خپل حال پریږده.[۲]

۷. اتحاد: پداسې حال کې چې سنیانو شیعه گانو، شیعه گان سنیانو، شیعه گان او سنیان صوفیانو، سلفیان تقریباً ټولو نورو ډلو، جهادیان غیر نظامیانو او غیر نظامیان جاهدیانو ته واقعي مسلمانان نه وایي او اسلامي امت یې د خپلو فکرونو له مخې ټوټه ټوټه کړیدی، څنگه به د سلامي نړۍ شموله خلافت او د امت د بیا را ژوندي کولو تمه شونې وي؟! پرته له دې، هغه مسلمانان چې د امت د پیا راژوندي کولو په فکر کې دي، پخپلو منځونو کې د تضاد او تفرقې له امله د یو په کمزوري کولو لگیا دي. یوه بله ستره ستونزه هغه غرب ځپلي دي چې د حلقه به گوش غلامانو په څیر په دین ظلمي باندې د غربي عصري تمدن د ویاندانو په څیر لگیا دي او په اسلامي امت ترمنځ د شبهاتو په رامنځته کولو هڅه کوي. ستره ستونزه تر پنځوسو د ډېرو

[۱] شهید سید قطب؛ د اسلام نظریه او نړیواله سوله؛ د سید ناصر خسرو شاهي ژباړه؛ ۲۵۸ مخ

[۲] سوره الطارق؛ له ۱۵ تر ۱۷ پورې آیتونه؛ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا ﴿۱۵﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿۱٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿۱۷﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت پالو دولتونه دي چې د ملي ګټو لپاره اسلام ګټې تر پښو لاندې کوي او تر دې کچې د نورو اسلامي ملتونو په وړاندې لاس پورې کړې چې د اسلام د کمزورتیا او حتی د نورو اسلامي ملتونو د له منځه وړلو لپاره د دښمنانو لمن ته لاس اچوي او د ملت پالنې دې ناروغۍ د اسلم امت وجود داسې ککړ کړیدی چې نن ورځ د افغانسستان مسلمان د پاکستان او ایران د مسلمان د بربادۍ دعا کوي او ایران او د عربو مسلمان د ترکي مسلمانانو د بربادۍ دعا الله ته وړاندې کوي. د دې ټولو برخلاف، اسلام خپل ټول پیروان وروڼه ګڼلي دي او دا امت یې یو امت ګڼلی دی او کله چې الله دې امت ته یو امت وګڼه، نو دا امت د یو معبود، یو ګټې او یو دښمن لرونکی دی. نو له دې امله مسلمانان باید د الله د وحدانیت په محور متحد شي، د اسلامي امت ګډې ګټې تعریف کړي او د امت دښمن وپیژني او په وړاندې یې په منسجم توګه مبارزه وکړي. تر هغې چې د اتحاد اهمیت درک نکړي او د الله د وحدانیت په محور او د ګډ دښمن په وړاندې مبارزه لپاره متفق نشیو دا امت به د هغو یمنیانو شاهد وي چې عربستان او ایران پکې له مذهبي احساساتو څخه ګټه واخیسته او د خپلو ملي او غیر اسلامي ګټو لپاره یې له خاورې او وینو سره برابر کړ او یا به هغه افغانان وي چې له امریکا سره د اسلامي هیوادونو په نوم یوځای شول او د هغې په نیولو کې یې مرسته وکړه. مسلمانان د ملت پالنې په څیر د غربي عرصت تمدن څخه وارد شوي احساسات بد ګني او کله چې د نورو اسلامي هیوادونو له منفي نقطو خبرې کوي د خلکو او دولتونو ترمنځ تمیز واقع کیږي او پوه شي د پاکستان خلک د افغانستان په ورانولو کې رول نه لري، باید د پاکستان دولت محکوم کړي او په همدې توګه د عربستان خلک د یمن د خلکو د ورانۍ شایان نه وو، بلکې د آل سعود کورنۍ هغه شیطانان دي چې له صهیونیستانو سره د دې امت د بربادۍ لپاره یو ځای شوي دي  او د ایران دولت د ایران په خلکو پورې هیڅ تړاو نه لري او مذهبي استازو په نوم د څو سیاسي مشرانو د ګټو په فکر دي. د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيژندل دا راښيي چې له مذهبونو څخه د مسلمانانو راوتل يو ارمان پالونکې نظريه ده او تر يوې څېرې لاندې د ټولو مذهبوونو راټولول يو ناشونې خبره ده، نو له دې امله به ښه دا وي چې مسلمانان د اسلام د سترو علماو په اجتهاداتو سره چې مذاهبو ته د هغوی په نوم سره تړاو ورکول کيږي، احترام وکړي او د دې اجتهاداتو لپاره، چې خپله دې سترو علماو نه غوښتل تفرقه واچوي او د يو اسلام تر چتر لاندې يو بل ته درناوی ولري د دې پرځای چې په خپلو کې بوخت شي، د يوازينې دښمن د مبارزې لپاره په وروګلوی او اتفاق سره هڅه وکړي.

۸. مبارزه: تيره پيړۍ په ټوله اسلامي نړۍ کې د بريالو او ناکامو مبارزو شاهده وه چې د هغې د ناکامو مبارزو يوازينی لامل د اسلام له سپيڅلي دين له اساساتو څخه د مسلمانانو ناخبري وه او د دښمن پيژندل وو. هر مسلمان چې د اسلام واقعي روح يې درک کړی دی، د غرب عصري تمدن له استعمار سره مرسته نه کوي او د دې استعمار په وړاندې اګاهانه مبارزه خپله انساني او اسلامي وجيبه ګڼي. د ښه او بد جګړه به د تاريخ په پيل څخه شروع او تر پايه به ادامه ولري او نن ورځ هغه سترې حملې چې ښه يې په بد ترسره کوي، معلوماتي حملې دي. نو له دې امله دا د هر مسلمان وجيبه ده څو له خپل ځان او دښمن څخه خبرتيا ولري او بيا د بدو معلوماتي حملو په وړاندې، غبرګون وښيي او د ښو په خپرولو او خبرتيا سره د شسيطاني حملو مخه ونيسي. د معلوماتي جګړو پرته، مسلمانان بايد د واک په جوړولو پيل وکړي چې د اسلام دښمنان او استعمارګران ترې وويريږي او د مسلمانان قدرت په اتحاد، ايمان، ارزښتونو، علم، خپلواکی، نظم او اداره کې دی. په دې اړه الله فرمايي: او تاسې تر خپلې وسې وسې ډير زيات طاقت او تيار کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. ترڅو چې په دې وسيله د الله (جل جلاله) پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، چې تاسې يې نه پيژنئ خو الله يې پيژني. د الله په لاره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسې هر څه ولګوئ، د هغو پوره بشپړ مکافات به ستاسی لوري ته راوګرځول شي او ستاسې سره به هيڅکله ظلم ونه شي.

له دې پرته بايد مسلمان راتلونکې ته پام وکړي او سره له دې د غربي د عصري تمدن د اوسنو طرحو او نورو دښمنانو په وړاندې مبارزه کوي، د راتلونکو خطرناکو طرحو په وړاندې هم تياری ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# پنځم څپرکی

# راتلونکی



قیامت تر هغې نه راځي چې
ځمکه د نورو په حقونو له تیري او
ظلم څخه ډکه شي. بیا به زما له اهل
بیتو یا کورنۍ څخه راڅرګند شي، په
ځمکه کې به عدالت داسې راولي لکه
څنګه چې له ظلم او زیاتي څخه
ډکه وه.

حضرت محمد ﷺ




فکر کوم چې موږ په یو
خطرناک وخت کې یو. غرب ځان
تیار کړی او پریکړه یې کړېده چې
نړۍ اداره کړي، نه هیلو ته او نه د
بشریت ګټو لپاره.

Thom Yorke

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تاريخ پای

هره ايډيالوژي او هر دين د حق مدعي دي او په دې باور دي چې د نورو ايډيالوژيو او دينو په له منځه تلو او د اړوندې ايډيالوژۍ په نړيوال کيدو سره ايډيالوژيکي جګړې او تاريخي مرحلې پای ته رسيږي نو ځکه په نړيوالې بريا سره به تاريخ هم له منځه لاړ شي. لکه څنګه چې د وروستۍ زمانې په نوم دينونه داسې باور لري چې تاريخ به هم پای ته ورسيږي، په تاريخي پړاوونو کې اغيزمنې ايډيالوژۍ هم د تاريخ په پای ته رسيدو باور لري او د دې ايډيالوژيو مؤسسين او علماء هم په اړه خپلې وړاندوينې او نظريات څرګند کړيدي. د غرب مشهور فيلسفو هيګل ادعا کړيده چې تاريخ په ۱۸۰٦م کال کې پای ته رسيدلی دی. هيګل د جينا په جګړه کې د پروس د پادشاه د ماتې او د فرانسې د انقلاب به ماتې سره، د ازادۍ (Liberty) له بنسټونو سره د دولت نړيوال کيدل او مساوات حتمي وليدل نو له دې امله يې د تاريخ پای اعلان کړ. هيګل په دې باور وو چې په يوې مطلقې لحظه کې خپل اوج ته رسيدلی، داسې لحظې ته چې يوه ټولنه او وروستی او عقلاني دولت بريالی شوی دی[1] د المان مشهور فيلسوف مارکس په دې باور وو چې تاريخ به د کارګري انقلاب په واسطه له منځه تلو سره پای ته ورسيږي. تر سړې جګړې وروسته او د اتحاد جماهير شوروي تر ماتې او د امريکا او د ليبراليزم د ايډيالوژۍ تر نسبي بريا وروسته، مشهور نظريه ورکوونکی او امريکايي ليبرال فرانسس فوکوياما خپله نظريه د تاريخ د پای په اړه اعلان کړه او ادعا يې وکړه چې د بشريت په تاريخ کې به د دولت وروستی شکل د ليبرال دموکراسي وي او دا به تلپاتې وي. هغه پخپل مشهور کتاب ((د تاريخ پای او وروستی سړی)) کې ليکي: هغه څه چې موږ يې شاهدان يو، يوازې د سړې جګړې پای او له يوې تاريخي ځانګړې مرحلې څخه تيريدل ندي، بلکې موږ د داسې تاريخي پای شاهدان يو چې د وورستي بشريت دولت په توګه يې ايډيالوژيک تکامل او د غربي ليبرال جهان شموله دموکراسي ده[2].

---

[1] Francis Fukuyama; The End of History; p 2

[2] Francis Fukuyama; The End of History and the last Man; p 51

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي پړاو د دې سترو علماو چې د ډېرو غربيانو او غرب ځېړونکو لپاره د يوې علمي بيلګې په توګه وي، په نظرياتو پورې وخندل او ويې ښوده چې دا علما فالبينان دي او يا دا چې د خلکو د غوا کولو لباره په داسې فال بينيو لاس پورې کوي. لکه څنګه چې ايډيالوژۍ د تاريخ په پای ته رسيدو باور لري، همدغسې دنيونه هم د تاريخ په پای باوري دی چې په دينونو کې د تاريخ پای د وروستۍ زمانې په نوم ياديږي او د نړۍ د پای رسيدو (قيامت) لپاره يوه سريزه ده. وروستۍ زمانه سره له دې چې غربي علماوو او په ځانګړې توګه د غرب د عصري تمدن د تاريخ د پای له تعريف سره ورته والی لري، خو په پوره توګه ورسره يو شان تعريف ندی، ځکه چې دينونه په دې باور دي چې د الله (جل جلاله) له لوري د موعود منجي په راتلو سره به همدا منجي ين نړيوال کوي او نړيوال ديني حکومت به رامنځته کوي.

خو د نړۍ ډيری دينونه د وروستۍ زمانې د منجي له نړيوال حکومت وروسته حالت نه اټکلوي او د منجي په واسطه رامنځته شوي نړيوال حکومت څخه تر قبيامت پورې تاريخي فاصله نه وړاندوينه کوي. درې ابراهيمي دينونه د وروستۍ زمانې په اړه سره ورته نظريات لري او دريواړه يې د منجي په راتګ او له شيطان او دجال قواو سره په مبارزې باور لري. دريواړه ابراهيمي دينونه په حق دي خو مسيحيت او يهوديت د الله (جل جلاله) په اياتونو کې د لاسوهنې له امله د اسلام په راتګ سره منسوخ شول او دا لاسوهنې د دې لامل شوی ترڅو د دې دوو دينونو علماء د وروستۍ زمانې روايات د کليسا او ديني مشرانو په سياسي ګټې په لور بدل کړي او له همدې امله د دې دين وړاندوينې د باور وړ ندي.

الله (جل جلاله) په تورات کې بني اسرائيلو ته د داسې مسيحا د راتګ وعده ورکړېده چې له بيت المقدس څخه به په ټولې نړۍ حکومت وکړي. په تورات کې داسې راغلي دي: داسې ورځ به راشي چې د داود له نسل څخه به يوه عادله شاخه وټاکو. هغه به په عدالت او حکمت سره پادشاهي کوي، په ځمکه کې به انصاف او عدالت راولي. د هغه د حکومت پرمهال به يهودا ازاد شي او اسرائيل به ارامه او ښه ژوند ولري او هغه (خدای زموږ عدالت ده) نومول کيږي. الله (جل جلاله) فرمايي: په هغې وخت کې کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک قسم وخوري، نور داسې نه وايي: قسم په هغه ژوندي خدای چې اسرائيل يې له مصر راوويستل، بلکې وايي: قسم په هغه ژوندي خدای چې د اسراييلو تيت شوی او شړل شوی قوم د شمال او نورو هيوادونو څخه بيرته خپل وطنونو ته راوګرځول[1]. الله (جل جلاله) له وعدې سره سم د نړيوال حکومت د رامنځته کولو او د اسرائيلو د راتلو لپاره حضرت عيسى عليه السلام راواستوه، خو اسرائيلو هغه دروغ وګڼه، حرام زاده يې ورته ووايه او په صليب يې د ځړولو هڅه وکړه، خو هغه څه چې پرې نه پوهيدل او تر ۶۰۰ کلونو پورې هيڅوک پرې نه پوهيدل، الله (جل جلاله) په قران کې واضح کړل چې وايي: او له دې امله چې په خپله يې وويل چې موږ د الله پيغمبر مسيح عيسى عليه السلام د مريم زوی وژلی دی. حال دا چې د واقعيت له مخې هغو نه هغه وژلی او نه يې په دار ځړولی دی؛ بلکې موضوع د هغو لپاره مشتبه وګرځول شوه او کومو خلکو چې د هغه په باب اختلفا کړيدی، هغو هم په اصل کې په شک کې لويدلي دي، له هغو سره په دې باب هيڅ علم نشته، يوازې د ګومان پيروي ده. هغوی په يقيني توګه مسيح نه دې وژلی[2]. بني سرائيلو کله چې په خپل زغم سره حضرت عيسى عليه السلام په صليب کړ او ويې واژه، په دې باوري شو چې هغه موعود مسيح نه وو او له هماغه وخته تر اوسه پورې د موعود مسيح په تمه دي او په دې باور دي چې د اوسني اسرائيلو منځته راتله د موعود مسيح لپاره کار کول دي چې په لنډ وخت کې به راڅرګند شي.

د اسلام سپيڅلی دين د ربنتياني دين په توګه، د وروستۍ زمانې په هکله مکلم او حقيقي نظريات وړاندې کړيدي چې د اوسنۍ نړۍ د سياست، اقتصاد او ټولنيز چارو سم درک د اسلام د وروستۍ زمانې له مطالعې پرته ناشونې ده. هغه تاريخي پای چې د غرب عصري تمدن پرې خبرې کوي، يوازې په اسلامي ايډيالوژۍ او اسلام په چوکاټ کې تحقق پيدا کوي، ځکه اسلام ټولنيز مکتب او اصول لري او د نړيوال حکومت په

---

[1] د ارمياى نبي کتاب؛ ۲۳ فصل؛ له ۵ نه تر ۸ آيت پورې

[2] سوره النساء: آيه ۱۵۷ : وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلاَّ اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ﴿۱۵۷﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسیس پسې دی. د اسلام دین په حقوقو، سیاست، اقتصاد، اخلاقو او عقایدو او بالاخره د انسانانو د ټولنیزو او فردي ژوند د ټولو برخو لپاره ژور قوانین او ځانګړي ارزښتونه لري. هغه ټولنې چې په خپلواکو دولتونو ا ملتو په توګه یوازې د خپلو ګټو لپآره فکر کوي، محکومې کړیدي او په دې لاره کې له هر ډول اختلاف، دوه والي او تشئت سره دایمي مبارزه کړې او د نړۍ ټول انسانان دې رابولي چې تر یو بیرغ لاندې شي او یوه ټولنه رامنځته کړي[1]. اوسهال په نړۍ کې شته ایډیالوژۍ د عدالت په محور نه راڅرخي او له همدې امله، بشریت په یوې سترې بې عدالتۍ کې ژوند کوي، ځکه خو نن ورځ نیوال د عدالت تږي دي او دا خلاف یوازې د اسلامي نړیوال دولت په واسطه ډکیدلی شي، ځکه چې اسلام د عدالت دین دی او اسلامي اصول ډیر تاکید په عدالت کوي، په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايي: اې مؤمنانو! د الله (جل جلاله) لپاره پر ربنتینولۍ ولاړ او د عدل شاهدان اوسئ. د کومې ډلې دښمني دې تاسې دومره را ونه پاروي چې له عدالت څخه واوړئ. عدالت وکړئ، دا له پرهیزګارۍ سره نژدې اړیکه لري. د الله له ویرې سره کار کوئ، هر څه چې تاسې کوئ، الله پرې پوره خبر دی.[2] الله (جل جلاله) د عدل، ښیګنې او خپلوۍ پالنې حکم کوي او له بدۍ، بې حیایۍ او زور، ظلم څخه مو منع کوي. هغه تاسې ته نصیحت کوي ترڅو درس پند واخلئ.[3]

په اسلام کې د تاریخ پای به امام مهدي په واسطه او د الله (جل جلاله) له وعدې سره سم حضرت عیسی په واسطه رامنځته شي. لکه څنګه مو چې په لومړي څپرکي کې وویل، اسلام نوی دین نه دی، بلکې د پخوانیو اسماني دینونو پوره کوونکی دی او دا چې الله (جل جلاله) د نړیوال حکومت وعده په پخوانیو دینونو کې حضرت عیسی علیه السلام ته ورکړیوه، دا وعده به پوره کوي، ځکه چې ټول اسماني دینونو او اسلام، قومي او دودماني دینونه ندي بلکې د الله په حقه دین دی چې د پخوانیو دینونه په

[1] محمد مجتهد شبستري؛ د ټولې نړۍ لپاره یو حکومت/په اسلام کې د نړیوال حکومت فکري پایې، ۲۳ مخ

[2] سوره المائده؛ ۸ آیت؛ یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ کُونُواْ قَوَّامِینَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ یَجْرِمَنَّکُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِیرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿۸﴾

[3] سوره النحل؛ آیه ۹۰؛ إِنَّ اللّهَ یَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِیتَاء ذِي الْقُرْبَى وَیَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنکَرِ وَالْبَغْيِ یَعِظُکُمْ لَعَلَّکُمْ تَذَکَّرُونَ ﴿۹۰﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



منسوخیدو سره، د حضرت عیسی ع په واسطه دا نړیوال حکومت، په هغه توګه نه چې یهودیان یې ادعا کوي چې د یهودیانو په استازیتوب به وي، بلکې د الله د حق دین په استازیتوب یعني داسلام په استازیتوب به وي. په دې اړه الله (جل جلاله) فرمایي: او په زبور کې موږ د نصیحت څخه وروسته لیکلي دي چې د ځمکې وارثان به زموږ غوره بندګان وي.[1]

**اسلام: اول الزمان او اخرالزمان**

الله (جل جلاله) د انسان، نړۍ، شیطان او ټولې هستۍ پیدا کوونکی دی او الله (جل جلاله) تاریخي پړاو داسې جوړ کړی چې تاریخ تکرار نشي، د تاریخ د پیښو مرحلو تکراریږي او د تاریخ لومړی له وروستي سره اړیکه لري، څکه چې الله فرمایي: هغه لومړی هم دی او وروستی هم، او ښکاره هم دی او پټ هم، او هغه پر هر شي علم لري.[2] تاریخ د جګړې د ښو او بدو بهیرونو څخه جوړ دی او د بدو او ښو دا جګړه هغه مهال پیل شوه چې ابلیس د الله (جل جلاله) له درباره وشړل شو او د هغه له غوښتنې سره سم، الله (جل جلاله) د خپلو بندګانو د بې کولو چانس هغه ته ورکړ.

الله (جل جلاله) انسان له خاورې پیدا کړ او بیا یې خپل روح پکې واچوه او د خپل پاک روح تر اچولو وروسته یې ملایکو ته امر ورکړ څو هغه ته سجده وکړي. الله (جل جلاله) فرمایي: بیا کله چې زه هغه بشپړ کړم او له خپل روح څخه یو څه په کې پو کړم؛ نو تاسې ټول د هغه په وړاندې په سجده پریوځئ[3] هغه سجده چې الله (جل جلاله) ملایکو او ابلیس ته پرې امر وکړ، د ادم خاورین وجود ته سجده نه وه، بلکې د په دې خاورین وجود کې د الهي اچول شوي روح ته سجده وه. خو ابلیس د الله له امر څخه سرغړونه وکړه او یې ویل: هغه وویل: زما دا کار نه دی چې زه دغه بشر ته سجده وکړم، تا هغه د بویناکې ختې له وچ کودړي څخه پیدا کړیدی.[4]

---

[1] سوره الانبیاء؛ ۱۰۵ آیت: وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿۱۰۵﴾

[2] سوره الحدید؛ ۳ آیت؛ هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۳﴾

[3] سوره الحجر؛ ۲۹ آیت؛ فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُ سَاجِدِينَ ﴿۲۹﴾

[4] سوره الحجر؛ ۳۳ آیت؛ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُ مِن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿۳۳﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ابلیس سرغړونې لامل طبیعي تکبر او ښه والی و چې متکبر موجودات د خپل نسب او اصل له مخې په نورو ځان ښه ګڼي، او الله (جل جلاله) متکبر موجودات نه خوښوي نو ابلیس یې لعنتي کړ او ویې شړه. د تاریخ په پیل کې ابلیس تکبر وکړ او ځان یې ښه وګڼه او د تاریخ په وروستیو مرحلو کې د ابلیس او د هغه په همکارۍ ځینو انساني ډلو ځان له نورو ښه وګڼه او د خپل او اصل او نسب له مخې یې ځان برتره کړ او ځان ښه شوي خلک ګڼي. پداسې حال کې چې الله د انسان په کالبد کې خپل روح پو کړ او انسان دا الهي روح ګرځوي چې د الله (جل جلاله) په وړاندې د انسانانو په اصل او نسب کې نه دی، بلکې د هغوی د نیکو اعمالو له مخې دي. د غرب عصري تمدن چې وروستۍ هیله یې د دې خلکو نړیوال حکومت ته رسیده دي، خپل ځان تر نورو ښه ګڼي او یو متکبر تمدن ده او د ابلیس په پلونو یې قدم ایښی او په همدې لاره روان دي. دا متکبر تمدن په دې هڅه کې دی ترڅو ټوله نړۍ له ځانه سره هم ګامه کړي او په شیطان پیروان یې کړي.

په دې متکبر تمدن کې د متمدن والي معیار ظاهر پالنه ده او په دې تمدن کې د یو انسان متمدن توب دریشي او نکټایې ښیي. دا تمدن داسې متکبر دی چې که حضرت عیسی علیه السلام هم بیا راشي او دریشي او نکټایې یې په تن نه وي نو هغه به هم یو غیر متمدن انسان وګڼي.

د تاریخ په پیل کې کله چې الله (جل جلاله) ادم پیدا کړ او هغه ته یې په جنت کې ځای ورکړ، هغه ته یې وویل چې د جنت له ټولو نعمتونو څخه، پرته له یوې ګټه اخیستلی شی: بیا موږ آدم ته وویل: ته او ستا میرمن (حوا)، دواړه په جنت کې اوسیږئ او دلته په پراخې سره چې څه مو زړه غواړي خورئ. خو دې ونې ته مه نژدې کیږئ، که نه نو په تیري کوونکو کې به وشمیرل شئ[1]. بیا شیطان د ادم ع خواته راغی او د هغه په وسوسه کولو یې پیل وکړ او شیطان ادم ع ته وویل: اې ادمه! خو شیطان هغه تېر ایستی، ورته ویې ویل: ای ادمه تا ته هغه ونه در ښیم چې په هغې سره تل تر

[1] سوره البقره، ۳۵ آیت؛ وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلاَ مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلاَ تَقْرَبَا هَذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الْظَّالِمِينَ ﴿٣٥﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



تله ژوند او نه ختمېدونکی سلطنت په لاس درځي؟- په پای کې دواړو (مېړه او مېرمنې) د هغې ونې میوه وخوړهل. نتیجه دا شوه چې سمدلاسه د هغو سترونه یو د بل په وړاندې لوڅ شول او دواړه د جنت په پاڼو سره د خپلو ځانونو په پټولو باندې لګیا شول. ادم علیه السلام د خپ رب نافرماني وکړه او له سمې لارې څخه واوښت[1]. په دې مبارکو ایاتونو کې د پام وړ ټکي دادي چې آدم علیله السلام د تلپاتې ژوند او هغه دولت چې هیڅکله زوال نه لري د ژوند د هوس لپاره یعنی تلپاتې حاکمیت، له خپل پروردګار څخه عصیان وکړ او ونې ته نږدې شو. کله چې ادم علیه السلام ونې ته نږدې شو معنوي معصومیت یې له لاسه ورکړ او د معنوي معصویمت په له لاسه ورکولو سره پخپل لوڅوالي پوه شو او د ځان د پټولو لپاره یې د ونې له پاڼو کار واخیست.

د تلپاتې حاکمیت او دولت د هوس له امله یې معنوي معصومیت له لاسه ورکړ او دا هوس د ظلم سبب ګرځي. لکه چې الله (جل جلاله) آدم علیه السلام ته فرمایي چې ونې ته مه نږدې کیږه کنه بیا به د ظالمانو له ډلې څخه یې. اوس په وروستۍ زمانه کې صهیونیستان یو وار بیا د ابلیس پسې دي او په خپل زړه کې د تلپاتې دولت په هوس ګرځوي چې له بیت المقدس څخه به اداره کیږي او له همدې امله د خپلو سترو موخو ته د رسیدو لپاره له هیڅ ډول ظلم څخه ځان نه سپموي.

هغه مهمه او حیاتي موضوع چې باید هر مسلمان ورته پام وکړي، داده چې الله (جل جلاله) د آدم ع تر پیدا کیدو وړاندې ملایکو ته وویل چې په ځمکه کې خلیفه پیدا کوي؛ خو ملایکو د هغه علم له مخې چې الله ورته ورکړی وو د الله په وړاندې وویل چې ایا په ځمکه کې داسې خلیفه پیدا کوې چې فساد به کوي او وینه به تویوي؟ الله (جل جلاله) وفرمایل: هغه څه چې زه پرې پوهیږم تاسو نه پوهیږئ. نو د آدم او د هغه

[1] سوره طه؛ ۱۲۰-۱۲۱ آیتونه؛ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ قَالَ يَا آدَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَى ﴿۱۲۰﴾ فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى ﴿۱۲۱﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اولاد دنده په ځمکه کې خلافت دی او دا چې خلافت څه ده الله (جل جلاله) خپل خلیفه داود ع ته داسې فرمایي: موږ هغه ته وویل، اې داوده! موږ ته په ځمکه کې خلیفه گرځولی یې، له دې کبله ته د خلکو په منځ کې په حقه حکم وکړه او د نفسي غوښتنې پیروي مه کوه چې هغه به تا د الله له لارېځخه واړوي. کوم کسان چې د الله د لارې څخه بې لارې کیږي په یقیني ډول د هغو لپاره سخته سزا ده، ځکه چې د حساب ورځ یې هیره کړیده.[1]

نو خلیفه هغه څوک ده چې په حق سره حکم کوي او خلافت هغه حکومت ده چې په حق ولاړ وي او دا چې انسان د ځمکې پرمخ د الله (جل جلاله) خلیفه ده نو باید دا خلافت ته کار وکړي. د تاریخ په پیل کې الله (جل جلاله) د خلافت دنده آدم ع ته وسپارله او اوس د تاریخ په پای کې انسي او جني شیطانانو د توطیو په واسطه خلافت له منځه یوړ او تقریباً د نړۍ اوسنۍ ټول دولتونه جمهوري شویدي چې شعار یې د خلکو لخوا په خلکو باندې د خلکو حکومت دی او په حقیقت کې دې دولتونو د الله (جل جلاله) حق خلکو ته وسپاره.

اوس د تاریخ په وروستیو مرحلو کې هغه جگړه چې د ښو او بدو ترمنځ پیل شوی وه، توده شوه او ابلیس او د هغه پیروان چې په هر ډول وسلې چې په لاس کې یې لري، د حق په لوري یې راغورځوي او د نړیوالې شیطاني طرحې لپاره کار کوي؛ خو د الله له وعدې سره سم به وروستۍ بریا د حق وي او تاریخ به په باطل باندې د حق په بریالیتوب پای ته رسیږي.

**ستره نړیواله طرحه**

هر یهودي ماشوم په دې باوري دی او پوهیږي چې د الله د عودې له مخې چې بني اسرائیلو ته یې ورکړی وه، تاریخ به د پیغمبر او مسیحا په ارتگ چې له بیت المقدس او داود له تخت څخه به په ټوله نړۍ حکومت وکړي، پای ته رسیږي. یهودیان په دې

[1] سوره ص؛ ۲٦ آیت؛ يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیده دي چې تاریخ به د یهودي نړیوال نظام پواسطه چې مرکز به یې بیت المقدس وي، لکه څنگه چې د سلیمان ع په وخت کې وو، پای ته رسیږي او د یهود دا نړیوال حکومت به د یهودیت دین په حقه ثابتوي[۱]. مسیحیان او مسلمانان هم په دې باور دي چې په وروستۍ زمانه کې به مسیح ع راځي او نړیوال حکومت به رامنځته کوي، خو مسلمانان په دې عقیده دي چې عیسی ابن مریم ندی مړ شوی، بلکې هغه د الله (جل جلاله) په واسطه اسمان ته ورل شوی او بیا به راځي؛ خو برعکس یهودیان مسیح عیسی تکذیبوي، نو له دې امله د داسې کس په تمه دي چې رښتونې مسیح نه وي، بلکې درواغجن مسیح به وي چې مسلمانان ورته مسیح الدجال په نوم پیژني او یهودیانو د د عیسی په تکذیبولو سره د مسیح الدجال د راتگ لپاره زمینه برابره کړیده څو هغه د خپل فریب ښکار وگرځوي او خپل ستر پیروان یې وگرځوي.

وروسته چې د خزرانو امپراتوري راړنگه شوه او د خزر قوم ډیری اروپا ته کډوال شول او د لومړي ځل لپاره په دې وتوانیدل چې په سامي نژاد کې ځای ونیسي د کلیسا او مسیحي ټولنو له جنسي سوداگرۍ او سود خوړلو څخه لاسته راوړې ستره پانگه یې د اغیزې په قدرت سره په صلیبي جگړو تحریک کړې، د دې سبب شوی څو بیت المقدس ونیسي او مسلمانان له بیت المقدس څخه وشړي او او د معبدي قهرمانانو په رامنځته کولو سره یې د صلیبانو تر نامه لاندې فکر وکړ چې د خپلو سترو ارمانونو لپاره یې لومړني گامونه پورته کړیدي، خو د صلاح الدین ایوبي تر مشرۍ لاندې د پاکو مسلمانانو سپیڅلی جهاد او د مسلمانانو مبارزې د هغوی دا ارمان له خجالتۍ سره یو ځای بیرته اروپا ته ولیږه.. د صلیبیانو تر ماتې وروسته شیطاني قواو په دې پوه شول چې له مسلمانانو سره په مخامخ فزیکي مقابله کې ستر ارمانونه پایله نه لري، نو له دې امله یې د کوچنیو ډلو او پټو ډلو لکه فریمسنري، روښن فکران او نورو په نوم ډلې رامنځته کړې چې لومړی یې اروپا د خپلو سترو هیلو د پوره کیدو لپاره تر کنترول لاندې راوسته او بیا د غرب د عصري تمدن تر رامنځته کولو ورسته دا تمدن د خپلو سترو هیلو په لور تر واک لاندې راوست او په توطیه جوړولو سره په دې وتوانیدل چې

[۱] Imran N. Hosein; The Gold Dinar and Silver Dirham: Islam and the Future of Money; p 27

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي خلافت له منځه يوسي او بيا فلسطين او بيت المقدس يو وار بيا د هغو يهوديانو لاسو ته وسپاري چې د دجال د فتنې تر ټولو ستر قربانيان او پيروان وو او د اسرائيلو دجالي دولت يې په بيت المقدس کې رامنځته کړ. د غرب د عصري تمدن په رامنځته کيدو سره برتانيا د دې تمدن د لومړي نړيوال قدرت په توګه د دولت بنسټ چې پايله يې د دجال د امپراتورۍ جوړول دي، کيښوده او بيا امريکا د دې تمدن د ستر قدرت په توګه چې البته د اروپايانو په واسطه د امريکايانو د اصيل خلکو تر نسل وژنې وروسته له دې تمدن سره وتړل شول، رسماً يې د اسرائيلو د حکومت په رامنځته کولو کې مرسته وکړه او هغه يې په رسميت وپيژنده.

صهيونيستانو په اروپا او په ځانګړې توګه په برتانيه کې د پټو ډلو په اغيزمنتيا سره له دې نړيوال قدرت څخه کار واخيست او د اسرائيلو د دجالي دولت بنسټ يې په بيت المقدس کې کيښود او بيا په رسمي توګه د سياسي صحنې مخې ته راتلو سره د صهيونيزم د ګوند په چوکاټ کې د اسرائيلو د تشکيل او د دې هيواد د پياوړي کولو لپاره ګټه پورته کړه او له امريکا څخه اسراييلو ته د قدرت د انتقال لپاره د دې تمدن دريم او وروستي نړيوال قدرت په توګه امريکا به هم له زوال سره مخ کوي. امريکا د خپل پخواني سيال په څير له بيت المقدس او د اسرائيلو له يهودي دولت سره خپل دلچسپی ښيي او د اسرائيلو له تولد څخه تر اوسه پورې يې ۱۲۰ زره مليون ډالر په مالي مرستو سره، د ۳۹ څخه د ډيرو ويټو (د رد حق) لپاره د اسرائيلو د ساتنې لپاره له نړيوال قوانينو څخه په ملګرو ملتونو کې د دې صهيونيستي دولت د ظلمونو په وړاندې او د نظامي قوو په ځآنګړې توګه د اسلامي هيوادون په واسطه د اسرائيلو د دښمنانو له منځه وړلو لپاره يې اسرائيل دې ته تيار کړل څو د غرب د عصري تمدن وروستی او دريمه مرحله لکه څنګه چې اميرکا د برتانيې ځای ونيو، اسرائيل هم د امريکا ځايناستی شي، عملي کړي او يو څوک په بيت المقدس کې د مسيحا په توګه د نړيوال حکومت اعلان وکړي او ځان د يهوديانو مسيحا وپيژني.

صهيونيستانو په بيت المقدس کې د اسرئيلو له تشکيل وروسته د امريکا په مشرۍ د غربي عصري تمدن په ملاتړ سره د دې نوي تشکيل شوي يهودي دولت د پياوړي کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فکر کې شول. امریکا، د نظامي او مالي مرستو څخه پرته له اسرائیلو سره استخباراتي مرسته لاس پورې کړ او په هره مسله چې اسرائیل پکې د نړیوالې ټولنې د نقد او یا گواښ لاندې راغلې ده، امریکا په یوه نه یو ډول د اسرائیلو ملاتړ کړیدی. کله چې امریکا په ۱۹۷۹ کال کې د KH-11[۱] په نوم د HD کیفیت لروکې پرمختللی سټلایټ چې له سلگونه کیلومترو څخه انځور اخیستی شي، د ځمکې مدار ته ولیږه. په داسې حال کې چې ستر نړیوال متحد (انگلستان) ورته د خپلو استخباراتي مخو لپآره د انځور اخیستو لپاره ترې کار نشو اخیستی، اسرائیلو په مستقیمه توگه دې سټلایت ته لاسرسی لره او د همدې استخباراتي معلوماتو له مخې یې د عراق په اوسیرک کې د دغه هیواد د نظامي ځیړنو مرکز د نظامي الوتکو په مرسته چې له اسراییلو سره د امریکا لخوا کمک شویو، تر بمبار لاندې ونیولې او سره له دې چې اسرائیلو په دې حمله کې ټول نړیوال قوانین تر پښو لاندې کړل او په ۱۹۷۵م کالون کې په ټوله نړۍ کې د اسرائیلو د دې قانون ماتونې په وړاندې لاریونونه وشول، امریکا چې ځان د نړیوالو قوانینو ساتونکی ځان گڼي پخپلو غوږونو کې پنبه کیښوده او هیڅ ډول غبرگون یې ونه ښوده.

د ټکنالوژیو په زمانه کې اتومي سلاح د نړیوال قدرت د عمده عنصر په توگه گڼل کیږي، نو له دې امله تر جوړیدو څو کاله وروسته د اتومي وسلو د جوړولو په فکر کې شول او پداسې حال چې امریکا د خپلو U-2 استخباراتي او اکتشافي الوتکو په واسطه چې د اتحاد جماهیر شوروي د نظامي تحرکاتو د څارنې لپاره یې جوړې کړې، د اسرائیلو اتومي ځیړنو مرکز یې په پټه تر نظارت لاندې لره او د اسرائیلو له اتومي وسلو له جوړیدو څخه خبر وو، هیڅ ډول غبرگون یې ونه ښود او پداسې حال کې چې اسلامي هیوادونه د اتومي وسلو د لرلو په تور تر نظامي یرغل لاندې راولې، اتومي اسرائیلو حتی د اتومي وسلو د پراختیا د منع تړون لاسلیک کړی ندی؛ سره له دې یې په ۲۰۱٦م کال کې د امریکا د دفاغ وزیر کولن پاول په خپرو شویو ایمیلونو کې له

---

[۱] Seymour M. Hersh; The Samson Option; 1. A Secret Agreement

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰ څخه زياتې اتومي وسلې لري[1]. هيڅ نقد يې پرې ونکړ او حتی رسنيو هم د هغې په اړه په اسراييلو انتقاد ونکړ، بلکې د امريکا او غرب د عصري تمدن مالي، نظامي او حتی اتومي مرستې ورسره روانې دي.

وروسته له دې چې صهيونيستانو په فلسطين او مقدس هيواد کې د پښې ځای پيدا کړ او د اسرائيلو صهيونيستي يهودي دولت يې رامنځته کړ او په يو اتومي قدرت يې بدل کړ، دا صهيونيستي دولت د اسرائيلي د سترو پروژو د عملي کيدو لپاره د پلانونو او طرحو د ارمان په فکر کې شول. اسرائيل د نړيوال نظم د چارو جوړونکي شول او د امريکا په راس کې د غرب عصري تمدن د اسرائيلو د سترې طرحې عملي کوونکو مامورينو په توگه په نړۍ کې د اسرائيلو د ستر ارمان لپاره په فعاليت لاس پورې کړ.

په ۱۹۸۲م کال کې اودن ينن (Oden Yinon) د اسرائيلو په بهرني سياست کې شخص او ژورناليست چې د اسرائيلو له بهرنيو چارو وزارت سره نږدې اړيکې لري، په منځني ختيځ کې د صهيونيستانو استراتيژۍ تر عنوان لاندې د صهيونيست نړيوال سازمان (World Zionist Organization) په مجله کې خپره کړه چې وروسته ترې د اسرائيلو د بهرنۍ پاليسۍ په توگه کار واخيستل شو او د ينن د پلان (Yinon Plan)[2] په نامه هم پيژندل کيږي. دا پلان د اسرائيلو د بقاء لپاره دوه طرحې او عمده موخې لرلې. لومړۍ يې دا وړاندې کوي چې اسرائيلو بايد د سيمې په يو پياوړي امپرياليستي قدرت بدل شي او دويم دا چې ټوله سيمه په کوچنيو دولتونو بدل کړي او ټول عربي هيوادونه تجزيه شي. د دې کار لپاره هر عربي دولت او په ځانگړې توگه هغه دولتونه چې د ملي منسجمو وا واضح موخو لرونکي دي، تر موخې لاندې ونيسي. دې پلان د مسلمانان د کمزورتيا ټول ټکي ذکر کړيدي څو په راتلونکي کې صهيونيستان وتوانيږي چې په اسلامي نړۍ کې له دې کمزوريو څخه د تشنجاتو او گډوډيو د رامنځته کولو او د اسراييلو د پياوړي کولو لپاره کار واخلي. د کمزورتيا هغه نقطې چې دا پلان يې د اسرائيلي ستراتيژيستانو لپاره رابرسيره کوي مذهبي، قومي، نژادي او ملي اختلافونه

[1] Times of Israel (In leaked emails); Colin Powell says: Israel has 200 nukes (Dated: Sep. 15, 2016)

[2] د لا زياتو مطالعې لپاره د Israel Shahak په واسطه د The Zionist Plan for the Middle East کتاب ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې د دې په مرسته اسرائيل کولی شي عربي دولتونه کمزوري کړي او په داخلي جګړو او ګډوډيو يې اخته کړي.

د دې پلان له مخې عراق بايد په يو شيعه، سني او کُردي دولت تجزيه شي.د مراکش او اجريا ترمنځ په هسپانيوي صحراوو باندې اختلافونه بايد نور هم زور واخلي او همدارنګه همدارنګه په دې هيوادونو کې داخلي اختلافات نور هم پسې زيات شي. په سوډان کې مسلمانان يو اقليت وو او په اکثريت افريقايانو، بت پرستانو او مسيحيانو يې حکومت کاوه نو ترمنځ يې د اختلاف رامنځته کول ساده وو. همدارنګه سوريه او لبنان له علوي شيعه ګانواو سني څخه جوړ وو چې په سوريه کې ۱۲ سلنه علوي شيعه ګانو په اکثريتو سنيانو باندې واکمني کوله او لبنان هم ورته حالت لري او دا د دولتونو د متزلزل کيدو حالت لري. د مصر ستره برخه دا طرحه تشکيلوي، ځکه که چيرته د دې پلان له مخې مصر سقوط وکړي او تجزيه د ليبيا، سوډان او لرې پراته اسلامي هيوادونو هم په دا ډول حالت کې راښکيليږي.

په همدې توګه په ټوله اسلامي نړۍ کې د تفرقې او داخلي جګړو رامنځته کوي. د دې پلان يوه برخه داسې وايي: په پنځو ولايتونو باندې د لبنان پوره تجزيه د مصر، سوريې او عربو جزيرې په شمول د ټول عربي نړۍ د تجزيې لپاره سريزه ګڼل کيږي او اوس په هماغه لور په حرکت کې دي. وروسته عراق او سوريه نظر ځانګړو برخو ته د قوم او مذهب له مخې، د لبنان په څير په ختيځه برخه کې د اسرائيلو له لومړنيو موخو څخه دي. سوريه هم د قومي او مذهبي جوړښت له مخې د اوسني لبنان په څير په څو دولتونو تجزيه کيږي چې د هغې د ساحل په اوږدو کې يو علوي شيعه دولت، په حلب کې يو سني دولت، په دمشق کې يو بل سني دولت چې د خپلو شمالي ګاونډيو دښمن وي او د دروزيانو (له اسماعيليه وو يو مذهب بيل شوی دی) يو دولت زموږ د جولان (يعني اسراييل د جولان تپې خپلې ګڼي) په تپه او حوران سيمه کې رامنځته شي. دا کار په اوږده موده کې د اسراييلو سوله او ټيکاو تامينوي چې اوس دا ډول حالت زموږ په لاس کې دی[۱]. د ينن د طرحې برخلاف د ايران-عراق اته کلن جګړه چې

---

[۱] Translated and Edited by: Israel Shahak; The Zionist Plan for the Middle East; p 11

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۸۸م کال کې پای ته ورسیده او ملیونه تلفات یې لرل، ونه توانیده چې عراق ټوټه ټوټه کړي او عراق تر دې وروسته یو وار بیا د متحد هیواد په توګه په بیارغونه پیل وکړ او یو سیمه ییز قدرت شو. همدارنګه د ینن محاسباتو د مصرپه اړه صهیونیستانو ته ټاکلې پآیله نه لرله او مصر هم د حسن مبارک د مصر د پخواني رییس د واقعی بینانه مشرۍ لاندې په یو متحد ملت او سیمه ایز قدرت باندې له نړۍ له قدرتونو سره د نیکو دیپلوماتیکو اړیکو په لرلو سره مصر له تجزیې وژغوره او د سینا د دښتې د نیولو لپآره یې د اسراییلو شومه طرحه ناکامه کړه. همدارنګه لبنن هم چې داخلي جګړه او د اسراییلو له نیولو یې ژغورل شوی وو، مخ په متحد کیدو وو.

د ینن د طرحې د قسمي بریا تر نشوالي وروسته د اسراییلو د سیاسي مطاعلاتو او استراتیژیک پرمختګ د مطالعاتو انسټیټوټ د ینن تر طرحې وروسته یوه نوی تګلاره د ښکاره قطع: د قلمرو د ساتنې لپاره یوه نوی تګلارې (A Clean Break: A New Stratey for Securing the Realm)[1] تر نامه لاندې طرحه کړه د پخواني ناکامو تګلارو په قطع کیدو یې تاکید کاوه او د نوی تګلارې تر نامه لاندې یې د اسراییلو اوږدمهالو او لنډمهالو پنځو مهمو او ګټورو ټکو ته پکې اشاره کړیده.

۱. له اسراییلو څخه د امریکا د کانګرس ډیر ملاتړ او د اسراییلو هغه تګلارې چې په عمده ډول پکې د امریکا د کانګرس د کلیدي غړو د ملاتړ لاسته راوړل، له امریکا سره د میزاییلي دفاعي تګلارې همکاري، د امریکا د کانګرس د غړو څخه ملاتړ چې د اسراییلو په اړه لږ معلومات لري، له تل ابیب څخه بیت المقدس ته د امریکا د سفارت د انتقال لپاره د لاسته راوړي ملاتړ څخه ګټه اخیستل او او د سرې جګړې د لفاظیو د بیا ژوندي کول پکې شامل دي، د امریکا خلکو ته د اسراییلو د وضعیت په توګه وړاندې کیږي.

---

[1] د لا زیاتې مطالعې لپاره لاندې کتابونو ته سر ورښکاره کړئ:

Institute for Research: Middle Eastern Policy, Inc.; Middle East Foreign Policy; Policy Brief; March 27 2003 او

Grand F. Smith; Big Israel: How Israel's Lobby Moves America همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. د سولې لپاره د سولې د حللارې له منځه وړل چې د سولې لپاره د حرکتونو مخه نيول (د سولې لپاره سوله چې د دوو هيوادونو د سولې د حلارې په نامه هم پيژندل کيږي، اوس هم د فلسطين او اسراييلو د جنجال د حل لارې لپاره په نړيواله ټولنه کې د امريکا، اروپايي اتحاديې او فلسطينانو ترمنځ منل شويده چې پدې تړون کې اسراييل بايد د ملگرو ملتونو د امنيت د شورا ۲۴۲ او ۳۳۸ قطعنامو ته احترام وکړي او هغه سيمې چې د ۱۹٦۷م کال د جون د مياشتې په جگړې کې يې د نظامي قواو په واسطه نيولې وې او پکې باختري کرانه، د غزې تړانگه او ختيځ بيت المقدس شامل دی، بيرته فلسطين ته ورکړي[۱])، د فلسطيني مبارزينو د نظامي څار لپاره مشروعيت، فلسطين ته د امريکا د مرستو منع کول، هغو دوه زره کلنو تاريخي ادعاوو ته مشروعيتورکول چې د بيت المقدس ځمکه په يهوديانو پورې اړه لري او د سولې په وړاندې د اسراييلو په رسميت پيژندل پکې شامل دي.

۳. د سيمه ايزو رقيبانومحاصره، بې ثباته کول او له منځه وړل چې پکې عربي هيوادونه بې مشروعيته او ديکتاتور دولت معرفي کړي، په سوريه کې د عرب دښمنه قومونو د استولو لپاره له ترکيې او اردن سره کار، د رسنيو په مرسته د سوريې د دولت د مشروعيت تر پوښتنې لاندې راوستل، د سوريې محاصره، په سوريې حمله، له صهيونيستانو سره د عراقي دوسته رژيم په واسطه د سوريې محاصره، په لبنان کې د سوريې، ايران او عراق ننباسل او عراق پرځای د لبنان شيعه گان په اردن پورې تړل.

۴. اقتصادي اصلاحات چې د اسراييلو د اقتصاد عمومي اصلاحات، د ماليو راکميدل، د امريکا د مرستو او د دفاع لپاره د امريکا نظامي قواو ته د اړتيا له منځه وړل او په خپل داخلي اقتصادي متکي کيدل پکې شامل دي.

۵. د راتلونکې لپاره د صهيونيزم راژوندي کول چې پکې د ملي احساساتو زياتيدل او د دفاع ملي تګلارې جوړول شامل دي.

---

[۱] Colin Flint' The Geography of War and Peace: From Death Camps to Diplomats; p 298

(c) ketabton.com: The Digital Library



یهودیانو په تورات کې داسې لاسوهنه وکړه چې بین النهرین هیواد ته چې د فرات او نیل د سیندونو ترمنځ پروت دی د اسرائیلو خدایي حق ګڼي او د صهیونیستانو هیله هم د نیل له سیند څخه تر فرات سیند پورې د اسرائیلو د قلمرو پراخوالی دی چې صهیونیستان ورته د ستر اسرائیلو پروژه (The Greater Israel Project) وایي او د ننن او ښکاره قطع د پلانونو په شمول صهیونیستي تګلارو په شمول همدا موخه څاري. پداسې حال کې چې یهودیان چې خپل ځانونه د ارتودکس یهودیان بولي، په دې باور دي چې یهودیان د دولت د تشکیل حق نلري، صهیونیستان د لاس وهل شوي تورات څخه په ګټې اخیستو وایي: په هغې ورځ، خدای له ابرام (ابراهیم) سره تړون وکړ او ویې ویل: دا ځمکه مې د مصر له سیند (نیل سیند) څخه تر لوی سیند (فرات سیند) پورې ستا نسل ته وبخښله[1].د هر ډول ظلم، چل او دوکې څخه په کار اخیستو د یهودي دولت د رامنځته کولو په هڅه کې دي او د غرب عصري تمدن چې د لومړي ځل لپاره یې یهودي – مسیحي اتحاد رامنځته کړي اسرائیل یې د دې ستر ارمان د پوره کیدو لپاره مرسته وکړه. صهیونیستانو د تورات له ایاتونو څخه په کار اخیستو، یهودیان او صهیونیست مسیحیان دې ته متقاعد کړل چې د دې یهودي حکومت رامنځته د موعود مسیح د راتلو لپاره سریزه ده چې له بیت المقدس څخه به په ټوله نړۍ د داود ع او سلیمان ع په څیر حکومت وکړي، په داسې حال کې چې مسلمانان پوهیږي چې هغه مسیح چې یهودیان او صهیونیست مسیحیان ورته کار کوي، دروغجن مسیح (دجال) دی.

د صهوینست ټول مشران د اسرائیلو پروژې باور لره، په دې اړه تئودور هرزل د صهیونیستانو پلار د خپلو خاطرو په کتاب کې داسې لیکي: د یهودي دولت قلمرو د مصر له سیند څخه فراته ادامه لري[2]. او خاخام یهودي د فیشمن په نوم چې د فلسطین لپاره د د ملګرو ملتونو د رسیدګۍ په ځاګني کمیټه کې د ۱۹۴۷م کال کې

[1] د پیدایښت کتاب؛ پنځلسم باب؛ له ابرام سره د خدای عهد؛ آیه ۱۸

[2] Theodore Harzi; Complete Diaries; Vol. II; p 711

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جولای په ۹ داسې وويل: د موعود هيواد به د مصر له سيند څخه تر فراته ادامه ولري او د سوريې او لبنان ځينې هم پکې دي[۱].

د اسرائيلو د سترې پروژې د عملي کولو لپاره يهوديانو په ۲۰۰۱ م کال په سپټمبر يوولسمه باندې يوه دروغجنه ستره جمله په امريکا کې ترسره کړه او د هغې مسووليت او پړه يې د د القاعدې په پخواني مشر اسامه بن لادن او بلاخره




په نقشه کې هغه سيمې په ګوته شوي چې اسراييل يې د نيولو پلان لري

په ټولو مسلمانان واچوله. د سپټمبر د يوولسمې حمله د يويشتمې پيړۍ تر ټولو دوکه کوونکې او ناسمه حمله وه، څکه لا تر اوسه د امريکا دولت له دې حملې څخه په افغانستان او منځني ختيځ کې له اسلام سره په جګړه کې کار اخلي، په دې اړه دا پوښتنې چې: څنګه ۱۹ تنو مسلمانو عربو څلور ځله په يوه ورځ د نړۍ تر ټولو ستر امنيتي پرمختللی سيستم خراب کړ؟، څنګه يې د اسمانڅکو د ازاد سقوط په راغورځيدو سره د فزيک قوانين مات کړل؟، څنګه يې د هغه ودانۍ اوسپنيز چوکاټونو هچې په ۱۵۱۰ درجې سانتي د غليانو په درجې سره يې د الوتکو د ۸۰۰ سانتي ګريدو درجو نفتو په وړاندې د کيميا قوانين مات کړل؟، څنګه يې دوو تعميرونو سره د

[۱] International Organization for the Elimination of all forms of Racial Discrimination; Zionism & Racism; p 149

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکو د لګیدو له امله درې ودانۍ ړنګې کړې؟، څنګه يې د ودانيو په ځای پر ځای سقوط سره پرته له دې چې د هغې لاندې بمونه ځای پر ځای کړي د تخريب د سيستماتيکي انجنيرۍ قانون غلط ثابت کړ؟، او بالاخره، څنګه هغه حرارت چې يو اسمانڅکې ودانۍ ورانولی شي، د حمله کوونکی تذکره او پيژند پاڼه نشي سوځولی؟. د امريکا د سپټمبر يوولسمه پيښه د اسرائيلو د پروژې او همدارنګه د اسرائيلو د لاوړدمهالو او لنډ مهالو تګلارو د عملي کولو لپاره يوه سريزې په توګه وکاريده او امريکا د اسرائيلو د رقيبانو د له منځه وړلو لپاره د نړۍ د پياوړي قدرت په توګه رامخ شوه او د اسرائيلو د تګلارو سره سم يې د منځني ختيځ په بې ثباته کولو لاس پورې کړي او ويلی شو چې امريکا په رسمي توګه تر اوسه پورې د اسرائيلو جګړې مخته وړي. په دې اړه د څلوارلس ستوريز جنرال امريکايي جنرال، ونسلی کلارک د نوی دموکراسۍ له تلويززيون سره په اعتراف کې وويل: کله چې پنټاګون ته لاړم او له خپلو همکارنو خبر شوم چې امريکا د اوو مسلمانو هيوادنو د له منځه وړلو پلان لري او کله چې مې دليل وپوښت، همکارانو مې وويل: کله چې درسره څټک وي نو هره ستونزه به درته ميخ ښکاري او د امريکا څټک هم د هغه اردو ده، نو له دې امله د امريکا پلان هم د دې اوو هيوادونو له منځه وړل دي چې له عراق، سوريې، لبنان، ليبيا، سوماليا او بالاخره ايران څخه عبارت دي[۱]. امريکا د ناټو په مشرۍ د سپټمبر له يوولسې حملې څخه چې په مسلمانانو پورې يې هيڅ تړاو نلره، له اسلامي نړۍ سره د جګړې په د سريزې په توګه کار واخيست. لومړی د افغانستان هيواد او بيا يې د ډله ايزو وژونکو وسلو د لرول او له تروريزم د جګړې په بهانه عراق هم ونيوه. دا چې ولی امريکا دومره بحرونه لرې په منځني ختيځ کې په جګړه بوخته ده، په دې اړه ډير اقصتادي او سياسي نظريې او تيورۍ موجودې دي چې له ډلې څخه تر ټولو مهم يې له تروريزم سره جګړه، د نفتي ذخيرو لاسته راوړلو، د پطرو ډالرو انحصار، د دموکراسۍ خپرول او ليږدول او د سيمه ايزو هيوادون د قدرتونو کنترول او جيوپوليټيکي ګټې دي. خو منځنی ختيځ له امريکا څخه ډير لری دی او هيڅ کله به امريکا ته جدي ګواښ پيښ نکړي. نو له دې امله

---

[۱] Milena Rampoldi; The Tragedy of Palestine and its Children; p 133

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه نظریه چې امریکا د خپلې امنیت د ساتنې لپاره په منځني ختیځ کې ښکیل دی ماشومانه ښکاري.
امریکا د نړۍ د سترو نفتي ذخیرو لرونکی دهاو د هغې ډیری وارداتي نفت له جنوبي امریکا او افریقا څخه تمویلیږي، نو له دې امله د منځني ختیځ نفتي ذخیرې پداسې حال کې چې د په منځني ختیځ کې د امریکا د مداخلې لپاره یوه کوچنۍ محرکه قوه کیدای شي، د نظامیانو د وینې، مالي او نظامي درنو مصارفو اصلي عامل نشي کیدلی، پدساې حال کې چې د پروډالرو انحصار یو عامل کیدلی شي وي، په منځني ختیځ کې د امریکا د جګړې عمده عامل نه دی، ځکه سورې د پطرو ډالرو د انحصار لپاره هیڅ ګواښ نه وو رامنځته کړی. یو دلیل چې ډیری کارپوهان پرې تاکید کوي، په منځني ختیځ کې د امریکا په واسطه د دموکراسۍ لیږدول او خپرول دي، خو امریکا له اوږده مهال راهیسی په نړۍ کې د غیر دموکراتیکو هیوادونو متحد کیدو ته وفادار دی، نو دا به احمقانه وي چې که څوک فکر کوي چې امریکا د دموکراسۍ د خپراوي لپاره په منځني ختیځ کې په ګړه ده او بالاخره ځینې په منځني ختیځ کې د امریکا د داخلې ستر عامل د راښکاره کیدو په حال کې قدرتنو لکه چین او روسیې سره جیو پولیتیکي سیالي ګني، خو د چین او روسې د محاصره کولو لپاره امریکا ته د کنترول لپاره ښې سیمې د فیلپین، ویتنام، مرکزي اسیا او بالکان په څیر هیوادونه دي. هغه یورۍ په پورته یادې شوی، د امریکا د خلکو، د امریکا د سیاست مدارانو او نړیوالو د دوکه کولو لپاره ښه وسیله کیدای شي، پداسې حال کې چې په منځنی ختیځ کې جګړه د اسرائیلو یوازینې استراتیژیک موخه عملي کوي څو د منځني ختیځ د اسلامي هیوادونو د کمزوري کیدو سره اسراییلو په دې وتوانیږي چې خپله ستره پروژه تطبیق او عملي کړي او د پکس یهود (Pax-Judaica) په نامه د یهود-صهیونیستي امپراتوري رامنځته کړي.

**ستره جګړه، ملحمه یا آرمګدون (Armageddon)**

د دې لپاره چې اسرائیل وتوانیږي یوه امپراتوي چې د یهودیانو دوه زره کلن خوب دی، د بین النهرین په ستره سیمه کې چې د سوریې لویه برخه، تقریباً نیم عراق، ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردون، لبنان، کویټ، فلسطین او د مصر او عربستان ځنيې برخې پکې شاملې دي د خپل موعود مسيح لپاره رامنځته کړي يا بايد اسرائيل په ناڅاپي توګه لوی شي او هم نړۍ راکوچنۍ شي!. دا چې د اسرائيلو په ناڅاپي توګه لويده يوه معجزه ده او د صعود په حال کې او سترو قدرتونو په موجوديت کې ناشونی ده، نو له دې امله اسرائيل د نړۍ د راکوچني کولو په فکر کې دي او د سترو او سيمه ييزو قدرتونو د له منځه تلو په فکر کې دي. د نړۍ راکوچني کول او د سترو قدرتونو له منځه وړل يوازې د اتومې جګړې په واسطه شوني دي چې اسرائيل پکې د جګړې هيڅ لوری نه وي او نروو قدرتونوه د اتومي وسلو په واسطه يو بل له منځه يوسي او اسرائيل وکولی شي د نړۍ د يکه تاز نړۍ په تګه د امريکا ځای ونيسي چې اوسنی وخت دې مرحلې ته د انتقال لپاره ډير نږدی شوی دی.

ستر راتلونکې جګړه ته يهوديان او مسيحيان آرمګدون او مسلمانان ورته ملاحم وايي، خو د نورو دينونو پر خلاف صهيونيستان د دې جګړې د رامنځته کيدو هڅه کوي پداسې حال کې چې نور دينونه نه غواړي چې دا جګړه خپله په لاره واچوي. دريواړه ابراهيمي دينونه په دې باور دي چې په شام کې د وروستۍ زمانې جګړې چې لبنان، فلسطين او د سورېې ستره برخه پکې شامله ده رامنځته به شي، خو اسلام د دې پيښو دقيقه لړۍ داسې بيان کړی ده چې د وروستۍ زمانې د علم له مطالعې پرته، اوسنی اقتصادي او سياسي پيښو درک ناشونی ښکاري او هر مسلمان د وروستۍ زمانې د جګړو او فتنو په اړه د اسلام وړاندونيو ته راوګرځي، ترڅو په دې فتنو کې ښکيل نشي او په دې ګډوډ وخت کې سمه لاره د ځان لپاره وټاکي.

په يو حديث کې حضرت  محمد (صلی الله عليه وسلم)  فرمايي: هغه وخت نږدی ده چې د عراق د خلکو لپاره به يو فقيز (خوراک) او يو درهم هم رانشي، وپوښتل شول له کوم ځايه؟، ان حضرت وفرمايل: د عجمو (غير عربو) له خوا، هغوی د دې جيرې مخه نيسي. بيا يې وفرمايل: هغه وخت نږدی دی چې د شام د اهل لپاره به يو دنيار او يو مُد (ډوډۍ) رانشي، ومو ويل: له کوم ځايه؟ وفرمايل: د روميانو لخوا. بيا يوه شيبه غلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو ويې فرمايل: په پای کې به زما امت ددې خليفه وي چې مالونه موټې موټې وويشي او نه به يې شميري (په سخاوت سره بخښي).

په کويټ باندې د عراق تر حملې څلور ورځې وروسته د ۱۹۹۰م کال د اګسټ مياشت په دويمه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ٦٦١ قطعنامه، په عراق باندې د سوداګرۍ د ټولنې بنديز ولګوه. دې بنديز د ملګرو ملتونو د سازمان د غړو په واسطه د عراق هر ډول توليداتو واردات او همدارنګه عراق ته هر ډول مالونه خرڅلاو منع کړی وو[1].

همدارنګه سوريې په ۱۹۷۹م کال کې وروسته له دې چې امريکا سوريې ته د تروريزم د يو ملاتړي هيواد خطاب وکړ، تر اقتصادي بنديزونو لاندې راالغه. سره له دې چې دا بنديزونه په ۱۹۷۹م کلونو وروسته زور واخيست، په دې بنديز باندې په ۲۰۱۱ م کال کې ډير نور محدويتونه هم د اروپا اتحاديې او امرکيا لخوا ولګول شول. په پورته حديث کې حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د غير عربو، يعني ټولنې نړۍ لخوا د عراق بنديزونه اټکل کړيدي او د احيرانتيا وړ داده چې په عراق باندې بنديز د ملګرو ملتونو د غړو په واسطه چې تقيريا ټوله نړۍ پکې ده وضع شول، او له دې هم د حيرانۍ وړ داده چې او په سوريې باندې بنديزونه د اروپايې اتحاد او امريکايانو (روميانو) لخوا وضع شول. حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د بنديزونو څخه وروسته شرايط د سخاوتمند خليفه (امام مهدي) په راتګ سره وړاندې کړيدید چې چې د دريمې نړيوالی جګړې څخه وروسته او هغه مهال چې ټول امت به په فتنه وا ظلم کې وي، راڅرګنديږي.

آن حضرت وفرمايل: قيامت به تر هغې رانشي چې د فرات سيند، د سرو زرو غر راڅرګند نشي او خلک د هغې لپاره سره وجنګيږي او له هرو سلو تنو څخه ۹۹ ووژل شي او هر څوک وايي: شايد زه پاتې شم[2]. او په يو بل روايت کې راغلي دي: سملانان بايد ترې څه وانخلي[3]. د فرات سيند چې له ترکيې څخه يې سرچينه اخيستې ده، له

[1] Spencer C. Tucker; The Encyclopedia of Middle East Wars. The United States in the Persian Gulf, Afghanistan and Iraq Conflicts; p 598

[2] صحيح مسلم؛ حديث ۷۴۵۴

[3] صحيح بخاري؛ حديث ۷۱۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوریې او عراق څخه تیریږي د سوریې او عراق د فرات د سیند په اوږدو کې د نفتو ډیری ذخیرې پرتې دي. نفت د تیرې او اوسنۍ پیړۍ د یو با ارزښته سوداګریزو مالونو څخه دي چې د صنعتي هیوادونو اقتصادي پراختیا او د صنعت کچه ټاکي او اقتصادي ورته تور سره زر هم وایي. له سعودي عربستان سره د امریکا تر تړون (پطروډالرو) وروسته نفت د امریکا پیسو د پشتیاینې په توګه کار وکړ او د اسعاري پشتیبانې په توګه یې د سرو زرو ځای ونیو. نو کولی شو ووایو چې په تور سرو زرو باندې ستره جګړه چې د فارت د سیند په اوږدو ده راڅرګندیږي، رامنځته کیږي. حضرت محمد سره هغه جګړه چې د فرات په سیند باندې د سرو زرو باندې کیږي دومره سخته ګڼلې ده چې پکې به له هرو سلو تنو جنګیالیو ۹۹ تنه وژل کیږي. بشري تاریخ د سختو جګړو شاهد دی خو تاریخ د داسې جګړو شاهد نه دی چې له هرو سلو تنو څخه یو تن ژوندی پاتې شي او پاتې ۹۹ تنه ترې ووژل شي، نو په شام کې د ښکلیو قدرتونو ته په کتو او د الله د رسول ص د وینا له مخې به دا چګړه مرسومه جګړه نه وي، بلکې داسې جګړه به وي چې پکې به د ډله ییزو وژنو له وسلو څخه کار اخیستل کیږي او زموږ د وخت د ډله ییزو وژنو تر ټولو خطرناکه وسله اتومي وسله ده او نړۍ په یوه داسې مرحله کې ده چې هره لحظه پکې په شام کې د سترو قدرتونو چې ناټو، روسیه، ایران، سعودي عربستان او حتی چین دي د جګړې د کیدو ویره شته ده. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د جګړې شدت داسې بیان چې الوتونکي به په اسمان کې راپریوځي چې شاید د راډیو اکتیفو (Radio Active) وړانګو په واسطه دا کار وشي او همدارنګه رسول الله ص د پخوانیو وسلو او سواریو سره د خلکو راګرځیده اټکل کړیدي چې د ټکنالوژۍ له منځه تله پکې شامل دي او دا کار د اتومي جګړې په واسطه شونې دی، په دې اړه حضرت محمد فرمایي: قیامت به تر هغې رانشي چې میراث ونه ویشل شي او خلک د غنیمت په ویش خوشحاله نشي، او حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) شام ته د لاس په اشارې وویل: د مسلمانانو په وړاندې یو لښکر تیاریږي او مسلمانان به هم د هغوئ په وړاندې ځانونه تیار کړي. راوي وايي: ما وويل: ستاسو موخه رومیان دي؟ ویې فرمایل: هو... خدای کافرانو ته ماتې ورکړي او ستره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژنه به رامنځته شي چې بیلګه یې نه وي لیدل شوی، تر چې الوتونکي به په هوا کې مړه شي... هغوی به په همدې وضعیت کې ژوند کوي چې له یو سترې جګړې څخه خبرېږي او یو فریاد کوونکی به ورته اواز کوي: دجال د هغوی په کور او اهل باندې حمله کړیده او د هغوی د ازادۍ اراده لري. په دې وخت کې به هغوی هغه مالونه او غنیمتونه چې ورسره دي، اچوي او د دجال په لوري ورځغلي او لس سپاره به پیش قراول په توګه لیږي. حضرت محمد وفرمایل: زه د هغوي او د پلرونو په نومونو او د اسپونو په رنګو پوهیږم[1].

الله (جل جلاله) قران ته هغه کتاب ویلی دی چې هر څه پکې روښانه دي، په دې اړه فرمایي: اې محمده (صلی الله علیه وسلم)! دوی له هغې ورځې څخه خبر کړه چې کله موږ په هر امت کې پخپله د هغه له منځه یو شاهد را پاځوو چې پر هغو شاهدي ووایي او پر دغو خلکو باندې د شاهدۍ ویلو لپاره موږ تا راولو او (دا د همغې شاهدۍ تیاری دی) چې موږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی، چې په ډاګه ښکاره د هر شي ځرګندوونکي دي او د هغو خلکو لپاره هدایت، رحمت او زیری دی چې د امر منني غاړه یې ایښې ده.[2] ، نو قرانکریم اتومي جګړې چې د بشریت په تاریخ کې تر ټولو مهمې پیښې وي، هم واضح کړیدي. الله (جل جلاله) فرمایي: حقیقت دا دې، دا څه وسایل چې د ځمکې پر مخ دي، هغه موږ د ځمکې ښکلا ګرځولي دي. ترڅو چې دوی وازمایو چې څوک په کې ښه عمل کوونکی دی.- په پای کې له دغو ټولو څخه چې د هغې پرمخ دي، موږ یو وار ډګر جوړونکي یوو.[3]

کارل سګان (Carl Sagan) د اتومي جګړې د اغیزو په مطالعو کې د نوبل د جایزې له ګټونکي جوشنا لیډربرګ (Joshna Lederberg) همکار وواو همدرانګه کارل د ناسا (NASA) له ټولنې څخه ساینسي استثنایي لاسته راوړنې جایزه هم لاسته راوړیده،

---

[1] صحیح مسلم؛ حدیث ۷۴۶۳

[2] سوره النحل؛ ۸۹ آیت؛ وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَى هَؤُلاء وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ ﴿۸۹﴾

[3] سوره الکهف؛ ۷ او ۸ آیتونه؛ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴿۷﴾ وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ مَا عَلَيْهَا صَعِيدًا جُرُزًا ﴿۸﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته له دې چې اتومي جګړه يې لرې نه ده ګڼلې، وايي: له احمقانو او ليونيانو پرته، نور ټول پوهيږي چې اتومي جګړه به يوه نادره انساني فاجعه وي. يو معمولي اتمي بم له دوه ميګا ټنو مثمريت سره چې له دوه مليونه ټنه تراى نايترو تلوييت (TNT) سره معادل ده چې د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال د کارول شويو ټولو چاوديدونکو موادو سره برابر ده. اتومي جګړه به د اوزون د طبقې د قسمي له منځه تلو سبب شي او ټولې خاورينې کُرې په بيولوژې باندې به جدي پايلې ولري او ځمکې ته د لمر د وړانګو رسيده راکميږي چې د انسانانو لپاره ژوند ستونزمن کړي[1]. نو کولی شوو وايو چې د اتومې جګړې يوه اغيزه په بې ګياه دښتې باندې د ځمکې بدليده ده چې الله (جل جلاله) فرمايي: ښه نو، د هغې ورځې انتظار وکړه چې د اسمان غاړې ته يو څرګند لوګی ښکاره شي.[2] د کار او نورو پوهانو د څيړنو له مخې، د اتومې جګړې يو پايله په اسمان کې د وريځو څخه لوړه د ۱۵۰ مليونو ټنو دود مستقر کيده دي چې دا تياره يې حتی د دود له امله د ځمکې د يخ بندان لامل وګرځي، همدرانګه دود دود د قيامت له سترو نښو څخه هم ده. الله فرمايي: او هيڅ داسې سيمه نه شته چې موږ هغه (د هغې اوسيدونکي) له قيامت څخه مخکې هلاک نه کړو يا سخت عذاب ور نه کړو. دا په الهي کتاب (لوح محفوظ کې ليکل شويدي.[3] دريمه نړيواله يا اتومي جګړه د زياتو ښارونو د له منځه تلو لامل ګرځي او هغه ښارونه چې د اتومي بمونو له چاوديدو څخه په امان پاتې کيږي، سخت عذاب به يې ونيسي، ځکه چې ښارونه هغه سيمې دي چې د خپلو اوسيدونکو لوړمنۍ اړتيا تمويلی نشي او د غذا، اوبو او نورو په څير لومړنۍ اړتياوې ښارونو ته ليږدول کيږي او د نړيوال جګړې پرمهال اړيکې پرې کيږي، کاغذي خپره شوی پيسه خپل اعتبار له لاسه ورکوي او سوداګريزې اړيکې هم قطع کيږي چې په ښارونو کې د غذايي موادو د کمولي لامل ګرځي او اوسيدونکي يې له دردناکې قحطي سره مخ کيږي. همدارنګه د ځمکې په وچه کې د الکترو مقناطيسي موجود په

---

[1] Carl Sagan; The Nuclear Winter: The World after Nuclear War; p 1-5

[2] سوره الدخان؛ ۱۰ آيت؛ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاء بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ﴿۱۰﴾

[3] سوره الاسراء: ۵۸ آيت؛ وَإِن مَّن قَرْيَةٍ إِلاَّ نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا كَانَ ذَلِك فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا ﴿۵۸﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کيدو سره، الکترونيکي الې له منځه ځي او د ابو د پاکوالي او د فاضلابو د خدماتو په څير ښاري خدمتونو له منځه ځي چې په ښارونو کې ژوند ډير ستونزمنوي او د د خلکو ترمنځ د اغتشاشاتو د رامنځته کيدو او مرضونو د زياتوالي او نورو عذابونو لامل ګرځي.

د سترې جګړې لپاره نړيواله صحنه چې اسرائيلو يې کلونه کلونه هيله په سر کې لرله، تياره ده، ځکه له يوې خوا غرب او د غرب عصري تمدن په زوال کې ده او له بلې خوا د ظهور په حال کې قدرتونه، نړۍ د څو قطبي لور ته بيايي او د امريکا په شرۍ کبرجن غرب نشي کولی په واک ورسره شريک سيالان وزغمي.

**د غرب زوال**

د عامه خدماتو ستر کارونه، لوړې او اسمانځکې ودانۍ، ستر او ښايسته ښارونه، نظامي پرمختللی وسلې او قدرت، بروروکراتيک قوي سازمانو او نورې ځانګړې د غرب عصري تمدن د نه زوال وړ ښيي، خو دا ځانګړې د روم په پخواني تاريخي او پياوړي تمدن کې موجودې وې، ليکن د هغو تيروتنو له امله چې د امپراتورۍ پرمهال يې ترسره کړې، د قيصرانو ستره امپراتورۍ يې ړنګه شوه چې کثافاتو يې په اروپا کې پيړۍ پيړۍ تياره رامنځته کړه او د پخواني سيال (روم امپراتوۍ) په څير به د امريکا امپراتوري هم د هغې په پل کې قدم ږدي. کله چې د دوي يو چارواکي د سنيکا (Seneca) خبرداری ورکړ چې روم د زوال خواته روان دی، خلکو د (د روم د زوال؟) په حيرانتيا سره په هغه پورې خندل او اوس هم چې علما د امريکا د امپراتورۍ په زوال غږيږي نو ورپورې خندا کيږي، خو دا يو انکار نه منونکی حقيقت دی ځکه چې د غرب متکبرانه سياستونه او اقتصادي بحرانونه او د ټولنو د بنسټ ماته د غرب د عصري تمدن کښتۍ د داسې سرابي ساحل په لور بيايي چې په پای کې پداسې جهيل کې ډوبيږي چې په خپله يې جوړ کړيدی. په دې اړه د روميانو د تاريخ څيړندوی ليکي: د دې لپآره چې په روم کې مخربې قوې اغيزمنې وي، يوه پيړۍ او يا ډيرې ته اړتيا وهخو د دې مخربو قوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عصري سرعت کچه ډیره ګړندۍ ده. د روم د امپراتورۍ د وروستیو ورځو تاریخي حکایات، د نن ورځې قیصرانو لپاره یو خبرداری له ځانه سره لري[1].

په غرب کې فرد پالنه، مخدره توکي، شراب، زنا او نامشروع اړیکې، هم جنس پالنه او نور انحطاطونه د دې لامل شول څو خلک پکې ناخوښه شي، په رواني ډول ډول ناروغیو اخته شي او ټولنیز بنسټونه له منځه لاړ شي. د ټولنې یو بنسټیز او مهم بنسټ کورنۍ ده چې په ملي هویت کې تر ټولو مهم عنصر ګڼل کیږي د فردي شخصیت، ارزښتونو، اخلاقو او ډله ییز ارزښت ته وفاداری بنسټ ږدي. په غرب کې د کورنۍ بنسټ د زوال په حال کې دی چې د کورنۍ زوال به د روم د امپراتورۍ په څیر، د غرب د عصري تمدن او فرهنګ زوال هم ولري، ځکه چې کورنۍ لومړنۍ کوچني ټولنه او ښوونځي چې د ښو او بدو چلند او ارزښتونه پکې جوړیږي. کورنۍ ټولنې ته شکل ورکوونکې ده.

کله چې ماشومانو په کورنۍ کې لوییږي، لومړی کورنۍ ته فوادار وي او بیا ټولنې او په پای کې فرهنګ او ملت وفاداري زده کوي، خو هغه څوک چې فامیلي ارزښتونوه ونلري، د خپلې کورنۍ، ټولنې، فرهنګ او تمدن په وړاندې هیڅ ډول مسوولیت نه احساسوي او د بې مسوولیتۍ دا حس د دې لامل ګرځي څو فرد د خپلو شخصي ګټو د لاسته راوړلو لپاره په داسې کارونو لاس پورې کړي چې د ټولنې او یا هم د ډله ییز اړیکې په زیان وي. تاریخ پوهان د روم د امپراتورۍ د لوړیدو یو ستر لامل پیاوړی کورنۍ اړیکې ګڼي او د هغهې د راپرځیدو یو ستر لامل د کورنۍ د بنسټ له منځه تله ګڼي، په دې اړه فیلیپ مایرز داسې لیکي: هغه لومړنۍ واحد چې د رومي ټولنه د رامنځته کیدو لامل وګرځید، کورنۍ وه... د افمیلي جمعې د رامنځته کیدنې تر ټولو مهم عنصر د پلار واک دی.. دا به ستونزمه وي چې د روم په سرنوشت او تاریخ کې د دې جمع اغیز وګورو. د همدې عفتونو زانګو وه چې د روم له ستروالی او قدرت سره یې مرسته وکړه او د روم امپراتورۍ ته یې نړیوال واک ور وبخښه[2].

---

[1] H. J. Haskell; The New Deal in Old Rome; p 232

[2] Philip Van Mess Myers; Rome: Its Rise and Fall; pp 11-12

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکوپينو د دې امپراتورۍ د زوال د لامل په اړه ليکي: په روم کې د دويمې ميلادي پيړۍ پرمهال د شخصيت پله سسته وه. د پلرونو سختګيره څيره په کورنيو کې مړاوې شوه او په بدل يې کې د هر کور د بچيانو څيره بدله شوه او د ټولنې نازدانه او بې تربيه بچيان يې چې په عياشۍ معتاد وو او ادب يې له لاسه ورکړی و، هرې خواته خواره شول. هغه همدارنګه طلاق چې د اوسني غرب تر ټولو ستره ستونزه ګڼل کيږي د روم د امپراتورۍ د زوال يو لامل ګڼي او زياتوي چې: له دې وروسته روم د طلاق د پراخې ناروغې شاهد شو او روميانو د بل واده لپاره طلاق اخيسته او د طلاق لپاره يې واده کاوه[۱]. هغه بل لامل چې د غرب د زوال سبب شوی او همدارنګه په ورسوتو کې د روم په امپراتورۍ کې ليدل کيده، مادي علم او په اصطلاح رسمي علم دی. علم په غرب په پوره توګه مادي شوی دی او خلک علم ته يوازې د مالي ګټو د لاسته راوړلو لپاره زده کوي، په حقيقت کې خلک، علم د دې لپاره زده کوي چې پيسې لاسته راوړي او هغه بيا د خپلو بچيانو په زده کړه لګوي چې په دې منځ کې انساني ارزښتونه، د انسان معنويت او د ژوند موخه چې له هغې پرته هر انسان نيمګړی وي، هير شوی دي. هغه کسان چې علم د پيسو په واسطه او د پيسو د لاسته راوړلو لپاره زده کوي، د خپل علم څخه د کار اخيستنې لپاره د ټولنې په ګټه هڅه نه کوي او ګټه پالونکی وي چې ډله ييز، ملي او ديني موخې له منځه ځي او کرار کرار د دې پرځای چې خلک د ډله ييزو ګټو لپاره کار وکړي، ټولنې ته د خپلو شخصي او مادي موخو لپاره د يوې په سترګه ګوري چې د ډله ييزو ارزښتونو او وفاداري پکې له منځه ځي او ټولنه د فلاکت لور ته کاږي. په دې اړه په اتلانتيا کې د موهوز پوهنتون رئيس دوکتور بنجامين (Morehouse Colledge) وايي: موږ د تاريخ په اوږدو کې ډير زده کړيال لرل، موږ ډير ليسانسه وګړي فارغ کړي دي خو زموږ انسانيت ناروغ انسانيت دی... موږ پوهې ته اړتيا نه لرو ځکه پوهه لرو، بلکې زموږ انسانيت، معنويت ته اړتيا لري[۲]. په غرب کې معنويت له منځه تللی او د معنويت د له منځه تلو يو ستر لامل له ديني ارزښتونو او

---

[۱] Jerome Carcopino; Daily Life in Ancient Rome; pp 78, 97,100

[۲] Michgan Alumnus; Oct 1963; p 148

(c) ketabton.com: The Digital Library



دين سره د غربي عصري تمدن علني او دايمي مبارزه ده چې معنوي خلا د ټولنيزو ګډوډيو، پوچ پالنې او د ټولنې د زوال لامل ګرځي. عياشي د روم امپراتوري د زوال خواته يوړه او د حيرانتيا وړ هم داده چې د غرب عصري تمدن هم د عياشۍ په لور يوازې کړيده. تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته افرد ايسنستيد (Alfred Eisenstaedt) مشهور امريکاي عکاس د امريکا د بحري قواو د کښتۍ چلونکي يو عکس چې د ټايمز په ميدان (Times Square) کې په سپين لباس سره يوه ښځه چې اوس په جاپان باندې د بريا د ورځې په نامه يادېږي ښکلوي، چاپ کړ او غربي رسنيو دې انځور چې د جنسي ازادۍ ښکارندوی ده، دومره خپور کړ چې اوس د غربي عصري تمدن د پيژندلو يو عنصر په عام محضر کې د جنسي عملونو اوم جنسي ازادۍ ده، غربي ځوانان يې عياش کړيدی او دا عياش ځوانان د ګډا د شپو، شرابو بوتلونو او نامشروعو جنسي اړيکو له لرلو پرته له ژونده بل څه نه غواړي او ټوله دنيا يې همدا شيان دي چې ډله ييزو ارزښتونو ته هيڅ ډول وفاداري نلري داسې چې کارل ويلسن د خپل کتاب عنوان ټاکلی دی، غربيانو خپله نڅا په مرګ بدله کړه[۱].

د غرب نړۍ په بيرته نه راګرځيدونکی اقتصادي زوال کې قرار لري، په دې اړه د لندن د اقتصاد د پوهنتون انګليس اقتصاد پوه ليکي: هيڅ عالم نه غواړي چې دا رد کړي چې په څو وروستيو کلونو کې د نړۍ په اقتصادي بڼه کې د اندازه کولو وړ بدلونونه راغلي دي[۲].

امريکا د ناټو په مشرۍ خپل ځان له تروريزم سره د جګړې په بهانه په اسلامي نړۍ کې د اسرئيلو د استراتيژيکو جګړو بوخت کړ او دې جګړو د امريکا په مشرۍ د غربي امپراتورۍ د پای ته رسيدو لپاره د پيل جګړې رامنځته کړې. له اسلام سره د امريکا جګړه، دا هيواد يې دومره پوروړی کړی چې بيرته د دې پور ورکول ناشوني دي، په دې اړه د امريکا د خزانې وزارت د معلوماتو پر بناء له ۲۰۰۰م کال څخه تر ۲۰۱۵م کال

۱ Carl W. Wilson; Our Dance turned to Death

۲ International Relations; 26 (4); p 372 (Power Shifts, Economic Change and the Decline of the West?; Michael Cox)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري د امريکا پور له ۵ ترېليونه ډالرو څخه ۱۸ ترېليونه ډالرو ته رسيدلی[۱] او د منځني ختيځ، افغانستان او نورو ستراتيژيکو سيمو د جګړو د ترسره کولو لپاره د امريکا مقروضيت يو صعودي سير اختيار کړی دی.

په دې اړه مايکل کاکس ليکي: د امريکا متحده ايالات له يوه نه مقاومت کوونکي اقتصادي زوال سره مخ شوي دي، چې که داسې ادامه وکړي يا د امريکا له دې کمزورتيا څخه نور ګټه واخلي او يا به امريکا د خپلې مشرۍ قدرت له لاسه ورکړي[۲]. د امريکا رقيبانو د امريکا له دې کمزورتيا څخه ګټه واخيسته او پداسې حال کې چې امريکا د جګړې په سوداګرۍ بوخته ده، رقيبان يې په ځانګړې توګه چين په سوداګرۍ بوخته ده او د نړيوالې اقتصادي مشرۍ لپاره تياری نيسي. د امريکا په واسطه د نړيوال اقتصاد د کنترول تر ټولو د قوت مولفه، د امريکا تر مشرۍ لاندې نړيوال سازمانونه لکه پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک دی. په وروستيو (پسين) لسيزو کې لومړی د نړۍ پنځو سترو اقتصادي هيوادونو د برازيل، روسې، هندوستان، چين او جنوبي افريقا په شمول نوی نړيوال بانک (BRICS) او بيا چين د اساسي زيربناوو د پانګې اچونې د بانک (AIIB) په نامه د مالي او اقتصادي سازمانونه د بديل په توګه د واشنګټن تر مشرۍ لاندې جوړ کړ. يو بل مهم عنصر چې امريکا ته يې نړيوال اقتصادي قدرت ور وبخښلی، د امريکا د ډالر او پطرو ډالرو نړيوال کيده دي چې د چين روسې په څير رقيب هيوادونه يې د امريکا په کمزوري کولو او د غربي بديلو ټولنو په جوړولو له غرب او په ځانګړې توګ ډالرو سره اقتصادي جګړه پيل کړيده، ځکه دا هيوادونه پرته له دې چې خپلې ډالري ذخيرې يې بازار ته وړاندې کړي، له سرحد ور اخوا سوداګريو کې په خپل او د متحدانو ترمنځ د ډالر پر ځای له سرو زرو او يا خپلو ملي پيسو څخه کار اخلي چې دا کار د دې لامل ګرځي چې ډالرو ته نړيواله غوښتنه راټيټه شي او چاپ شوي ډالر يو وار بيا په امريکا کې ښکته پورته شي چې په دې هيوادونو کې به د پيسو

۱ US Treasury Direct; Historic Debt Outstanding-Annual 2000-2015 (www.treasurydirect.gov)

۲ International Relations; 26 (4); p 372 (Power Shifts, Economic Change and the Decline of the West?; Michael Cox)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورم او د ډالرو سقوط له ځانه سره ولري، په دې اړه شیخ عمران نظر حسین لیکي: د غرب د پولي نظام د تکام وروستي صحنه به د نن ورځې څخه د بدترې نړیوال الکترونیکي پیسې د رامنځته کیدو شاهده وي چې کاغذي پیسې له ننني چل سره د دې ځای نیسي. په حقیقت کې، نهایي صحنه پیل شویده او د پیسو ټول نړیوال مجرمین، اوس یو نړیوال بحران ته اړتیا لري (لکه په ایران باندې د اتومي حملې په څیر چې تر اوسه نده رامنځته شوې) څو امریکایي ډالر او ورپسې د نړۍ ټولې کاغذي پیسې سقوط وکړي او د ډالرو سقوط د سرو زرو د بیې سره په پرتلې کولی شو چې د دې پیسو په وړاندې ورځ تر بلې د زیاتیدو په حال کې وګورو[1].

د وروستیو کلونو سیاسي ستري پیښې په نړۍ کې د غربي سلطې پالنې او اغیز ښیندې د کموالي ښکارندوی ده. تر ټولو ستر مثال یې د ۲۰۱۴م کال اوکراین ده چې د بارک اوباما د وینا له مخې، امریکا د قدرت د انتقال لپاره یوه معامله[2] له هغه دولت څخه چې د روسې متحد و، د غرب د پلوي دولت د نصب لپاره ترسره کړه، خو روسیه د ظهور په حال کې ده او اوسمهال د امریکا یو ستر رقیب ده چې نړۍ یې دوه قطبه کړیده. روسې لوبه په خپلې ګټې کړه او د یوې ټولپوښتنې په ترسره کولو سره یې کریمیا چې د کمونیستانو پرمهال په اوکراین پلورل شوې وه، یو وار بیا یې روسیې ته ورکړي او هغې امریکا ته چې تر سړې جګړې وروسته د واک په نشه کې وو او ځان د نړۍ یوازینی ګڼه، ستره خپکی یې وروښوده. غربیانو د روسې دا حرکت ونه زغمل، ځکه چې کریمیا د بحري قواو لپاره یوه مهم او استراتیژیک بندر دی او د روسیې په واسطه د کریمیا نیول په نه باوریدونکي ډول د روسې نظامي قدرت زیاتوي، نو ځکه غربیانو د اقتصادي تحریمونو د وضع کولو هڅې وکړی او ویې غوښتل چې د دې بندیزونو څخه په کار اخیستو، د روسیې پریکړې په خپله ګټه بدلون ورکړي؛ خو روسیه تر سړې جګړې وروسته کمزورې نه شوه او نه هم غرب تر سړې جګړې وروسته خپل

---

[1] Imran N. Hosein; The Gold Dinar and Silver Dirham; Islam and the Future of Money; p 9

[2] Edited by J. L. Black and Michael johns; Assisted by Alanda D. Theriaulf; The Return of the Cold War; p 20

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت وساته او روسې په دې ډول شرايطو سره تر سرې جگړې وروسته په غربيانو باندې يوه هلاکوونکې لومړنۍ ضربه ورکړه.

په سوريه کې هم چې امريکا د اوو اسلامي هيوادونو په ړنگولو اخته وه او غوښتل يې د سوريې دولت ړنگ کړي، روسيې لاسوهنه وکړه او د امريکا اوږدمهالې پلان يې وننگوه او ناکام يې کړ، له بلې خوا چين چې د روسيې په وړاندې يې د غربيانو کمزورتيا ليدلې وه، د چين، تايوان، فيليپين او ويتنام د ځمکو په اړوند اوبو کې يې د مصنوعي نظامي جزيرو په جوړولو پيل وکړ او د غربيانو د تشو خبرداريو سره سره يې، د چين د جنوب په بحري اوبو کې د خپل هيواد ځمکني پراختيا ته ادامه ورکوي. د غرب اوږدمهاله متحدان چې غرب امپراتوري د زوال په حال کېويني، کرار کرار د غرب له اتحاده لاس اخلي او د نوي راځرگنديدونکي قدرتونو په لور لکه چين او روسيې ته لاس اوږدوي چې تر ټولو ستره بيلگه يې فيليپين دی. همدارنگه په غرب کې عام خلک د نظامي او سياسي حاکمو سازمانون، ټولنو او تشکيلاتو له امله بې اعتباره او بدبين شوي دي؛ د بيلگې په توگه له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې له وتلو /طلاق (Brexit)[1]، په نورو هيوادونو کې د ناټو د لاسوهنو په وړاندې لاريونونه او په غربي هيوادنو کې د پاپوليستانو[2] (Populists) شهرت څخه يادونه وکړو.

الله (جل جلاله) هم په خپل قران کې د غرب او د غرب په څير د ټولنو د زوال زيرى ورکړی دی. الله (جل جلاله) خپل بشريت ته نصيحت کوي چې د پخواني تاريخ او

[1] د اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې وتل چې ډير مهال په برگزيت (Brexit) سره رالنديږي، يو سياسي موخه ده چې په برتانيه کې د سياسي حزبونو، مدافعينو او خلکو لخوا له ۱۹۷۳ کال کې د اروپا له اتحاديې سره د يوځای کيدو له مهاله پيل وو. د اروپا د اتحاديې د تړون له مخې د اروپا له اتحاديې وتل د هغې د غړو هيوادون له حقونو څخه دي. په هغې ټولپوښتنه کې چې د ۲۰۱٦م کال د جون په ۲۳ نېته په برتانيه کې ترسره شوه، تر ۱۷ مليونو زياتو وگړو په اروپايي اتحاديه کې د نشتون لپاره رايه ورکړه (په وړاندې يې په اروپايي اتحاديه کې د پاتې کيدو لپاره تر ۱٦ زياتو مليونو وگړو رايه ورکړېوه) او د برگزيټ گوند بريا ته ورسيد. ځينې کارپوهان له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې وتلو په څير پيښې په دغه هيواد کې د نيوناسيوناليسيم (Neo-Nationalism) له فراگير کيدو له امله گڼي او دا د دې اتحاديې د تيتيدو پيل گڼي.

[2] عوام پالنه يا (Populism) يو سياسي طريقه او اموزه ده چې د نخبه گانو ډلې په وړاندې د عامه خلکو له حقونو او علايقو د پلويتوب لپاره فعاليت کوي. په شلمه پيړۍ کې د عامه پالنې ديرى حرکتونه د لاتين امريکا او هند په حرکتونو سره پيژندل کيدل خو له ۱۹۸۰ لسيې را وروسته دا حرکتونه په کاناډا، ايټاليا، هالنډ، اسکاندويناويا او متحده ايالاتو هيوادونو کې هم د بريا يو څه درجې ترلاسه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومونو له داستانونو څخه د عبرت درس واخلي، په دې اړه فرمايي: ورته ووايه: په ځمکه کې وګرځئ راوګرځئ، وګورئ چې د مجرمانو څه عاقبت شويدی.[۱] الله (جل جلاله) فرمايي:او کله چې موږ د کومې سيمې د هلاک کولو اراده کوو، نو د هغې بډايانو ته حکم کوو، خو هغوی په نافرمانيو لاس پورې کوي، هله نو پر هغې سيمې د عذاب فېصله تطبيقيږي او موږ هغه بيخي تباه کوو[۲].

اوسمهال غربيان له فساد او فحشا سره سره د هلاک شويو قومونو ټول صفات چې قران ترې يادونه کړيده په ځان کې لري چې شرک، زنا، لواطت، بې عدالتي، فساد، ماده پالنه او نور عمده يې پکې شامل دي، نو بايد د پخوانيو قومونو په څېر الهي غذاب ته هم په تمه وي. همدارنګه غربيانو د سود په نړيوال کولو سره د الله (جل جلاله) او د هغه د رسول په وړاندې جګړه اعلان کړه چې دا به هغوی هلاک کړي، لکه الله (جل جلاله) فرمايي: خو که تاسې داسې ونه کړل، نو خبر اوسئ چې د الله او د هغه د پيغمبر له خوا ستاسې پر خلاف د جګړې اعلان دی. که اوس هم توبه وباسئ (او سود پريږدئ)، نو تاسې د خپلې پانګې اخيستلو حقدار ياست، مه تاسې تيری کوئ او نه به پر تاسې تيری وشي.[۳]

د غرب نړۍ د سقوط په حال کې ده او زموږ زمانه يو وار بيا له يوې امپراتورۍ څخه بلې ته د واک د انتقال او يا په څو نورو باندې د ويشل کيدو شاهده ده. تجربوي تاريخ ښيي چې د تاريخ په اوږدو کې د واک هيڅ انتقال د ټکر له پيښيدو پرته ندی رامنځته شوی لکه چې اوګانسکي ليکي: د واک دا انتقال به هم د نړۍ د سختو جګړو لامل وګرځي[٤]. صهيونستان فکر کوي چې د اتومي نړيوالې جګړې په رامنځته کيدو او د نړيوال قدرتونو او د نړۍ د ډېر نفوس په راکميدو سره به د هغوی زرين وخت

---

۱ سوره النمل؛ ايه ٦٩، قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾

۲ سوره الاسراء، ايه ١٦، وَإِذَا أَرَدْنَا أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا ﴿١٦﴾

۳ سوره البقره، ۲۷۹ آيت؛ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ اللّهِ وَرَسُولِهِ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لاَ تَظْلِمُونَ وَلاَ تُظْلَمُونَ ﴿۲۷۹﴾

٤ International Relations; 26 (4); p 371 (Power Shifts, Economic Change and the Decline of the West?; Michael Cox

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورسيږي، خو لکه څنګه الله فرمايي: بيا بني اسرائيلو (د مسيح پر خلاف پټې دسيسې پيل کړې( په مقابل کې الله هم خپل پټ تدبير په کار واچوه او په داسې تدبيرونو کې الله تر ټولو وړاندې دی[1] دا وار به بيا تاريخ تکرار شي او الله (جل جلاله) د مسيحي – يهودي (صهيونيستانو) د اتحاد لپآره نقشه لري څو هغوی بريا ته په نږدې کيدو سره ناکام، تورمخي او تعذيب کړي، نو مسلمانان بايد يقين ولري چې که نړۍ تر اتومي جګړې وروسته، د اسلام زره عصر له ځانه سره راوړي.

**تر اتومي جګړې وروسته نړۍ**

الله (جل جلاله) په قرآن عظيم الشان کې فرمايي: او موږ په خپل کتاب کې بني اسراييل پر دې هم خبر کړي ول چې تاسې به په ځمکه کې دوه ځله ډير لوی فساد راولاړ کړئ او لويه سرکشي به وښاياست-نو کله چې د هغوی د لومړي سرکشۍ وخت راغی، نو اې بني اسراييلو موږ ستاسې د مقابلې لپاره خپل داسې بندګان راپاڅوول چې په جنګ کې ډير زورور او ستاسې په هيواد کې په ننوتلو هر لوري ته خواره شول. دا يوه پوره کيدونکې وعده وه.-له دې وروسته موږ تاسې ته پر هغو د برلاسۍ موقع درکړه او ستاسې سره موږ د مال او اولاد په درکولو مرسته وکړه او ستاسې شمير موږ له پخوا څخه زيات کړ.-ګورئ! که تاسې ښه وکړل، نو هغه په خپله ستاسې لپاره ښه ول؛ او که مو بد وکړل، نو هغه په خپله ستاسې لپاره بدي ثابته شوه. بيا کله چې د دوهمې وعدې وخت راغی، نو موږ نور دښمنان پر تاسې مسلط کړل چې هغوی ستاسې څيرې غمګينې کړی، او په مسجد (بيت المقدس) کې په همغه شان ننوځي، لکه څنګه چې مخکې دښمنان ننوتلي ول او پر کوم شي چې د هغو لاس بر شي هغه تباه کړي.[2] د لومړي ځل لپاره په ۵۸۷ قبل ميلاد کلونو کې، د نبوکد نصر په مشرۍ له بابل څخه بيت المقدس فتح کړ، ښار يې وسوځاوه، اوسيدونکي يې قتل عام کړل، د سليمان ع

[1] سوره آل عمران؛ ايه ٥٤؛ وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ اللّهُ وَاللّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٥٤﴾

[2] سوره الاسراء؛ ۴ نه تر ۷ آيتونه؛ وَقَضَيْنَا إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ فِي الْكِتَابِ لَتُفْسِدُنَّ فِي الأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَاء وَعْدُ أُولاهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَا أُوْلِي بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُواْ خِلاَلَ الدِّيَارِ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولاً ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَأَمْدَدْنَاكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَاكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ لِأَنفُسِكُمْ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا فَإِذَا جَاء وَعْدُ الآخِرَةِ لِيَسُوؤُواْ وُجُوهَكُمْ وَلِيَدْخُلُواْ الْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُواْ مَا عَلَوْاْ تَتْبِيرًا ﴿٧﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واسطه جوړ شوی مسجد یې وران کړ او پاتې یهودیان یې غلامان کړل. تر هغې وروسته، کله چې هغوی یو وار بیا په بیت المقدس کې ژوند اختیار کړ نو په فساد یې پیل وکړ، حضرت ذکریا یې په مجسد کې ووژه او په خپل زعم یې حضرت عیسی هم په صلیب کړ، دا وار هم الله د خپلې وعدې له مخې د دویم ځل لپاره د رومي جنرال تیتوس (TITUS) تر مشرۍ لاندې اردو بیت المقدس ته ننوته، اوسیدونکي یې قتل عام کړل او دویم مسجد یې وران کړ. بیا الله (جل جلاله) بني اسرائیلو ته خبرداری ورکوي او فرمایي: کیدای شي چې اوس ستاسې رب پر تاسې رحم وکړي. خو که تاسې بیا خپل پخواني چلند تکرار کړ، نو موږ به هم بیا خپل عذاب تکرار کړو، او (د نعمت) منکرانو ته موږ دوزخ بندیخانه جوړه کړیده.[1] لکه څنګه چې په لومړي او دویم ځل د الله وعده ترسره شوه، دا وار به هم په ځمکه او د مقدس په هیواد کې د بني اسرائیلو د ښه ګڼلو او فساد له امله د الله وعده پوره کیږي او دا وار به مسلمانان د حق په بیرغونو په اسرائیلو باندې بریالي شي، په دې اړه حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: .. تر هغې وروسته به د مرشق له لوري تور بیرغونه راپورته شي او تاسو داسې وژني چې هیڅ قوم تر اوسه نه وي وژلي، بیا یې څه یاد کړل چې زما په حافظه کې ندي پاتې... کله مو چې هغوی ولیدل ورسره بیعت وکړئ، که چیرته په په واورې باندې په سینه تلو هم وي، په تحقیق سره پدې کې د الله خلیفه مهدي دی[2]. همدارنګه آن حضرت په یو بل حدیث کې فرمایي: کله مو چې د خراسان له لوري تور بیرغونه ولیدل، ورسره یو ځای شئ که چیرته د واورې پرمخ په سینه تلو هم وي، په تحقیق په دوی کې د الله خلیفه (مهدی) دی[3].

---

[1] سوره الاسراء؛ آیه ۸؛ عَسَى رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا ﴿۸﴾

[2] ابن کثیر وایي د دې حدیث اسناد قوي او صحیح دي، او بوصیری په المصباح؛ ۴ ټوک؛ ۲۰۴ مخ کې وایي: د دې حدیث په اسنادو کې ثقه سړي دي او صحیح حدیث دی، حاکم په المستدرک، ۴ ټوک، ۴۶۳-۴۶۴ مخونو کې ذکر کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث د شیخینو (بخاري او مسلم) په شرط صحیح ده او همدارنګه ذهبي هم تایید کړیدی.

[3] حاکم په المستدرک علی الصحیحین جلد ۴، ۵۴۷ مخ کې ویلي دي چې دا حدیث د شیخینو (بخاري او مسلم) په شرط صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو بل روایت کې راغلي چې له دې لښکر سره به د بیت المقدس تر فتحې پورې څوک مقاومت ونشي کړای او بني اسرائیلو د تعذیب په برنسټ به د دې دربیم ځل لپاره د الله (جل جلاله) وعده دا لښکر د حضرت امام مهدي په مشرۍ رښتیا کیږي. د هغه تلپاتې نړیوال حکومت خوب چې صهیونیستانو د یهودو د زرین عصر په توګه او د ستر اسرائیلو د پروژې د تطبیق خوب ویني د حضرت امام مهدي او حضرت عیسی له لوري به د هیودو په کابس او د بشریت او اسلام لپآره د زرین عصر بدل شي، لکه چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: که د دنیا له عمره یوه ورځ هم پاتې وي خدای ج به هغه ورځ لویه کړي چې یو سړی (یا زما له اهل بیتو څخه) راپورته کړي، نوم به یې زما څیر او د هغه د پلار نوم به زما د پلار په څیر وي، هغه نړۍ له عدالته ډکه کړي لکه څنګه چې له ظلم او ستم څخه ډکه شوې وي[1]. په یو بل حدیث کې ان حضرت ص وفرمایل: زما د امت په اخر کې به مهدي رابښکاره شي، خدای ج به د هغه په وخت کې باران وکړي، ځمکه به ګیاه شنه کړي، هغه به د خلکو ترمنځ مال په مساوي برخو وویشي، چهار پایان به زیات شي، خلکو ته به ګران وي، هغه اووه یا اته کاله ژوند کوي[2]. د حضرت امام مهدي پرمهال دجال په فزیکي توګه زموږ مادي نړۍ ته راځي او له حضرت امام مهدي سره په جګړه لاس پورې کړي چې د حق او باطل ترمنځ وروستۍ جګړه ګڼل کیږي. د روایاتو له مخې په کعبه کې به د ابراهیم د مقام او حجر الاسود ترمنځ خلک امام مهدي د بیعت منلو ته مجبور کړي او د خلیفه په توګه به یې وګماري او په همدې وخت کې به هغه وايي: زه مهدي یم. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: هغه امت چې په پیل کې یې زه، په پای کې یې حضرت عیسی او په منځه یې مهدي وي، هیڅکله به هلاک نشي[3]. دجال په دمشق کې

---

[1] سنن ابو داود؛ حدیث ۴۲۸۲، طربانیګ معجم الکبیر؛ جلد ۱۰، ۱۳۵ مخ، حدیث ۱۰۲۲۴ او صحیح ابن حبان؛ حدیث ٦٨٢۴ همدارنګه شیخ الباني هم دا حدیث په په صحیح ابو داود حدیث ٣٦٠١ کې صحیح ګڼلی دی.

[2] حاکم په المستدرک، جلد ۴، ۵۴۴مخ کې ویلي دي: د دې حدیث اسناد صحیح دي، ذهبی هم د حاکم وینا تایید کړیده او شیخ الباني د سلسله الاحادیث الصحیحه کې په ۷۱۱ حدیث کې ویلي دي: د دې حدیث اسناد صحیح دي او سړي یې هم ثقه دي.

[3] المنار المنیف؛ ۱۵۲ مخ. که څه هم د دې حدیث په اړه د ځینو په سند کې کمزورتیا او غرابت د لیدو وړ ده خو ځیني نور بیا ځینې برخې پیاوړی کوي (اتحاف الجماعه، جلد ۲، ۳۰۳ نه تر ۳۰٦ مخونو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت امام مهدي او د هغه ملګري محاصره کوي او کله دجال او د هغه پیروان فکر کوي چې حضرت امام مهدي يې محاصره کړيدی او په جګړه کې بريالي شول سم لکه د فرعون په څير چې فکر يې کاوه چې موسی يې محاصره کړی دی او په هغه به بريالی کيږي، الله (جل جلاله) لکه څنګه چې په خپل الهي قدرت سره حضرت موسی ته د اوبو په څيرلو سره نجات ورکړ، حضرت عيسی د امام امهدی مرستې ته راليږي او حضرت عيسی ع دجال وژني چې په ادحاديثو کې داسې راغلي دي: دجال هغه مهال راوځي چې د خلکو په زړونو کې کينه او بغض حاکمه وي. دين بې اهميته شوی وي او د خلکو ترمنځ اړيکې خرابې شوې وي؛ نو که په هره لاره رانئوځي، ځمکه ورته د پسه د پوستکي په شان راټوليږي، تر دې چې مدينې ته نږدې کيږي، له مدينې په بهر خلکو مسلط کيږي خو مدينې ته د دننه کيدو څخه منع کيږي او بيا د ايلياء غره ته ځي او د مسلمانانو يوه ډله محاصره کوي، د مسلمانانو مشر هغوی ته په خطاب کې وايي: ددغې محاصرې پرورلندې د څه شي انتظار کوئ؟ له هغه سره وجنګيږي تر دې شهيدان شئ او خدای ج ته ورسيږئ يا دا چې د هغه په وړاندې بريالي شئ، نو د امر له مخې د سهار پرمهال له هغه سره جګړه کوي، د سهار پرمهال حضرت عيسی ورته رارسيږي او دجال وژني او د هغه ملګري ماته خوري تر دې چې ونې، ډبرې او ديوالونه مسلمانانو ته غږ کوي او وايي: اې مؤمنه! زما تر شاه يهودي پټ شوی دی، هغه ووژنه[1].

د رسول الله ص په يو بل حديث کې راغلي دي: ابو امامه باهلي رض وويل: پيغمبر ع موږ ته خطبه وويله او په دې خطبه کې يې تر ډيره د دجال په اړه خبرې وکړې او موږ د هغه له شر څخه خبر کړو. ام الشريک بنت البی العکر پوښتل: هغه مهال به عربان چيرته وي؟ پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: هغوئ هغه مهال لږ وي، ډير به يې په بيت المقدس کې استوګن وي او امام به يې صالح او ور سړی وي، کله چې د سهار لمانځه ته مخکې کيږي چې ناڅاپه عيسی د مريم زوی راځي، هغه امام خپله شاته راځي تر دې چې حضرت عيسی يې امام کيږي، حضرت عيسی خپل لاسونه د

[1] حاکم به المستدرک، جلد ۴، ۵۵۳ مخ کې دا حديث روايت کړيدی او ويلي يې دي: دا حديث د شيخينو د شرطونو له مخې صحيح دی او هغو دواړه دا حديث ندی روايت کړی او ذهبي له حاکم سره ورته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د دوو اوږو ترمنځ ږدي او وايي: مخکې لاړ شه او لمونځ وکړه ځکه چې د دې لمونځ اقامت تاته نيول شوی دی. نو امام يې لمونځ ادا کوي کله چې لمونځ خلاص کړي حضرت عيسی ع فرمايي: دروازه خلاص کړئ، دروازه خلاصوي، ناڅاپه دجال له اويا زره يهودو سره د دروازې تر شا ولاړ وي او يوه توره او سپر ورسره وي، کله چې ورته ګوري لکه څنګه چې مالګه په اوبو کې ويلې کيږي همدغسې هغه هم ويلي کيږي او تيښته کوي او حضرت عيسی ع فرمايي: پرتاسې حجوم دروړو چې رانه مخکې کيدای نشئ، نو د هغه شرقي غاړې ته رسيږي

او هغه وژني، په پايله کې يهوديان ماته خوري او په ځمکه کې داسې څه نه پاتې کيږي چې يهوديان يې تر شاه پټ شوي وي مګر دا چې خدای يې په خبرو راولي او چيغې وهي چې د خدای مسلمان بنده دا يهودي ده چې زما تر شاپټ شوی دی، راشه او هغه ووژنه... پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل: عيسی د مريم زوی به زما د امت ترمنځ د عدالت کوونکي او رهبر او حاکم وي، صليب ماتوي او خوکان له منځه وړيو په ځمکه د جزيې قاونن ږدي او صدقې خلاصوي... بغض او کينه له منځه وړي، له نيش لرونکي څخه نيش اخلي تر دې چې ماشوم هم د مار په خوله کې لاس ننباسي، زيان ورته نه رسوي، ماشوم شيدې لټوي او ورته هيڅ زيان نه رسيږي، ځمکه له سولې او ارامۍ ډکيږي لکه څنګه چې له اوبو څخه لوښې ډکيږي... جګړه خپل درانه بارونه په ځمکه ږدي، وابنه هم د ادم په څير رازرغونيږي تر دې چې خلک به د انګورو په يوې راټوليږي او ټول پرې مړيږي[1]. په نورو رواياتو کې راغلي دي چې حضر امام مهدي د سهار لمانځه لپاره د سوريې په اوسني مرکز دمشق کې په هغه مسجد کې چې سپينې منارې لري د دجال او پيروان په واسطه محاصره کيږي او حضرت عيسی هم په همدې مسجد کې راکوزيږي په اوسني اسرائيلو کې د لُد تر سيمې ښاري او بيا هماغلته وژني، د دجال تر وژنې وروسته د الله (جل جلاله) له لوري حضرت عيسی ع ته ويل کيږي چې داسې بندګان يې پيدا کړيدي چې پرته له خپل

[1] ابن ماجه؛ حديث ۴۰۷۷؛ ځينې علما دا حديث کمزوری ګڼي خو د هغې خاوندان ټول د اعتبار وړ ګڼي پرته له عمرو بن حضر څخه چې ابن حبان هغه ثقه نه بولي، خو دا حديث نور شواهد لري چې هغه تقويه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ورسره د جنګیدو توان نلري، په حدیث شریف کې راغلي دي: تر اوسه په هماغه حال دی چې د خدای متعال فخوا فرمان ورته رارسیږي چې ما داسې بندګان پیدا کړیدي چې ځوک ورسره د جنګیدو توان نه لري، نو بندګان مې غره ته یوسه بیا الله (جل جلاله) یاجوج او ماجوج رالیږي او هغوی له هرې لورې ځغلوي. لومړنۍ قافله یې له طبریه سیند څخه تیره شویده او ټولې اوبه څښي او هغه داسې پریږدي چې کله دویمه قافله راشي نو وچ ځای ویني وایي: یو وخت دلته اوبه وې. حضرت عیسی له ملګرو سره د طور غره لوړ ته پناه وړي. حضرت عیسی ع د خپلو ملګرو سره د دې مصیبت د لرې کیدو لپاره د خدای درګاه ته دعا کوي او په یاجوج و ماجوجو باندې د وبا په توګه ناروغي نازلوي. په لږه موده ټول یاجوج او ماجوج مري، بیا حضرت عیسی له خپلو ملګرو سره له طور غره څخه راښکته کیږي او ویني چې د ځمکې مخ د یو وجب په اندازه خالي ندی او د جسدونو سخت بوي خپور شوی دی. حضرت عیسی ع او د هغه ملګرو دعا کوي او الله تعالی د شتر مرغ په څیر څټونو سره مرغان رالیږي، هغوی دا جسدونه پورته کوي او هغه ځای ته چې خدای یې غواړي وړي.[1]

د جلیل یا طبریه سیند (د تیریاس بحیره یا Sea of Galilee) په فلسطین کې د خوږو اوبو تر ټولو ستر سیند دی چې شاوخوا ۲۱ کیلومتره اوږدوالی او ۱۳ کیلومتره سور لري او د هغې تقریبي مساحت ١٦٦ کیلومترو مربع ته رسیږي چې تر ټولو زیات ژوروالی یې ۴۳ متره او ۴۱۲ متره د ازاد سیند تر سطحې لاندې ده. یاده بحیره تر یوه حده د ترځمکو لاندې چینو په واسطه تغذیه کیږي او د هغې د تغذیې اصلي سرچینه د اردن سیند دی چې د هغې په اوږدو کې له شمال څخه جنوب لور ته روان دی. د جلیل سیند د اوسني اسرائیلو د څښکا د اوبو تر ټولو مهمه سرچینه ده چې په وروستۍ زمانه کې د هغې وچیدل په دریواړو ابراهیمي دینونو کې اهمیت لري. یهودیان په دې باور دي چې د دې سیند په وچیدو سره د یهودیت مسیح چې د دوی د ویناوو له مخې د داود ع اولاده ده، راځي او له بیت المقدس څخه په نړۍ حکومت کوي او عیسویان

[1] صحیح مسلم؛ حدیث ۲۹۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې باور دي چې د دې سيند له وچيدو سره سم عيسی ع د دويم ځل لپاره راځي[۱]. هغه مهمې نقطې چې احاديث ورته اشاره کوي  د ياجوجو او ماجوجو په واسطه د زياتو اوبو څخه د ګټې اخيستو له امله د جليل د سيند وچيده دي او همدارنګه د دې بحيرې له وچيدو سره سم حضرت عيسی ع راتګ وي. اسرائيل د خپل هيواد د شينوالي او د اوبو څښلو لپاره له دې بحيرې څخه ګټه اخلي او اسرائيل تر دومره ګټه اخلي چې د طبيعت له بيرته ډکولو څخه ډيره ده او له وچيدو يې مخنيوی وشي، نو له دې امله د دې بحيرې اوبه د ښکته کيدو په حال کې دي او پوهان خبرداری ورکړی چې اسرائيل به د دې بحيرې له وچيد سره سم ډير زر د اوبو له بحران سره مخ شي، په دې اړه امريکايي چاپيريال پيژندول لستر برون ليکي: هغه جهيلونه چې د ورکيدو په حال کې د نړۍ تر ټولو غوره جهيلونه دي چې په مرکزي افريقا کې د چاد جهيل، په مرکزي اسيا کې ارال بحيره او د جليل (د تيرياس په نوم مشهور دی) پکې شامل دي[۲]. همدارنګه د اسرائيلو خبري شبکې (Breaking Israel news) د ۲۰۱٦م کال د سپټمبر په ۷ نيټه د دې بحيرې په منځ کې د کوچنيو جزيرو د پيداکيدو خبر ورکړ او اسرايليانو ته د مسيحا د راتګ زيری ورکوي، د دې خبر له مخې د دې بحيرې اوبه ۴۰ انچه ټيټې شوی دي چې د قرمز له خط څخه ۱۵ اينچه ټيټې دي او پداسې حال کې چې د محيطي بحران لامل به ګرځي، د مسيحا راتګ به له ځانه سره ولري[۳]. د اسلام ځينې علماء په دې باور دي چې د اسرائيلو او اروپايي يهوديانو په واسطه چې د خزر له قوم څخه د دې اوبو ګټه اخيستنه د ياجوجو او ماجوجو په واسطه د دې بحيرې د اوبو څښل دي.

[۱] Breaking Israel News; Island Appearing in Sea of Galilee Could Presage Messiah Son of David; Dated: Sep 7 2016

[۲] Lester R. Brown; Plan B 4.0: Mobilizing to Save Civilization; p 77

[۳] Breaking Israel News; Island Appearing in Sea of Galilee Could Presage Messiah Son of David; Dated: Sep 7 2016

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د اسلام ځيني علماء په دې نظر دي چې خزران ياجوج او ماجوج ندي بلکې ياجوج او ماجوج د حضرت عيسی ع تر راښکته کيدو وروسته له بنده خلاصيږي او په افسانوي توګه د يوې بحيرې اوبه د څښلو په واسطه وچوي (والله اعلم).

په هر صورت مسلمانان بايد درک کړي چې د دجال د فتنو په وخت کې ژوند کوي او د دې فتنو د چل ښکار نه شي ځکه دا فتنې ورځ تر بلې زياتيږي او پداسې حال کې چې وروستۍ پيښې او په ځانګړې توګه اتومي جګړه به دښمنان د له منځه تلو پيل وي (ان شاء الله) له سختې ډکې، ستونزمنې او له فتنو څخه ډکې ورځې به د سلمانانو د زړينې دورې تر راتګه له ځانه سره ولري همدارنګه مسلمان بايد يقين ولري هغه جګړې چې صهيونيستانو او د اسلام دښمنانو په ټولو اسلامي هيوادونو کې په لاره اچولي دي د مسلمانانو په ګټه او د د دې د خپلو ځانونو په بربادۍ پای ته ورسيږي ځکه الله (جل جلاله) فرمايي: الله (جل جلاله) ستاسو د هغو کسانو سره چې ايمان راوړی او ښه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خليفه ګان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک يې ګرځولي ول. د هغو لپاره به هغه دين پر محکمو بنښتونو ودروي چې الله تعالی ورته خوښ کړي دي. او د هغو د ويرې اوسنی حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شي نه شريکوي. او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي. [1]

الله ښه پوهيږي!

۲۰۱۷، د اپريل ۱۷مه، دوشنبه، خپل کور، شهيد آباد

[1] سوره النور؛ ۵۵ آيت؛ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿۵۵﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**